حسبنا الله ونعم الوكيل

الفيض المستطیر

پښتو شرح د

نحو میر

تکی په تکی
روانه ترجمه
وترکیب

مرتب

مولوی محمد فیض الهادی حقانی

مکتبه رحمانیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور
0316-9400041
0302-6209815

الصرف أم العلوم و النحو أبوها

الفیض المستطیر

پښتو شرح

نحومیر



مولوي محمد فیض الهادي "حقاني"
سابق مدرس بمدرسة تعلیم القرآن والحدیث چارسده روډ، پشاور

ناشر :
مکتبه رحمانیه محله جنګي پشاور

1

بسم الله الرحمن الرحیم

دکتاب نوم : الفیض المستطیر پښتو شرح نحومیر

مُرتب : ابو الطیب مولوي محمد فیض الهادي " حقاني "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

سابق مدرس بمدرسة تعلیم القرآن و الحدیث چارسده روډ ، پشاور

نظرِ ثاني : مولوی نصیر الدین " حقانی "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک

کمپوزنګ : ابوبدر کمپوزنګ سنټر ، پشاور

ابوالطیب " حقانی " موبائل نمبر : 0311-9316109

سالِ اشاعت : ۱۴۴۰ھ موافق ۲۰۱۸ء

ناشر : مکتبه رحمانیه محله جنګي پشاور

فهرست :

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰٓى اٰلِ
مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰٓى اٰلِ
اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ؕ
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ
كَمَا بَارَكْتَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰٓى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

د نحومیر د مصنف مختصر حالات :

نوم او نسب :

د مصنف نوم علي ، کنیت یې ابو الحسن ، لقب یې زین الدین دی ، د پلار نوم یې محمد او د نیکه نوم یې علي دي ، په جرجان کې د سادات خاندان سره تعلق لري ، ددې تعلق د وجې نه دا په سید شریف او په سید سند لقب سره مشهور شو ، ده ته میر هم ویلې شي ځکه چې دده د اکثر کتابونو مروجه نوم په میر سره دې لکه : نحومیر ، صرف میر ، میر قطبي ، میر ایساغوجي وغیره .

تاریخ پیدائش :

مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ د شعبان المعظم په میاشت کې په ۲۲ تاریخ باندې په کال ۷۴۰ هـ کې په جرجان کې پیدا شوې دی ، ددې وجې نه ده ته جرجاني هم ویلې شي .

د علامه تفتازاني او د علامه جرجاني په خپل مینځ کې مناظرې :

د علامه تفتازاني او د علامه جرجاني په خپل مینځ کې سره ډیرې مناظرې شوې وې چې یوه واقعه یې په لاندې ډول ده :

مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ په شیراز کې اوسیدو کله چې تیمور لنګ په ۷۸۹ هـ کې په شیراز باندې مسلط شو نو تیمور لنګ د مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ ډیر اکرام او عزت وکړو ، او تیمور لنګ د خپل ځان سره د سمرقند ته د بوتللو درخواست ورته وکړو .

مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ د تیمور لنګ دا درخواست قبول کړو او د تیمور لنګ سره سمرقند ته لاړو او په سمرقند کې یې د درس او تدریس سلسله جاري وساتله ، هر کله چې تیمور لنګ وفات شو نو مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ واپس شیراز ته راغلو .

علامه تفتازاني رَحِمَهُ اللَّهُ هم د تیمور لنګ سره پاتې کیدو ، سید شریف او علامه تفتازاني اکثر به په خپل مینځ کې سره بحث او مباحثه کوله او هر یو به کوشش کولو چې جانب مقابل ته شکست ورکړي ، لیکن یو ورځ یې هم دې دواړو یو بل ته شکست ورنه کړو .

تیمور لنګ به ویل چې دا دواړه په علم کې سره برابر دي لیکن د نسبي شرافت د وجې نه سید شریف بهتر دی ، نو ددې وجې نه به یې د مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ ډیر اکرام او عزت کولو .

یوه ورځ په یوه مسئله کې د مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ او د علامه تفتازاني مناظره وشوه ثالث د مصنف رحمه الله په حق کې فیصله وکړه نو ددې غم د وجې نه علامه تفتازاني رَحِمَهُ اللَّهُ وفات شو .

تاریخ وفات :

مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د شپږ اويا (۷٦) کالو په عمر کې په ٦ ربيع الاول ۸۱٦ هـ په شيراز کې د چهارشنبې په ورځ وفات شو.

استاذان يې :

په ديني علومو کې يې استاد د وخت علامه اکمل الدين محمد بن محمود البابرتي وو ، او په علوم عقليه وو کې يې استاد علامه مبارک شاه مصري وو.

تصنيفات :

مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ ډير زيات هوښيار او ذکي انسان وو ، په نهه کلنۍ کې يې بعضې کتابونه تاليف کړي وو ، دده تصنيفات د پنځوسو (۵۰) نه زيات دي چې بعضې تصنيفات يې دادي : (۱) د قرآن کريم ترجمه يې په فارسي ژبه کې د ټولو نه اول دوي ليکلې ده (۲) **حاشيه بيضاوي** ، (۳) **حاشيه مشکوة شريف** ، (۳) **حاشيه هدايه** ، (۵) **حاشيه مطول** ، (٦) **نحومير** ، (۷) **شريفيه شرح سراجي** ، (۸) **شريفيه شرح کافيه** ، (۹) **شريفيه في المناظره** وغيره ، ددوي زيات کتابونه د درس نظامي په نصاب کې شامل دي.

مقدمه :

هر طالب العلم چې په یو علم کې شروع کوي نو ددې د علم د شروع کولو نه مخکې ددې طالب العلم د پاره د دري شیانو پیژندل ضروري او لازمي دي : (۱) تعریف د علم ، (۲) موضوع د علم ، (۳) غرض او مقصد د علم ، (۴) واضع د علم ، (۵) تاریخ د علم ، (٦) مقام او مرتبه د علم :

(۱) تعریف دعلم : دا ځکه پیژندل ضروري دي که چیرته تعریف د علم ونه پیژندل شي نو طلب د یو مجهول او نامعلوم څیز لازم راځي چې دا طلب د مجهول دی او دا ناممکن دي .

دنحوې لغوي معنى : نحو په لغت کې په څو معانیو سره راځي ، چې اوه معاني په دې لاندې شعر کې ذکر دي :

نحونا نحو نحوک یاحبیبي — نحونا نحو الف من رقیب

قصد وکړو مونږ ستا د قبیلي په طرف ای زما دوسته — وګرځوله مونږه اندازه د زرو رقیبانو

وجدنا هم مریضاً نحو قلبي — تمنوا منک نحوا من زبیب

وموندل مونږ هغوي مریضان د خپل زړه په شان - تمنا کوله د تا نه د یو قسم کشمش (اوسکي) .

په دې شعر کې اوه معاني ذکر دي : (۱) قصد ،(۲) طرف ،(۳) قبیله ،(۴) ګرځول ،(۵) اندازه ، (٦) مثل ، (۷) قسم .

ددې نه غیر نورې معانې هم دي لکه : (۱) **الطریق** لاره ، محاوره ده : (**هذا النحو السوي**) ، یعني **الطریق المستوي** (نیغه او سیده لاره) (۲) **الفصاحة** : محاوره ده چې **ما احسن نحوک في الکلام** ستا فصاحت في الکلام څومره ښه دي . (۳) **الانحاء** (اړول) لکه **انحیتُ عنه بصري اي : عدلته** ، ما دهغه نه خپلې سترګې واړولې . (۴) **الانتحاء الاعتماد والمیل** (متوجه کول ، اعتماد کول ، مائل کول) .

دنحوې اصطلاحي معنى : **هُوَ عِلْمٌ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلَاثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةِ التَّرْكِيْبِ بَعْضُهَا مَعَ بَعْضٍ** . دا داسې علم دی چې په دې سره پیژندل شي احوال داخرو دریو کلمو (اسم ، فعل ، حرف) د حیثیت د اعراب او بناء نه او د کیفیت د ترکیب د بعضو سره د نورو بعضو .

(۲) موضوع د علم : دا ځکه پیژندل ضروري دي چې د دوه علمونو په مینځ کې چې کوم فرق او امتیاز راځي نو هغه په موضوع سره راځي نو که چیرته مونږ موضوع د علمِ نحوې ونه پیژنو نو بیا به مونږ د علمِ نحوې او د علمِ صرف په مینځ کې فرق ونه کړې شو ، دموضوع لغوي معنى **وضع** ایخودل دي او اصطلاحي معنى : **مایبحث فیه عن عوارضه الذاتیة** ، موضوع هغه څه ته وایي چې بحث کیږي په دې علم کې دعوارضو ذاتیو نه ، او د هر علم موضوع هر هغه څیز دی

چې د هغې د عوارضو ذاتيو يعنې حالاتٌ ذاتيو نه په دې علم کې بحث کيږي لکه د علم طب موضوع د انسان بدن دی ځکه چې په علم طب کې د انسان د بدن د احوالو نه بحث کولې شي.

دعلمِ نحوې موضوع : الكلمة والكلام، دعلم نحوې موضوع کلمه او کلام دی ځکه چې په علمِ نحو کې د کلمې او کلام دعوارضو ذاتيو او داحوال ذاتيو مثلاً منصرف، غیرمنصرف، معرب، مبني، مفرد، تثنیه، جمع، مذکر، مؤنث، مرکب تام، ناقص، وغیره نه بحث کیږي.

(۳) غرض او مقصد د علم : دا ځکه پيژندل ضروري دي ځکه چې دا کوم سعي او کوشش ته کوي چې دا بې ځایه لاړ نه شي. دغرض لغوي معنی نښه ده او اصطلاحي معنی: **مَا يَكُوْنُ بَاعِثاً لِلْفِعْلِ**، غرض هغه څيز دي چې په يو کار باندې باعث او برانگیخته کولو والا وي.

غرض د علمِ نحوې : صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلاَمِ الْعَرَبِ،ساتل دذهن دي دخطاء لفظي نه په کلام دعربو کې، د **عن الخطاء اللفظي** په قید سره ترې علم صرف او علم معاني، علم بیان، علم منطق خارج کړی شو ځکه چې دعلم صرف غرض دصيغوي غلطو نه بچ کیدل دي اودعلم معاني اوبيان غرض معنوي غلطي نه بچ کیدل دي اودعلم منطق غرض فكري غلطي نه بچ کیدل دي اودعلم نحوې غرض لفظي غلطي نه بچ کیدل دي.

(۴) واضع دعلمِ نحوې : دا ځکه پيژندل ضروري دي چې دعلم عظمت او مرتبه او شان په زړه کې کيني. دعلمِ نحوې د واضع په باره کې دوه (۲) قوله دي:

اول قول : اول او مشهور قول دا دي چې دعلمِ نحوې واضع هغه حضرت ابوالاسود دوئلي رَحِمَهُ اللّٰهُ دي، دده نه مروي دي چې څلورم خلیفه امیرالمؤمنین حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خدمت کې حاضر شوم نو ما حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وليدو چې په سوچ کې ناست دي، ماترې دسوچ او دفکر کولو په باره کې ترې تپوس وکړو نو حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل: چې ما سوچ کول چې دعجمو او عربو د اختلاط او د ګډوډیدو دوجې نه په لغتِ عربي کې فساد راغې ما دغه اصولو د منضبط کولو او تيارولو اراده کړې چې په دې اصولو باندې عمل وشي او دفساد نه محفوظ پاتې شي، دري ورځې پس زه بيا حاضر شوم نو ما ته يوه قطعه راياده شوه چې په هغه قطعه کې دا مضمون وو:

﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ اَلْكَلاَمُ كُلُّهُ ثَلاَثَةٌ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ فَالْاِسْمُ مَا اَنْبَأَ عَنِ الْمُسَمّٰى وَالْفِعْلُ مَا اَنْبَأَ عَنِ الْفَاعِلِ وَالْحَرْفُ مَا اَنْبَأَ عَنْ مَعْنًى لَيْسَ بِاِسْمٍ وَلاَ فِعْلٍ﴾.

بيا يې وويل ته په دې کې څه اضافه وکړه، بيا ابوالاسود رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې ما څه نور قواعد جمع کړل، عطف، لغت، تعجب، استفهام، باب اِنَّ وغیره دا مې راجمع کړل او حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته مې پيش کړل په حروف مشبه بالفعل کې ما لٰكِنَّ ذکر

نه کړو نو هغوي ووېل چې دا په کې هم شامل کړه نو د نحوې يوه خاصه مجموعه او قواعد مرتب شو ، حضرت علي رضي الله عنه چې کله دا مجموعه ولیده نو ووېل : ﴿ما احسن هذا النحو الذي قد نحوت﴾ څومره خه دا چې د کومې تاسو قصد کړي وو ، يعنې ډیر ښه قواعد دې تيار کړي ، دد ې قول مطابق واضع اول د نحوې هغه څلورم خليفه حضرت علي رضي الله عنه دي .

دويم قول : د دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې يو بانده چې د خلکو نه درخواست وکړو چې ما ته په نبي کريم صلى الله عليه وسلم نازل شوي کلام الهي يعنې د قرآن مجيد تلاوت وکړي ، يو عجمي دې بانده چې ته تلاوت شروع کړو چې کله سورة براءة دې آيت ته ورسيدو چې : ﴿أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولِهِ﴾

ترجمه : بې شکه الله تعالى د مشرکينو نه هم بري او بې زاره دی او د خپل رسول نه هم بري او بې زاره دي (**العياذ بالله**).

حالانکې آيت خو داسې دې چې : ﴿أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولُهُ﴾ چې ترجمه يې دا رنګې ده : چې الله تعالى د مشرکينو نه بري او بې زاره دي او دده رسول هم د مشرکينو نه بري او بيزاره دي .

نو دې بانده چې ووېل چې : **أبرئ الله من رسوله؟** ، آيا الله تعالى د خپل رسول نه بري دي ، نو بيا دې بانده چې ووېل چې : **ان كان الله بريئا من رسوله فانا برئ منه** ، که چیرته الله تعالى د خپل رسول نه بري دي نو زه هم دد ې رسول نه بې زاره او بري يم ، (**نعوذ بالله**) .

چې کله حضرت عمر رضي الله عنه ته دد ې واقعې معلومات او پته ولګيده نو ډير زيات خفه شو او فکر يې وکړو چې څه قوانين وضع کول په کار دي چې په دې قواعدو سره عجمي خلک د غلطيو نه محفوظ شي نو حضرت عمر رضي الله عنه حضرت ابو الاسود دولي ته د قوانينو د وضع کولو حکم وکړو د حضرت عمر رضي الله عنه د حکم مطابق حضرت ابو الاسود دولي قواعد وضع کړل دد ې قول مطابق په حيثيت د آمر سره حضرت عمر رضي الله عنه ګويا چې واضع د علم نحوې دي .

دريم قول : حضرت ابو الاسود دؤلي رحمه الله (چې د حضرت حسن او د حضرت حسين رضي الله عنهما استاذ دی) ديو کس نه دا واوريده : ﴿أَنَّ اللَّهَ بَرِيءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ وَرَسُولِهِ﴾ وَرَسُولُهُ يې په کسرې سره ووېل ، نو حضرت ابو الاسود دؤلي رحمه الله خفه شو او وې ووېل : **هذا كفر** ، بيا د حضرت علي رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو چې : **نحوت ان اصنع ميزانا للعرب** ، زما اراده ده چې زه د عربو د پاره يو ميزان او قانون جوړ کړم چې دوي د خپلې ژبې الفاظ او کلمات صحيح ادا کوي ، نو حضرت علي رضي الله عنه ووېل : اقصد نحوه ، دې طرف ته قصد وکړه ، دد ې وجې نه دد ې نوم هم علم نحو ايخودل شوي دي او دې علم ته علم الاعراب هم ويلې شي ځکه چې اعراب ته په دې کې هم دخل دی ، دد ې قول مطابق د علم نحوې اول واضع حضرت ابو الاسود دؤلي رحمه الله دي .

وجه تسميه دعلم نحو : چونکې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخوشحالي اظهار وکړو او دې مجموعې ته يې لفظ د النحو استعمال کړو نو ددې وجې نه ددې علم نوم هم علمِ نحو کيخودل شو .

(۵) تاريخ دعلم نحوې : داځکه پيژندل ضروري دي چې دعظيم الشان علماو د محنت او کوشش معلوميدو نه په زړه کې ددې علم نور عظمت او قدر هم راشي .

اول دور : اول دور خو دادي چې په کوم کې دوهم خليفه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ځلورم خليفه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو الاسود دؤلي رَحِمَهُ اللهُ بنياد ايخوي وو .

دوهم دور : ابو الاسود دؤلي رَحِمَهُ اللهُ ددوي دبچو نه دا علم نحوه حاصله کړي ده همدا رنګې دده نه ابو اسحق ، عيسى الثقفي، ابو عمرو بن العلاء رحمهم الله هم دا علم حاصل کړي ، نضر بن عاصم او عبد الرحمن بن هرمز الاعرج، يحيى بن يعمر رحمهم الله وغيره هم په تدريج سره دې علم ته ترقي ورکړي ده .

دريم دور : ابو عمر بصري رَحِمَهُ اللهُ او دده شاګرد ابو عبد الرحمن خليل بن احمد فراهيدي رَحِمَهُ اللهُ (متوفى ۱۶۰ھ) او دخليل شاګرد امام ابو بشر عمرو بن عثمان سيبويه رَحِمَهُ اللهُ (متوفى ۱۶۱ھ) تحقيق کړي . امام سيبويه رَحِمَهُ اللهُ کلي په کلي وګرځيدو او د کلو نه به يې خالص فصيحه عربي اوريده او ددې نه به يې قواعد راټولول لکه دوي يو کتاب ليکلي چې کتاب دسيبويه په نوم مشهور شوي چې د راتلونکي نحوي کتابو دپاره دامام حيثيت لري ، ابو عمرو عيسى بن عمرو الثقفي رَحِمَهُ اللهُ په نحوه کې دوه کتابونه ليکلي دي : (۱) الاکمال . (۲) الجامع .

بيا نحويان په دوه ډلو وويشل شو : (۱) يوه ډله نحويان د کوفې . (۲) او دوهمه ډله نحويان د بصرې ، مشهور علماء چا چې په علم نحو کې کوششونه کړي دي دهغوي مشهورو شخصياتو نومونه دادي : مبرد ، اخفش، ابو عثمان بکر بن محمد بن عثمان المازني، زجاج، محمد بن سراج، ابو علي فارسي، عبد القاهر جرجاني، ابن هشام، جار الله زمخشري ، امام ثعلب ، علامه رضي ، علامه ابن حاجب او صاحب د کتاب ابو حيان رحمهم الله وغيره.

(۶) مقام او مرتبه دعلم نحوې : داځکه پيژندل ضروري دي چې ددې علم د ويلو شوق پيدا شي .

فائده : علوم په دوه قسمه دي : (۱) مقصوده عاليه. (۲) غير مقصوده آليه علم نحو خو ده د غير مقصودو نه ځکه چې دا د علوم عاليو تفسير، حديث فقه وغيره دپاره آله ده او په خپله مقصود نه دي ليکن د مقصود دپاره موقوف عليه ده ، ددې وجې نه صاحب دمفتاح وايي چې د علم نحوې حاصلول فرض کفايه دی، ددوهم خليفه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول دي چې : (**تعلموا النحو كما تعلمون السنن والفرائض**) علمِ نحوه زده کړئ لکه څنګه چې تاسو سنن او فرائض زده کوي .

ايوب سجستاني رَحِمَهُ اللهُ وايي : (**تعلمو النحو فانه جمال للوضيع وتركه هجنة للشريف**) علم نحو زده کړي

ځکه چې دا جمال دي د کمزوري سري دپاره او د دې پرېښودل باعث د عیب دی د شریف سري دپاره.

امام کسائي رَحِمَهُ اللهُ وایي : (**انما النحو قیاس یتبع وبه کل علم ینتفع**) علم نحو قابل د اتباع د قیاس دی او هم د دې نه په هر علم کې فائده حاصلولې شي.

د دې عظمت او ضرورت د ظاهرېدو نه پس د علماء کرامو عجیب او نا اشنا آثار دی لکه :

(۱) النحو في الکلام کالملح في الطعام .

نحوه په کلام کې لکه مالګه په طعام کې .

(۲) النحو للعلوم کالضوء للنجوم ،

نحوه د علومو دپاره لکه رڼا د ستورو دپاره .

(۳) النحو في الکلام کالضوء في الظلام .

نحوه په کلام کې لکه رڼا په تیاره کې .

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ	الْعَالَمِیْن	وَ	الْعَاقِبَةُ
[ټول تعریفونه]	[الله لره دی] [چې رب دی]		[د ټولو مخلوقاتو]	[او]	[ښه انجام]
ټول ثنا او صفت ثابت خاص الله لره دی چې پالونکي د ټولو مخلوقاتو دی او ښه انجام					
لِلْمُتَّقِیْن	وَ الصَّلَاةُ	وَ السَّلَامُ	عَلٰی	خَیْرِ	خَلْقِهٖ
[د پاره د پرهیزګارانو دی]	[او درود]	[او سلامتیا]	[په]	[غوره]	[مخلوق باندې]
دآخرت دا د متقیانو د پاره دی او درود او سلام دې وي په هغه غوره مخلوق باندې چې					
مُحَمَّدٍ	وَ	آلِهٖ	اَجْمَعِیْن.		
[چې محمد دی]	[او]	[په آل دده]	[په ټولو دې وي]		
نوم یې محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی او په آل دده دې وي په ټولو دې وي.					

تشریح : سوال : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ دده کتاب شروع په **بسم الله** سره ولې وکړه؟

جواب : مصنف د خپل کتاب شروع په **بسم الله** سره د څو وجهو نه کړې ده :

اول : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ **بسم الله** په سر د کتاب کې ددې د پاره راوړه چې موافقت راشي د کتاب الله سره ځکه چې د کتاب الله په سر کې هم **بسم الله** ذکر د.

دویم : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ **بسم الله** په سر د کتاب کې ددې د پاره راوړې چې عمل راشي په هغه حدیث باندې چې وارد شوې دې په فضیلت د **بسم الله** کې او هغه حدیث دادې چې :**کل امرٍ ذي بال لا یبدء ببسم الله فهو ابتر او اقطع** ، یعنې هر یو نیک کار چې د الله تعالی په نوم سره شروع نه کړې شي نو هغه بې برکته وي.

دریم : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ **بسم الله** په سر د کتاب کې ددې دپاره راوړه چې موافقت راشي د کتبو د سلفو صالحینو سره ځکه چې د هغوي د کتابونو په سر کې هم **بسم الله** وه.

څلورم : مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ **بسم الله** په سر د کتاب کې ددې دپاره راوړه چې موافقت راشي د خط د سلیمان علیه السلام سره ځکه چې ده بلقیس ته خط لیږلو نو په سر کې یې ورته داسې لیکلي وو : ﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ﴾ .

﴿ **الحمد** ﴾: حمد په لغت کې ستودن ته ویل کیږي یعني د چا ستاینه کول او په اصطلاح کې : **هو ثناء الله تعالى بأسمائه و صفاته عقيدةً او قولاً او عملاً ما ثبت بالقرآن و الحديث** ، دا د الله تعالى صفت بیانول دي په اسماء الحسنى سره او په صفاتو سره عقیدتاً او قولاً او عملا هغه چې ثابت وي په قرآن او حدیث سره .

په الحمد کې الف لام : په **الحمد** باندې الف لام په څو قسمو کیدی شي : (۱) الف لام جنسي هم کیدی شي نو په دې وخت کې به یې معنى داشي چې جنس حمد ثابت دی خاص الله لره او دا ډیره مناسبه معلومیږي د دې وجې نه دلته مقصود حمد دی او دا د دې ځای سره مناسب هم دی. (۲) الف لام استغراقي هم کیدی شي نو په دې صورت کې به یې معنى داشي چې ټول تعریفونه برابره خبره ده چې د دې تعلق د خالق د ذات سره وي یا د مخلوق سره ټولې خبرې به د دې خدای منلي کیږي ، د دې وجې نه چې د حقیقت او د اصل په اعتبار سره ټول د خو او بدو او د نیکو پیدا کوونکي همدا الله تعالى دی دی او د اصل کیدو د وجې نه یې د دې طرف ته حمد منسوب کړو. (۳) یو احتمال دا هم دی چې الف لام معهود ذهني وی ، نو په دې وخت کې به یې مطلب داوي چې هغه حمد چې د متکلم په ذهن کې دی هغه مراد دی .

﴿ **رب** ﴾ : دا په اصل کې **راب** وو **الف** مو حذف کړو او (**با**) مو په (**با**) کې مدغم کړه **رب** ترې جوړ شو . **رب** صیغه د صفت مشبه ده ، د تربیت نه ده ، **بأء** مصدر مبني للفاعل دی ، **رب** په عربي لغت کې د ډیرو معانیو د پاره راځي : مالک ، سید ، حاکم ، انتظام کوونکي ، اصلاح کوونکي ، جمع کوونکي پالونکې ، معبود وغیره ، او همدارنګې دا مصدر هم راځي لیکن په دې صورت کې به یې معنى وي پالل ، پرورش کول ، په غیر د اضافت نه چې کوم وخت کې استعمال شي نو په هغه وخت کې به ذات د الله تعالى مراد اخستلی شي او په کوم وخت کې چې اضافت سره استعمال شي نو بیا به یې مراد بل شي اخستلې شي لکه: **رب المال** ، **رب الدار** .

﴿ **عالمين** ﴾ : د **عالم** جمع ده او **عالم** هر هغه شي ته وایي چې د هغې په وجه بل شي وپیژندلې شي دنیا ته عالم د دې وجې نه ویلی شي چې د دې په ذریعه د دنیا خالق پیژندلی شي ، او یا هر هغه څیز ته ویلي کیږي چې بل څیز پرې معلومیږي او په عام عرف کې د الله تعالى نه غیر ټولو شیانو ته عالم ویلي کیږي لکه : ملائک ، انسانان ، پیریان ، حیوانات وغیره .

﴿ **والعاقبة** ﴾ د عاقبة نه مخکې مضاف محذوف دی په اصل کې عبارت داسې وو : حسن العاقبة او د مضاف اعراب مضاف الیه ته ورکړې شو او په کلام د عربو کې دا ډیر کرته راغلي لکه : **و اسئل القرية يعني اهل القرية** .

﴿ **للمتقين** ﴾ : **متقين** جمع د **متقي** ده چې لغوي معنى یې ده زیات ځان ساتلو والا او پرهیز کولو والا ، او په

اصطلاح کې : **هو الذي يتق عن الشرک و عن المعاصي کلها** ، يعنې هغه خلک چې ځان ساتي د شرک نه او د ټولو ګناهونو نه.

د متقي درجې : بيا د متقي درې (۳) درجې دی : (۱) تقوی عام يعنې ايمان راوړل او د کفر نه ځان ساتل.

(۲) تقوی خاص : يعنې ماموراتو باندې عمل کول او منهياتو نه ځان ساتل عام خلک ددې دواړو مکلف دی.

(۳) تقوی اخص يعنې لا يعنې او د بې فائدې کارونو نه ځان ساتل او دا خاص خاص خلکو ته حاصل وي. نو د مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ مقصود په دې جملې سره طالبان تنبيه کول او د عمل کولو ترغيب ورکول دی ځکه چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمان دی : **لو کان للعلم شرف بدون التقوی لکان الشيطان اعلی منزلة** ، يعنې که چيرته د علم د پاره شرافت وو په غير د تقوی نه نو د شيطان د پاره په باره اعلی اوچته مرتبه وه.

﴿والصلوة﴾ : صلاة په لغت کې په مختلفو معانيو سره ذکر دي : دصلوة نسبت چې کله ذات دالله تعالی ته وشي نو په دې وخت کې د رحمت په معنی وی، که چيرته يې نسبت ملائکو ته وشي نو په دې وخت کې په معنی داستغفار وي، ليکن که چيرته اهل ايمان طرف ته يې نسبت وشي نو په دې وخت کې به صلوة په معنی ددعا سره وي.

او په اصطلاح کې عبارت دی د ارکانو مخصوصو نه په اوقات مخصوصه کې لکه : قيام، رکوع، قرائت، سجده وغيره په پنځه وخته مونځونو کې ليکن دلته يې معنی ده : نزول د رحمت کامله د الله تعالی د طرف نه.

﴿محمد﴾ : دا صيغه د اسم مفعول ده د باب تفعيل د تحميد نه دی.

﴿و آله اجمعين﴾ : **آل** په اصل کې **اهل** وو په دليل د **اهيل** سره بيا اعلال وشو په کې نو **آل** شو، دوهم دا چې د **آل** نه مراد **کل تقي ونقي فهو آلي** دي.

او د **آل** په مصداق کې پنځه اقوال دي : (۱) **کل تقي نقي فهو آلي**، په دې صورت کې د اصحابو ذکر تخصيص بعد التعميم وي. (۲) بنو هاشم او بنو عبدالمطلب. (۳) صرف بنو هاشم. (۴) ازواج مطهرات لوريانې او زومان، (۵) صرف لوريانې او زامان او دا قول د روافضو دي.

فرق په مينځ دآل او اهل کې : دآل او اهل په مينځ کې فرق په پنځو طريقې سره بيانيږي:

اول : دا چې : د **آل** استعمال صرف په ذوي العقولو کې وي او **اهل** عام دي.

دوهم : **آل** په ذوي العقول کې صرف دمذکر دپاره استعماليږي او **اهل** عام دي.

دريم : **آل** داشرافو دپاره ويلې کيږي او **اهل** عام دي.

څلورم : د آل اضافت ضمیر طرف ته زیات وي او اهل کله کله وي .

پنځم : دا چې آل استعمالیږي په اشرافو کې برابره خبره ده چې دا شرافت دنیوي وي او که اخروي وي ، او اهل عام دی اشرافو او ارزالو دواړو ته استعمالیږي .

ترکیب : **بسم الله الرحمن الرحیم** : **بآء** حرف جار **اسم** مضاف لفظ د **الله** موصوف **الرحمن** صفت اول **الرحیم** صفت ثاني موصوف چې لفظ د **الله** دی سره د دواړو صفتینو نه دا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې اسم دی مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د پاره د حرف جار چې **بآء** ده حرف جار سره د مجرور نه دا ظرف مستقر تعلق نیسي دا **ابتدءُ** مقدر پورې **ابتدءُ** صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ورنه په **انا** سره کیږي هغه یې فاعل ، فعل چې **ابتدءُ** دی سره د فاعل نه چې **انا** دی دا جمله فعلیه صورتاً انشائیه معناً شوه .

الحمدلله: الحمد مبتداء لله جار مجرور ظرف مستقر دا متعلق شو تر ثابت پورې ، ثابت صیغه د اسم فاعل ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ترې نه کیږي په هو سره هغه یې فاعل ، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا شبه جمله خبر شو د پاره مبتداء چې الحمد دی ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه .

رب العالمین : رب مصدر مضاف العالمین یې مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بدل شو د پاره د لفظ د الله ، او لفظ د الله ورته مبدل منه شو ، مبدل منه سره د بدل نه دا مجرور شو د پاره د جار چې په لله کې لام دی ، جار مجرور دا متعلق شو تر ثابت پورې نور زوړ ترکیب دی .

والعاقبة للمتقین : واو استینافه العاقبة مبتداء لام جار متقین مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر دا متعلق شو تر ثابت مقدر پورې ، ثابت اسم فاعل سره د فاعله چې هو دی او سره د متعلقه شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء چې العاقبة دی ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه مستانفه .

والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد: واو عاطفه الصلاة معطوف علیه واو عاطفه السلام معطوف ، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مبتداء ، علی حرف جار خیر مجرور مضاف الیه مضاف خلق مضاف الیه مضاف **ه**ضمیر مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بیا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې خیر دی ، خیر مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبدل منه شو او محمد ورته بدل شو ، مبدل منه سره د بدل نه دا معطوف علیه شو .

و آله اجمعین : **واو** عاطفه **آل** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا مؤکد شو او **اجمعین** یې تاکید شو ، مؤکد سره د تاکید نه دا معطوف شو د پاره د معطوفة علیه چې **خیر خلقه محمد** دی ، معطوف علیه سره د

2 معطوف نه دا مجرور شو د پاره د جار چې **علی** دی، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر دا متعلق شو تر **نازلة** پورې، **نازلة** اسم فاعل سره د فاعله چې **هِيَ** دی او سره د متعلقه چې **علی خیر خلقه محمد** دی دا شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء چې **والصلاة و السلام** دی مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

أما بعد ! بدان ارشدک الله تعالی که این مختصریست
[وروسته ددې نه] [پوهه شه] [نیک دې کړي تا لره] [الله تعالی] [چې] [دا] [مختصر]
پس د حمد او صلاة نه پوهه شه ای طالبه نیک دې کړي تا الله تعالی چې دا یو مختصر
مضبوط در علم نحو که مبتدی را بعد از حفظ
[ضبط کړې شوې] [په] [علم نحو کې] [چې] [شروع کوونکي] [ته] [پس] [د حفظ کولو]
کتاب دی چې لیکلې شوې دې په علم نحو کې چې نوې شروع کوونکي ته پس د یادولو
مفردات لغت و معرفت اشتقاق و ضبط مهمات
[دمفرداتو] [د لغت] [او] [معرفت] [د اشتقاق] [او] [ضبط کولو] [د ضروري مسائلو]
دمفرداتو دلغت دعربو او پس د پیژندلو د جوړولو د الفاظو نه او پس د یادولو د ضروري
تصریف بآسانی بکیفیت ترکیب عربی راه نماید و بزودی
[د صرف] [په آساني سره] [په طریقې د ترلو] [د عربي الفاظو] [ته] [لاره ښائي] [او زر تر زره]
مسایلو د صرف نه په آسانی سره په طریقه د ترلو د عربي الفاظو ته لاره ښایي او زر تر زره
معرفت اعراب و بناء و سواد خواندن توانائی دهد
[په معرفت] [د اعراب] [او] [بناء] [او] [د عبارت په لوستلو کې] [طاقت] [ورکوي]
په پیژندلو د معرب او د مبني کې او د عبارت لوستلو کې طاقت ورکوي او دا د الله تعالی
بتوفیق الله تعالی و عونه.
[په توفیق] [د الله تعالی] [او په مدد]
په توفیق او د هغه په مدد سره کیږي.

تشریح: مصنف رحمة الله علیه د **اما بعد** نه تر فصل پورې خپل کتاب ته رغبت ورکوي چې ای طالب علمه! چې دده کتاب به لوستلو سره به تا ته دری غټې فائدې حاصلې شي:

اول: د عربي کلماتو ترکیب به تاته آسان شي. **دوهم**: د کلماتو معرب و مبني معلومات به تاته وشي او اعراب او وجه اعراب یعنې دا کلمه مرفوع ولې ده منصوب ولې ده مجرور ولې ده د دې وجه به تاته معلومه شي او همدغه د علم نحوې مقصود دی. **دریم**: په دې سره په تا کې د عربي کتابونو د صحیح عبارت لوستلو استعداد پیدا شي.

﴿اَمّابعد﴾ : **امّا** حرف شرط دی، **بدان** ورته جزاء ده **بعد** اسم ظرف دی، قانون او ضابطه په اسم ظرف کې دا ده چې دی به همېشه مضاف وي خو د دې درې حالتونه دي، په یو حالت کې مبني او په دوو حالتونو کې معرب وي:

(۱) که مضاف الیه په عبارت کې نه وي مذکور او په نیت کې وي نو مبني به وي په ضمې سره.

(۲) او که مضاف الیه په عبارت کې مذکور وي، نو معرب به وي.

(۳) که مضاف الیه په عبارت کې هم نه وي مذکور او په نیت کې هم نه وي نو بیا به هم معرب وي.

﴿بدان ارشدک﴾ د مصنفینو حضراتو دا عادت حسنه دی چې د طالبانو د متوجه کولو د پاره په عربي کتابونو کې [اعلم] او په فارسي کتابونو کې [بدان] کلمات راوړي نو مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ دلته [بدان] لفظ راوړو.

سوال : مصنف رحمة الله علیه چې **بدان** وویلو نو **اعلم** یې ولې نه ویلو؟

جواب : **اعلم** لفظ د عربي دی او دا کتاب د فارسي دی، نو ځکه مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ په اول کې لفظ د فارسي راوړو.

سوال : د **بدان** لفظ یې په فارسي کې ذکر کړو او دعا (**ارشدك الله تعالى**) یې په عربي کې ذکر کړه، نو دعاء به یې هم په فارسي کې ذکر کړې وه؟

جواب : دعاء یې په عربي کې ځکه ذکر کړه چې اصل دعاء په عربي ژبه کې ښه قبلېږي.

﴿مختصر﴾ : صیغه د اسم مفعول د باب افتعال نه ده په لغت کې کوتاهي ته ویلی کېږي او په اصطلاح کې : **اداء المطالب الکثیرة بالفاظ قلیلة**، یعنې ډېرو مطالبو لره ادا کول په لږو الفاظو سره.

د کتاب اقسام : د کتاب څلور اقسام دی : (۱) رساله، (۲) فتاوی، (۳) مختصر، (۴) مطول : (۱) رساله هغه ده کوم چې قلیل الالفاظ قلیل المعاني وي. (۲) فتاوی هغه ده چې کثیر الألفاظ کثیر المعاني وي. (۳) مختصر هغه چې قلیل الالفاظ کثیر المعاني وي. (۴) مطول : هغه چې کثیر الالفاظ قلیل المعاني وي. نو مصنف رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مختصر سره اشاره وکړه چې زما دا کتاب باوجود د اختصار نه په مطالب کثیرو باندې مشتمل دی.

﴿مضبوط﴾: صیغه د اسم مفعول ده معنی یې ده محفوظ مکتوب.

﴿مبتدی﴾: صیغه د اسم فاعل د باب **افتعال** نه ده معنی لغوي یې (نوي شروع کوونکې) او په اصطلاح کې (**هوالذي شرع في الاول جزء من الشئ مع قصد تحصیل باقي الاجزاء**) یعنې شروع کول په اول جزء د شي کې سره د اراده ساتلو د حاصلولو د باقي اجزاوو نه، چې ددې په مقابل کې منتهی دی چې ددې تعریف دی: **ما یصل إلی آخر جزء من الأشیاء**، چې رسي آخري جزء د اشیاو ته.

﴿لغت﴾ په لغت کې **نطق** ته وایي، او په اصطلاح کې: **ما یعبر کل قوم عن اغراضهم**، چې تعبیر کوي هر یو قوم د خپلو اغراضو او مقاصدو، او **نطق** صیغه د مصدر ده.

﴿اشتقاق﴾ په لغت کې **پاره کردن** ته وایي او په اصطلاح کې **ان تجد بین الفظین مناسبةً في اللفظ والمعنی.**

﴿تصریف﴾: په لغت کې تغیر ته وایي او په اصطلاح کې: **هو تحویل لفظ واحد الی الفاظ متعددة بحسب الزمان والمکان**، یعنې اړول د یو لفظ الفاظو متعددو طرف ته په اعتبار د زمان او مکان سره.

﴿بتوفیق الله﴾: د انساني تدبیر د تقدیر الهي موافق کېدل دا توفیق دی.

ترکیب : بتوفیق الله تعالی و عونه : باء حرف جار **توفیق** مجرور مضاف لفظ د **الله** ذوالحال **تعالی** حال، ذوالحال سره د حال نه دا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې **توفیق** دي مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه شو، **واو** عاطفه **عون** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر دا متعلق شو تر **استعین** پورې، **استعین** صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل شو، **استعین** فعل سره د فاعل او سره د متعلق دا جمله فعلیه خبریه.

د لفظ اقسام او د مفرد تعریف:

فصل :	بدانکه	لفظ	مستعمل	در	سخن	عرب	
[فصل]	[پوهه شه] [چې]	[لفظ]	[مستعمل]	[په]	[کلام]	[د عربو کې]	

دا فصل دی په بیان د تقسیم د لفظ کې پوهه شه چې لفظ مستعمل په کلام د عربو کې

بر دو قسم است : مفرد ومرکب ' مفرد لفظی باشد تنہا کہ دلالت کند
[په][دوه][قسمه][دی][مفرد][او][مرکب][مفرد][هغه لفظ دی][چې][یوائې][دلالت وکړي]
په دوه قسمه دی یو مفرد او بل مرکب .مفرد هغه لفظ دی چې دلالت کوي یوائې په
بریک معنی وآن راکلمہ گویندو کلمہ برسہ قسم است اسم چون : رَجُلٌ
[په یو][معنی][او دې ته][کلمه][وایي][او کلمه][په درې][قسمه][ده][اسم][که][جل]
یو معنی باندې ،او دې ته کلمه هم وایي ،او کلمه په درې قسمه ده : اسم لکه رجل
وفعل چون ضَرَبَ و حرف چون هَلْ چنانچہ در تصریف
[او][فعل] [لکه] [ضَرَبَ] [او] [حرف] [لکه] [هَلْ] [چنانچه] [په] [علم صرف]
یعنې سړی او فعل لکه ضَرَبَ یعنې ووهه یو سړي او حرف لکه هَلْ شو لکه دا په علم
معلوم شده است .
[کې معلومه][شوې][ده].
صرف کې معلوم شوي دي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د لفظ مستعمل اقسام بیانیږي چې لفظ مستعمل په کلام د عربو کې په دوه قسمه دی : مفرد او مرکب، په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مفرد تعریف او تقسیم بیانوي ځکه مفرد مقدم وي په مرکب باندې په طبع کې ،نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ دلته هم مقدم وګرځولو او مفرد یې اول ذکر کړو .

د الفاظو تحقیق : فصل په لغت کې **قطع** ته وایي او په اصطلاح کې : **قطعة من القرطاس مشتملة على مسائل العلم علماً بالاجمال.**

﴿لفظ﴾: په لغت کې **رمي** ته وایي او په اصطلاح کې :**ما یتلفظ به الانسان**، ته ویلی کېږي.

﴿مستعمل﴾ : صیغه د اسم مفعول ده معنی یې داده چې هغه شی چې استعمال کړې شوې دی.

﴿مفرد﴾ : صیغه د اسم مفعول د باب افعال د افراد نه ده.

﴿اسم﴾: په لغت کې نوم ته وایي.

﴿فعل﴾: په لغت کې حدث ته وايي. **﴿حرف﴾**: په لغت کې طرف ته وايي.

تشريح : د لفظ دوه قسمونه: اول: با معنی، دوهم: بې معنی، او د لفظ با معنی نور نومونه هم دي، مستعمل، موضوع ، غیر مهمل. او د بې معنی نور هم يو څو نومونه دي غیر موضوع، غیر مستعمل، مهمل او چونکه په علومو کې د الفاظ موضوعه نه بحث کېږي نو ځکه مصنف رحمة الله علیه د لفظ سره د مستعمل قید ولګولو د لفظ استعمال په کلام د عرب کې په دوه طریقو سره کېږي. مفرد، مرکب.

د مفرد تعريف او تقسيم : مفرد هغه لفظ دی چې ځانله په معنی باندې دلالت وکړي لکه **زید**: مفرد دويم نوم کلمه ده او په تقسيم کې به کلمه ذکر کېږي، او کلمه په درې قسمه ده: **اسم، فعل، حرف**.

د اسم تعريف: دا هغه کلمه ده چې في نفسه په خپله معنی باندې دلالت کوي او د درې زمانو نه په کې يوه زمانه هم نه موندلې شي، لکه **رَجُلٌ، زَيْدٌ**.

د فعل تعريف: چې في نفسه په خپله معنی باندې دلالت کوي او د دريو زمانو نه په کې يوه زمانه وموندلې شي، لکه: **ضَرَبَ**.

د حرف تعريف: چې په خپله معنی ورکولو کې بلې کلمې ته محتاجه وي، لکه: **هَلْ**.

فائده : په دريو اقسامو کې د مرتبې په لحاظ سره اسم مقدم دی ځکه چې فعل په خپل وجود کې اسم ته محتاج دی لکه **خلق الله**، د الله تعالی نه بغیر خلق، چې فعل دی نه کېږي، دغه شان زید نه بغیر اکل او شرب نه کېږي لهذا اسم محتاج الیه شو او **نعل** محتاج او دا خبره ظاهره ده چې محتاج الیه اعلی او افضل او مقدم وي.

د مرکب تعريف او تقسيم :

اما مرکب لفظی باشد که از دو کلمه یا بیشتر حاصل شده باشد
[هر چې] [مرکب دی] [دا هغه لفظ دی] [چې] [دوو] [کلمو] [یا د زیاتو نه] [حاصل شوې وي]
هر چې مرکب دی نو دا هغه لفظ دی چې د دوو یا د زیاتو کلمو نه جوړ کړی شوی وي
و مرکب بر دو گونه است: مفید و غیر مفید، مفید آنست
[او] [مرکب] [په] [دوه] [قسمه دی] [مفید] [او] [غیر مفید] ، [مفید] [هغه دی]
بیا مرکب په دوه قسمه دی مرکب مفید او مرکب غیر مفید مرکب مفید هغې ته وایي

که چون قائل بر آن سکوت کند سامع را خبری یا طلب معلوم شود
[چې] [کله] [ویونکي] [په هغې] [چپ] [شي] [او اوریدونکي ته] [څه خبر] [یا] [طلب] [معلوم شي]
چې هر کله ویونکي په هغې چپ شي نو اورېدونکي ته څه خبر یا طلب معلوم شي او
وآن را جمله گویند وکلام نیز، پس جمله بر دو قسم است خبریه وانشائیه.
[او] [دې ته] [جمله] [وایي] [او کلام هم] [پس] [جمله] [په دوه قسمه] [ده] [خبریه] [او] [انشائیه]
دې ته جمله هم وایي او کلام هم، بیا جمله په دوه قسمه ده: خبریه، انشائیه.

خلاصه د متن: دې ځای نه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د لفظ مستعمل دوهم قسم د مرکب تعریف او تقسیم ذکر کوي، ځکه چې مفرد مقدم وي په مرکب باندې په طبع کې او مرکب مؤخر وي نو مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په اصل کې هم مؤخر وګرځولو او بیا یې د مرکب په قسمونو کې مرکب مفید مقدم کړو په غیر مفید باندې ځکه چې مرکب مفید اصل دی او اصل مقدم وي په غیر اصل باندې.

تشریح: لفظ په دوه قسمه دی: مفرد او مرکب، او مفرد په درې قسمه دی: اسم، فعل، حرف، او مرکب په دوه قسمه دی: مفید او غیر مفید، او بیا مفید په دوه قسمه دی: یو انشائي او بل خبري.

مرکب مفید: هغه دی چې کله ویونکی یو خبره وکړي نو اورېدونکي ته د واقعې خبر یا د یو خبرې طلب معلوم شي، لکه قام زید، ایت بالماء د دې نوم جمله او کلام هم دی او دې ته مرکب اسنادي او مرکب تام هم ویلی کېږي، بیا جمله په دوه قسمه ده خبریه انشائیه.

﴿**مرکب**﴾ په لغت کې جوړ کړی شوي ته وایي او په اصطلاح کې چې د دوو کلمو نه یا د زیاتو نه جوړ کړی شوی وي.

﴿**مفید**﴾: صیغه د اسم فاعل ده د باب افعال د (**افاد**) نه وي.

﴿**قائل**﴾: صیغه د اسم فاعل ده په معنی د ویونکي سره.

﴿**سکوت**﴾: مصدر دی د ثلاثي مجرد د باب (**نصر**) نه.

﴿**سامع**﴾: صیغه د اسم فاعل ده باب (**تَسمَعُ**) نه ثلاثي مجرد دی.

یعنې کله چې د جملې ویونکی د چا حکایت بیانوي که چېرته دا خبره په حقیقت کې صحیح وي نو قائل ته به صادق ویلی شي او که چېرته د حقیقت نه خلاف وه نو قائل ته به کاذب ویلی شي، لکه **زَیْدٌ عَالِمٌ**.

د جمله خبریې تعریف او اقسام :

فصل بدانکه جمله خبریه آنست که قائلش را بصدق وکذب صفت
[فصل][پوه شه چې][جمله خبریه][هغه ده] [چې][ویونکي][ته][په صدق او کذب][صفت]
فصل : پوه شه چې جمله خبریه هغه ده چې د ویونکي په رښتیا او دروغو سره صفت
توان کرد وآن بر دو نوع است اول : آنکه جزء اولش اسم باشد ' وآن را جمله
[وکړې شي][او دا][په دوه][قسمه ده][اول هغه چې][جزء اول یې][اسم وي][او][دې ته][جمله]
وکړې شي او دا په دوه (۲) قسمه ده : اول هغه چې اول جزء یې اسم وي او دې ته جمله
اسمیه گویند چون زَیْدٌ عَالِمٌ یعنی زید دانا است جزء اولش مسند الیه است وآن را
[اسمیه][وایي][لکه][زید عالم][یعني زید عالم دی][جزء اول یې][مسند الیه دی][او][دې ته]
اسمیه وایي لکه : زید عالم یعني زید عالم دی ، اول جزء مسند الیه دی او دې ته
مبتدا گویند وجزء دوم مسند است ' وآن را خبر گویند . دوم آن که جزء اولش
[مبتدا وایي][او جزء دوم یې][مسند دی][او][دې ته][خبر][وایي][دوهم][هغه چې][جزء اول یې]
مبتداء وایي او دوهم جزء مسند دی او دې ته خبر وایي ، دوهم هغه چې اول جزء یې
فعل باشد و آن را جمله فعلیه گویند و جزء دوم مسند الیه است و آن را
[فعل وي][او دې ته][جمله فعلیه][وایي][او][جزء دوم][مسند الیه دی][او دې ته]
فعل وي او دې ته جمله فعلیه وایي ، او دوهم جزء یې مسند الیه دی او دې ته
فاعل گویند .
[فاعل][وایي]
فاعل وایي .

خلاصه د متن : مخکې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د جملې د اقسامو اجمالاً ذکر وکړو چې جمله په دوه قسمه ده : خبریه او انشائیه ، په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د هریو تعریف ذکر کوي او بیا ورسره ورسره د هریو تقسیم هم ذکر کوي .

تشریح : د جملې تعریف او تقسیم : د جملې دوه (۲) قسمونه دي : (۱) جمله خبریه ، (۲) جمله انشائیه.

جمله خبریه : جمله خبریه هغه ده چې د کومې ویونکي ته رښتیوني یا دروغجن ویلی شي، یاد ساتئ صدق او کذب د کلام او د متکلم د دواړو صفت جوړېږي.

د جمله خبریې څلور قسمونه دي: (۱) اسمیه، (۲) **فعلیه**، (۳) **ظرفیه**، (۴) **شرطیه**.

جمله اسمیه : هغه ده چې دا جزائې اصلیو نه یې اولنې جزء اسم وي، لکه **زَيْدٌ عَالِمٌ** د جملې اسمیې اولنی جزء مسند الیه وي چې د دې یو څو نومونه هم دي مبتداء، محکوم علیه، مخبر عنه موضوع لیکن ترکیبي نوم یې مبتداء ده، او دویم جزء یې مسند وي د دې هم یو څو نومونه وي خبر، محکوم به، مخبر، حکم محمول لیکن ترکیبي نوم یې خبر دی.

ترکیب : **زَيْدٌ عَالِمٌ (زید)** مرفوع لفظاً مبتداء، **عالم** مرفوع لفظاً خبر دی مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

جمله فعلیه : هغه دی چې د اجزائې اصلیو نه یې اولنی جزء فعل وي لکه **قَائم زید**، د جمله فعلیه اولنی جزء مسند وي کوم ته چې فعل ویلی کېږي او دویم جزء یې مسند الیه وي کوم ته چې فاعل یا نائب فاعل ویلی کېږي.

ترکیب : **قام زید قام** فعل **زید** فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه.

فائده : مسند الیه صرف اسم وي او فعل مسند الیه نه وي ځکه چې اسم د وضع په اعتبار سره مسند الیه دی او فعل او حرف د وضع په اعتبار سره غیر مسند الیه دی او که دا مسند الیه شي نو خلاف وضع به لازم راشي چې صحیح نه دی، حرف نه مسند الیه وي او نه مسند نو که دا مسند او مسند الیه وګرځولې شي نو خلاف وضع به لازم راشي چې دا صحیح نه ده.

جمله ظرفیه : جمله ظرفیه هغه ده چې د کوم جزء اول ظرف جلي یا جار مجرور مسند وي او جزء ثاني مسند الیه فاعل وي، لکه: **مَا فِي الدَّارِ رَجُلٌ**.

جمله شرطیه : هغه ده چې د شرط او د جزاء نه مرکب وي، لکه **ان ضربت زیداً اکرمتك**.

ترکیب : **ان ضرب زیداً اکرمتك ان** شرطیه **ضربت** فعل فاعل **زیداً** منصوب لفظاً مفعول به فعل سره د خپل فاعل او مفعول سره جمله فعلیه شرط **اکرمتك** فعل فاعل **(ةُ)** ضمیر منصوب محلاً مفعول به فعل سره د خپل فاعل او مفعول به سره جمله فعلیه جزاء شرط سره د جزاء نه جمله شرطیه شوه.

ترکیب : **زید عالم** : **زید** موصوف مبتداء، **عالم** صفت خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

د مسند او مسند الیه تعریف :

بدانکه مسند حکم است و مسندالیه آنچه برو حکم کنند واسم مسند و مسندالیه تواند بود
[پوه شه] [مسند حکم وي] [او مسند الیه] [هغه چې په دې حکم وشي] [او اسم مسند او مسند الیه راتلې شي]
پوه شه ! چې مسند حکم دی او مسند الیه هغه چې په دې حکم وشي ، اسم مسند او مسند الیه راتلې
و فعل مسند باشد و مسند الیه نتواند بود ، وحرف نه مسند باشد ونه مسند الیه .
[او فعل] [مسند وي] [او مسند الیه نه شي راتلې] [او حرف] [نه مسند راتلې شي] [او نه مسند الیه]
شي او فعل مسند وي او مسند الیه نه شي راتلې او حرف نه مسند راتلې شي او نه مسند الیه.

خلاصه د متن : په مخکې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اَللَّهُ د جمله اسمیه او فعلیه تعریف ذکر کړو او دا خبره یې هم وکړه چې د جمله اسمیه اولنی جزء ته مسند الیه او دویم جزء ته مسند وایي ، لیکن دا خبره یې واضحه نه کړه چې مسند الیه او مسند څه ته وایي ، نو مصنف رَحِمَهُ اَللَّهُ په دې عبارت کې د مسند الیه او د مسند تعریف کوي.

تشریح : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اَللَّهُ د مسند او د مسند الیه تعریف ذکر کوي : **د مسند او مسند الیه تعریف :** کوم څیز چې د یو بل څیز سره ولګولی شي نو دغه لګولی شوي څیز ته مسند او حکم وایي او چې د چا سره چې یو څیز ولګولی شي یا چې په چا باندې د یو بل څیز حکم وکړی شي نو هغې ته مسند الیه او محکوم وایي مثلاً **زَيْدٌ عَالِمٌ** دلته زید مسند الیه او عالم مسند دی.

د کلمه اعرابیه څلور قسمونه دي : (۱) مسند الیه ، (۲) مسند ، (۳) فضله ، (۴) اداة ، نو مسند : **هو الحکم بشيء علی شيء** ، او مسند الیه : **ما حکمت علیه بشيء** ، نو مسند الیه د همیشه د پاره اسم وي ځکه چې دا ذات وي او ذات دا نه وي مګر اسم نو لهذا مسند الیه به د همیشه د پاره اسم وي.

د مسند الیه حکم : حکم یې دا دی چې دا به همیشه مرفوع وي خو په شرط د دې چې واسخ جمله پرې داخل نه وي . او مسند دا اسم هم وي او فعل هم وي ځکه چې مسند وصف وي او وصف اسم هم وي او فعل هم په خلاف د حرف چې هغه نه مسند وي او نه مسند الیه ځکه چې حرف نه ذات وي او نه وصف.

د مسند حکم : که اسم وي نو همیشه به مرفوع وي خو په شرط د دې چې معرب وي او نواسخ د جملې داخل نه وي که فعل وي نو ماضي به وي یا به امر او یا مضارع که ماضي او امر حاضر وي نو مبني به وي او که مضارع وي نو مرفوع به وي په شرط د دې چې نون تاکید او نون مؤنث نه خالي وي او عامل لفظي نه هم خالي وي ، خو دا خبره یاد لرئ چې دا

مسند او مسند الیه چونکې د کلام رکن جوړېږي نو ځکه دده نوم عمده ایخودلې کېږي.

فائده : مسند الیه یو څو ځیزونه واقع کیږي : (۱) فاعل، (۲) نائب فاعل، (۳) مبتداء، (۴) حروف مشبه بالفعل اسم، (۵) د حروف مشبه بلیس اسم، (٦) د افعال ناقصه اسم، (۷) د لای نفي جنس اسم، او مسند یو څو ځیزونه واقع کیږي : (۱) فعل، (۲) اسم فعل، (۳) خبر مبتداء، (۴) خبر افعال ناقصه، (۵) حروف مشبه بالفعل خبر، (٦) د مشبه بلیس خبر، (۷) د لای نفي جنس خبر.

د جملې انشائي تعریف او اقسام :

بدانکه جمله انشائیه آنست که قائلش را بصدق و کذب صفت نتوان کرد و آن
[پوه شه][جمله انشائیه] [هغه ده][چې ویونکي ته][دصدق او دکذب][صفت][ونه کړې شي][او دا]
پوه شه چې جمله انشائیه هغه ده چې ویونکي ته رېښتوني او دروغجن نه شي ویلې او دا
بر چند قسم است امر چون اِضْرِبْ و نهی چون لَاتَضْرِبْ واستفهام چون هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ
[په څو قسمه ده] [امر لکه : اِضْرِبْ] [نهي لکه : لَا تَضْرِبْ] [استفهام لکه : هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ]
په څو قسمه دی: امر لکه اِضْرِبْ، نهي لکه لَا تَضْرِبْ، استفهام لکه هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ،
و تمنی چون لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ و ترجی چون لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ و عقود چون بِعْتُ وَ
[تمني لکه : لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ] [ترجي لکه][لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ] [عقود] [لکه] [بِعْتُ وَ]
تمني لکه : لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ، ترجي لکه : لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ، عقود لکه : بِعْتُ وَ
اِشْتَرَيْتُ و ندا چون يَا اللهُ و عرض چون اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا و قسم چون
اِشْتَرَيْتُ] [ندا لکه يَا اللهُ] [عرض لکه : اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا] [قسم لکه وَاللهِ]
اِشْتَرَيْتُ، ندا لکه : يَا اللهُ، عرض لکه : اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا، قسم لکه : وَاللهِ
وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا و تعجب چون مَا اَحْسَنَهُ وَ اَحْسِنْ بِهٖ.
[لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا] [تعجب][لکه] [مَا اَحْسَنَهُ وَ اَحْسِنْ بِهٖ].
لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا، تعجب لکه : مَا اَحْسَنَهُ وَ اَحْسِنْ بِهٖ.

خلاصه د متن : مخکې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ وويل چې جمله په دوه قسمه ده : (۱) خبريه ،(۲) انشائيه ، د خبريې تفصيل وشو اوس دلته مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د جملې د دوهم قسم يعنې د جملې انشائې تعريف او تقسيم بيانوي .

تشريح : انشاء په لغت کې **ايجاد ما لم يوجد** ته وايي يعنې پيدا کول د هغه شي چې موجود نه وي يعنې متکلم يې پيدا کوي.

د جمله انشائيې تعريف : جمله انشائيه هغې جملې ته ويلې کېږي چې د هغې مضمون داسې وي چې د هغې ويونکي ته نه دروغجن ويل کېږي او نه رېښتوني ځکه چې په دې کې د چا د حالت نه حکايت او خبر ورکول نه وي لکه څنګه چې په جمله خبريه کې وي بلکې په جمله انشائيه کې د داسې څيز د موجودولو طلب او خواهش وي چې هغه موجود نه وي نو په داسې څيز کې د صدق او د کذب احتمال نه وي لکه متکلم مخاطب ته ووايي چې **اِضْرِبْ**.

نو دا جمله انشائيه ده د متکلم دا خواهش دی چې مخاطب دی ضرب په وجود کې راولي يعنې وهل دې شروع کړي چې ضرب د عدم نه په وجود کې راشي ،ذويم مثال لکه **لَا تَضْرِبْ** د دې نه د متکلم مقصود دا دی چې **عدم ضرب** په وجود کې راوله او دا به هله په وجود کې راځي چې مخاطب د وهلو نه خپل لاس منع کړي .

نو خلاصه دا شوه چې د **اِضْرِبْ** او **لَا تَضْرِبْ** ويونکي ته د رښتيوني او د دروغجن ويلو څه ضرورت نشته.

د جملې انشائي اقسام : جمله انشائيه بيا په لس (۱۰) قسمه ده چې شاعر په دې لاندې شعر کې را جمع کړې دي :

تمني ترجي عقود اى اخي — نداء و قسم عرض امر ونهي
استفهام و تعجب بخوان اى جوان — ده اقسام انشاء بخوبي بدان

چې د دې ټولو اقسامو تعريف او تشريح په لاندې ډول ده :

(۱) امر: په لغت کې حکم کولو ته وايي او په اصطلاح کې : **هو صيغة يطلب بها الفعل من الفاعل المخاطب،**

امر هغه صيغه ده چې د کومې په ذريعې سره فاعل مخاطب نه فعل طلب کړې شي . مثال لکه : **اِضْرِبْ** شو، ضمير په کې مستتر دی چې تعبير ترې نه په **اَنْتَ** سره کېږي هغه يې فاعل شو، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه انشائيه شوه.

د امر اقسام : امر په درې قسمه دي : (۱) امر ، (۲) التماس ، (۳) دعاء : **(۱) امر :** چې طالب خپل ځان نره د مخاطب نه غټ وګڼي نو دا امر دی. **(۲) التماس :** چې طالب خپل ځان د مخاطب نه غټ و نه ګڼي بلکې خپل ځان د مخاطب سره برابر او مساوي وګڼي نو دا التماس دی .

(۳) **دعاء**: چې طالب خپل ځان د مخاطب نه وړو کې وګڼي نو دا دعاء ده.

(۲) **نهي**: په لغت کې منع کولو ته وايي، او په اصطلاح کې هغه صیغه ده چې په هغې سره د مخاطب نه طلب د ترک د فعل وکړې، لکه: **لَا تَضْرِبْ** شو ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ترې نه کېږي په (**انت**) سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه انشائیه شوه.

(۳) **استفهام**: لغوي معنی یې طلب د فهم دی یعنې د ځان د پوهه کولو کوشش کول، او په اصطلاح کې: **هو اسم مبهم یستفهم به عن شئ**، یعنې متکلم د مخاطب نه د یو نامعلوم اشیاء معلومول وغواړي، مثال د **هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ** یعنې آیا زید وهل کړي دي؟

ترکیب: (**هل**) حرف استفهام غیر عامل دی (**ضرب**) فعل (**زید**) یې فاعل شو فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه انشائیه استفهامیه شوه.

(٤) **تمني**: په لغت کې د څه شي آرزو او ارمان کولو ته وايي او په اصطلاح کې: **هو طلب امر محبوب متمکن او متعسر**، یعنې آرزو لرل د یو کار د حصول په طریقې د مینې او محبت سره چې ممکن یا متعسر وي لکه: **لَيْتَ زَيْداً حَاضِرٌ** یعنې کاش چې زید حاضر وی (**لیت**) حرف دی د حروف مشبه بالفعل نه، اسم منصوب او خبر مرفوع غواړي، نو (زید) ورته اسم شو او (حاضر) ورته خبر شو، نو لیت سره د اسم او خبر نه جملیه اسمیه انشائیه، تمناخیه شوه.

(۵) **ترجي**: په لغت کې امید کولو ته وايي او په اصطلاح کې: **هو طلب امر ممکن محبوب او مکروه**، یعنې امید کول حصول د یو شي چې ممکن بعید الوقوع وي که په طریقې د محبت سره وي او که نه وي، مثال لکه: **لَعَلَّ عَمْرواً غَائِبٌ**، یعنې امید کول چې هلته عمرو غایب دی.

ترکیب: **لَعَلَّ عَمْرواً غَائِبٌ لعل** حرف دی د حروف مشبه نه **عمروا** ورته اسم شو، او (**غائب**) ورته خبر شو فعل سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

د تمني او ترجي په مینځ کې فرق:

د تمني او ترجي په مینځ کې دوه فرقه دي:

(۱) د تمني استعمال صرف په محبوبو اشیاوو کې راځي، او ترجي عام ده په محبوب او غیر محبوب دواړو اشیاوو کې استعمالېږي.

(۲) د تمني استعمال په ممکناتو او غیر ممکناتو دواړو کې کېږي او ترجي استعمال صرف په ممکناتو کې کېږي.

(٦) عقود: جمع د **عقد** ده او **عقد** په لغت کې غوټه کولو ته وايي او په اصطلاح کې **عقود** هغه الفاظ دي، چې زيات تر استعمال يې په تجارت کې کېږي لکه (**بِعْتُ**) يعنې ما خرڅ کړو (**اِشْتَرَيْتُ**) يعنې ما واخيستلو، اګر چې دا دواړه الفاظ د ماضي دي ليکن استعمال يې په مضارع کې کېږي.

ترکیب: (**بِعْتُ**) صيغه د واحد متکلم ماضي ده، ضمير په کې مستتر دی چې تعبير ترې نه کېږي په (**اَنَا**) سره هغه ورته فاعل شو فعل سره د فاعل نه جمله فعليه معطوف عليه شوه. (**وَاِشْتَرَيْتُ**) **واو** حرف عطف (**اشتريت**) صيغه د واحد متکلم فعل ماضي ضمير په کې مستتر دی چې تعبير ترې نه کېږي په (**اَنَا**) سره هغه ورته فاعل شو فعل سره د فاعل نه جمله فعليه معطوف شوه معطوف عليه سره د معطوف نه جمله فعليه انشائيه عقوديه شوه.

(۷) نداء: په لغت کې آواز ته وايي او په اصطلاح کې هغه جمله ده چې په هغې سره طلب د توجه د منادي کولی شي خپل نفس ته، حروف نداء پنځه دي: (**يا، ايا، هيا، اى، همزه مفتوحه**) مثال لکه **يا الله**.

ترکیب: **يا** حرف نداء قائمقام د (**ادعو**) **ادعو** صيغه د واحد متکلم فعل مضارع ده ضمير په کې مستتر دی چې تعبير ترې نه کېږي په **انا** سره هغه ورته فاعل شو لفظ د **الله** يې منادی مفعول به نو فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعليه انشائيه ندائيه شوه.

(۸) عرض: په لغت کې پيش کولو ته وايي او په اصطلاح د نحاتو کې هغه جملې ته وايي چې هغې سره طلب د حصول په نرمۍ سره د فعل د فاعل نه کولی شي، لکه مثال (**اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبُ خَيْرًا**) يعنې ته ولې زمونږ نه ميلمه کېږې چې خير در ورسي، يا خير ته ورسېږې (**الا تنزل بنا**) جمله انشائيه ده او (**فتصيب خيراً**) خبريه ده او عطف د جملې خبريه په جمله انشائيه باندې نه صحيح کېږي نو دا په تاويل (**الا يكون نزول منك فيكون اصابة خير مني**) سره ده.

ترکیب: **الا** حرف تنبيه (**يكون**) فعل د افعال ناقصه وو نه اسم مرفوع او خبر منصوب غواړي، **نزول** يې اسم شو (**منك**) جار او مجرور جار سره د مجرور نه متعلق شو په **ثابت** پورې **ثابت** صيغه د اسم فاعل ده ضمير په کې مستتر دی چې تعبير ترې نه کولی شي په (**هُوَ**) سره هغه ورته فاعل شو، اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر دې لپاره د **يكون** (**يكون**) سره د اسم او سره د خبر نه جمله خبر دې لپاره د معطوف عليه (**فا**) حذف عطف (**يكون**) بيا فعل

دی. (اصابة) مضاف (خبر) مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه اسم شو د **یکون** په (مني) کې (من) جار (ي) ضمیر د متکلم مجرور جار سره د مجرور نه متعلق دی په **ثابت** پورې (ثابت) صیغه د اسم فاعل ده ضمیر په کې مستتر دی چې (هو) دی هغه یې فاعل شو، اسم فاعل سره د خپل فاعل نه او سره د متعلق نه شبه جمله خبر شو لپاره د **یکون** (یکون) سره د اسم او سره د خبر نه جمله فعلیه خبریه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه خبریه معطوفه شوه.

(۹) **قسم**: په لغت کې د کلام یو طرف په قسم باندې مضبوط کول او په اصطلاح کې هغه جمله ده چې د حرف قسم په ذریعې سره په یو ځیز باندې قسم وخوړلې شي، لکه: **وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْداً**، یعنې په خدای تعالی قسم چې زه به زید وهم، خو دا خبره یاد ساتئ چې جمله قسمیه انشائیه وي لیکن جواب قسم جمله خبریه وي.

ترکیب: (واو) حرف جاره قسمیه لفظ د (الله) یې مجرور جار سره د مجرور نه متعلق دی په (اقسم) پورې (اقسم) صیغه د واحد متکلم مضارع، ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ترې نه کولی شي په (اَنَا) سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره د فاعل نه او سره د متعلق نه دا جمله فعلیه قسمیه شوه، ده ضربن صیغه د واحد متکلم فعل مضارع ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ترې نه کېږي په (اَنَا) سره هغه ورته فاعل شو، (زید) یې مفعول به شو، نو فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه جمله فعلیه جواب د قسم شو، نو فعل قسم سره د جواب قسم نه دا جمله فعلیه انشائیه قسمیه شوه.

(۱۰) **تعجب**: په لغت کې تعجب کول یعنې یو کیفیت دی چې حاصلېږي په وخت د نااشنا کار د لیدلو سره او په اصطلاح کې هغه جمله ده چې د هغې په ذریعه سره تعجب کولی شي په یو امر باندې. مثال یې: (ما احسنه و احسن به) د دې جملې دوه ترکیبه دي:

(۱) **ترکیب عند السیبویه**: (ما) موصوفه بمعنی ای شئ به (شئ) کې تنوین لپاره د تعظیم دی، ای ای شئ عظیم (شئ) موصوف (اعظم) صفت مبتداء (احسن) صیغه د فعل ماضي ضمیر په کې مستتر دی چې هغه یې فاعل دی (هٗ) ضمیر د مفعول به شو فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبر د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

(۲) **ترکیب عند الفراء**: (ما) استفهامیه (ای) بمعنی ای شئ (ای) مضاف (شئ) مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء شوه. (احسنه) ورله خبر شو، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه شوه.

د مرکب غیر مفید تعریف او اقسام :

فصل بدانکه مرکب غیر مفید آنست که چون قائل برآن سکوت کند سامع را خبری
[فصل پوه شه چې][مرکب غیر مفید][هغه دی][چې کله ویونکي][په دې باندې چپ شي][سامع ته خبر]
فصل : پوه شه چې مرکب غیر مفید هغه دی چې قائل په هغې باندې چپ شي ، او اوریدونکي ته خبر
یا طلبی حاصل نشود ' وآن بر سه قسم است : اول : مرکب اضافی چون :
[یا] [طلب] [حاصل نه شي] [او دا] [په دري قسمه دي] [اول :] [مرکب اضافي] [لکه :]
یا طلب حاصل نه شي ، او دا مرکب غیر مفید په درې (۳) قسمه دی : اول : مرکب اضافي لکه :
غُلَامُ زَیْدٍ جزء اول را مضاف گویند وجزء دوم را مضاف الیه و مضاف الیه همیشه
[غُلَامُ زَیْدٌ][جزء اول ته مضاف وایي][او دوهم جزء ته مضاف الیه وایي][او مضاف الیه همېشه
غُلَامُ زَیْدٌ جزء اول ته مضاف وایي او دوهم جزء ته مضاف الیه وایي او مضاف الیه همېشه لپاره
مجرور باشد .
[مجرور وي].
مجرور وي.

خلاصه د متن : مخکې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مرکب مفید او د هغې د قسمونو بیان وکړو اوس په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مرکب غیر مفید تعریف او ددې اقسام ذکر کوي.

تشریح : مرکب غیر مفید : دا هغې مرکب ته وایي چې متکلم یوه خبره وکړي او چپ شي او مخاطب ته پوره فایده و نه رسیږي یعني نه ورته څه خبر معلوم شي او نه ورته د څه طلب معلوم شي لکه کِتَابُ زَیْدٍ.

سوال : مرکب مفید یې ولې مقدم کړو په غیر مفید باندې ؟

جواب : مرکب مفید اصل دی او غیر مفید فرع او قاعده داده چې اصل مقدم وي په فرع باندې .

﴿ وآن بر سه قسم است ﴾ مصنف رحمة الله علیه د مرکب غیر مفید په تقسیم کې د اختصار نه کار اخیستلی دی او صرف درې قسمونه یې ورته بیان کړي دي حالانکه دا په پنځه قسمه دی چې تفصیل یې دا دی :
مرکب په دوه قسمه دی : مرکب تقییدي او بل غیر تقییدي.

مرکب تقییدي: دا هغې ته وايي چې دويم جزءِ د اول لپاره قيد وي.

مرکب غير تقييدي: هغې ته وايي چې دويم جزءِ د اول لپاره قيد نه وي، مرکب تقييدي بيا په دوه قسمه دی:

(۱)مرکب اضافي، (۲)توصيفي:

(۱) مرکب اضافي: چې جوړ وي د مضاف او د مضاف اليه نه يعنې چې اولني جزء يې مضاف وي او دويم جزء يې مضاف اليه وي لکه **غُلَامُ زَيْدٍ** شو.

سوال: د دې اول جزء ته مضاف او دويم ته مضاف اليه ولې ويلی شي؟ **جواب**: اول جزء ته يې مضاف ځکه ويلی شي چې دا د اضافت نه مشتق دی او د اضافت معنی ده منسوب کول او مضاف د اسم مفعول صيغه ده معنی يې ده منسوب شوی او د دوهم زيد ته نسبت کړی شوی دی. او دويم جزء ته مضاف اليه ځکه ويل کېږي چې د دې معنی ده نسبت کړی شوی ده طرف ته، نو ښکاره خبره ده چې ده ته د غلام اضافت شوی دی.

سوال: د مضاف او د مضاف اليه څه اعراب دی؟ **جواب**: د مضاف اعراب به خو د خپل عامل مطابق وي يعنې کله رفع کله نصب کله جر او مضاف اليه به همېشه لپاره مجرور وي د دې پوره وضاحت به د اسماء عاملو بيان کې راشي ان شاءالله.

ترکيب: **غُلَامُ زَيْدٍ**: **غلام** مضاف، **زيد** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء، او خبر به ورته ذکر کړي چې **حاضر** او يا **قائم** وغيره، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

(۲) مرکب توصيفي: چې جوړ وي د صفت او د موصوف نه يعنې اولني جزء يې موصوف وي او دويم جزء يې صفت وي لکه **رَجُلٌ عَالِمٌ** شو.

د مرکب بنائي تعريف :

دوم : مرکب بنائی ' واو آنست که دو اسم را یکی کرده باشند و اسم دوم
[دوهم قسم] [مرکب بنائي دی] [او دا هغه دی] [چې دوه اسمونه] [يو کړې شي] [او دوهم اسم]
دويم قسم مرکب بنائي دی: او دا هغه دی چې د دوو اسمونو څخه يو اسم جوړ کړی شي او دويم اسم
متضمن حرفی باشد چون اَحَدَ عَشَرَ تا تِسْعَةَ عَشَرَ که دراصل اَحَدٌ وَعَشَرَ
[متضمن وي حرف لره] [لکه **اَحَدَ عَشَرَ**] [تر **تِسْعَةَ عَشَرَ** پورې] [چې په اصل کې **اَحَدٌ وَعَشَرَ**]
متضمن وي حرف لره لکه: **اَحَدَ عَشَرَ** نه تر **تِسْعَةَ عَشَرَ** پورې، چې په اصل کې **اَحَدٌ وَعَشَرَ**

وَتِسْعَةٌ وَعَشَرَ بودہ است ' واو راحذف کرد ' ہر دو اسم را یکی کردند ' و ہر 3
وو [ا تر تِسْعَةٌ وَعَشَرَ پورې] [او و حذف کړې شو] [نو د دواړو اسمونو نه] [يو اسم جوړ کړی شو او دا]
وو تر تِسْعَةٌ وَعَشَرَ پورې واو حذف کړی شو نو د دواړو اسمونو نه يو اسم جوړ کړی شو او دا
دو جزء مبنی باشد بر فتحہ الا اِثْنَا عَشَرَ کہ جزء اول معرب است .
دواړه جزونه به] [مبني وي] [په فتحې سره] [مگر اثنا عشر] [چې جزء اول يې معرب دی].
دواړه جزونه به مبني وي په فتحې سره ، مگر **اثنا عشر** چې اول جزء يې معرب دی.

خلاصه د متن : په مخکې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مرکب غير مفيد تقسيم وکړو دريو قسمينو ته او س دې عبارت کې د آخرني دوو اقسامو ذکر کوي.

تشريح : دوهم قسم مرکب بنائي دی ، **مرکب بنائي** : دا هغې ته وايي چې دوه اسمونه سره يو کړی شي او دويم اسم متضمن وي حرف لره او دواړه جزئين به مبني وي اول جزء ځکه مبني وي چې په وسط کې راغلی دی او په وسط کې اعراب نشي جاري کېدلی او دويم جزء به ځکه مبني وي چې محتاج دی حرف ته او احتياج علامه د مبني کېدلو ده، په دې ټولو کلمو کې دويم اسم يعنې **عشر** متضمن دی حرف لره نو چې کله ترې نه مرکب بنائي جوړوي نو **واو** به د مينځ نه لرې کړی نو د دواړو نه به يو اسم جوړ کړی شي، لکه : **اَحَدَ عَشَرَ** ، د **اَحَدَ عَشَرَ** نه واخله تر **تِسْعَةَ عَشَرَ** پورې دا ټول مرکب بنائي دی ليکن دا خبره ياد ساتئ چې د **اِثْنَا عَشَرَ** اولنی جزء معرب دی.

سوال : اِثْنَا ولې معرب دی؟

جواب : ځکه معرب دی چې نون ورنه ساقط شو که دغه معرب نه وی بيا به نو ر په خپل حال باندې پاتې وی، مثال **اِثْنَا عَشَرَ** په اصل کې **اِثْنَانِ وَعَشَرَ** وو د اضافت له وجې نه **نون** تثنيه وغورځېدلو ، **اِثْنَا** پاتې شو (**وَعَشَرَ**) دا مبني دی ځکه چې دا محتاج دی حرف لره چې هغه واو دی.

قاعده : تثنيه چې کله بل اسم ته مضاف شي نو **نون** د تثنيې به ساقطېږي، لکه : **غُلَامَا زَيْدٍ**. دا په اصل کې **غلامان زيد** و نو چې کله **غلامان زيد** ته مضاف شو نو **نون** به يې نه ساقطېږي، لکه (**غلامان زيد**) نو **اثنا** مشابه شو په **نون** غورځېدو کې د **غلاما** سره او **غلاما** معرب وو نو **اثنا** هم د مشابهت له وجې نه معرب شو.

سوال : د مرکب بنایي دواړه جزونه ولې په فتحې سره مبني دي؟

جـواب : په ټولو حرکتونو کې چونکه فتحه اخف الحرکات دې نو ځکه په همدې سره مبني شو چې په اسانتیا سره اداکیږي.

ترکیب : احد عشر : احد عشر دا عدد مبهم ممیز او تمیز به ورته ذکر کوي چې کتابا ، طلابا ، قلما وغیره ، ممیز سره د تمیز نه دا مبتداء ، او خبر به هم ورته ذکر کوي چې عندي احد عشر کتابا یا طلابا یا قلما ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

د مرکب منع صرف تعریف :

سوم مرکب منع صرف و او آنست که دو اسم را یکی
[دریم قسم] [مرکب][منع صرف] [او دا][هغه دی] [چې دوه اسمونه][یو]
دریم قسم د مرکب غیر مفید نه مرکب منع صرف دی ، او دا هغه ته وایي چې د دوو اسمونو نه یو اسم
کرده باشد و اسم دوم متضمن حرفی نباشد ' چون : بَعْلَبَکَّ و حَضْرَمَوْت ' که
کړې شي] [او دوهم اسم][متضمن حرف لره نه وي][لکه : بَعْلَبَکَّ][او حَضْرَمَوْت شو] [چې]
جوړ کړی شي ، او دویم اسم متضمن حرف لره نه وي مثال لکه : بَعْلَبَکَّ او حَضْرَمَوْت شو چې
جزء اول مبنی باشد بر فتحه بر مذهب اکثر علماء ' و جزء دوم معرب .
جزء اول یې][مبني وي][په فتحې سره][په مذهب د اکثرو علماو][او دوهم جزء][یې معرب دی]
د دې اول جزء مبني دی په فتحې سره په مذهب د اکثرو علماو باندې او دویم جزء یې معرب دی.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د مرکب غیر مفید دریم قسم یعنې د مرکب منع صرف تعریف او حکم بیانوي.

تشریح : دریم قسم د مرکب غیر مفید منع صرف دی.

مرکب منع صرف : دا هغه مرکب ته وایي چې په کوم کې دوه کلمې د اضافت یا د اسناد نه بغیر یو کړې شي او دویمه کلمه یو حرف لره متضمن نه وي لکه بَعْلَبَکَّ چې دا په اصل کې بَعْل ، بَك وو د بعل تنوین ختم کړی شو او د بلك سره یو ځای کړی شو او یو اسم ترې نه جوړ کړی شو.

فائده : بَعْلَبَکّ : دا په اصل کې **بعل** او **بک** وو ، دوه اسمونهٔ **بعل** د يو بت نوم دی ، لکه په قرآن کريم کې دی : ﴿**أَتَدْعُونَ بَعْلاً وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ**﴾ ، او بک د يو پادشاه نوم دی چې دې ښار لره يې فتح کړې ؤ نو دا دواړه جمع کړې شوې او يو نوم يې جوړ کړې شوې دی .

حكم : د مرکب منع صرف اولنی جزء د اکثرو علماوو په نزد په فتحې سره مبنی دی او دا دويم جزء يې معرب دی خو غير منصرف دی يعنې کسره او تنوين به پرې نه راځي يا به پرې صرف فتحه راځي يا صرف ضمه لکه څنګه چې د غير منصرف اعراب وي ، ددې مناسبت د وجې نه دې ته مرکب منع صرف وايي .

ترکيب : بعلبک ، حضرموت : بعلبک دلته به ورته مخکې تقديرات راوباسي چې هذا بعلبک ، يا رايت بعلبک ، نو ترکيب به يې داسې کوو : هذا اسم اشاره مبتداء ، او بعلبک ددې مشار اليه او دا يې خبر شو ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه ، او همدا رنګې ترکيب د **حضرموت** هم دی .

بدانکه مرکب غير مفيد هميشه جزء جمله باشد چون غُلَامُ زَيْدٌ قَائِمٌ .
[پوه شه] [چې] [مرکب غير مفيد] [هميشه] [جزء د جملې وي] [لکه] [**غُلَامُ زَيْدٌ قَائِمٌ**]
پوهه شه ! چې مرکب غير مفيد همېشه جزء د جملې وي ، اول مثال لکه : **غُلَامُ زَيْدٌ قَائِمٌ** ، دوهم
وَ عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا ، وَ جَاءَ بَعْلَبَکّ .
[او] [عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا] [او] [جَاءَ بَعْلَبَکّ].
مثال لکه: **عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا**، دريم مثال لکه : **جَاءَ بَعْلَبَکّ**.

تشريح : د مرکب غير مفيد درې واړه قسمونو تفصيل بيان شو ، مرکب غير مفيد خو مرکب خامخا دی ، ليکن داسې مرکب دی چې سامع ته پوره فايده ورکوي ، نو سوال پرې وارديږي :

سوال: چې د فايدې نه ورکولو په لحاظ سره خو دا د مفرد په شان شو نو د دې مرکب غير مفيد په پوره جمله کې څه حيثيت وي؟

جواب : دده حيثيت به د مفرد په شان ته وي لکه څنګه چې مفرد لفظ د کلام يو جزء وي دغه شان به دی هم يو جزء وي او بغير د بل جزء د يو ځای کولو نه په پوره جمله نه وي ، نو حاصل دا چې مرکب غير مفيد به د جملې يو جزء وي لکه : **غلام زيد**

قَائِمٌ دا جمله ده د دې يو جزء غلام زيد دى او د دويم جزء قائم دى نو چې دواړه جزونه سره يو كړى شي نو جمله خبريه به ترې نه جوړه شي او مخاطب ته په پوره فايده وركړي.


تركيب: غُلَامُ زَيْدٌ قَائِمٌ، **غلام** مضاف، **زيد** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مبتداء، **قائم** خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَماً: **عند** مضاف ضمير د متكلم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د فعل محذوف **ثَبَتَ** لپاره، **ثَبَتَ** صيغه د واحد مذكر غائب ضمير په كې مستتر دى، چې تعبير ترې نه كېږي په **هُوَ** سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه خبر مقدم، **أَحَدَ عَشَرَ** عدد مبهم مميز، **دِرْهَماً** تميز، مميز سره د تميز نه مبتداء مؤخره، مبتداء مؤخره سره د خبر مقدم نه جمله اسميه خبريه.

جَاءَ بَعْلَبَكَّ: **جَاءَ** فعل **بَعْلَبَكَّ** يې فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه.

په لاندې صفحه كې د لفظ د اقسامو په نقشه كې غور او فكر وكړي او د لفظ مكمل نقشه په ذهن كې كېنوئ.

دلفظ اقسام:


لفظ
موضوع (مستعمل)
مهمل (غیر مستعمل)
مرکب
مفرد (کلمه)
غیرمفید
مفید
حرف
فعل
اسم
انشائیه
خبریه
فعلیه
اسمیه
غیرتقییدي
تقییدي
صوتي
منع صرف
بنائي
اضافي
توصیفي
تعجب
قسم
عرض
نداء
عقود
ترجي
تمني
استفهام
نهي
امر

فصل : بدانکه ہیچ جملہ کمتر از دو کلمہ نباشد ، لفظاً
[فصل] [پوه شه چې] [هیڅ یوه جمله] [کم تره] [د دوو] [کلمو] [نه] [نه وي] [لفظاً]
فصل:پوهه شه چې هیڅ یوه جمله به د دوو کلمو نه کمه نه وي که دا کلمې په الفاظو کې موجودې وي
چون : ضَرَبَ زَیْدٌ و زَیْدٌ قَائِمٌ ، یا تقدیراً چون : اِضْرِبْ کہ أَنْتَ درو مستتر
[لکه ضَرَبَ زَیْدٌ] [او زَیْدٌ قَائِمٌ] [یا تقدیراً] [لکه اِضْرِبْ] [چې أَنْتَ] [په دې کې] [مستتر]
لکه ضَرَبَ زَیْدٌ یا زَیْدٌ قَائِمٌ یا تقدیراً وي لکه: اِضْرِبْ شو، چې په دې کې أَنْتَ ضمیر پټ
است ، و ازین بیشتر باشد و بیشتر را حدی نیست . بدانکہ
دی] [او] [د دې نه] [زیاتې کلمې] [هم وي] [او] [زیاتو کلمو لره] [څه اندازه نشته] [پوه شه چې]
دی او د دې نه زیاتې کلمې هم راتلای شي او زیاتو لره څه حد نشته دی. بیا پوهه شه ای طالبه!
چون کلمات جملہ بسیار باشد اسم و فعل و حرف را بایکدیگر
[هر کله] [کلمات د جملې] [زیاتې وي] [یعنې اسم، فعل او حرف] [نو په کار دی چې د یو بل نه]
هر کله چې کلمات د جملې زیات وي یعنې اسم وي فعل وي حرف وي نو لازم ده چې دا د یو بل نه
تمیز باید کردن ، و نظر کردن کہ معرب است یا مبنی ، و عامل است یا معمول
[جدا کړې شي] [او] [نظر په کې کول] [چې معرب دی] [یا مبني] [او عامل دی] [یا معمول]
جدا کړې شي او بیا په کې نظر کول په کار دي چې دا کلمه معرب ده که مبني ، عامل ده او که معمول
و باید دانستن کہ تعلق کلمات با یکدیگر چگونہ است ؟ تا
[او باید] [او پیژندل شي] [چې تعلق د دې کلماتو] [د یو بل سره] [څنګه تعلق دی] [د دې د پاره چې]
او په کار دي چې وپیژندل شي، چې تعلق د دې کلماتو د یو بل سره په څه قسمه دی د دې د پاره چې
مسند و مسند الیہ پیدا گردد و معنی جملہ بتحقیق معلوم شود .
[مسند] [او] [مسند الیه] [پیدا شي] [او] [معنی د جملې] [په تحقیق سره] [معلومه شي]
تاسو ته مسند او مسند الیه واضح شي او معنی د جملې په تحقیق سره معلومه شي.

خلاصه د متن : په دې فصل کې په اول بدانکه سره مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د جملې حد بیانوي چې جمله به کم از کم د دوو

کلماتو نه خالي نه وي خامخا به دوه کلمې وي او زیاتو کلمو لره څه حد نشته هر څومره کیدې شي ، په دویم بدانکه سره مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ طالب العلم ته د مسند او د مسند الیه د پیژندلو طریقه بیانوي یعنې مسند او مسند الیه به څنګه پیژني.

تشریح : د دې نه مخکې مصنف رحمة الله علیه د مرکب غیر مفید تعریف او مثالونه بیان کړل او س په دې فصل کې د جملې بحث بیانوي اول خو مصنف دا خبره واضحه کړه، چې مرکب دې ته وایې چې د دوو کلمو نه به کم نه وي څکه چې د دوو کلمو نه کم وي هغه مرکب نه وي یعنې تعریف د مرکب پرې نه صادقېږي، او جمله هم مرکب ده نو اوس د دې ځای نه مصنف د جملې بحث بیانوي چې جمله به هم د دوو کلمو نه کمه نه وي یوه کلمه به مسند وي او دویمه کلمه به مسند الیه وي برابره خبره ده که دواړه په الفاظو کې حقیقتاً موجود وي لکه : **ضَرَبَ زَیْدٌ** او **زَیْدٌ قَائِمٌ** ، یو مثال د جملې فعلیې دی او بل مثال د جملې اسمیې دی نو په دې دواړو مثالونو کې دوه کلمې حقیقتاً موجودې دي او یا به تقدیراً وي یا به یوه لفظاً وای او بله به تقدیراً وي لکه : **اِضْرِبْ** نو دا خو لفظاً یوه کلمه ده خو بله کلمه په کې تقدیري ده او مستتر ده چې **هغه اَنْتَ** ده نو حاصل دا شو چې په هره جمله کې به دوه کلمې خامخا وي او په جمله کې د دوو کلمو نه زیاتې هم راتلای شي خو د زیاتو لپاره څه حد نشته د دوو نه زیاتې که درې وي څلور وي، لس وي، شل وي.

﴿ بدانکه چون کلمات جمله ﴾ دا خبره خو معلومه ده چې کله په جمله کې دوه کلمې وي نو یو به مسند وي بله به مسند الیه لیکن چې کله په جمله کې کلمې د دوو نه زیاتې وي، نو بیا به یې څنګه پته لګېږي نو دا خبره مصنف رحمة الله علیه طالبانو ته واضحه کوي چې ځان دې په فکر کې مه اچوئ زه یې درته طریقه د معلومولو ښایم او هغه داده، چې اول وګوره چې په دغه کلمو کې کوم یو اسم دی او کوم فعل دی او کوم یو حرف دی نو چې کله درته دا معلومه شول، نو بیا ورته وګوره چې مبني دی او که نه معرب دی، د دې نه وروستو ورته بیا وګوره چې په دې کلمو کې عامل کوم یو دی او معمول کوم یو .

د دې نه وروستو بیا په ژور نظر سره وګوره چې د دې کلمو تعلق د یو بل سره د فعل فاعل دی او که نه د مبتداء او د خبر دی او که نه د حال او ذوالحال دی او که نه د جار مجرور یا تمیز او ممیز دی نو د دې ټولو څیزونو د معلومولو نه وروستو به درته واضحه شي چې دا مسند دی او دا مسند الیه ده نو په جمله کې چې هر څومره کلمې وي نو معنی به یې درته ښه معلومه شي.

نو حاصل دا شو چې که په جمله کې هر څومره کلمې وي نو دا ټولې په برابرولو سره په مسند او مسند الیه کې راځي او بیا د مسند او د مسند الیه نه د جملې غرض او مراد معلومېږي.

د عامل، معمول او د ضمیر تمیز او د حال ذوالحال او د جار مجرور بیان به په خپل خپل ځای کې راشي.

ترکیب : ضرب زید : ضرب فعل ، زید ورته فاعل ، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه .

زید قائم : زید مبتداء **قائم** یې خبر ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه .

د اسم علامات:

فصل : بدانکه علامت اسم آنست که الف و لام ' یا حرف جر دراولش باشد
[فصل][پوه شه چي][علامت د اسم][هغه دی][چي الف لام][یاحرف جر][په اول کي راغلي وي]
فصل: پوه شه چي علامت د اسم هغه دي چي الف لام یا حرف جر یې په اول کي راغلی وي مثال یې
چون : اَلْحَمْدُ وَ بِزَیْدٍ ' یا تنوین درآخرش باشد چون : زَیْدٌ ' یا مسند الیه
[لکه اَلْحَمْدُ][او بِزَیْدٍ] [یا یې تنوین په آخر کي] [راغلی وي] [لکه زَیْدٌ] [یا] [مسند الیه]
لکه: اَلْحَمْدُ او بِزَیْدٍ شو یا یې تنوین په آخر کي راغلی وي مثال یې لکه: زَیْدٌ شو یا مسند الیه
باشد چون زَیْدٌ قَائِمٌ یا مضاف باشد چون غُلَامُ زَیْدٍ یا مصغر باشد چون
[وي] [لکه زَیْدٌ قَائِمٌ شو] [یا مضاف وي] [لکه غُلَامُ زَیْدٍ] [یا مصغر وي] [لکه]
وي لکه : زَیْدٌ قَائِمٌ شو ، یا به مضاف وي لکه : غُلَامُ زَیْدٍ ، یا به مصغر وي لکه:
قُرَیْشٌ یا منسوب باشد چون بُغْدَادِيٌّ یا مثنی باشد چون رَجُلَانِ یا مجموع باشد
قُرَیْش] [یا] منسوب وي] [لکه بُغْدَادِيٌّ] [یا] [تثنیه وي] [لکه رَجُلَانِ] [یا جمع وي]
قُرَیْش ، یا به منسوب وي لکه : بُغْدَادِيٌّ ، یا به تثنیه وي لکه: رَجُلَانِ ، یا به جمع وي
چون رِجَالٌ یا موصوف باشد چون: جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ ' یا تاء متحرکه بدو
[لکه رِجَالٌ][یا موصوف وي] [لکه جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ] [یا تاء متحرکه] [ددې] [په آخر پوري]
لکه: رِجَالٌ شو ، یا موصوف وي لکه: جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ ، یا تاء متحرکه ددې په آخر پوري
پیوند چون : ضَارِبَةٌ .
[پیوست وي] [لکه] [ضَارِبَةٌ].
راغلي وي لکه: ضَارِبَةٌ.

خلاصه د متن : په دې فصل کي د اسم علامات بیانیږي ، ځکه چي هر څیز چي پیژندل کیږي نو په علاماتو سره

پیژندل کیږي، نو مصنف رَحِمَهُ اللَّهُ د اسم د علاماتو د پاره یو مستقل فصل مقرر کړو.

تشریح: مصنف رحمة الله علیه دی ځای نه علامات د اسم ذکر کوي علامه په لغت کې نښې ته وایي او په اصطلاح کې: **مایوجد فیه ولا یوجد في غیره** ته وایي او د ماضي هم دا تعریف دی. ځو مره ځیزونه چې په دنیا کې الله تعالی پیدا کړي دي نو په هر ځیز کې یې خپل خپل خصوصیات او علامات ایښي دي او هر یو ځیز په خپلو علامو سره د بل نه جدا معلومیږي غوا ته بیزه او بیزې ته غوا نه شي ویلی دغه شان حجر ته شجر او شجر ته حجر نشي ویلی وغیره نو دا ټول ځیزونه د یو بل نه په خپلو خاص خاص علامو سره جدا دي.

دغه شان اسم، فعل، حرف هم درې ځیزونه دي په دوی کې هم داسې علامې دي چې هر یو د بل نه جدا معلومیږي اسم د فعل نه او د حرف نه جدا معلومیږي فعل د اسم او حرف نه جدا معلومیږي او حرف د دواړو نه ممتاز دی د دې درې واړو د یو بل سره جدا والی په دوه قسمه دی: یو معنوي، دویم لفظي.

معنوي فرق: اسم په خپله معنی کې مستقل دی او یوه زمانه په کې هم نه موندلی کیږي په خلاف د فعل نه چې معنی خو یې مستقله ده لیکن د درې زمانو نه په کې یوه زمانه موندلی کیږي د حرف خو نه معنی مستقله ده او نه په کې زمانه وي. دا خو یې معنوي فرق شو او هر چې لفظي فرق دی نو هغه مصنف رحمة الله علیه په دې فصل کې بیان کړی دی نو فرمایي چې: د اسم یوولس علامې دي: چې دا نه په فعل کې موندلې کیږي او نه په حرف کې موندلې کیږي.

(۱) **الف لام**: چې د کومې کلمې په اول کې **الف لام** وي نو هغه به اسم وي، لکه: **اَلْحَمْدُ** نو معلومه شوه چې په فعل او حرف به **الف لام** نه داخلیږي. الف لام ځکه د اسم علامه ده چې دا واضع وضع کړي دي لپاره د معنی مستقلې مطابقي او د حرف معنی مستقله نه ده او د فعل معنی تضمني مستقله ده خو معنی مطابقي یې مستقله نه ده.

(۲) **حرف جر**: حرف جر به یې په اول کې راغلی وي لکه **بِزَیْدٍ**، حرف جر په لغت کې رابښکلو ته وایي او دا ځکه علامه د اسم ده چې دا واضع د دې لپاره وضع کړی دی چې خپل مدخول فعل ته یا شبه فعل ته راکاږي.

د فعل مثال لکه **مَرَرْتُ بِزَیْدٍ**، د شبه فعل مثال لکه، **انا مار زید** په حرف ځکه نه داخلیږي چې دی غیر مستقل دی او په فعل ځکه نه داخلیږي چې بیا خو به رابښکل لازم شي د نفس خپل ته او دا نه صحیح کیږي.

حروف جاره ټول اولس (۱۷) دي چې په دې شعر کې را جمع شوې دي:

بَاو تَا و کَاف و لَام وَاو و مُذ مُنذ خَلا ... رُبَّ حَاشَا مِنْ عَدَا فِيْ عَنْ عَلَی حَتّٰی إِلٰی

(۳) **تنوین**: چې په آخر کې به یې تنوین راغلی وي تنوین په لغت کې منون کرده شده ته وایي او په اصطلاح کې نون ساکنه تتبع حرکت آخر الکلمة، او دا ځکه علامه د اسم ده چې د تنوین ټولې معناګانې د تنوین ترنم نه علاوه خاص وي په اسم

پورې نو دا هم خاص شو په اسم پورې.

فائده: تنوین په پنځه (۵) قسمه دی: (۱) تنوین تمکین، (۲) تنوین تنکیر، (۳) تنوین مقابله، (۴) تنوین عوضي.
(۵) تنوین ترنم:

(۱) تنوین تمکین: چې اعراب لره ځای ورکوي، لکه: **جاءني زیدٌ، رایت زیداً، مررت بزید** شو.

(۲) تنوین تنکیر: دا قسم تنوین فرق په مینځ د نکرې او معرفې کې راولي.

(۳) تنوین مقابله: چې په آخر د جمع مؤنث سالم کې راغلی وي په مقابله د نون د جمع مذکر سالم کې لکه (**مسلماتٍ**) په مقابله د نون د (**مسلمون**) کې.

(٤) تنوین عوضي: چې په آخر کې د مضاف کې عوض د مضاف الیه نه راغلی وي، لکه (**یومئذٍ**) دغه مذکوره څلور قسمه تنوین خاصه د اسم ده.

(۵) تنوین ترنم: چې په آخر کې د اشعارو کې راځي لپاره د تحسین د صوت، دا قسم تنوین په اسم، فعل او حرف درې واړو کې راځي. د اسم مثال: **عَتَابَنْ**، د فعل مثال: **اَصَابَنْ**، د حرف مثال: **قَدْ**.

(٤) مسند الیه: چې دی به مسند الیه وي لکه: **زَیْدٌ قَائِمٌ**، او دا د اسم علامه ځکه ده چې دا په ذات باندې دلالت کوي او فعل خو عرض دی دلالت په ذات نه شي کولی او حرف خو ښکاره خبره ده.

(۵) مضاف: چې دې به مضاف وي، لکه: **غُلَامُ زَیْدٍ**.

مضاف د اسم علامه ځکه ده چې د اضافت فائدې لکه تعریف، تخصیص، تخفیف، په اسم پورې خاص دی نو مضاف به هم خاص شو اسم پورې.

(٦) تصغیر: او تصغیر هغه اسم دی چې په کوم کې زیاتوالې وکړې شي قلت یا حقارت یا محبت یا د عظمت معنی حاصلولو د پاره، د قلت مثال: **ضُوَیْرِبٌ**، د حقارت مثال: **رُجَیْلٌ**، د محبت مثال: **یَا بُنَیَّ**، د عظمت مثال: **قُرَیْش**، د قرش نه ماخوذ دی او دا د یو ماهي نوم دی کوم چې په ټولو ماهیانو باندې غالب دی، همدارنګې قریش د عربو دا قبیله هم د ټولو نه غټه وه او په ټولو غالبه وه. نو تصغیر کېدل د اسم علامه ځکه ده چې تصغیر دلالت کوي په تحقیر باندې او دا خاص په اسم کې راځي نو تصغیر هم خاص شو په اسم پورې.

(۷) منسوب: چې دې به منسوب وي يعنې په **ياء** نسبتي سره به يې چا ته نسبت شوې وي لکه: **بَغْدَادِيٌّ**، او دا علامه د اسم ځکه ده چې منسوب په معنی د نسبت کړی شوی او په منسوب اسم کې هم د نسبت لپاره **ياء** مشدده راځي او دا چې کله په اسم پورې متصله شي نو ما قبل ترې نه کسره راځي او کسره د حرف جر ملګرې ده او جر خاصه د اسم ده نو دا هم علامه او خاصه د اسم شوه.

(۸) مثنى: چې دی به مثنی وي، لکه: **رَجُلَان**.

(۹) مجموع: چې دی به مجموع وي، لکه: **رِجَالٌ**.

دا دوارِه د اسم علامې ځکه دي چې دواړه تقاضا د تعدد کوي او دا صرف په اسم کې راځي نه په فعل او حرف کې.

(۱۰) موصوف: چې دی به موصوف وي لکه جاء رجل عالمٌ او دا د اسم علامه ځکه ده چې موصوف والی دلالت کوي په قلت او قلت صرف په اسم کې راځي نه په فعل او حرف کې.

(۱۱) تاء متحركه: يوولسمه علامه د اسم دا ده چې په آخر کې به يې **تاء** متحرکه راغلې وي لکه **ضَارِبَةٌ**. او دا علامه د اسم ځکه ده چې دا راځي په مقابله د **تاء** ساکنه کې او **تاء** ساکنه خاص وه په فعل پورې نو دا خاص شوه په اسم پورې.

ترکيب: **الحمد و بزيد** : **الحمد** مبتداء، او ددې خبر هغه لله دی، مبتداء خبر جمله اسميه خبريه، **بزيد**: دا په اصل کې **مررت بزيد** دی، **مررت** فعل فاعل، **باء** جار **زيد** مجرور جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **مررتُ** پورې، **مررت** فعل سره د فاعله چې **تُ** ضمير دی او سره د متعلق جمله فعليه خبريه. **زيد قائم** : **زيد** مبتداء **قائم** ورته خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. **غُلَامُ زَيْدٍ** : **غلام** مضاف، **زيد** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مبتداء، او خبر به ورته ذکر کړي چې **حاضر** او يا **قائم**، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. **قريش** : دا خبر دی او مبتداء محذوفه ده چې **هذا** دی، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. **بغدادي** : په دې کې **ياء** نسبتي ده او خبر دی او مبتداء يې محذوفه ده چې **هذا** دی، نو مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

جاء رجل عالم : **جاء** فعل **رجل** موصوف **عالم** يې صفت، موصوف سره د صفت نه دا فاعل شو د پاره د **جاء**.

د فعل علامات :

و علامت فعل آنست کہ قَدْ در اولش باشد چون : قَدْ ضَرَبَ ' یا سین
[او] [علامت د فعل] [هغه دي] [چې قَدْ به یې] [په اول کې وي] [لکه : قَدْ ضَرَبَ] [یا] [سین
او علامت د فعل هغه دي چې قَدْ به یې په شروع کې راغلی وي ، لکه : قَدْ ضَرَبَ ، یا به سین
باشد چون سَیَضْرِبُ یا سَوْفَ باشد چون سَوْفَ یَضْرِبُ یا حرف جزم بود چون
وي] [لکه سَیَضْرِبُ] [یا سوف وي] [لکه : سَوْفَ یَضْرِبُ] [یا به حرف جزم وي] [لکه]
وي لکه : سَیَضْرِبُ ، یا سوف وي لکه : سَوْفَ یَضْرِبُ ، یا به حرف جزم وي لکه:
لَمْ یَضْرِبْ ' یا ضمیر مرفوع متصل بدو پیوند چون : ضَرَبْتُ' یا تاء ساکن
[لَمْ یَضْرِبْ] [یا ضمیر مرفوع متصل] [دې پوې پورې پیوست شي] [لکه ضَرَبْتُ] [یا تاء ساکنه]
لَمْ یَضْرِبْ یا ضمیر مرفوع متصل د دې په آخر پورې پیوست شي لکه : ضَرَبْتُ ، یا به تاء ساکنه
چون : ضَرَبَتْ' یا امر باشد چون : اِضْرِبْ' یا نهي باشد چون : لَا تَضْرِبْ.
[لکه] [ضَرَبَتْ] [یا] [امر وي] [لکه] [اِضْرِبْ] [یا] [نهي وي] [لکه] [لَا تَضْرِبْ].
د دې آخر پورې پیوست شي لکه: ضَرَبَتْ ، یا امر وي لکه : اِضْرِبْ ، یا نهي وي لکه : لَا تَضْرِبْ.

خلاصه د متن : د لته صاحب د نحومیر علامات د فعل بیانوي.

تشریح : هر کله چې مصنف رحمة الله علیه فارغ شو د علاماتو د اسم نه نو شروع یې وکړه په علاماتو د فعل کې ، نو علامات د فعل اته (۸) دي:

(۱) **قَدْ:** په کومه کلمه چې قد داخل شوی وي نو هغه کلمه به فعل وي اسم او حرف به نه وي، لکه قَدْ ضَرَبَ. او قَدْ یَضْرِبُ ، قَدْ چې په ماضي داخل شي نو په معنی کې تحقیق پیدا کوي او که چېرته په مضارع داخل شي نو په معنی کې تعلیل پیدا کوي خو کله نا کله تحقیق هم پیدا کوي . قَدْ یَعْلَمُ اللهُ.

(۲) **سین :** دویمه علامه د فعل سین دی لکه سَیَضْرِبُ.

(۳) سَوْفَ: دريمه علامه د فعل سَوْفَ دی لکه: **سَوْفَ يَضْرِبُ** دا دواړه حروف صرف په مضارع داخليږي او د مضارع معنی استقبال ته اړوي فرق په دواړه کې دا دی چې **سين** د مستقبل قريب معنی ورکوي لکه: **سَيَضْرِبُ** (يعنې زر ده چې وهل به وکړي)، او **سَوْفَ** چې پرې داخل شي نو معنی د مستقبل بعيد ورکوي لکه: **سَوْفَ يَضْرِبُ** (يعنې وهل به وکړي په زمانه راتلونکې کې).

(٤) حرف جازم: څلورمه علامه د فعل حرف جازم دی يعنې هغه حرف چې هغه به خپل مدخول فعل لره په آخر کې جزم ورکوي خو چې کله آخيرنی حرف حرف علت نه وي لکه: **لَمْ يَضْرِبْ**.

حروف جازمه: حروف جازمه پنځه(۵) دي: اِنْ، لَمْ، لَمَّا، لام امر، لای نهي لکه: **لم ينصر، لما ينصُر، لينصر، لا ينصر ان تنصر انصر**.

(۵) ضمير مرفوع متصل: پنځمه علامه د فعل ضمير مرفوع متصل دی لکه: **ضَرَبْتُ** دا ځکه علامه د فعل ده چې مرفوع ضمير د فاعل دی او فاعل نه وي مگر د فعل.

(٦) تاء ساكنه: شپږمه علامه د فعل تاء ساکنه ده لکه: **ضَرَبَتْ**.

(۷) امر: اوومه علامه د فعل امر دی لکه: **اِضْرِبْ**.

(۸) نهي: اتمه علامه د فعل نهي ده لکه: **لَا تَضْرِبْ**. د فعل د علاماتو مجموعه په دې شعر کې ذکر ده:

سين سوف جازمه قد تای ساکن دان
اتصال تای فعلت نهی این علامت فعل دان

تركيب: **قد ضرب**: **قد** حرف تحقيق **ضرب** فعل **هو** ضمير ورته فاعل فعل سره د فاعل جمله فعليه تحقيقيه، **سيضرب**: سين حرف تحقيق **يضرب** فعل **هو** ضمير ورته فاعل، فعل سره د فاعل جمله فعليه انشائيه، **سوف يضرب**: **سوف** د استقبال بعيد د پاره راغې **يضرب فعل هو** ضمير يې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه انشائيه، **لم يضرب**: **لم** جازمه **يضرب** فعل **هو** ضمير په کې مستتر دی دا يې فاعل فعل سره د فاعل جمله فعليه خبريه.

د حرف علامت :

و علامت حرف آن است که هیچ علامتی از علامات اسم و فعل درو نبود .
[او] [علامت د حرف] [هغه دی] [چې هیڅ یو علامت] [د علاماتو د اسم او د فعل نه] [په دې کې نه وي]
او علامات د حرف هغه دي چې د اسم او د فعل د علاماتو نه په کې هیڅ یو علامه موجوده نه شي.

خلاصه د متن : دلته د حرف علامات بیانیږي.

تشریح : د حرف علامه داده چې یوهٔ علامه د علاماتو د اسم او د فعل نه په کې نه وي او یوه کلمه وي نو هغه به حرف وي لکه مَنْ او حَتّٰی. لکه په دې شعر کې چې شاعر وایي :

در حرف هرگز نباشد ای عزیز

از علامات اسم و فعل هیچ چیز

نو په دوي کې نه د اسم او نه د فعل علامې شته نو دا حروف شو. دا خو ظاهره خبره ده چې حرف نه مسند واقع کېږي او نه مسند اليه واقع کېږي.

سوال: وارديږي چې بیا خو د دې هیڅ فایده نشته یو بیکاره شی دی؟

جواب: دا دی چې دا خو ضروري نه ده چې کوم څیز مسند او مسند اليه واقع کېږي نو هغه دې بیکاره وي.

د حرف خو ډېرې فایدې دي، یوه فایده خو یې داده چې د دوو اسمونو په منځ کې ربط پیدا کوي نورې یې هم ډېرې فایدې دي چې په شرح مائة عامل کې ذکر دي.

په اعتبار د معرب سره د کلمې اقسام :

فصل بدانکه جمله کلمات عرب بر دو قسم است معرب و مبنی معرب آنست که
[فصل] [پوه شه] [چې ټول] [کلمات د عرب] [په دوه قسمه دي] [معرب او مبني] [معرب هغه دی چې]
فصل : پوه شه! چې ټول کلمات د عربو په دوه (۲) قسمه دي: معرب او مبني ، معرب هغه دی چې
آخرش باختلاف عوامل مختلف شود چون : زَيْدٌ در جَاءَنِيْ زَيْدٌ
[آخر یې] [په اختلاف د عواملو سره] [مختلف کیږي] [لکه: زَيْدٌ] [په] [جَاءَنِيْ زَيْدٌ]
د هغې آخر په اختلاف د عواملو سره مختلف کېږي لکه: زَيْدٌ شو، په دې کلام کې چې جَاءَنِيْ زَيْدٌ

وَرَایْتُ زَیْداً وَمَرَرْتُ بِزَیْدٍ جَاءَ عامل است وزَیْد معرب ست و ضمہ اعراب
[وَرَایْتُ زَیْداً] [وَ مَرَرْتُ بِزَیْدٍ] [جَاءَ عامل دی] [او زَیْد معرب دی] [او ضمه ورته اعراب]
وَرَایْتُ زَیْداً وَ مَرَرْتُ بِزَیْدٍ اوس جَاءَ عامل دی او زَیْد معرب دی او ضمه ورته اعراب
است و دال محل اعراب . و مبنی آنست کہ آخرش باختلاف عوامل مختلف نشود
[ده] [او دال محل داعراب دی] [او مبني هغه ده چې] [آخريې په اختلاف دعواملو سره] [نه مختلف]
ده او دال محل د اعراب دی، او مبني هغه دی چې د هغې آخر په اختلاف د عواملو سره نه مختلف
چون : هٰؤُلَاءِ کہ در حالت رفع و نصب و جر یکسان است .
کېږي] [لکه: هٰؤُلَاءِ] [په حالت د رفع او نصب او جر کې] [یو شان دي].
کېږي، لکه: هٰؤُلَاءِ شو په حالت د رفع او نصب او جر کې یو شان دي.

خلاصه د متن : په دې فصل کې صاحب د کتاب په اعتبار د معرب او مبني سره د کلمې تقسیم کوي .

تشریح : دلته مصنف رحمة الله علیه د کلمې تقسیم کوي په اعتبار د معرب او مبني سره نو دلته یو سوال راځي :

سوال: مصنف یو ځل مخکې کلمه په درې قسمه کړه اوس یې دویم ځل بیا په دوه قسمه کړه دا ولې؟

جواب: دلته جهتونه مختلف مختلف دي، اول ځل یې کلمه په درې قسمه کړه یعنې اسم فعل او حرف په اعتبار د ذات سره او دا دویم تقسیم یې په اعتبار د اوصافو سره دی یعنې اعراب د کلمې د اوصافو خو نه دی.
نو د عربي ژبې کلمې په دوه قسمه دي: (۱) معرب، (۲) مبني.

د معرب تعریف: هو اسم رکب مع عامله ولا یشبه مبني الاصل، دا هغه اسم دی چې مرکب وي د خپل عامل سره او مشابه نه وي د مبني الاصل سره، یا په بل تعبیر سره چې معرب هغې کلمې ته وایي چې آخر یې مختلف کېږي په اختلاف د عواملو سره یعنې د هغې په آخرنی حرف حرکت د عامل د بدلیدلو په وجه بدلېږي. یعنې که عامل یې رافع وي نو رفع به پرې راځي او که چېرته عامل یې ناصب وي نو نصب به پرې راځي او که عامل یې جاره وي نو بیا به پرې جر راځي. لکه زَیْدٌ شو په جَاءَ زَیْدٌ، وَرَایْتُ زَیْداً او مَرَرْتُ بِزَیْدٍ کې نو د جَاءَ له وجې زَیْد له رفع ورکړی شو ځکه چې زَیْد د جَاءَ فاعل دی او فاعل مرفوع وي او رَاَیْتُ ورله نصب ورکړو ځکه چې زیداً د رَایْتُ مفعول دی او مفعول

4

منصوب وي او **بآء** ورله حرف جر ورکړو. نو په **زيد** باندې درې قسمه عامل راغی: **جَآءَ، رَاَيْتُ، حرف جر** او درې واړو جدا جدا اعراب پیدا کړو او **زيد** د هر یو اعراب قبول کړو.

وجه تسمیه: معرب د اعراب نه مأخوذ دی چې معنی یې ده ظاهرول په دې باندې هم چونکې اعراب ظاهریمي نو ځکه دې ته معرب وايي. **دمعرب حکم**: د عامل په بدلیدو سره د دې آخر بدلیږي لکه: **قام زيد، ورايت زيدا، ومررت بزيد**.

د معرب اقسام: معرب په دوه قسمه دی: (۱) اسم متمکن چې کله په ترکیب کې واقع وي، (۲) فعل مضارع چې کله د نون تاکید او نون جمع مؤنث نه خالي وي. د معرب اعراب ته رفع، نصب، جر سکون ویلي کیږي او د مبني القابو ته ضم ،فتح ،کسر او وقف ویلي کیږي.

سوال: په دې مثالونو کې عامل کوم دی او معرب کوم دی او اعراب یې څه دي او د اعراب دراتلوځای کوم یو حرف دی؟

جواب: دلته عامل **جَآءَ** او **رَاَيْتُ** دی او **بآء** حرف جر دی او **زيد** معرب دی او رفع، نصب جر اعراب دی او د دې اعراب دراتلوځای آخیرنی حرف **دال** دی ځکه چې اعراب اول او په منځ کې نه راځي بلکې همېشه په آخرني حرف باندې راځي.

د مبني تعریف: مبني هغې کلمې ته وايي چې آخر یې نه مختلف کېږي په اختلاف د عواملو سره یعنې د هغې آخر د عامل بدلیدو له وجې نه، نه بدلیږي او په یو حالت باندې قائم وي لکه: **هٰؤُلَآءِ** لکه څنګه چې په دې شعر کې دي:

مبنـــی آن باشد که ماند بر قرار　　　معرب آن باشد که گردد بار بار

ترجمه: مبني هغه ده چې پاتې وي په خپل حال، او معرب هغه دی چې وګرځي بار بار یعنې، بدلیږي را بدلیږي.

نو په دې کلمې چې هر څنګه عامل راشي نو آخیرني حرف به یې مکسور وي لکه **جَآءَنِيْ هٰؤُلَآءِ، رَاَيْتُ هٰؤُلَآءِ، مَرَرْتُ بِهٰؤُلَآءِ**، نو د دریو عاملانو له وجې نه د **هٰؤُلَآءِ** آخر بدل را بدل نه شو نو داسې قسم کلمې ته مبني وايي.

وجه تسمیه: مبني د بناء نه ماخوذ دی چې معنی یې ده مضبوط او د دې آخر هم داسې مضبوط وي چې د عامل د بدلیدو سره نه بدلیږي نو ځکه دې ته هم مبني وايي. **حکم**: چې د عامل په بدلیدو سره به آخر یې نه بدلیږي.

ترکیب: جاءني زيد: جاء فعل ماضي معلوم نون ضمیر متکلم مفعول به زید یې فاعل، جاء فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه. **رائیت زیداً**: رائیت فعل فاعل **زیداً** مفعول به، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به

4

جمله فعلیه خبریه . مررت بزید : مررت فعل فاعل ، بـاء حرف جر زیـد یې مجرور ، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر مررت پورې ، فعل سره د فاعل او سره د متعلق جمله فعلیه خبریه .

فصل بدانکه جمله حروف مبنی است ، واز افعال فعل ماضی وامر حاضر معروف
[فصل] [پوه شه چې] [ټول حروف مبني دي] [او د افعالو نه] [فعل ماضي] [او امر حاضر معلوم]
فصل : پوهه شه ! چې ټول حروف مبني دي ، او د افعالو نه فعل ماضي معلوم او امر حاضر معلوم ،
وفعل مضارع بانونهای جمع مؤنث وبانونهای تاکید نیز مبنی است .
[او فعل مضارع] [سره د نوناتو د جمع مؤنث] [او سره د نوناتو د تاکید] [دا هم مبني دي].
فعل مضارع سره د جمع مؤنث د نوناتو ، او سره د نوناتو د تاکید دا هم مبني دی .

خلاصه د متن : په دې فصل کې د مبني اقسام ذکر کوي نو وایي چې د مبني د پاره شپږ (٦) اقسام دی .

تشریح : مخکې فصل کې د معرب او د مبني ذکر وشو او په دې فصل کې د معرب او د مبني تعداد بیانیږي ، نو مصنف رحمة الله علیه فرمایي چې حروف ټول په ټوله مبني دي او هر چې فعل دی نو د هغې تفصیل دا دی چې فعل ماضي سره د خپلو ټولو قسمونو مبني ده او په فعل امر کې تفصیل دا دی چې صرف امر حاضر معروف مبني دی نو پته ولګېده چې امر حاضر مجهول او امر غایب معروف او مجهول ترې نه خارج شول. او په فعل مضارع کې تفصیل دا دی چې دوه صیغې جمع مؤنث غائب او جمع مؤنث حاضر مبني دي باقي دوولس صیغې معربې دي او کله چې په مضارع باندې نون تاکید (یعنې ثقیله او خفیفه) راشي نو بیا به هم مضارع مبني وي. د علامه ابن حاجب رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد اسماء معدوده قبل از ترکیب مبني دی لکه زید ، عمر او د نورو نحاتو په نزد کوم اسماء چې بعد از ترکیب معرب وي هغه قبل از ترکیب هم معرب وي او کوم اسماء چې بعد از ترکیب مبني وي هغه قبل از ترکیب هم مبني وي .

بدانکه : اسم غیر متمکن مبنی است ، و اما اسم متمکن معرب است ، بشرط
[پوه شه چې] [اسم غیر متمکن مبني دی] [او هر چې اسم متمکن دی] [دا معرب دی] [خو په دې شرط]
پوهه شه ! چې اسم غیر متمکن مبني دی ، او هر چې اسم متمکن دی نو دا معرب دی ، خو په دې شرط
آنکه در ترکیب واقع شود و فعل مضارع معرب است بشرط آنکه از نونهای
[چې په ترکیب کې واقع شي] [او فعل مضارع] [معرب دی] [خو په دې شرط چې] [د نوناتو د]
چې پـه ترکیب کې واقـع شـي ، او فعـل مـضارع معرب ده خـو پـه دې شـرط چې د نونـاتو

جمع مؤنث و نون تاکید خالی باشد پس در کلام عرب بیش ازین دو قسم معرب
[جمع مؤنث][او دنون تاکیدنه خالي وي][پس په کلام دعربو کې][په غیر ددې نه][دوه قسمه معرب]
د جمع مؤنث او د نون تاکید نه به خالي وي نو په کلام د عربو کې په غیر ددې نه دوه (۲) قسمه معرب
نیست باقی همه مبنی است و اسم غیر متمکن اسمی است که با مبنی اصل مشابهت دارد
[نه دي][باقي ټول مبني دي][او اسم غیر متمکن][هغه اسم دی][چې دمبني اصل سره][مشابهت لري]
نه دي ، باقي ټول مبني دی ، او اسم غیر متمکن هغه اسم دی چې مشابهت لري ، د مبني اصل سره
و مبنی اصل سه چیز است فعل ماضی و امر حاضر معروف و جمله حروف و اسم متمکن
[او مبني اصل درې شیان دي][فعل ماضي][امر حاضر معلوم][او ټول حروف][او اسم متمکن]
او مبني اصل درې (۳) شیان دي : فعل ماضي ، امر حاضر معلوم او ټول حروف ، او اسم متمکن هغه
اسمی است که با مبنی اصل مشابهت نه باشد.
[هغه اسم دی][چې د مبني اصل سره][مشابه نه وي].
اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت نه لري.

تشریح : متمکن صیغه د اسم فاعل ده او مصدر یې **تمکن** دی په وزن د **تفعل**، د متمکن معنی ده ځای ورکولو والا، او د غیر متمکن معنی ځای نه ورکولو والا. **د اسم متمکن تعریف**: اسم متمکن هغه اسم دی چې د مبني الاصل سره مشابهت نه لري، یا اسم متمکن هغه اسم دی چې ځای ورکوي اعرابونو ته، هغه معرب دی په دې شرط چې په ترکیب کې واقع شي. **د اسم غیر متمکن تعریف**: اسم غیر متمکن هغه اسم دی چې مشابه وي د مبني الاصل سره، یا اسم غیر متمکن هغه اسم دی چې ځای نه ورکوي اعرابونو ته او دا مبني دی.

﴿قوله : و اما اسم متمکن الخ﴾ مصنف فرمایي چې د اسم متمکن دوه حالته دي: (۱) یو خو دا چې دی بالکل یواځې وي، یعنې د عامل سره په ترکیب کې نه وي راغلې. (۲) دویم دا چې د عامل سره په ترکیب کې واقع شوې وي نو په لومړني صورت کې مبني دی او په دویم صورت کې معرب دی، لکه: **زَیْد** شو، نو دا اسم متمکن دی لیکن یواځې دی او عامل ورسره نشته، نو لهذا په دې وخت کې دی په سکون باندې مبني دی. د دویم مثال: لکه: **جَاءَ زَیْدٌ** نو دلته **زَیْد** معرب شو ځکه دلته د خپل عامل سره مرکب شو. یو قسم د معرب خو اسم متمکن شو چې کله دی عامل سره په ترکیب کې واقع شوی

وي، دویم قسم د معرب فعل مضارع ده خو په هغې وخت کې چې کله دا د جمع مؤنث د **نون** نه او د **نون** تاکیدي نه خالي وي لکه **يَضْرِبُ**، نو د دوو صیغو نه علاوه باقي د مضارع دوولس صیغې معرب دي.

﴿قوله : پس در کلام عـرب﴾ دی ځای نه مصنف رحمة الله علیه فرمایي چې په کلام د عربو کې زیات د دې دوو قسمونو نه معرب نشته باقي ټول مبني دي. نو خلاصه دا شوه چې کلمه په درې قسمه ده: (اسم، فعل، حرف) نو حروف ټول مبني دي. او فعل په درې قسمه دی: فعل ماضي، امر حاضر، فعل مضارع. نو فعل ماضي او امر حاضر دواړه مبني دي (او دا دواړه مبني الاصل دي) او فعل مضارع په دا وه قسمه ده: یوه هغه چې نون د جمع مؤنث او نون د تاکید پکې نه وي راغلې. (۲) دویمه هغه چې راغلي وي په کې. نو اوله معربه ده او دویمه مبني ده. او اسم په دوه قسمه دی: (۱) چې په ترکیب کې واقع شوې وي. (۲) چې په ترکیب کې نه وي واقع شوي. نو اول قسم معرب دی او دویم قسم مبني دی. نو معرب صرف دوه څیزونه دي: یو اسم متمکن چې په ترکیب کې واقع شوې وي دویم فعل مضارع چې د **نوناتو** نه خالي وي.

﴿قوله : و اسم غیر متمکن﴾ په دې ځای کې مصنف د اسم غیر متمکن تعریف کوي چې اسم غیر متمکن هغه اسم دی چې مشابه وي د مبني الاصل سره، مبني الاصل درې څیزونه دي: ټول حروف، فصل ماضي، امر حاضر معروف. د میر سید شریف په نزد باندې د دې دیو واړو نه چې د یو سره هم د اسم مشابهت راشي نو هغه به اسم غیر متمکن وي.

سوال: دی چې د مبني الاصل سره څنګه مشابه دی؟ **جواب:** دده مشابهت د مبني الاصل سره په ډېرو طریقو سره دی یو څو ده هغې نه دا دي: یو دا چې اسم متضمن وي معنی د حرف لره لکه په **أَيْنَ** کې چې ظرف دی او متضمن دی معنی د حرف استفهام لره. دویم دا چې مشابهت یې راغلی وي احتیاج کې لکه څرنګه چې حرف محتاجه وي په دلالت کولو کې په معنی خپله باندې بلې کلمې ته نو د غه شان **هٰؤُلَاء** محتاجه دی مشار الیه ته. دریم دا چې اسم راغلی وي په ځای د راتلو د مبني اصل کې لکه **منزل** شو چې دا اسم فعل دی او راغلی دی په ځای د **انزال** او **انزال** مبني دې نو دې هم مبني شو وغیره.

سوال: مبني اصل څه ته وایي؟ **جواب:** مبني اصل دې ته وایي چې بناء په کې دا اصل وضع نه راغلې.

متمکن: صیغه د اسم فاعل د باب **تفعل** نه ده معنی یې ده ځای ورکول.

مضمرات: د ضمیر نه دی معنی یې ده پټول. دا هم پټ وي یا د **ضمور** نه دی چې خوار او کمزوري ته وایي دا هم قلیل الحرف دی او په اصطلاح کې: **ما وضع لمتکلم او مخاطب او غائب تقدم ذکر لفظاً او معنی او حکماً** وي او د مشابهت د مبني اصل له وجې نه نه وي راغلې.

﴿قوله : و اسم متمکن اسمی است﴾ اسم متمکن هغه اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت نه لري دا

اسم متمکن معنی هغه اسم چې ځای ورکوونکی وي او دی هم اعرابا تو ته ځای ورکوي.

د اسم غیر متمکن اقسام : اول قسم مضمرات :

فصل بدانکه اسم غیر متمکن هشت قسم است اول مضمرات ' چون اَنَا من مرد
[فصل] [پوه شه ! چې] [اسم غیر متمکن] [په اته قسمه دی] [اول مضمرات] [لکه اَنَا] [زه یو سړی]
فصل : پوه شه چې اسم غیر متمکن په اته قسمه دی : اول قسم مضمرات دي لکه : اَنَا زه یو سړی
وزن ' و ضَرَبْتُ زدم من ' و اِیَّایَ خاص مرا ' وضَرَبَنِيْ بزد
[او یا یوه ښځه] [او ضَرَبْتُ] [ووهلو ما یو سړی] [او اِیَّایَ] [خاص ما لره] [او ضَرَبَنِيْ] [ووهلو]
یا زه یوه ښځه یا ضَرَبْتُ ووهلو ما یو سړی یا یوې ښځې لره یا اِیَّایَ خاص ما لره یا ضَرَبَنِيْ ووهلو
مرا ' و لِيْ مرا ' این هفتاد ضمیر است ' چهارده مرفوع متصل ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا
[ما لره] [او لِيْ ما لره] [او دا اویا] [ضمائر دی] [څوارلس] [مرفوع متصل] [ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا]
ما لره ، یا لِيْ ما لره ، او دا اویا (۷۰) ضمائر دی څوارلس (۱۴) مرفوع متصل : ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا
ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
[ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ] [ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ] [ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا]
ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
[ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ] [ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ] [ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا]
ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ ' و چهارده مرفوع منفصل : اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا
[ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ] [او څوارلس (۱۴)] [مرفوع منفصل] [اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا]
ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ ، او څوارلس (۱۴) مرفوع منفصل : اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا

أَنْتُمْ أَنْتِ أَنْتُمَا أَنْتُنَّ هُوَ هُمَا هُمْ هِيَ هُمَا هُنَّ . و چهارده منصوب متصل :

[أَنْتُمْ] [أَنْتِ أَنْتُمَا أَنْتُنَّ] [هُوَ هُمَا هُمْ] [هِيَ هُمَا هُنَّ] [او څوارلس] [منصوب متصل]

أَنْتُمْ أَنْتِ أَنْتُمَا أَنْتُنَّ هُوَ هُمَا هُمْ هِيَ هُمَا هُنَّ . او څوارلس (۱۴) منصوب متصل :

ضَرَبَنِيْ ، ضَرَبَنَا ، ضَرَبَكَ ، ضَرَبَكُمَا ، ضَرَبَكُمْ ، ضَرَبَكِ ، ضَرَبَكُمَا .

[ضَرَبَنِيْ] [ضَرَبَنَا] [ضَرَبَكَ] [ضَرَبَكُمَا] [ضَرَبَكُمْ] [ضَرَبَكِ] [ضَرَبَكُمَا]

ضَرَبَنِيْ ، ضَرَبَنَا ، ضَرَبَكَ ، ضَرَبَكُمَا ، ضَرَبَكُمْ ، ضَرَبَكِ ، ضَرَبَكُمَا .

ضَرَبَكُنَّ ، ضَرَبَهُ ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُمْ ، ضَرَبَهَا ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُنَّ .

[ضَرَبَكُنَّ] [ضَرَبَهُ] [ضَرَبَهُمَا] [ضَرَبَهُمْ] [ضَرَبَهَا] [ضَرَبَهُمَا] [ضَرَبَهُنَّ]

ضَرَبَكُنَّ ، ضَرَبَهُ ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُمْ ، ضَرَبَهَا ، ضَرَبَهُمَا ، ضَرَبَهُنَّ .

و چهارده منصوب منفصل : اِيَّايَ ، اِيَّانَا ، اِيَّاكَ ، اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُمْ ،

[او څوارلس (۱۴)] [منصوب منفصل] [اِيَّايَ] [اِيَّانَا] [اِيَّاكَ] [اِيَّاكُمَا] [اِيَّاكُمْ]

او څوارلس (۱۴) منصوب منفصل : اِيَّايَ ، اِيَّانَا ، اِيَّاكَ ، اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُمْ ،

اِيَّاكِ ، اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُنَّ ، اِيَّاهُ ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُمْ ، اِيَّاهَا ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُنَّ .

[اِيَّاكِ] [اِيَّاكُمَا] [اِيَّاكُنَّ] [اِيَّاهُ] [اِيَّاهُمَا] [اِيَّاهُمْ] [اِيَّاهَا] [اِيَّاهُمَا] [اِيَّاهُنَّ]

اِيَّاكِ ، اِيَّاكُمَا ، اِيَّاكُنَّ ، اِيَّاهُ ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُمْ ، اِيَّاهَا ، اِيَّاهُمَا ، اِيَّاهُنَّ .

و چهارده مجرور متصل : لِيْ ، لَنَا ، لَكَ ، لَكُمَا ، لَكُمْ ، لَكِ ، لَكُمَا ، لَكُنَّ ، لَهُ ،

[او څوارلس] [مجرور متصل] [لِيْ] [لَنَا] [لَكَ] [لَكُمَا] [لَكُمْ] [لَكِ] [لَكُمَا] [لَكُنَّ] [لَهُ]

او څوارلس (۱۴) مجرور متصل : لِيْ ، لَنَا ، لَكَ ، لَكُمَا ، لَكُمْ ، لَكِ ، لَكُمَا ، لَكُنَّ ، لَهُ ،

لَهُمَا ، لَهُمْ ، لَهَا ، لَهُمَا ، لَهُنَّ .

[لَهُمَا] [لَهُمْ] [لَهَا] [لَهُمَا] [لَهُنَّ] .

لَهُمَا ، لَهُمْ ، لَهَا ، لَهُمَا ، لَهُنَّ .

خلاصه د متن : په دې فصل کې مصنف رحمة الله علیه د اسم غیر متمکن اقسام بیانوي، او د اسم غیر متمکن په اته اقسامو کې د اول قسم بیان کوي، یعنې بحث د مضمراتو کوي.

تشریح : د اسم غیر متمکن اته (۸) قسمونه دي: (۱) مضمرات، (۲) اسماء اشارات، (۳) اسماء موصوله، (۴) اسماء افعال، (۵) اسماء اصوات، (٦) اسماء ظروف، (۷) اسماء کنایات، (۸) مرکب بنائي.

(۱) مضمرات : عام طور سره په خبرو کې متکلم چې کله د یو چا سره خبرې کوي نو خپل نوم نه اخلي یعنې که زید د یو چا سره خبرې کوي نو د خپل کار ذکر کولو په وخت کې دا نه وایي چې زید دا کار وکړ بلکه وایي چې ما دا کار وکړ، همدارنګې د مخاطب نوم نه اخلي بلکې وایي چې تا فلانکي کار وکړو که دداسې یو کس په باره کې خبره روانې وي چې غائب وي نو په اول ځل نوم واخیستلې شي بار بار نه شي اخیستلې بلکې استعمال دداسې الفاظو کیږي چې د هغې نه واضح طور سره هم هغه کس مراد وي مثلاً زید د جمعرات په ورځ غیر حاضري وکړه چې کله دده نه د غائب کیدو د سبب باره کې پوښتنه وشوه نو هغه چې پاتې شو په دې جمله کې لفظ [دده] او [هغه] ذکر کافي دی بیا بیا د زید دنوم راوړلو ضرورت نشته.

لهذا د ضمیر تعریف به داکولې شي چې: ضمیر هغه اسم معرفه ده چې د متکلم، مخاطب یا داسې غائب د وضع کیدو د پاره استعمال کړې شي چې د هغې تذکره مخکې (لفظاً، حکماً یا معناً) تیره شوې وي. چونکې اسم ضمیر د اسم ظاهر (علم وغیره) قائمقام او نائب وي لهذا د اسم ظاهر نه بغیر د ضمیر مستقل حیثیت نه وي بلکه د ضمیر د پاره د یو اسم ظاهر کیدل ضروري دي چې د هغې طرف ته ضمیر منسوب کړې شي مثلاً لفظاً، حکماً یا معناً د اسم ظاهر د ذکر کولو نه بغیر وویلې شي هغه وویل نو ددې جملې هیڅ معنی نشته، البته که چیرته مخکې د زید ذکر وشي نو بیا دا جمله حیثیت لري.

په پښتو ژبه کې ضمائر د عربي په نسبت سره لږ دي ځکه چې په عربي کې د ضمائرو تعداد اویا (۷۰) دی د فاعل او مسند الیه د حالت د ظاهرولو د پاره اته ویشت (۲۸) صیغې دی، همدارنګې د مفعول او د نصب حالت بیانولو د پاره هم اته ویشت (۲۸) صیغې دی او د جر حالت د بیانولو د پاره څوارلس (۱۴) صیغې دی ددې تفصیل دادی:

د اعرابي حالت په اعتبار سره د اسم ظاهر په شان اسم ضمیر هم په درې قسمه دی: (۱) اسم ضمیر مرفوع، (۲) اسم ضمیر منصوب، (۳) اسم ضمیر مجرور.

او د اسم فعل یا حرف سره صورتاً یو ځای کیدو یا جدا کیدو په اعتبار سره د ضمیر دوه (۲) قسمه دی: (۱) ضمیر متصل، (۲) ضمیر منفصل:

(۱) ضمیر متصل : متصل د اتصال نه دی یعنې داسې ضمیر چې د دویمې کلمې سره یو ځای شوې وي، ددې درې (۳) قسمونه دي: (۱) ضمیر مرفوع متصل، (۲) ضمیر منصوب متصل، (۳) ضمیر مجرور متصل:

ضمیر مرفوع متصل : **هُوَ مَالَا يَصِحُّ بِهِ الْاِبْتِدَاء وَلَا يَقَعُ بَعْدَ اِلَّا** ، یعنې دا هغه ضمیر دی چې نه مبتدا جوړیږي او نه د الا نه وروستو راځي ، یا داسې وویلې شي چې ضمیر مرفوع متصل هغې ضمیر ته ویلې کیږي چې محل د رفع کې واقع وي (یعنې فاعل واقع وي) او د خپل عامل سره متصل وي لکه **ضَرَبْتَ ، ضَرَبْتِ ، ضَرَبْتُ** کې **تَ، تِ، تُ** او **ضَرَبَا ، يَضْرِبَانِ** ، کې **الف** ، **ضَرَبُوْا ، يَضْرِبُوْنَ** کې **واو** ضمیر مرفوع متصل دی .

په ضمیر مرفوع متصل کې دا لاندې ضمائر داخل دی : (۱) **تـاء** انتعال لکه **ضَـرَبْتَ، ضَـرَبْتِ ، ضَـرَبْتُ، ضَـرَبْتُمَا، ضَرَبْتُمْ، ضَرَبْتُنَّ** . (۲) **نـا** لکه **ضَـرَبْنَا** .(۳) د تثنیه مذکر او تثنیه مؤنث الف لکه **ضَرَبَا، ضَرَبَتَا، يَـضْرِبَانِ ، تَـضْرِبَانِ ، اِضْرِبَا** .(۴) د جمع واو لکه **ضَـرَبُوْا ، يَـضْرِبُوْنَ ، تَـضْرِبُوْنَ ، اِضْـرِبُوْا** .(۵) **يـاء** مخاطبه لکه **تَضْرِبِيْنَ ، اِضْرِبِيْ** .(٦) **نونِ** نسوان لکه : **ضَرَبْنَ ، يَضْرِبْنَ ، تَضْرِبْنَ ، اِضْرِبْنَ** .

ضمیر مرفوع متصل زیات تر بارز (ظاهر) وي او کله مستتر یعنې پټ وي نو د ظهور او عدم ظهور په اعتبار سره د ضمیر مرفوع متصل هم دوه (۲) قسمونه دي : (۱) ضمیر بارز ،(۲) ضمیر مستتر .

(۱) ضمیر بارز هغه ضمیر دی چې په الفاظو کې مذکور وي او تلفظ پرې هم کولې شي یا په دې الفاظو سره ضمیر بارز هغه دی چې د هغې په ویلو او لیکلو کې ظاهر صورت وي لکه **ضَرَبْتَ ، ضَـرَبْتِ ، ضَـرَبْتُ** دلته ضمیر **تَ ، تِ، تُ** په تلفظ کې ضمیر راغلې دی .

(۲) ضمیر مستتر : دا هغه ضمیر ته ویلې کیږي چې په الفاظو کې مذکور نه وي یعنې داسې ضمیر چې په کلام کې ملحوظ وي لیکن په ویلو او لیکلو کې نه وي لکه [**سَلِ اللّٰهَ يُعْطِيْكَ**] ته د الله نه وغواړه هغه به یې تاته درکړي دلته کلمه **سَلْ** کې یو ضمیر پټ دی چې د هغې تعبیر په **أَنْتَ** سره کولې شي دا ضمیر خو په کلام کې ملحوظ دی لیکن د دې تلفظ نه شي کولې ، د غه شان **يُعْطِيْكَ** کې هم یو ضمیر مستتر دی چې د هغې تعبیر په **هُوَ** سره کولې شي او اګر چې په تلفظ کې نشته لیکن په کلام کې ملحوظ دی ، په لاندې جدول کې په څلورو صیغو کې ضمیر وجوباً مستتر وي :

ضمیر مستتر	مثال	صیغه	فعل
أَنْتَ	تَضْرِبُ	واحد مذکر مخاطب	مضارع
أَنَا	أَضْرِبُ	واحد متکلم	مضارع
نَحْنُ	نَضْرِبُ	جمع متکلم	مضارع

امر	واحدمذکر مخاطب	اِضْرِبْ	أَنْتَ

په لاندې صیغو کې ضمیر په هر حال کې مستتر نه وي بلکه جوازاً مستتر وي ځکه چې ددې اسم فاعل کله د اسم ظاهر په صورت کې وي او کله د ضمیر په صورت کې وي چې فاعل اسم ظاهر نه وي نو ضمیر به جوازاً مستتر وي.

فعل	صیغه	مثال	ضمیر مستتر
ماضي	واحدمذکر غائب	ضَرَبَ	هُوَ
ماضي	واحدمؤنث غائب	ضَرَبَتْ	هِيَ
مضارع	واحدمذکر غائب	يَضْرِبُ	هُوَ
مضارع	واحدمؤنث غائب	تَضْرِبُ	هِيَ

﴿قوله : و چهارده منصوب متصل الخ﴾ په دې ټولو صیغو کې فاعل پټ دی د هرې یوې سره د مفعول ضمیر متصل دی د اولنې صیغې معنی ده چې وهلی دی هغې یو سړي ما یو سړي یا ما یوې ښځې لره د دویمې صیغې معنی ده وهلی یو هغې یو سړي مونږه دوو سړو لره. د اول ضمیر معنی خاص ما لره د دویم معنی خاص مونږ لره د دریم خاص تا یو سړي لره. د لومړني ضمیر معنی زما لپاره د دویم زمونږ لپاره، د دریم ستا لپاره د څلورم، ستاسو ددواړو لپاره د پنځم د ټولو لپاره. دا خو د ضمیر مجرور متصل هغه ضمایر دي چې حرف جر پرې داخل شوی وي، دویم قسم هغه چې په هغې مضاف داخل شوی وي، دا هم څوارلس دي.

ضمیر منصوب متصل : هغه ضمیر دی چې په حالت نصبي کې وي او دویمې کلمې سره یو ځای شوې وي که چیرته په جمله فعلیه کې وي نو عام طور مفعول به جوړیږي.

ضمیر مجرور متصل : دا هغه ضمیر دی چې په حالت جري کې د عامل سره یو ځای شوې وي دا ضمیر یا خو د حروف جاره نه پس راځي یا مضاف الیه جوړیږي. دا لاندې ضمیرونه دي چې په منصوب او مجرور کې سره مشترک دي:

(۱) **یاء متکلم لکه** : ضَرَبَنِيْ . لِيْ . كِتَابِيْ.

(۲) **نا لکه** ضَرَبَنَا. لَنَا. كِتَابُنَا.

(۳) کاف ضمیر مخاطب لکه: ضَرَبَكَ، ضَرَبَكِ، ضَرَبَكُمَا، ضَرَبَكُمْ، ضَرَبَكُنَّ (په حالت نصبي کې مفعول به دی).
لَكَ. لَكِ. لَكُمَا. لَكُمْ. لَكُنَّ (په حالت جري کې مجرور دی) كِتَابُكَ، كِتَابُكِ، كِتَابُكُمَا، كِتَابُكُمْ، كِتَابُكُنَّ (په حالت جري کې مضاف الیه دی)

(۴) یاء غائب لکه ضَرَبَهُ . ضَرَبَهَا . ضَرَبَهُمَا . ضَرَبَهُمْ . ضَرَبَهُنَّ . لَهُ . لَهَا . لَهُمَا . لَهُمْ . لَهُنَّ .

ضمیر منفصل: دا دې دوه (۲) قسمونه دی: (۱) ضمیر مرفوع منفصل، (۲) ضمیر منصوب منفصل:

ضمیر مرفوع منفصل: هُوَ مَا يَصِحُّ بِهِ الْإِبْتِدَاءُ وَيَقَعُ بَعْدَ إِلَّا ، چې مبتداء هم جوړیږي او د إِلَّا نه پس هم راتلې شي یا په بل تعبیر سره چې په محل د رفع کې واقع وي او د خپل عامل سره یو ځای شوې نه وي لکه: أَنَا . نَحْنُ . أَنْتَ . أَنْتُمَا . أَنْتُمْ . أَنْتِ . أَنْتُمَا . أَنْتُنَّ . هُوَ . هُمَا . هُمْ . هِيَ . هُمَا . هُنَّ .

ضمیر مرفوع منفصل عام طور سره مبتداء واقع کیږي او وروستني کلمه خبر وي لکه: أَنَا بَشَرٌ . أَنَا يُوْسُفُ . نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ . نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ . نَحْنُ مُسْتَهْزِؤُوْنَ . هُوَ شَاعِرٌ . هُوَ اللهُ . هِيَ حَيَّةٌ . هِيَ ظَالِمَةٌ . هُمْ نَائِمُوْنَ . أَنْتَ يُوْسُفُ . نَحْنُ نَرْزُقُكَ . أَأَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهُ . أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلٰى . أَنَا أُحْيِيْ وَأُمِيْتُ .

ضمیر منصوب منفصل: چې محل د نصب کې وي او د خپل عامل سره یو ځای شوي نه وي لکه:

إِيَّايَ . إِيَّانَا . إِيَّاكَ . إِيَّاكُمَا . إِيَّاكُمْ . إِيَّاكِ . إِيَّاكُمَا . إِيَّاكُنَّ . إِيَّاهُ . إِيَّاهُمَا . إِيَّاهُمْ . إِيَّاهَا . إِيَّاهُمَا . إِيَّاهُنَّ .

سوال: ضمیر مرفوع ته مرفوع، او ضمیر منصوب ته ولې منصوب وایي؟


جواب: ضمیر مرفوع د فاعل ضمیر ته ویلی شي او فاعل همېشه مرفوع وي لفظاً لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ، تقدیراً لکه: ضَرَبَ مُوْسٰى ، محلاً لکه ضَرَبَ هٰؤُلَاءِ . او ضمیر منصوب ته ځکه منصوب وایي چې ضمیر منصوب د مفعول ضمیر وي او مفعول همېشه منصوب وي لفظاً لکه ضَرَبْتُ زَيْداً تقدیراً لکه أَكَلْتُ كُمَّثْرٰى محلاً لکه ضَرَبْتُ هٰؤُلَاءِ . خلاصه دا چې فاعل مرفوع وي او مفعول منصوب وي.

که دا ضمیر په جمله فعلیه کې وي نو مفعول به جوړیږي او عام طور دا دې په ترجمه کې د حصر معنی وي لکه إِيَّاكَ نَعْبُدُ ، مونږ هم ستا عبادت کوو. ضمیر منفصل د ضمیر متصل په شان په دوه قسمه (بارز او مستتر) نه وي بلکه همیشه بارز وي. لاندې ضمائر بیا په تفصیلي طور سره د جدول په صورت کې پیش کولې شي دپاره د دې چې په خه طریقې سره ذهن کې کیني ضمائر ټول اویا (۷۰) دې او په پنځه جماعتونو باندې مشتمل دی په هر جماعت کې څوارلس (۱۴) صیغې دی:

ضمیر منصوب	ضمیر مجرور		ضمیر مرفوع	
منفصل	متصل	متصل	منفصل	متصل
إِيَّايَ	ضَرَبَنِيْ	لِيْ	أَنَا	ضَرَبْتُ

ضَرَبْنَا	نَحْنُ	لَنَا	ضَرَبَنَا	إِيَّانَا
ضَرَبْتَ	أَنْتَ	لَکَ	ضَرَبَکَ	إِيَّاکَ
ضَرَبْتُمَا	أَنْتُمَا	لَکُمَا	ضَرَبَکُمَا	إِيَّاکُمَا
ضَرَبْتُمْ	أَنْتُمْ	لَکُمْ	ضَرَبَکُمْ	إِيَّاکُمْ
ضَرَبْتِ	أَنْتِ	لَکِ	ضَرَبَکِ	إِيَّاکِ
ضَرَبْتُمَا	أَنْتُمَا	لَکُمَا	ضَرَبَکُمَا	إِيَّاکُمَا
ضَرَبْتُنَّ	أَنْتُنَّ	لَکُنَّ	ضَرَبَکُنَّ	إِيَّاکُنَّ
ضَرَبَ	هُوَ	لَهُ	ضَرَبَهُ	إِيَّاهُ
ضَرَبَا	هُمَا	لَهُمَا	ضَرَبَهُمَا	إِيَّاهُمَا
ضَرَبُوْا	هُمْ	لَهُمْ	ضَرَبَهُمْ	إِيَّاهُمْ
ضَرَبَتْ	هِيَ	لَهَا	ضَرَبَهَا	إِيَّاهَا
ضَرَبَتَا	هُمَا	لَهُمَا	ضَرَبَهُمَا	إِيَّاهُمَا
ضَرَبْنَ	هُنَّ	لَهُنَّ	ضَرَبَهُنَّ	إِيَّاهُنَّ

فائده: کله نا کله د جملې نه مخکې د غائب ضمیر بغیر د مرجع نه واقع شوی وي نو که چېرته دغه ضمیر د مذکر وي نو هغې ته ضمیر شان ویلی کېږي او که چېرته د مؤنث وي نو هغې ته ضمیر قصه ویلی کېږي او د ضمیر نه وروستو جمله به د دغې ضمیر تفسیر کوي لکه **انه زید قائم** یعني په تحقیق سره شان دا دی چې زید ولاړ دی او **انها زینب قائمة** یعني په تحقیق سره قصه دا ده چې زینب ولاړه ده.



د ضمائرو د گردانونو تفصیلي نقشه :

ضمیر

مرفوع		منصوب				مجرور	
متصل	منفصل	متصل			منفصل	متصل	
		متصل بفعل	متصل باسم فعل	متصل بعامل ناصب		بحرف جر	باضافت
ضَرَبْتُ	اَنَا	ضَرَبَنِيْ	رُوَيْدَنِيْ	اِنَّنِيْ	اِيَّايَ	لِيْ	غُلَامِيْ

ضَرَبْنَا	نَحْنُ	ضَرَبَنَا	رُوَيْدَنَا	اِنَّنَا	اِيَّانَا	لَنَا	غُلَامُنَا
ضَرَبْتَ	اَنْتَ	ضَرَبَكَ	رُوَيْدَكَ	اِنَّكَ	اِيَّاكَ	لَكَ	غُلَامُكَ
ضَرَبْتُمَا	اَنْتُمَا	ضَرَبَكُمَا	رُوَيْدَكُمَا	اِنَّكُمَا	اِيَّاكُمَا	لَكُمَا	غُلَامُكُمَا
ضَرَبْتُمْ	اَنْتُمْ	ضَرَبَكُمْ	رُوَيْدَكُمْ	اِنَّكُمْ	اِيَّاكُمْ	لَكُمْ	غُلَامُكُمْ
ضَرَبْتِ	اَنْتِ	ضَرَبَكِ	رُوَيْدَكِ	اِنَّكِ	اِيَّاكِ	لَكِ	غُلَامُكِ
ضَرَبْتُمَا	اَنْتُمَا	ضَرَبَكُمَا	رُوَيْدَكُمَا	اِنَّكُمَا	اِيَّاكُمَا	لَكُمَا	غُلَامُكُمَا
ضَرَبْتُنَّ	اَنْتُنَّ	ضَرَبَكُنَّ	رُوَيْدَكُنَّ	اِنَّكُنَّ	اِيَّاكُنَّ	لَكُنَّ	غُلَامُكُنَّ
ضَرَبَ	هُوَ	ضَرَبَهُ	رُوَيْدَهُ	اِنَّهُ	اِيَّاهُ	لَهُ	غُلَامُهُ
ضَرَبَا	هُمَا	ضَرَبَهُمَا	رُوَيْدَهُمَا	اِنَّهُمَا	اِيَّاهُمَا	لَهُمَا	غُلَامُهُمَا
ضَرَبُوْا	هُمْ	ضَرَبَهُمْ	رُوَيْدَهُمْ	اِنَّهُمْ	اِيَّاهُمْ	لَهُمْ	غُلَامُهُمْ
ضَرَبَتْ	هِيَ	ضَرَبَهَا	رُوَيْدَهَا	اِنَّهَا	اِيَّاهَا	لَهَا	غُلَامُهَا
ضَرَبَتَا	هُمَا	ضَرَبَهُمَا	رُوَيْدَهُمَا	اِنَّهُمَا	اِيَّاهُمَا	لَهُمَا	غُلَامُهُمَا
ضَرَبْنَ	هُنَّ	ضَرَبَهُنَّ	رُوَيْدَهُنَّ	اِنَّهُنَّ	اِيَّاهُنَّ	لَهُنَّ	غُلَامُهُنَّ

اسماء اشارات :

دوم : اسماء اشارات : ذَا وَ ذَانِ وَ

[دویم قسم] [اسماء اشارات دی] لکه : [ذَا دا یو سړی] [او] [ذَانِ دا دوه سړي] [او]

دویم قسم داسم غیر متمکن نه اسماء اشارات دي، لکه: ذَا دا یو سړی، ذَانِ دا دوه سړي په حالت

ذَيْنِ وَ تَا وَ تِيْ وَ تَهْ وَ ذَهْ وَ ذِهِيْ وَ تِهِيْ

[ذَيْنِ] [وَ تَا] [وَ تِيْ] [وَ تَهْ] [وَ ذَهْ] [وَ ذِهِيْ] [وَ تِهِيْ]

رفعي کي، ذَيْنِ دا دوه سړي په حالت نصبي کي، تَا وَ تِيْ وَ تَهْ وَ ذَهْ وَ ذِهِيْ وَ تِهِيْ

وَ تَانِ وَ تَیْنِ وَ أُوْلَاءِ بمد وَ أُوْلٰی بقصر.
[وَتَانِ] [وَتَیْنِ] [وَأُوْلَاءِ] [په مد سره] [وَأُوْلٰی] [په قصر سره]
وَتَانِ وَتَیْنِ وَأُوْلَاءِ په مد سره وَأُوْلٰی په قصر سره.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم غیر متمکن د اته اقسامو نه د دوهم قسم اسماء اشارات بیان کوي.

تشریح : د اسم اشارې تعریف : ما وضع لتعیین المشار الیه ، اسم اشاره هغه اسم دی کوم چې مشار الیه باندې د دلالت کولو د پاره وضع کړې شوې وي. بیا اسماء اشارات په درې (۳) قسمه دي: د قریب لپاره اشاره لکه : (ذا) **ذان**، **ذین**. د رمیانه لپاره اشاره لکه : **ذَاكَ**. د بعید لپاره اشاره لکه : **ذٰلِكَ**. لکه **ذا زید**، دا زید دی، نو **ذا** اسم اشاره ده . و ددې مشار الیه **زید** دی. د اشارې د پاره څلور شیان ضروري دي : (۱) هغه لفظ د کوم په ذریعې سره چې اشاره وکړې شي یعنې اسم اشاره ، (۲) هغه شي کوم طرف ته چې اشاره وکړې شي یعنې مشار الیه ، (۳) هغه کس د چا لپاره چې اشاره وکړې شي یعنې مشار له ، (۴) هغه کس کوم چې په خپله اشاره وکړي یعنې مشیر.

﴿ذان و ذین﴾: دا دواړه د تثنیې مذکر لپاره راځي، ذان په حالت رفعي کې ویلی کېږي او ذین په حالت نصبي جري کې ویلی کېږي، او په دې دواړو سره دوه مذکرو طرف ته اشاره کیږي لکه **ذان زیدان** نو **ذان** اسم اشاره تثنیه ده او د دې مشار الیه دواړه **زید** دي.

﴿تا و تي و ته و ذه و ذهي و تهي﴾: دا شپږواړه د مؤنث لپاره استعمالېږي چې کله واحد مؤنث طرف ته اشاره کوې نو په دې شپږو واړو کې چې کوم غواړې نو ووایه که زړه دې غواړي نو داسې ووایه (**تَا هِنْدٌ**) یا داسې ووایه (**تِيْ هِنْدٌ**) یا داسې ووایه (**تِهٖ هِنْدٌ**) یا داسې ووایه (**ذَهٖ هِنْدٌ**) یا داسې ووایه (**ذِهِيْ هِنْدٌ**) یا داسې ووایه (**تِهِيْ هِنْدٌ**) د ټولو معنی یو ده یعنې دا هند ده.

﴿تان او تین﴾: دا دواړه د تثنیې مؤنث لپاره راځي تان په حالت رفعي کې ویلی کېږي او تین په حالت نصبي جري کې ویلی کېږي.

﴿اولاء و اولی﴾: دا دواړه د جمع لپاره استعمالېږي. فرق په کې دا دی چې اولاء په مد سره صرف د جمع مذکر لپاره استعمالېږي او بغیر د مد نه د جمع مذکر او د جمع مؤنث دواړو لپاره استعمالېږي.

فائده : د مشار الیه درې درجې دی : (۱) مشار الیه قریب وي ، (۲) مشار الیه بعید وي ، (۳) مشار الیه متوسط

وي، اسم اشاره کومه چې د **کاف** او **لام** نه خالي نو دا مشار الیه قریب د پاره معین کړې شوې ده، او هغه اسم اشاره کومه چې د **لام** او **کاف** سره وي لکه **ذلک** نو دا مشار الیه بعید د پاره ده، او هغه اسم اشاره کومه چې صرف **کاف** لکه **ذاک** داد متوسط د پاره ده.

د اسماء اشارات د کلماتو معاني :

اسم اشاره	صیغه	معنی
ذَا	واحد مذکر	دا یو سړي
ذَانِ	تثنیه مذکر (په حالت رفعي کې)	دا دوه سړي
ذَیْنِ	تثنیه مذکر (په حالت نصبي او جري کې)	دا دوه سړي
تَا، تِيْ، تِهْ، تِهِيْ، ذِهْ، ذِهِيْ	واحد مؤنث	دا یوه ښځه
تَانِ	تثنیه مؤنث (په حالت رفعي کې)	دا دوه ښځې
تَیْنِ	تثنیه مؤنث (په حالت نصبي او جري کې)	دا دوه ښځې
أُولآءِ (په مد سره)	جمع مذکر او مؤنث	دا ټول سړي یا ټولې ښځې
أُوْلیٰ (په قصر سره)	جمع مذکر او مؤنث	دا ټول سړي یا ټولې ښځې

اسماء موصوله :

سوم : اسماء موصوله : اَلَّذِيْ ، اَللَّذَانِ ،
[دریم قسم] [اسماء موصوله دي] [لکه اَلَّذِيْ هغه یو سړی] [اَللَّذَانِ هغه دوه سړي]
دریم قسم: اسماء موصوله دي لکه: اَلَّذِيْ هغه یو سړی، اَللَّذَانِ ، هغه دوه سړي په حالت رفعي
وَ اللَّذَیْنِ وَ الَّذِیْنَ اَلَّتِيْ
[اللَّذَیْنِ] [هغه دوه سړي] [الَّذِیْنَ] [هغه ډېر سړي] [اَلَّتِيْ] [هغه یوه ښځه په
کې، اللَّذَیْنِ هغه دوه سړي په حالت نصبي کې، الَّذِیْنَ هغه ډېر سړي، اَلَّتِيْ هغه یوه ښځه په

اَللَّتَانِ وَ اللَّتَيْنِ وَ اللَّاتِيْ وَ اللَّوَاتِيْ
[اَللَّتَانِ] [او] [اللَّتَيْنِ] [او] [اللَّاتِيْ] [او] [اللَّوَاتِيْ]
حالت رفعي کې، اَللَّتَانِ وَ اللَّتَيْنِ وَاللَّاتِيْ وَ اللَّوَاتِيْ په حالت نصبي او جري کې هغه دوه
وَ مَا وَ مَنْ وَ أَيٌّ
[او] [مَا] [دغیر ذوي روحو د پاره] [او] [مَنْ] [د ذي روحو د پاره] [او] [أَيٌّ] [کوم یو]
ښځې او هغه ډېرې ښځې، مَا د غیر ذوي روحو د پاره او مَنْ د ذي روحو د پاره، أَيٌّ کوم یو مذکر،
وَ أَيَّةٌ و الف و لام بمعنی اَلَّذِيْ در اسم فاعل واسم مفعول ،
[أَيَّةٌ] [کومه یوه] [او الف لام] [چې په معنی د اَلَّذِيْ سره وي] [په اسم فاعل او اسم مفعول کې]
أَيَّةٌ کومه یوه مؤنثه، (الف لام) چې په معنی د اَلَّذِيْ سره په اسم فاعل او اسم مفعول کې
چون : اَلضَّارِبُ وَ اَلْمَضْرُوْبُ ، و ذُوْ
[لکه] [اَلضَّارِبُ] [هغه سړی وهونکي] [اَلْمَضْرُوْبُ] [هغه چې وهلی شوی دی] [او بل ذو]
لکه اَلضَّارِبُ، هغه سړی وهونکي، اَلْمَضْرُوْبُ هغه چې وهلی شوی دی، او بل ذو دی په معنی
بمعنی اَلَّذِيْ در لغت بنی طی نحو : جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَکَ
[په معنی] [د اَلَّذِيْ سره] [په لغت] [د بني طي کې] [لکه] [جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَکَ]
د اَلَّذِيْ سره په لغت د بني طي کې لکه: جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَکَ (راغلی و ماته هغه سړی چې ته یې
بدانکه أَيٌّ وَ أَيَّةٌ معرب است.
[پوه شه چې] [أَيٌّ] [او] [أَيَّةٌ] [معرب دی].
وهلی وې) پوه شه چې أَيٌّ او أَيَّةٌ معرب دي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم غیر متمکن د دریم قسم یعني اسماء موصولاتو بیان کیږي.

تشریح : موصول د وصل نه دی په معنی د یو ځای کېدو سره او موصول هم د خپلې صلې سره یو ځای وي او دا

هغه اسماء دي چې بغیر د صلې نه کامل جزء د جملې نشي واقع کېدی او صله هغې جملې ته وایي چې پس د موصول نه ذکر شي او موصول هم په دغې صلې سره پوره کېږي لکه جَاءَنِيْ اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ او صله په موصول باندې نه مقدم کېږي.

﴿قوله سوم در اسماء موصوله﴾: دریم قسم د اسم غیر متمکن نه اسماء موصولات دي، **د موصول تعریف: هو اسم یحتاج وجملة او مؤل بجملة و الی عائد**، موصول هغه اسم دی چې محتاج وي جملې طرف ته یا مؤل به جملې طرف ته، یا دا هغې اسم ته ویلی کېږي چې په غیر د صلې نه کامل جزء د جملې نه شي واقع کېدی او صله ویلی کېږي: **جملة مذکوره بعد الموصول لا یتم الابها**، صله هغه جمله ده چې ذکر شوې وي پس د موصول نه چې نه تمامېږي دغه موصول مگر په دغې جملې سره لکه جَاءَنِيْ اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ. نو **جاء** فعل دی او **نون** وقایه دی یا ضمیر متکلم مفعول به، **الذي** موصول دی او **ضربك** یې صله ده نو **الذي** به د **جاء** فاعل هله وي چې کله دې د خپلې صلې سره یو ځای شي نو صله او موصول به د کلام یو کامل جزء جوړ شي یعنې فاعل.

الذي هغه یو سړی **الذان الذین** هغه دوه سړي، دا دواړه د تثنیې لپاره راځي اول په حالت رفعي کې او دویم په حالت نصبي او جري کې **الذین** هغه ډېر سړي دا د جمع مذکر لپاره راځي، **التي** هغه یوه ښځه **اللتان اللتین** هغه دوه ښځې اول په حالت رفعي کې دویم په حالت نصبي جري کې **اللاتي اللواتي** هغه ډېرې ښځې دا د جمعې مؤنث لپاره راځي او **من** په معنی د **الذي** سره راځي لیکن د **ما** استعمال اکثر د غیر ذوی العقولو لپاره راځي او **مَنْ** اکثر د ذوی العقولو لپاره استعمالېږي او کله نا کله د یو بل پر ځای استعمالېږي.

﴿أَيٌّ وَأَيَّةٌ﴾: **أَيٌّ** هم د **الذي** په معنی سره د مذکر لپاره استعمالېږي او **أَيَّةٌ** د **التي** په معنی سره د مؤنث لپاره استعمالېږي او هغه الف لام چې په اسم فاعل او اسم مفعول باندې داخلېږي نو هغه به په معنی د **الذي** سره وي لکه **الضارب** یعنې **الذي ضرب المضروب** یعنې **الذي ضرب**. او د بني طئ قبیلې په محاوره کې **ذُوْ** په معنی د **الذي** سره راځي لکه جَاءَنِيْ ذُوْ ضَرَبَكَ یعنې جَاءَنِيْ اَلَّذِيْ ضَرَبَكَ.

﴿اي و اية معرب است﴾ **سوال**: چې کله ای او ایة معرب وي نو بیا یې دا د مبني په بحث کې ولې ذکر کړل؟

جواب: د **أَيٌّ** او **أَيَّةٌ** د پاره څلور حالتونه دي په درې حالتونو کې معرب دی او په یو حالت کې مبني دی، نو که چېرته دلته یې د دوي د معرب والي خبرداری نه وی ورکړی نو بیا به دا گڼلی شوه چې دا دواړه په هر حالت کې مبني دي او که چېرته د معرب په بحث کې یې ذکر کولی او دلته یې پرې نه وی نو دا خیال به راتلو چې دا دواړه په هر حالت کې معرب دی نو د دې وجې

نه یې دلته کې د دوی ذکر و کړو نو حاصل دا چې دا یې ځکه ذکر کړل چې په یو حالت کې مبني دی نو د هغې په اعتبار سره یې په بحث د مبني کې ذکر کړل.

د اي او اية څلور حالتونه: (۱) چې اي او اية چاته مضاف نه وي او د دوی د صلې صدر ذکر وي لکه **اَيّ هُوَ قَائِمٌ** نو په دې کې **اي** مضاف نه دی او صله یې جمله خبریه ده او صدر د صلې په کې ذکر دی (چې **هُوَ** دی) یو خو په دې حالت کې معرب دی (۲) چې دا چاته مضاف نه وي او صدر د صلې په عبارت کې ذکر نه وي لکه **اي قَائِمٌ** دلته کې **هُوَ** حذف کړی شوی دی، په دې حالت کې هم **اي** معرب دی (۳) چې مضاف هم وي او صدر د صلې هم ذکر وي لکه **ایهم هو قائمٌ** په دې حالت کې هم معرب دی (۴) چې مضاف وي او صدر د صلې ذکر نه وي لکه **ایهم قائمٌ** صرف په دې حالت کې مبني دی.

ترکیب: جاءني ذو ضربک: جاءني فعل فاعل، **ذو** په معنی د **الذي** اسم موصول، **ضربک** فعل فاعل دا یې صله، موصول سره د صلې نه دا مفعول شو د پاره د **جاءني**، فعل سره د فاعل او سره د مفعول نه جمله فعلیه خبریه.

د اسم موصول د کلماتو معاني:

معنی	صیغه	اسم اشاره
هغه یو سړي	واحد مذکر	اَلَّذِيْ
هغه دوه سړي	تثنیه مذکر (په حالت رفعي کې)	اَلَّذَانِ
هغه دوه سړي	تثنیه مذکر (په حالت نصبي او جري کې)	اَلَّذَيْنِ
هغه ډیر سړي	جمع مذکر	اَلَّذِيْنَ
هغه یوه ښځه	واحد مؤنث	اَلَّتِيْ
هغه دوه ښځې	تثنیه مؤنث (په حالت رفعي کې)	اَللَّتَانِ
هغه دوه ښځې	تثنیه مؤنث (په حالت نصبي او جري کې)	اَللَّتَيْنِ
هغه ډیرې ښځې	جمع مؤنث	اَللَّاتِيْ وَاللَّوَاتِيْ
هغه یو سړي یا یوه ښځه، هغه دوه سړي یا دوه ښځې هغه ډیر سړي یا ډیرې ښځې	واحد مذکر و مؤنث، تثنیه مذکر و مؤنث، جمع مذکر و مؤنث	مَنْ

مَا	واحد مذكر و مؤنث، تثنيه مذكر و مؤنث، جمع مذكر و مؤنث	هغه يو شئ مذكر يا مؤنث، هغه دوه شيان مذكر يا مؤنث، هغه ډير شيان مذكر يا مؤنث
اَيٌّ	واحد مذكر	هغه يو سړي
اَيَّةٌ	واحد مؤنث	هغه يوه ښځه
الف لام	واحد مذكر و مؤنث، تثنيه مذكر و مؤنث، جمع مذكر و مؤنث	هغه يو سړي يا يوه ښځه، هغه دوه سړي يا دوه ښځې هغه ډير سړي يا ډيرې ښځې
ذُوْ په لغت د بني طي كې	واحد مذكر	هغه يو سړي

اسماء افعال:

چهارم اسماء افعال وان بر دو قسم است : اول بمعنی امر حاضر چون : رُوَيْدَ

[څلورم] [اسماء افعال دي] [او دا په دوه قسمه دي] [اول قسم] [په معنى د امر حاضر سره] [لكه رُوَيْدَ]

څلورم اسماء افعال دي او دا په دوه (۲) قسمه دي اول قسم په معنى د امر حاضر سره لكه: رُوَيْدَ په

و بَلْهَ وَ حَيَّهَلْ

[او] [بَلْهَ] [په معنى د دَعْ سره] [يعني پريږده] [او] [حَيَّهَلْ] [په معنى د اِيْتِ سره] [يعني راشه]

معنى د اَمْهِلْ سره (يعني مهلت وركړه ده ته) بَلْهَ په معنى د دَعْ سره يعني پريږده، حَيَّهَلْ په معنى

وَ هَلُمَّ ، دوم بمعنى

[او] [هَلُمَّ] [دا هم په معنى د اِيْتِ سره] [يعني راشه ته] [او] [دويم قسم] [په معنى د]

د اِيْتِ سره يعني راشه، او هَلُمَّ هم په معنى د اِيْتِ سره، يعني راشه ته، او دويم قسم په معنى د

فعل ماضي چون : هَيْهَاتَ وَ شَتَّان .

[فعل ماضي سره] [لكه هَيْهَاتَ] [په معنى د بَعُدَ سره] [او شَتَّان په معنى د اِفْتَرَقَ سره].

فعل ماضي سره لكه هَيْهَاتَ په معنى د بَعُدَ سره او شَتَّان په معنى د اِفْتَرَقَ سره.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره مصنف علیه الرحمة د اسم غیر متمکن په اته اقسامو کې د څلورم قسم اسماء افعال بیان کوي.

تشریح : اسم ورته په اعتبار د اولې وضعې سره وایي او فعل ورته په اعتبار د وضع ثاني سره وایي. چې صورت خو یې د اسم وي او معنی یې د فعل وي. **د اسم فعل تعریف :** اسم فعل هغه اسم دی کوم چې په معنی او استعمال کې د فعل قائمقام وي د استعمال نه مراد دادی چې عامل خو جوړ شي خو معمول یې هرگز جوړ نه شي.

بیا دا اسماء افعال په دوه قسمه دي: (۱) چې د امر حاضر په معنی سره وي. (۲) د فعل ماضي په معنی سره وي. د اول مثالونه : **رُوَيْدَ، بَلْهَ، حَيَّهَلْ، هَلُمَّ.**

رُوَيْدَ: په معنی د **اَمْهِلْ** سره راځي **امهل** صیغه د واحد مذکر حاضر بحث امر حاضر معروف د باب افعال نه.

بَلْهَ: په معنی د **دَعْ** سره یعنې پرېږده ته.

حَيَّهَلْ: په معنی د **اِيْتِ** سره یعنې ته راشه.

هَلُمَّ: دا هم په معنی د **اِيْتِ** سره دی. دویم مثالونه هیهات، شتان.

هَيْهَاتَ: په معنی د **بَعُدَ** سره یعنې لرې شوی دی هغه په زمانه تېره شوې کې.

شَتَّانَ: په معنی د **اِفْتَرَقَ** سره یعنې جدا شوی دی هغه په زمانه تېره شوې کې.

فائده : رُوَيْدَ بَلْهَ هَلُمَّ، حَيَّهَلْ، دُوْنَكَ، هَا، د دوی نه چې وروستو کوم اسم راغلی وي نو هغه به منصوب وي د مفعولیت په وجه باندې ځکه دا اسماء افعال په معنی د امر حاضر د فعل متعدي سره دي او فعل متعدي په مفعول کې عمل د نصب کوي.

سوال: چې کله ما بعد اسم مفعول به شو نو فعل خو بغیر د فاعل به نه شي راتلی نو د دې فاعل څه شی دی؟

جواب: فاعل یې مستتر ضمیر دی او د دوی فاعل همېشه لپاره ضمیر وي اسم ظاهر نشي راتلی ځکه که فاعل یې اسم ظاهر راشي نو اسناد به یې راشي اسم ظاهر ته او دا خو په معنی د امر حاضر سره دی نو وبه گرځي غائب او دا صحیح نه ده.

هَيْهَاتَ شَتَّانَ سَرْعَانَ، د دې نه وروستو چې کوم اسم راشي نو هغه به مرفوع وي بناء بر فاعلیت ځکه چې دا په معنی د فعل ماضي سره دی د فعل لازمي نه او ما بعد یې فاعل دی او فعل په فاعل کې عمل د رفع کوي، دا اسماء افعال ځکه مبني دي چې دا مشابه دي د مبني الاصل سره په اعتبار د معنی سره.

اسماء اصوات :

پنجم اسماء اصوات چون : أح أح و أف و بخ و نخ و غاق.
[پنځم قسم] [اسماء اصوات دي] [لكه اح اح] [او] [اف] [او] بخ [او] نخ [او] غاق.
پنځم قسم د مبنياتو نه اسماء اصوات دي لكه اح اح اف دغه شان بخ او نخ او غاق شو.

خلاصه د متن : دلته د اسم غير متمكن د اته اقسامو نه د پنځم قسم اسماء اصوات بيان كيږي.

تشريح : اصوات جمع د **صوت** ده صوت آواز ته ويلى شي مصنف فرمايي چې پنځم قسم د اسم غير متمكن نه اسماء اصوات دي يعني د آوازونو نومونه او دا هغه الفاظ دي : **ما حكى به صوت او صوت به البهائم**، چې په دوى سره د څه آواز نقل شوې وي او يا پرې ځناورو ته آواز كړى شوې وي.

اح، اح : دا هغه آواز دى چې د ټوخې په وخت كې طبعاً راوځي.

اف: دا هغه آواز دى چې د درد په وخت كې او د كراهت د اظهار په وخت كې د خولې نه راوځي.

بخ: دا هغه آواز دى چې د اوښ د كښنولو په وخت كې د خولې نه راوځي.

نخ: دا هغه آواز دى چې د خوشحالى په وخت كې د خولې نه راوځي.

غاق: د كارغه د آواز نقل كولو ته وايي.

دا اسماء اصوات ځكه مبني دي چې دا مفردات دي يا د مفرداتو نقل دي ځكه هر هغه اسم چې په تركيب كې نه وي واقع شوى، نو هغه مبني وي او كه چېرته دا اسمائى اصوات په تركيب كې هم واقع شي نو بيا هم مبني دي ځكه چې دا به په تركيب كې د نقل په طور سره وي نه په خپل ذاتي طور سره.

اسماء ظروف :

ششم اسماء ظروف ظرف زمان چون : إذ و إذا و متى و كيف و أيان و
[شپږم قسم] [اسماء ظروف دي] [ظرف زمان لكه] [إذ] [او] [إذا] [او] [متى] [او] [كيف] [او] [أيان] [او]
شپږم قسم : د مبنياتو نه اسماء ظروف دي، ظرف زمان لكه : إذ و إذا و متى و كيف و أيان و

أمس و مذ و منذ و قط و عوض و قبل و بعد ، وقتیکه
[أمس][او مذ] [او منذ][او قط] [او عوض][او قبل] [او بعد] [په هغه وخت کې چې]
أمس و مذ و منذ و قط و عوض و قبل و بعد ، دا په هغه وخت کې مبني وي چې
مضاف باشند ومضاف الیه محذوف منوی باشد وظرف مکان چون حیث
[مضاف وي][او مضاف الیه یې محذوفه وي][او په نیت کې وي][او ظرف مکان][لکه حیث]
مضاف وي او مضاف الیه یې محذوفه وي او په نیت کې وي او ظرف مکان لکه حیث،
و قدام و تحت و فوق وقتی که مضاف باشند ، ومضاف الیه
[قدام] [او تحت] [فوق] [دا په هغه وخت کې مبني وي][چې مضاف وي] [او مضاف الیه]
قدام او تحت فوق شو ، دا په هغه وخت کې مبني وي چې مضاف وي او مضاف الیه
محذوف منوی باشد .
[محذوف منوي وي]
یې محذوفه وي او په نیت کې وي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم غیر متمکن د اته اقسامو نه د شپږم قسم اسماء ظروفو بیان کوي.

تشریح : د اسم غیر متمکن شپږم قسم اسماء ظروف دي، **ظروف** جمع د **ظرف** ده او **ظرف** ویلی کیږي هغې شي ته چې بل شی په کې کېښودلی شي او چونکه د کار کولو لپاره د فاعل نه علاوه د وخت او د ځای ضرورت وي د دې وجې نه ظرف په دوه قسمه دي: (۱) ظرف زمان: د کار کولو وخت. (۲) ظرف مکان: د کار کولو ځای.

د ظرف زمان تعریف : دا هغه دی چې په وخت باندې دلالت وکړي لکه : **اذ ، اذا متی** .

د ظروف زمان الفاظ : **إذ إذا متی، کیف، أیان، أمس، مذ، منذ، قط.**

ظرف مکان : دا هغه دی چې په مکان یعنې ځای باندې دلالت وکړي لکه : **حیث ، هنا** .

﴿إذ، إذا﴾ : دا د کار وخت واضح کوي خو په دواړو کې فرق دا دی چې **اذ** د تیرې شوې زماني سره تعلق ساتي لکه :

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ. او إذا د مستقبل سره تعلق ساتي لکه: وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ، دا کرم په وزن فعل ماضي ده لیکن د اذا د داخلیدو په وجه به دا د مستقبل معنی ورکوي.

د مبني کیدو وجه: اذ د من په شان دوه حروف لري نو دی د حرف سره د مشابهت په وجه مبني دی او په اذا کې د حرف شرط معنی پرته ده نو دی په دې وجه مبني دی.

﴿متی﴾: دا د شرط او استفهام دواړو لپاره راځي لکه مَتَىٰ تَصُمْ أَصُمْ ، مَتَىٰ يَوْمُ الْجُمُعَةِ نو د حرف شرط او حرف استفهام د مشتمل کېدو په وجه مبنی دی.

﴿کیف﴾: بمعنی څنګه، دا د حال معلومولو د پاره راځي لکه ویلي کیږي: كَيْفَ حَالُكَ ، او د حرف استفهام د مشتمل کېدو په وجه مبني ده.

فائده: دا کیف کله خبر واقع کیږي لکه: کیف انت، کله حال هم واقع کیږي لکه: کیف تکفرون بالله، همدارنګې مفعول به هم واقع کیږي لکه: کیف جئت.

﴿ایان﴾: بمعنی کله، د اسم استفهام دی د کوم نه چې د زمانه استقبال تعیین مطلوبیږي او دا د استفهام د پاره راځي لکه ایان یوم الدین.

﴿امس﴾: پرونی ورځ، ددې دوه حالته دی: اولنی حالت امس معرفه وي په معنی د پرونی ورځ سره نو دا به مبني علی الکسره وي او منصوب محلاً به وي بنا بر ظرفیت، دوهم حالت چې کله مضاف وي یا په دې باندې الف لام داخل شي یا نکره کړې شي نو په دې دري واړو صورتونو کې به بالاتفاق معرب وي لکه مضی امسنا.

﴿مذ و منذ﴾: دا دواړه یوه معنی د زماني ابتداء ظاهره وي او کله دواړه پوره زمانه ظاهره وي لکه: مَا رَأَيْتُ زَيْدٌ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ. مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَيْنِ او دا مذ او منذ ظرفي څکه دي چې دا مشابه دي د مبني الاصل سره چې هغه مذ او منذ حرفي دي.

﴿قط﴾: دا د ماضي منفي تاکید لپاره راځي لکه مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ دا څکه مبني دی چې دی مشابه دی د حرف سره څکه دی متضمن دی معنی د لام استغراقي لره او هغه حرف دی.

﴿عوض﴾: دا د مستقبل منفي تاکید لپاره راځي، لکه لَا أَضْرِبُهُ عَوْضُ دا څکه مبني دی چې دی هم متضمن دی

معنی د **لام** استغراقي لره.

﴿قبل و بعد﴾: (مخکې او وروستو) ددې د استعمال درې حالته دي: (۱) چې د دې مضاف الیه په الفاظو کې نه وي او په نیت کې وي لکه **لِلّٰهِ الْأَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ** یعنې **قبل کل شئ و بعد کل شئ**، نو په دې صورت کې دواړه مبني دي ځکه مضاف الیه ته محتاج دی نو مشابهت یې راغې د حروفو سره په احتیاج کې نو تر کومې پورې چې ورسره مضاف الیه یو ځای شوی نه وي او یا یې مضاف الیه د نیت نه، نه وي وتلې نو احتیاج به یې باقي وي او مبني به وي. (۲) چې ددواړو کلمو مضاف الیه په الفاظو کې موجود وي لکه **مِنْ قَبْلِهِمْ مِنْ بَعْدِهِمْ**. (۳) چې مضاف الیه نه په الفاظو کې موجود وي او نه په نیت کې لکه: **رب بعد خیر من قبل** په دې دواړو حالتونو کې دا معرب دی.

ظروف مکان: یعنې هغه اسماء چې د کار کولو ځای واضحه کوي دا اگر چې ډیر دي لیکن ماتن ورته صرف څلور مثالونه ذکر کړي دي: **حَيْثُ، قُدَّامُ، تَحْتُ، فَوْقُ**.

﴿حیث﴾: دا همېشه د پاره مضاف استعمالېږي لکه **اِجْلِسْ حَيْثُ زَيْدٌ جَالِسٌ** یعنې **اِجْلِسْ مَكَانَ جُلُوْسَ زَيْدٍ** او دا ځکه مبني دی چې د خپلې معنی په ظاهرولو کې مضاف الیه ته محتاج دي نو مشابهت یې د حرف سره په احتیاج کې دی.

﴿قدام﴾[مخکې] **﴿تحت﴾**[لاندې] **﴿فوق﴾** [پورته]: د دې درې واړو مضاف الیه که چېرته په الفاظو کې نه وي او نیت کې وي نو د **قَبْلُ** او **بَعْدُ** په شان به مبني وي ځکه چې په دې وخت کې دا د حرف په شان محتاج وي، او که مضاف الیه ورسره وي یا بالکل نسیا منسیاً وي نو بیا به معرب وي.

اسماء کنایات :

هفتم اسماء کنایات چون : کَمْ و کَذَا کنایت از عدد و کَیْتَ وَ ذَیْتَ
[اوم] [اسماء کنایات دی] [لکه] [کَمْ او کَذَا] [دا کنایات دې د عدد نه] [او کَیْتَ] [او ذَیْتَ]
اوم قسم: اسماء کنایات دي لکه کَمْ او کَذَا شو، دا کنایات دې د عدد مبهم نه او کَیْتَ او ذَیْتَ
کنایت از حدیث .
[دا کنایت دی] [د خبرو نه].
دا کنایات دې د خبرو نه.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د اسم غیر متمکن د اقسامو نه د اوم قسم بیان کوي.

تشريح : اوم قسم د اسم غیر متمکن نه اسماء کنایات دي د اسم کنایة تعریف : دا هغه اسم دی کوم چې مبهم عدد یا مبهمې خبرې باندې دلالت وکړي ، یا دا هغه اسماء دي چې د کنائی لپاره راځي او کنایه په دوه قسمه ده: کنایه د عدد نه، کنایه د خبرو نه. د عدد نه د کنایې لپاره کَمْ او کَذَا راځي لکه یو سړی ووایي چې : بِكَمْ اِشْتَرَيْتَ هٰذَا ، یعنې دا تا په څو اخیستلی دی نو د قیمت عدد معلوموي چې په دوه یا په درې یا په څلور شوی دی نو په جواب کې به ووېلی شي چې اِشْتَرَيْتُ كَذَا یعنې په دومره مې اخیستی دی ، کَمْ په دوه (۲) قسمه دی: (۱) کَمْ استفهامي، (۲) کَمْ خبري.

كَمْ استفهامي : په ده سره سوال کولی شي د عدد مبهم نه لکه کَمْ دِرْهَمًا عِنْدَكَ. **كَمْ خبري :** په ده سره خبر ورکولی شي د عدد مبهم نه لکه کَمْ رَجُلٌ عِنْدِيْ یعنې ډېر سړي دي په نزد زما باندې.

د دې دواړو عمل : کَمْ استفهامي خپل معمول ته نصب ورکوي بناء بر تمیزیت لکه کَمْ مَالًا عِنْدَكَ ستا سره څومره مال دی. او کَمْ خبري خپل معمول ته د مضاف الیه جوړېدو په وجه جر ورکوي لکه : کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهٗ، یعنې ما ډېر مال خرچ کړو.

او هر چې کَذَا دی نو دې صرف خبري استعمالیږي او خپل معمول تمیز ته نصب ورکوي لکه : عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا زما سره دومره روپۍ دي او د خبرو نه د کنایې لپاره کَيْتَ ذَيْتَ راځي لکه : قَالَ زَيْدٌ كَيْتَ وَ ذَيْتَ یعنې زید داسې داسې خبرې وکړې نو دواړه نامعلومو خبرو ته د اشارې لپاره استعمالیږي .

د مبني کېدو وجه : کَمْ خو ځکه مبني دی چې د حرف استفهام په معنی سره متنقل دی او کَذَا ځکه مبني دی چې دا مرکب دی د کاف تشبیهي او د ذَا اسم اشارې نه او هغه دواړه مبني وو نو کَذَا هم مبني شو .

کیت و ذیت: دا ځکه مبني دي چې دا جمله ده او د بعضې نحویانو په نزد جمله په مبنیاتو کې داخله ده.

مرکب بنائي :

هشتم : مرکب بنائی چون : أَحَدَ عَشَرَ.
[اتم قسم] [مرکب][بنائی][دی] [لکه] [أَحَدَ عَشَرَ] [یوولس].
اتم قسم د اسم غیر متمکن نه مرکب بنائی دی لکه : أَحَدَ عَشَرَ یوولس شو .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم غیر متمکن د اتم قسم یعنې د مرکب بنائي بیان کوي.

تشریح : اتم قسم د اسم غیر متمکن نه مرکب بنائی دی لکه : **أَحَدَ عَشَرَ** دا ځکه مبني دی چې په **احد** خو اعراب نه راځي ځکه چې دده آخیرني حرف د کلمې مینځ دی او د کلمې په منځ کې اعراب نه جاري کېږي. او **عشر** ځکه مبني دی چې دی په حرف مشتمل دی ځکه دی په اصل کې **احدٌ و عشرٌ** وو او دا قسم مرکب مبني دی او د دې وجې نه دې ته مرکب بنائي ویلی شي د مبني اته واړه قسمونه ختم شو او دا اته واړه قسمونه دا اسم غیر متمکن د مبني الاصل سره مشابه دي نو د مبني الاصل سره د مشابهت د وجې نه دوی هم مبني شو.

د اسم غیر متمکن په اتو قسمونو کې مضمرات اسماء اشارت اسماء موصولات اسماء اصوات، اسماء ظروف، اسماء کنایات، او مرکب بنائي او ه واړه قسمونه د حرف سره مشابه دي لکه څنګه چې حرف محتاج وي نو دغه شان دا هم په خپله معنی ښودلو کې د بل څیز محتاج دي. او اسماء افعال په معنی د امر حاضر سره د امر سره مشابه دي او په معنی د ماضي سره د ماضي سره مشابه دي لکه **رُوَيْدَ** مشابه دی د **أَمْهِلْ** سره او **هَيْهَاتَ** مشابه دی د **بَعُدَ** سره.

ترکیب : **احد عشر** : **احد عشر** دا عدد مبهم ممیز او تمیز به ورته ذکر کوي چې **کتاباً** ، **طلاباً** ، **قلماً** وغیره، ممیز سره د تمیز نه دا مبتداء، او خبر به هم ورته ذکر کوي چې **عندي احد عشر کتاباً** یا **طلاباً** یا **قلماً**، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

په اعتبار د معنی سره د اسم اقسام :

فصل بدانکه اسم بر دو ضرب است : معرفه و نکره معرفه آن است که موضوع
[فصل] [پوه شه چې] [اسم] [په دوه قسمه دی] [معرفه او نکره] [معرفه] [هغه ده چې موضوع]
فصل : پوهه شه ! چې اسم په دوه (۲) قسمه دی : یو معرفه او بل نکره ، معرفه هغه ده چې وضع
باشد برای چیزی معین و آن بر هفت نوع است : اول مضمرات دوم اعلام
[وي] [د پاره د یو څیز معین] [او دا په] [اوه قسمه ده] [اول قسم] [مضمرات] [دوهم قسم] [اعلام]
شوې وي د یو معین څیز د پاره ، او دا په اوه (۷) قسمه ده : اول مضمرات لکه **هُوَ**، دوهم اعلام
چون **زَيْدٌ** وَ**عَمْرٌو** و سوم اسماء اشارات چهارم اسماء موصوله و این دو قسم
[لکه **زَيْدٌ** او **عَمْرٌو**] [دریم] [اسماء اشارات] [څلورم] [اسماء موصوله دی] [او دې دوه قسمونو]
لکه **زَيْدٌ** او **عَمْرٌو** ، دریم : اسماء اشارات ، څلورم : اسماء موصوله او دې دوه قسمونو ته

را مبهمات گویند پنجم معرفه به نداء چون یا رجل ششم معرفه بالف ولام
[ته مبهمات وایي] [پنځم] [معرفه په نداء سره] [لکه یَا رَجُل] [شپږم] [معرفه په الف لام سره]
مبهمات وایي ، پنځم : معرفه په نداء سره ، لکه : یَا رَجُل ، شپږم : معرفه په الف لام سره
چون اَلرَّجُل ، هفتم مضاف به یکی از اینها چون غُلَامُهٗ وَ
[لکه اَلرَّجُل] [اووم قسم] [هغه چې مضاف وي] [یو دديٓ ذکرشوو قسمونو ته] [لکه غُلَامُهٗ] [او]
لکه : الرجل ، اووم : هغه چې مضاف وي دغه مذکورو اقسامو نه یو قسم ته لکه : غُلَامُهٗ او
غُلَامُ زَیْدٍ وَ غُلَامُ هٰذَا وَ غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدِيْ وَ غُلَامُ الرَّجُل ،
[غُلَامُ زَیْدٍ] [او] [غُلَامُ هٰذَا] [او] [غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدِيْ] [او] [غُلَامُ الرَّجُل]
غُلَامُ زَیْدٍ ، او غُلَامُ هٰذَا او غُلَامُ الَّذِيْ عِنْدِيْ ، او غُلَامُ الرَّجُل ،
و نکره آن است که موضوع باشد برای چیزی غیر معین چون رجل و فرس
[او نکره] [هغه ده] [چې وضع شوې وي] [د پاره د یو غیر معین څیز] [لکه رَجُلٌ او فَرَسٌ].
او نکره هغه ده چې وضع شوې وي د پاره د یو غیر معین څیز لکه رَجُلٌ (سړي) او فَرَسٌ (آس) .

خلاصه د متن : په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ په اعتبار د معنی سره د اسم تقسیم کوي.

تشریح : دلته د معنی په لحاظ سره د اسم دویم تقسیم ذکر کیږي په دې تقسیم کې هم اسم په دوه (۲) قسمه دی: (۱) معرفه، (۲) نکره.

معرفه : ما وضع لشيء معین ، معرفه هغه اسم دی چې د یو خاص څیز لپاره وضع شوی وي او د هغې اسم په ویلو سره هم هغه څیز په خیال کې راځي لکه **زید** دا په معرفې کې داخل دی او ضمیر چې د یو اسم په بدل کې راشي نو د هغې نه به هم د دغې ضمیر مدلول او معنی مراد وي بل څوک به ترې نه مراد نه وي لکه **جَاءَنِيْ خَالِدٌ وَهُوَ عَالِمٌ** نو د **هُوَ** ضمیر نه صرف خالد مراد دی بل څوک ترې نه مراد نه دی. او د معرفې اوه (۷) قسمونه دي: (۱) مضمرات، (۲) اعلام، (۳) اسماء اشارات، (۴) اسماء موصولات، (۵) معرفه په حرف نداء سره، (٦) معرفه په الف لام سره، (۷) د معرفې هغه اسم نکره چې مضاف شي په دې شپږو قسمونو کې یو قسم ته:

(۱) مضمرات: د ضمیر نه دی معنی یې ده پټول دا هم پټ وي یا د **ضمور** نه دی چې خوار او کمزوري ته وايي دا هم قلیل الحرف دی او په اصطلاح کې: **ما وضع لمتکلم او مخاطب او غائب تقدم ذکر لفظاً او معنی او حکماً**، دا هغه دی چې وضع شوې وي د پاره د متکلم یا د مخاطب او یا د غائب چې مخکې یې ذکر شوې لفظاً یا معنی او یا حکماً.

(۲) اعلام: یعنې خاص خاص نومونه لکه: **زید عمر بکر** وغیره نو دا هم په معرفه کې داخل دي ځکه د دوی د نوم په اخیستلو سره هم دوی په خیال کې راځي.

(۳) اسماء اشارات: د دې د معرفه کېدو وجه دا ده چې چا ته اشاره وکړې شي نو اګرچې هغه نکره وي خو په اشارې سره معرفه ګرځي لکه **هٰذَا رَجُلٌ**، نو مخکې **رَجُلٌ** نکره وه لیکن د **هٰذَا** د وجې نه معرفه شوه ځکه په اشارې سره ترې نه خاص سړی مراد دی.

(٤) اسماء موصولات: د دې تفصیل مخکې تېر شوی دی دوا ړه قسمونو ته مبهمات ویلې شي دا ورته ځکه وايي چې د مبهم معنی ده: پټ او نامعلومه او اسماء اشارات هم په غیر د مشار الیه نه او موصول بغیر د صلې نه نامعلومه وي مخاطب ته څه مطلب نه معلومېږي.

(۵) معرفه په حرف ندا سره: لکه **رَجُلٌ** نکره ده خو چې حرف نداء پرې داخل شي اګر که نوم ورته معلوم نه وي لیکن په خطاب کولو سره خاص او معرفه شو لکه **یَا رَجُل** ځکه په دې سره خاص سړی ته آواز کولې شي نو بیا معرفه ګرځي.

(٦) معرفه په الف لام سره: لکه **اَلرَّجُلُ** نو د دې نه خاص سړی مراد کېدی شي لکه په قرآن کریم کې ذکر دي: **وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا**، نو رسول نکره ده لیکن د **الف لام** داخلیدو په وجه ترې نه خاص رسول مراد دی چې هغه پیغمبر علیه السلام دی.

(۷): د معرفې هغه اسم نکره دی چې مضاف شی د دې شپږو قسمونو نه یو قسم ته هر یو قسم ته چې مضاف شي نو دغه نکره اسم په معرفې سره بدل شي لکه مثلاً په ترتیب سره: **غُلَامُهُ**: **غُلَام** نکره مضاف دی ضمیر ته. **غُلَامُ زَيْدٍ**، **غُلَامُ هٰذَا**، **غُلَامُ الَّذِيْ**، **غُلَامُ الرَّجُل**، معرفه بحرف نداء ته اضافت نه شي کېدی، ځکه هغه په خپله د حرف نداء په وجه معرفه دی، او م قسم خو هم په اضافت سره معرفه دی نو دلته خو بیا د بل اضافت سوال نه پیدا کېږي.

د نکرې تعریف: ما وضع لشيء غیر معین، دا هغه ده چې وضع شوې وي د پاره د یو غیر معین

څیز، یا، نکره هغې اسم ته ویلی کېږي چې هغه د یو غیر معین یعنې د یو عام څیز لپاره وضع کړی شوی وي لکه رَجُلٌ او فَرَسٌ نو رَجُلٌ د غیر معین سړي لپاره وضع شوی دی که سړی هر څنګه وي او که د هر ځای او سېدونکی وي، که تور وي او که سپین وي، مسلمان وي او که کافر وي، جاهل وي او که عالم وي، غریب وي او که مالداره وغیره.همدارنګې فَرَسٌ آس نو دا هم د یو غیر معین آس لپاره وضع کړی شوی دی برابره خبره ده که دا آس د هر یو نسل والا وي.

ترکیب : **غلامه** : **غلام** مضاف **هُ** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتداء او خبر به ورته تاسو راوباسي مثلاً **قائم** ، **ذاهب** وغیره، نو مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. **غلام زید** : **غلام** مضاف، **زید** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء، **حاضر** یا **غائب** ورته خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

غلام هذا : دلته څه محذوفات دی چې اصل عبارت داسې دی: **غلام هذا الرجل ضرب بکرا** ، **غلام** مضاف **هذا** اسم اشاره، **الرجل** مشار الیه، اسم اشاره سره د مشار الیه نه مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې **غلام** دی، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء، **ضرب** فعل ضَمیر مستتر چې **هو** دی هغه ورته فاعل، **بکرا** ورته مفعول به، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. **غلام الذي عندي** : دلته هم عبارت محذوف دی چې اصل عبارت داسې دی: **غلام الذي جلس عندي قد نصر بکرا** ، **غلام** مضاف **الذي** اسم موصول **جلس** فعل ضمیر په کې مستتر چې **هُو** دی هغه یې فاعل، **عند** مضاف **یاء** ضمیر متکلم مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو د پاره د **جلس** ، **جلس** فعل سره د فاعل او سره د مفعول فیه نه دا صله شو د پاره د موصول، موصول سره د صلې نه دا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې **غلام** دی مضاف سره د مضاف الیه نه دا مبتداء ، **قد** حرف تحقیق **نصر** فعل ضمیر په کې مستتر چې **هُوَ** دی هغه یې فاعل او **زیداً** ورته مفعول به شو، نو فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. **غلام الرجل** : **غلام** مضاف، **الرجل** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء، **قائم** یا **حاضر** ورته خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

په اعتبار د اعراب او بناء سره د اسم اقسام :

بدانکه اسم بر دو صنف است : مذکر و مؤنث : مذکر آنست که در وعلامت
[پوه شه چې] [اسم په دوه قسمه دی] [مذکر او مؤنث] [مذکر هغه دی] [چې په دې کې علامت]
پوهه شه! چې اسم په دوه (۲) قسمه دی : مذکر او مؤنث ، مذکر هغه دي چې په دې کې علامه د
تانیث نباشد چون : رَجُلٌ ، ومؤنث آنست که در وعلامت تانیث باشد چون :
[د تانیث نه وي] [لکه رَجُلٌ] [او مؤنث هغه دی] [چې په دې کې] [علامت د تانیث نه وي] [لکه]
تانیث موجود نه وي لکه رَجُلٌ او مؤنث هغه ته وايي چې په دې کې علامه د تانیث موجود وي لکه :
اِمْرَاءَةٌ ، وعلامت تانیث چهار است : تاء چون : طلحة والف مقصوره چون :
[اِمْرَاءَةٌ] [او] [علامات د تانیث څلور دی] [تاء] [لکه طلحة] [او] [الف مقصوره] [لکه]
اِمْرَاءَةٌ ، او علامات د تانیث څلور (۴) دي : (۱) تاء ده لکه : طلحة ، (۲) الف مقصوره ده لکه :
حُبْلٰى والف ممدوده چون حَمْرَاءُ وتاء مقدره چون أَرْضٌ که در اصل اَرْضَةٌ
[حُبْلٰى] [او] [الف ممدوده] [لکه حَمْرَاءُ] [تاء مقدره] [لکه اَرْضٌ] [چې په اصل کې اَرْضَةٌ]
حُبْلٰى (۳) الف ممدوده دی لکه : حَمْرَاءُ (۴) تاء مقدره ده لکه : اَرْضٌ چې په اصل کې اَرْضَةٌ
بوده است بدلیل اُرَيْضَةٌ ، زیرا که تصغیر اسماء را باصل خود برد ، و این را
[وو په دلیل د اُرَيْضَةٌ سره] [ځکه چې] [تصغیر] [اسماء اصل خپل ته] [واپس کوي] [او دې ته]
وو ، په دلیل د اُرَيْضَةٌ سره ، ځکه چې اسم تصغیر اسماء خپل اصل ته واپس کوي ، او دې ته
مؤنث سماعی گویند .
[مؤنث سماعي] [وايي] .
مؤنث سماعي وايي .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم تقسیم کوي په اعتبار د معرب او مبني سره او بحث د تذکیر او تانیث کوي .

تشریح: مخکې په اعتبار د معرب او د مبني سره د اسم دوه قسمونه بیان شو، بیا په اعتبار د معرفې او نکرې سره دوه قسمونه بیان شول او دلته په اعتبار د مذکر او مؤنث سره د اسم دوه قسمونه بیانېږي نو اسم په دوه (۲) قسمه دی: (۱)مذکر، (۲)مؤنث.

(۱) **مذکر**: هغې اسم ته ویلی کېږي، چې په هغې کې د مؤنث څه علامه نه وي لکه رَجُلٌ.

(۲) **مؤنث**: هغې اسم ته ویلی کېږي چې په هغې کې د مؤنث څه نه څه علامه وي لکه اِمْرَاَةٌ نو په دې کې **تاء** علامه د تانیث موجود ده.

د مؤنث علامې: د مؤنث څلور (۴) علامې دي:

(۱) یو هغه **تاء** چې په لفظ کې موجوده وي لکه: **طَلْحَةٌ**. (۲) دویمه علامه **الف** مقصوره لکه **حُبْلٰی**.

(۳) دریمه علامه د مؤنث **الف** ممدوده دی لکه **حَمْرَاءُ**.

(٤) څلورمه هغه **تاء** چې په ظاهره په لفظ کې نه وي بلکې مقدره وي لکه **اَرْضٌ** چې دا په اصل کې **اَرْضَةٌ** دی، **تاء** په اصل کې شته، او د دې **تاء** ثبوت دا دی چې دا **اَرْضَةٌ** اسم تصغیر **اُرَیْضَةٌ** دی او دا قاعده ده چې په اسم تصغیر کې کوم حروف وي، نو هغه حروف اصلي وي نو د **اُرَیْضَةٌ** د تصغیر نه معلومه شوه چې **اَرْضٌ** په اصل کې **اَرْضَةٌ** وو، ګنې په تصغیر کې دا **تاء** د کوم ځای نه راغله، او داسې مؤنث ته مؤنث سماعي ویلې شي.

سوال: **الف** مقصوره او **الف** ممدوده کومو الفونو ته ویلې شي؟

جواب: **الف** مقصوره هغه الف ته ویلي کېږي، چې د اسم په آخر کې په (یٰ) باندې د ولاړ زبر په شکل کې وي او په وینا کې نه شي رابښکلی لکه **حُبْلٰی**، **سَلْمٰی** وغیره، **الف ممدوده** هغه دی چې وروستو ترې نه همزه راغلې وي او رابښکلی شي لکه **حَمْرَاء**، **صَفْرَاء**. د مؤنث دوه قسمه نورې علامې هم دی دد دې څلور قسمه علامو نه غیر: (۱) هغه اسم مؤنث دی کوم چې د مؤنث نوم وي لکه **زینب**، **کلثوم**، **بلقیس**. (۲) جمع مکسره دا هم مؤنث اسم دی لکه **تِلْكَ الرُّسُلُ**. **الرسل** د رسول جمع مکسره ده او مؤنث ده ځکه خو ورته اسم اشاره **تِلْكَ** مؤنث استعمال شوې دی. نو ټولې علامې د مؤنث شپږ شوې.

د مؤنث اقسام :

و بدانکه مؤنث بر دو قسم است : حقیقی و لفظی ، حقیقی آنست که
[او] [پوهه شه چې] [مؤنث په دوه قسمه دی] [حقیقي] [او] [الفظي] [حقیقي] [هغه دی چې]
او پوهه شه ! چې مؤنث په دوه (۲) قسمه دی : حقیقي ، لفظي ، مؤنث حقیقي هغې ته وایي چې
بازای او حیوانی مذکر باشد چون : اِمْرَءَةٌ که بازای او رَجُلٌ است ،
[په مقابله ددې کې] [حیوان مذکر وي] [لکه] [اِمْرَاءَةٌ] [چې ددې په مقابله کې رَجُلٌ مذکر دی]
په مقابله ددې کې نارینه حیوان موجود وي لکه : اِمْرَاءَةٌ چې ددې په مقابله کې رَجُلٌ مذکر دی ،
و نَاقَةٌ که بازای او جَمَلٌ است ، و لفظی آنست که بازای او
[او نَاقَةٌ] [چې په مقابله ددې کې] [جَمَلٌ مذکر دی] [او لفظي هغه دی چې] [په مقابله ددې کې]
او نَاقَةٌ چې په مقابله ددې کې جَمَلٌ مذکر دی ، او لفظي هغې ته وایي چې ددې په مقابله کې
حیوانی مذکر نباشد چون : ظُلْمَةٌ و قُوَّةٌ .
[حیوان مذکر نه وي] [لکه] [ظُلْمَةٌ] [او] [قُوَّةٌ].
نارینه حیوان موجود نه وي لکه ظُلْمَةٌ او قُوَّةٌ.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مؤنث اقسام مؤنث حقیقي او مؤنث لفظي بیانوي.

تشریح : مخکې د اسم دوه قسمه بیان شو ، یو مذکر دویم مؤنث ، اوس مصنف رحمة الله علیه د مؤنث قسمونه بیانوي ، نو فرمایي چې مؤنث په دوه (۲) قسمه دی : (۱) حقیقي ، (۲) لفظي :

(۱) **مؤنث حقیقي** : هغه دی چې د هغې په مقابله کې الله تعالی مذکر حېوان پیدا کړې وي لکه : اِمْرَاءَةٌ چې د دې په مقابله کې مذکر رَجُلٌ دی یا لکه نَاقَةٌ چې د دې په مقابله کې جَمَلٌ مذکر دی وغیره.

(۲) **مؤنث لفظي** : یعنې هغه مؤنث چې د تانیث علامه خو په کې وي لیکن د هغې په مقابله کې مذکر حېوان نه وي لکه : ظُلْمَةٌ او قُوَّةٌ ، په دواړو کې **تاء** لفظي علامه د تانیث موجود ده ، لیکن په مقابله کې یې مذکر حېوان نشته ، د دې وجې نه دې قسم مؤنث ته مؤنث غیر حقیقي ویلی شي.

په اعتبار د مفرد ، تثنیې او جمع سره د اسم اقسام :

بدانکه اسم بر سه صنف است واحد ومثنی و مجموع ' واحد آنست که دلالت کند
[پوه شه چې] [اسم په درې قسمه دی] [واحد ، تثنیه ، جمع] [واحد هغه دی چې] [دلالت کوي]
پوه شه! چې اسم په درې (۳) قسمه دی: واحد ، تثنیه ، جمع ، واحد هغې ته وایي چې دلالت کوي
بر یکی چون : رَجُلٌ ' و مثنی آنست که دلالت کند بر دو بسبب آنکه
[په یو باندې] [لکه رَجُلٌ] [او تثنیه هغه ده چې] [دلالت کوي] [په دوو باندې] [په دې سبب سره چې]
په یو باندې لکه: رَجُلٌ شو ، او تثنیه هغې ته وایي چې په دوو باندې دلالت کوي په دې سبب سره
الف یا یاء ما قبل مفتوح ونونی مکسوره بآخرش پیوندد' چون : رَجُلَانِ و
[الف یا یاء ما قبل مفتوح وي] [او نونونه مکسوره] [په آخر ددې پورې] [پیوسته شي لکه رَجُلَانِ او]
چې الف یا یاء ما قبل مفتوح وي او په آخر ددې کې نونونه مکسوره راشي لکه: رَجُلَانِ او
رَجُلَیْنِ . و مجموع آنست که دلالت کند بر بیش از دو بسبب
[رَجُلَیْنِ] [او جمع] [هغې ته وایي چې] [د دوو نه په زیاتو باندې دلالت کوي] [په دې سبب سره]
رَجُلَیْنِ شو ، او جمع هغې ته وایي چې دلالت وکړي په زیاتو د دوو باندې ، په دې سبب سره
آنکه تغیری در واحدش کرده باشند لفظاً چون رِجَالٌ ' یا تقدیراً چون :
[چې تغیر یې] [په واحد کې شوی وي] [لفظاً] [لکه رِجَالٌ] [یا به دا تغییر] [تقدیراً وي لکه]
چې تغیر یې شوی وي په واحد کې لفظا لکه : رِجَالٌ شو یا به دا تغییر تقدیراً وي لکه:
فُلْكٌ که واحدش نیز فُلْكٌ است بر وزن قُفْلٌ و جمعش هم فُلْكٌ بر وزن أُسْدٌ
[فُلْكٌ] [چې واحد یې هم فُلْكٌ دی] [په وزن د قُفْلٌ] [او جمع د دې هم فُلْكٌ ده] [په وزن د أُسْدٌ].
فُلْك واحد یې هم فُلْكٌ دی، په وزن د قُفْلٌ سره او جمع د دې هم فُلْكٌ ده په وزن د أُسْدٌ سره.

خلاصه ـ متن : په دې عبارت کې په اعتبار د مفرد تثنیې او جمع سره د اسم تقسیم بیانیږي.

تشریح : مخکې د اسم تقسیم په اعتبار د مذکر او مؤنث سره وو او دا تقسیم په اعتبار د مفرد تثنیې او جمع سره دی نو
مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې اسم په درې (٣) قسمه دی: واحد، مثنی، مجموع. **وجه د حصر**: وجه د حصر یې 6
داده چې دا اسم به خالي نه وي یا به دلالت کوي په یو فرد یا په دوو او یا زیات د دوو نه، که اول وو نو واحد، که دویم وو نو
تثنیه او که دریم وو نو جمع. **واحد**: هغې اسم ته ویلی کېږي چې هغه په یو ذات دلالت کوي لکه رَجُلٌ او فَرَسٌ نو د دې
نه یو سړی او یو اس مراد کېږي. **مثنی**: هغې اسم ته ویلی کېږي چې په دوو څیزونو دلالت کوي، د دې د جوړولو طریقه
داده چې د مفرد په آخر کې **الف** یا **یاء** چې د دې **یاء** نه ما قبل مفتوح وي او په آخر کې یې **نون** مکسوره راوړلې شي لکه:
رَجُلَانِ دا د **الف** او **نون** مکسور د زیاتې کولو مثال دی، او رَجُلَيْنِ دا د **یاء** ما قبل مفتوح او د **نون** مکسور د زیاتې
کولو مثال دی، رَجُلَانِ په حالت رفعي کې او رَجُلَيْنِ په حالت نصبي جري کې. **مجموع**: جمع هغې ته ویلی کېږي چې
هغه په دریو یا د دریو نه په زیاتو دلالت کوي لکه: رِجَالٌ نو رِجَالٌ به کم از کم د دریو لپاره استعمالیږي او د دریو نه زیات
یې څه حد نشته، د دې د جوړولو طریقه داده چې د دې په مفرد کې به تغییر راوستی شي دغه تغییر به یا لفظاً وي او یا تقدیراً،
د تغییر لفظي مثال لکه: په رَجُلٌ کې د **الف** په زیاتي کولو سره رِجَالٌ جوړ شو نو دا لفظي تغییر دی یا لکه د شَجَرٌ نه
اَشْجَار او د حَجَر نه اَحْجَار وغیره، یا به تقدیري تغیر وي لکه فُلْكٌ که دا د قُفْلٌ په وزن فرض کړې شي نو قُفْلٌ مفرد
دی نو فُلْكٌ به هم مفرد وي او که دا د اُسْدٌ په وزن فرض کړې شي نو اُسْدٌ جمع ده نو فُلْكٌ به هم جمع وي نو په فُلْكٌ کې
لفظي تغیر نه دی شوی ځکه چې مفرد یې هم فُلْكٌ دی لیکن تغییر په کې تقدیري دی. نو خلاصه دا شوه چې کوم یو لفظي
د اسې وي چې د واحد په وزن هم راځي نو چې کله د جمع په وزن راشي، نو تغییر به په کې تقدیري یعنې فرضي او اعتباري وي.

په اعتبار د لفظ سره د جمع اقسام :

بدانکه جمع باعتبار لفظ بر دو قسم است: جمع تکسیر و جمع تصحیح، جمع تکسیر
[پوه شه چې] [جمع په اعتبار د لفظ سره] [په دوه قسمه ده] [جمع تکسیر او جمع تصحیح] [جمع تکسیر]
پوهه شه! چې جمع په اعتبار د لفظ سره په دوه قسمه ده: جمع تکسیر او جمع تصحیح، جمع تکسیر
آنست که بناء واحد درو سلامت نباشد چون رِجَالٌ وَمَسَاجِدٌ وابنیه جمع تکسیر
[هغې ته وايي چې بناء د واحد په دې کې] [سلامته نه وي] [لکه رِجَالٌ او مَسَاجِدٌ] [او اوزان د جمع تکسیر]
هغې ته وايي چې بناء د واحد په هغې کې سلامته نه وي لکه رِجَالٌ او مَسَاجِدٌ او اوزان د جمع تکسیر

در ثلاثی بسماع تعلق دارد و قیاس را درو مجالی نیست اما در رباعی وخماسی

[په ثلاثي کې] [تر سماع پورې تعلق لري] [او قیاس ته په دې کې هیڅ دخل نشته] [او هر چې رباعي او خماسي]

تکسیر په ثلاثي کې تر اوریدو پورې تعلق لري او قیاس لره په کې هیڅ دخل نشته او هر چې رباعي او خماسي

بر وزن فعالل آید چون : جَعْفَرٌ و جَعَافِرُ و جحمرش وجحامر بحذف

[دي دا په وزن د فَعَالِلُ راځي] [لکه جَعْفَرٌ او جَعَافِرُ] [او جَحْمَرِشٌ او جَحَامِرُ] [په حذف]

نو په وزن د فَعَالِلُ سره راځي لکه : جَعْفَرٌ او جَعَافِرُ او جَحْمَرِشٌ او جَحَامِرُ په حذف د

حرف خامس . و جمع تصحیح آنست که بناء واحد درو سلامت ماند ' وآن

[پنځم حرف سره] [او جمع تصحیح] [هغه ده چې بناء د واحد په دې کې] [سلامت وي] [او] [دا بیا]

پنځم حرف سره ، او جمع تصحیح هغې ته وایي چې بناء د واحد په هغې کې سلامته وي ، او دا بیا

بر دو قسم است : جمع مذکر و جمع مؤنث ' جمع مذکر آنست که واوی ما قبل مضموم

[په دوه قسمه ده] [جمع مذکر] [او] [جمع مؤنث] [جمع مذکر هغه ده چې] [واو ماقبل مضموم]

په دوه قسمه ده یو جمع مذکر او بل جمع مؤنث ، جمع مذکر هغې ته وایي چې واو ماقبل مضموم

یا یاء ما قبل مکسور ونونی مفتوح در آخرش پیوند چون : مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمِیْنَ

[یا یاء ماقبل مکسور] [او نون مفتوح] [په آخر د دې پورې] [پیوسته وي] [لکه مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمِیْنَ]

یا یاء ما قبل مکسور او نون مفتوح په آخر د دې پورې پیوسته وي لکه مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمِیْنَ

وجمع مؤنث آنست که الفی با تاء بآخرش پیوندد ' چون : مُسْلِمَاتٌ.

[او جمع مؤنث هغه ده] [چې الف سره د تاء نه] [په آخر د دې پورې] [پیوست شي] [لکه مُسْلِمَاتٌ].

او جمع مؤنث هغې ته وایي چې الف سره د تاء نه په آخیر د دې کې پیوست شي لکه مُسْلِمَاتٌ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رحمة الله علیه په اعتبار د لفظ سره د جمعې اقسام بیانوي.

تشریح : مخکې د اسم درې قسمونه تېر شوي دي : واحد ، تثنیه او جمع ، او س د جمعې په اعتبار د لفظ سره د دې قسمونه بیانوي چې په اعتبار د لفظ سره د جمعې دوه (۲) قسمه دي : یو جمع تکسیر او بل جمع تصحیح.

د جمع تکسیر تعریف: چې په کومه جمع کې بناء د واحد سالمه او روغه نه وي نو دې ته جمع تکسیره او مکسره ویلی شي لکه رِجَالٌ د دې واحد رَجُلٌ دی نو په رِجَالٌ کې د واحد وزن سلامت نه دی پاتې شوی د **جیم** او د **لام** په منځ کې **الف** راغلی دی، د جمع تکسیر نور مثالونه لکه: **مَسَاجِدُ** جمع د **مَسْجَدٌ** ده او **اَوْلِیَاءَ** جمع د **وَلِيٌّ** ده او **اَنْبِیَاء** جمع د **نبي** ده، **اَشْجَار** جمع د **شجر** ده، **بُیُوْت** جمع د **بیت** ده، **اَقْطَاب** جمع د **قُطْب** ده وغیره.

سوال: که چېرته د جمع تکسیري اوزان معین او معلوم کړی شي نو د دې په یادولو کې به ډېر اسانی پیدا شي؟

جواب: په ثلاثي مجرد او مزید و کې د جمع تکسیرې اوزان چونکه ډېر زیات دي نو د دې وجې نه هغه نه شي متعین کولې ځکه چې هغه سماعي دي ځنګه چې د عربو نه اورېدلی شوې وي نو هم هغه شان به استعمالېږي قیاس او قاعده ورته نشته البته د رباعي او خماسي الفاظو د جمع تکسیري قاعده او قانون شته او هغه داده چې د رباعي او خماسي اسم جمع تکسیره به د **فَعَالِلُ** په وزن راځي لکه د **جَعْفَرٌ** (رباعي نه) **جَعَافِرُ** به په وزن د **فَعَالِلُ** راځي یا لکه د **دِرْهَمٌ** نه **دَرَاهِمُ** وغیره. او د **جَحْمَرِشٌ** خماسي نه به **جَحَامِرُ** راځي ځکه چې کله د حروفو تعداد زیات شي نو د تخفیف د وجې نه به آخري حرف حذف کولی شي. د واحد نه د تثنیې او د جمع سالمې طریقې قیاسي دي او په جمع مکسر کې صرف په رباعي او خماسي کې قیاسي دي او په نورو الفاظو کې سماعي دي.

﴿**وجمع تصحیح آن است الخ**﴾ دلته مصنف د جمع تصحیح تعریف بیانوي نو ځان په دې خبره پوهه کړه چې د جمع تصحیح معامله د جمع تکسیرې نه برعکس ده په جمع تصحیح کې د واحد وزن بالکل سالم وي په دې کې د آخري حرف نه وروستو په حروفو زیاتولو سره جمع تصحیح جوړېږي او د کلمې په آخر کې په حروفو زیاتو سره په وزن کې هیڅ فرق نه راځي.

د جمع تکسیر او جمع تصحیح په مینځ کې فرق: د جمع تکسیر او جمع تصحیح په مینځ کې درې فرقونه دي: (۱) جمع تصحیحي د ذوي العقول پورې خاص وي او جمع تکسیر د ذوي العقول پورې خاص نه وي، (۲) په جمع تصحیح کې د مفرد بناء سالمه وي او په جمع تکسیر کې د مفرد بناء سالمه نه وي، (۳) د جمع تصحیح اعراب بالحرف وي او د جمع تکسیر اعراب بالحرکة وي.

سوال: د جمع تصحیح مثال څه دی؟ **جواب**: مخکې چونکه جمع تصحیح تقسیمېږي نو د دې وجې نه به مثالونه د تقسیم نه وروستو راشي او س تقسیم شروع کېږي.

﴿**وآن بردو قسم است جمع مذکر و جمع مؤنث**﴾ دا په دوه قسمه ده: جمع تصحیح مذکر، جمع تصحیح مؤنث یعنې که چېرته د دې جمع واحد مذکر وو نو جمع به یې تصحیح مذکر وي او که واحد یې مؤنث وو نو جمع به

يې تصحيح مؤنث وي.

جمع مذكر سالم: دا هغه جمع ده چې په آخر كې يې **واو** ما قبل ضمه راغلى وي او يا (**ياء**) ما قبل كسره راغلې وي او په دواړو صورتونو كې د **واو** او د **ياء** نه وروستو **نون** مفتوح راغلې وي د اول مثال لكه: **مُسْلِمُوْنَ** دا جمع مذكر سالمه ده او واحد يې **مُسْلِمٌ** دى او د **مُسْلِمٌ** وزن په جمع كې بالكل سالم دى، دويم مثال لكه: **مُسْلِمِيْنَ** د دواړو معنى يو ده **مُسْلِمُوْنَ** په حالت رفعي كې او **مُسْلِمِيْنَ** په حالت نصبي او جري كې راځي، په جمع مذكر سالمه كې **نون** مفتوح ځكه لګولى شوى دى چې د تثنيې د **نون** او د جمع د **نون** فرق وشي د تثنيې هغه مكسور وي او د جمع هغه مفتوح وي او په جمع مذكر سالمه كې **ياء** ما قبل كسره هم د فرق له وجې نه لګولى شوې ده.

جمع مؤنث سالم: دا هغه جمع ده چې په آخر كې يې **الف** او **تاء** زياتي كړې شوې وي لكه: **مُسْلِمَاتٌ**.

په اعتبار د معنى سره د جمعې اقسام:

وبدانكه جمع باعتبار معنى بر دو نوع است: جمع قلّت و جمع كثرت، جمع قلّت
[پوهه شه چې] [جمع په اعتبار د معنى سره] [په دوه قسمه ده] [جمع قلت او جمع كثرت] [جمع قلت]
پوهه شه چې جمع په اعتبار د معنى سره په دوه (٢) قسمه ده يو جمع قلت او بله جمع كثرت، جمع قلت
آنست كه بر كم از ده اطلاق كنند، و آن را چهار بنا است: اَفْعَلٌ
[هغه ده] [چې په كم د لسو باندې يې اطلاق كيږي] [او د جمع قلت د پاره] [څلور اوزان دي] [اَفْعَلٌ]
هغې ته وايي چې په كم د لسو باندې ددې اطلاق كيږي او د دې د پاره څلور (٤) اوزان دي: اَفْعَلٌ
مثل اَكْلُبٌ و اَفْعَالٌ چون اَقْوَالٌ، و اَفْعِلَةٌ مثل اَعْوِنَةٌ و فِعْلَةٌ چون غِلْمَةٌ، و دو
[لكه اَكْلُبٌ] [او اَفْعَالٌ] [لكه اَقْوَالٌ] [او اَفْعِلَةٌ] [لكه اَعْوِنَةٌ] [او فِعْلَةٌ] [لكه غِلْمَةٌ] [او دوه]
لكه: اَكْلُبٌ، او اَفْعَالٌ لكه: اَقْوَالٌ، او اَفْعِلَةٌ لكه: اَعْوِنَةٌ، او فِعْلَةٌ لكه: غِلْمَةٌ او دوه (٢)
جمع تصحيح بى الف و لام يعنى مُسْلِمُوْنَ و مُسْلِمَاتٌ، و جمع كثرت آنست
[جمع تصحيح] [بې الف او لام دي] [يعنې مُسْلِمُوْنَ] [او مُسْلِمَاتٌ] [او جمع كثرت] [هغه ده]
جمع تصحيح دي په غير د الف او لام نه لكه: مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمَاتٌ شو، او جمع كثرت هغې ته

کہ بر دہ و بیشتر از دہ اطلاق کنند و ابنیہ آن ہر چہ غیر ازین
[چې په لسو][او په زیاتو د لسو باندې یې][اطلاق کېږي][او اوزان ددې هغه دی][کوم چې غیر ددې]
وایي چې په لسو او د لسو نه په زیاتو یې اطلاق کېږي او ددې اوزان هغه دي کوم چې غیر ددي
شش بنا است.
[شپږو اوزانو نه دی]
شپږو اوزانو نه دي.

خلاصه د متن : مخکې د جمعې تقسیم وشو په اعتبار د لفظ سره، اوس دلته د جمعې تقسیم کیږي په اعتبار د معنی سره.

تشریح : جمع په اعتبار د معنی سره په دوه (۲) قسمه ده: (۱) جمع قلت، (۲) جمع کثرت:

جمع قلت : دا هغه جمع ته ویلی کېږي چې اطلاق یې د دریو نه تر نهو پورې کېږي، په آسانی سره د جمع قلت د پیژندلو طریقه دا ده چې د دې اوزان ټول څلور دي کوم چې شاعر په دې شعر کې راجمع کړي دي:


آمد جمع قلت چهار ابنیة　　　افعل . افعال . افعلة . فعلة

(۱) **افعل** لکه **اکلب**، دا جمع د **کلب** ده د دریو نه تر نه پورې لپاره به **اکلب** ویلی شي د زیاتو لپاره به صحیح نه وي.
(۲) **افعال** لکه **اقوال**: دا د **قول** جمع ده، دریو نه تر نهه قولونو لپاره به **اقوال** ویلی شي. (۳) **افعلة**: لکه **اعونة** دا د **عون** جمع ده سپاهي ته ویلی شي د دریو نه تر نهه سپاهیانو لپاره به **اعونة** دا د **عون** جمع ده، سپاهي ته ویلی شي د دریو نه تر نه سپاهیانو پورې به **اعونة** ویلی شي. (۴) څلورم وزن د جمع قلت **فعلة** دی لکه **غلمة** دا جمع د **غلام** ده د دریو نه تر نهه غلامانو لپاره به **غلمة** ویلی کېږي. د دې څلورو وزنونو نه علاوه د جمع قلت دوه وزنونه نور هم دي: یو د جمع مذکر سالمې، دویم د جمع مؤنث سالمې خو دا په هغه وخت کې چې **الف لام** پرې نه وي داخل شوی لکه **مسلمون** نو دا به د دریو مسلمانانو نه تر نهه مسلمانانو لپاره استعمالیږي. دبل مثال لکه: **مسلمات** نو دا به هم د دریو نه تر نهه ښځو لپاره استعمالیږي فقط نو په دې حساب سره د جمع قلت شپږ وزنونه شول څلور مطلق بغیر د څه قید نه او دوه مقید دي په **الف لام** سره.

جمع کثرت : دا هغې جمع ته ویلی شي چې د هغې اطلاق په لسو یا زیات د لسو باندې کېږي، لکه **اولیاء**، **علماء**، **صلحاء** وغیره.

سوال: د جمع کثرت څومره اوزان دي؟**جواب:** د جمع قلت د شپږو وزنونو نه علاوه نور ټول د جمع کثرت وزنونه دي خو مشهور په کې لس دي: **فعال** لکه **عباد**، **فعل** لکه **رسل**، **فعل**، لکه **ترضی**، **فعلاء** لکه **علماء**، **فعول** لکه **نجوم**، **فعلة** لکه، **افعلاء** لکه **انبیاء**، **فعال** لکه **خدام**، **فعل** لکه **فرق**. **فعلان** لکه **غلمان**.

په لاندې نقشه کې د اسم ټول اقسام ذکر دي.



أَفْعُلٌ أَفْعَال أَفْعِلَة فِعْلَةٌ جمع مذکر سالم (غیر معرف باللام) جمع مؤنث سالم (غیر معرف باللام)

(چون أَكْلُبٌ)(چون أَقْوَالٌ)(چون أَعْوِنَةٌ) (چون عِلْمَةٌ) (چون مُسْلِمُوْنَ) (چون مُسْلِمَاتٌ)

د اسم اعراب :

په اعتبار د اعراب سره د اسم متمکن اقسام :

فصل بدانکه اعراب اسم سه است : رفع و نصب و جر ٬اسم متمکن باعتبار وجوه
[فصل][پوه شه چې][اعراب د اسم درې دي][رفع او نصب او جر][اسم متمکن په اعتبار][د وجوه]
فصل پوه شه چې د اسم اعراب درې (۳) دي: رفع، نصب او جر، اسم متمکن په اعتبار د وجوه
اعراب بر شانزده قسم است : اول : مفرد منصرف صحیح چون زَيْدٌ دوم : مفرد
[داعراب سره][په شپاړس (۱٦) قسمه دی][اول][مفرد منصرف صحیح][لکه زَيْدٌ][دوهم][مفرد]
د اعراب سره په شپاړس (۱٦) قسمه دی : اول مفرد منصرف صحیح لکه : زَيْدٌ شو ، دویم مفرد
منصرف جاری مجرای صحیح چون دَلْوٌ ٬ سوم : جمع مکسر منصرف چون رِجَالٌ ٬
[منصرف][قائمقام][د صحیح][لکه][دَلْوٌ][دریم][جمع مکسر][منصرف][لکه][رِجَالٌ]
منصرف قائمقام د صحیح لکه : دَلْوٌ شو ، دریم قسم : جمع مکسر منصرف دی لکه : رِجَالٌ شو ،
رفع شان بضمہ باشد و نصب بفتح و جر بکسره چون جَاءَنِيْ زَيْدٌ
[رفع به یې][په ضمې سره وي][او نصب په فتحې سره][او جر یې په کسرې سره][لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ]
رفع د دې په ضمې سره ، او نصب یې په فتحې سره ، او جر یې په کسرې سره وي لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ
وَ دَلْوٌ وَ رِجَالٌ ، وَرَأَيْتُ زَيْداً وَ دَلْواً وَ رِجَالاً ، وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَدَلْوٍ وَ رِجَالٍ
[وَ دَلْوٌ وَرِجَالٌ] [وَرَاَيْتَ زَيْداً وَ دَلْواً وَ رِجَالاً] [وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ دَلْوٍ وَ رِجَالٍ]
وَدَلْوٌ وَ رِجَالٌ، وَ رَاَيْتَ زَيْداً وَ دَلْواً وَ رِجَالاً ، وَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ وَ دَلْوٍ وَرِجَالٍ شو
چهارم : جمع مؤنث سالم رفعش بضمہ باشد و نصب و جر بکسره چون :
[څلورم][جمع مؤنث سالم][رفع به یې][په ضمې سره وي][او نصب او جر][په کسرې سره] [لکه]
څلورم جمع مؤنث سالمه ده ، د دې رفع په ضمې سره او نصب او جر یې په کسرې سره دی لکه:

هُنَّ مُسْلِمَاتٌ ، وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ .
[هُنَّ مُسْلِمَاتٌ] [وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ] [وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ].
هُنَّ مُسْلِمَاتٌ وَرَأَيْتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ شو.

خلاصه د متن : په مخکنيو فصلونو کې د اسم مختلف حالات بيان شول، لکه د اسم علامې د اسم معرب او مبني کېدل او مذکر مؤنث او د جمع دوه قسمونه مکسره جمع سالمه خلاصه دا چې د ذات په لحاظ سره د اسم مکمل وضاحت وشو او دا خبره هم ذکر شوې ده چې په مبني اسم باندې اعراب نه راځي او په هر حالت کې يو شان وي او دا خبره هم ذکر شوې ده چې په معرب اسم به د عامل د وجې نه اعراب بدلېږي را بدلېږي نو اوس به په دې فصل کې د اعراب بيان کېږي.

تشريح : اعراب په درې (۳) قسمه دي: (۱) رفع، (۲) نصب، (۳) جر او د دې اعراب قبلولو سره اسم متمکن په شپاړس (۱٦) قسمه دی: اولنې درې قسمونه: مفرد، مفرد منصرف قائمقام صحيح، جمع مکسره منصرفه ذ دې درې واړو قسمونو اعراب به په حالت رفعي کې رفع او په حالت نصبي کې نصب او په حالت جري کې جر وي د مفرد منصرف صحيح مثال لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَأَيْتُ زَيْدًا مَرَرْتُ بِزَيْدٍ نو په دې مثالونو کې زيد اسم متمکن مفرد منصرف صحيح دی او درې واړه عاملان پرې راغلي دي جاء رايت با حرف جر او درې واړو په کې عمل کړی دی د مفرد منصرف جار مجری صحيح مثال لکه هٰذَا دَلْوٌ رَأَيْتُ دَلْوًا مَرَرْتُ بِدَلْوٍ نو په دې مثالونو کې دلو اسم متمکن جاري مجری صحيح دی په ده باندې هم درې واړه عاملان راغلي دي او درې واړو په کې خپل خپل عمل کړی دی، د جمع مکسر منصرف مثال لکه: جَاءَنِيْ رِجَالٌ رَأَيْتُ رِجَالًا مَرَرْتُ بِرِجَالٍ په دې کې هم په درې واړو مثالونو کې رجال د جمع مکسر منصرفې مثال دی او درې واړه عاملان پرې داخل شوي دي او خپل خپل عمل يې په کړی دی.

د مفرد منصرف صحيح تعريف : د نحويانو په نزد مفرد منصرف صحيح هغه اسم دی چې په آخر کې يې حرف علت نه وي بلکې صحيح حرف وي لکه زيد.

سوال : د صرفيانو په نزد خو زيد صحيح اسم نه دی ځکه چې په زيد کې د عين کلمې په ځای حرف علت دی نو نحويانو ورته ولې صحيح وايي؟

جواب : صرفيانو بحث کوي د تعليل او نحويان د اعراب نه او اعراب په آخر حرف باندې راځي او په زيد کې آخري حرف دال دی او دا رفع، نصب او جر درې واړه قبلوي نو ځکه نحويان زيد ته صحيح وايي.

سوال: په دَلْو کې آخر حرف حرف علت دی نو دې ته نحویان قائمقام صحیح ولې وایي؟

جواب: قائمقام صحیح ورته ځکه وایي چې داسې اسم متمکن په دریوو حالتونو کې دریواړه حرکتونه قبلوي لکه څنګه چې یې صحیح قبلوي.

د اسم متمکن جار مجری صحیح تعریف: د کوم اسم په آخر کې چې چې واو او یاء راغلې وي او ما قبل ساکن وي نو دې ته جار مجری صحیح ویلی کېږي لکه **دلو و ظبي**.

څلورم قسم د اسم متمکن د اعراب په لحاظ سره جمع مؤنث سالمه ده په دې کې په دریو حالتونو کې صرف دوه قسمه اعراب دی: رفع، جر. که په جمع مؤنث سالمه باندې عامل رافعه داخل شي نو رفع به پرې راځي او که چېرته یې عامل ناصبه یا جاره وي نو په دواړو حالتونو کې به جر وي نصب به پرې نه راځي بلکې حالت نصب به یې د حالت جري تابع وي.

سوال: حالت نصبي یې د حالت جري ولې تابع کړو؟

جواب: دا ځکه چې جمع مذکر سالمه اصل ده او جمع مؤنث سالمه فرع ده او په جمع مذکر سالمه کې حالت نصبي د حالت جري تابع وو نو په جمع مؤنث کې مو هم حالت نصبي د حالت جري تابع کړو چې فرع د اصل سره برابر شي مثال لکه: **هُنَّ مُسْلِمَاتٌ**، **هُنَّ** مبتداء ده (دا چونکه مبني دی نو اعراب د رفع پرې نه شي راتلی، لیکن په محل د مبتداء کې دی نو مرفوع دی) او **مُسْلِمَاتٌ** یې خبر دی او د مبتداء خبر هم مرفوع وي، نو په مبتداء او خبر کې عامل معنوي رفع ورکړې ده.

حالت نصبي: **رَاَیْتُ مُسْلِمَاتٍ** نو **مُسْلِمَاتٍ** مفعول دی او مفعول خو منصوب وي، لیکن دا تابع د حالت جري دی.

حالت جري: **مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ** نو **مُسْلِمَاتٍ** مجرور دی. د حرف جر له وجې نه، نو خلاصه دا شوه چې په دواړو حالتونو کې به جر وي.

ترکیب: جاءني زيد ودلو ورجال: **جاءني** فعل فاعل، **زيد** مفعول به، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به معطوف علیه، **واو** عاطفه **دلو** او **رجال** ورباندې عطف دی، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه خبریه.

ورایت زیدا ودلوا ورجالاً: **مررت** فعل فاعل، **زیدا** مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه دا معطوف علیه، **واو** عاطفه **دلوا** او **رجالا** ورباندې عطف، معطوف علیه سره د معطوف نه جمله فعلیه خبریه.

مررت بزید ودلوٍ ورجالٍ: **مررت** فعل فاعل، **باء** جار **زید** مجرور، جار سره د مجرور نه دا متعلق شو تر فعل پورې، فعل سره د فاعل او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه معطوف علیه، **واو** عاطفه **دلو** او **رجال** ورباندې عطف، معطوف علیه

سره د معطوف نه جمله فعليه خبريه.

هن مسلمات: **هن** ضمير مرفوع منفصل مبتداء، **مسلمات** ورته خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

د غير منصرف تعريف:

پنجم غير منصرف وآن اسمي است كه دو سبب از اسباب منع صرف درو باشد
[پنځم][غير منصرف دى][او دا هغه اسم دى][چې په دې كې دوه سببه][د اسباب د منع صرف نه وي]
پنځم قسم غير منصرف دى او دا هغه اسم دى چې په دې كې دوه سببه د اسباب د منع صرف نه موجود وي.

خلاصه د متن: په دې عبارت كې مصنف رَحِمَهُ اللهُ د اسم معرب د يو قسم يعنې د غير منصرف تعريف بيانوي.

تشريح: اسم معرب په دوه (٢) قسمه دى: (١) منصرف، (٢) غير منصرف.

د منصرف تعريف: دا هغه اسم معرب دى چې په هغې كې د اسبابو د منع صرف نه يو سبب هم نه وي او نه داسې يو سبب چې قائمقام د دوو سببونو وي او دې ته دويم نوم اسم متمكن دى لكه زَيْدٌ او رَجُلٌ نو په دواړو مثالونو كې د اسبابو د منع صرف نه دوه اسباب نشته، په **زيد** كې صرف يو سبب معرفه ده ليكن په يو سبب سره اسم غير منصرف نه ګرځي او په **رجل** كې خو يو سبب هم نشته، ځكه چې **رجل** نكره ده.

د منصرف حكم: په ده باندې درې واړه حركتونه او تنوين پرې راتلى شي، لكه جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدًا، وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ، نو په **زيد** باندې په درې واړو حالتونو كې د تنوين سره اعراب راغلې دى.

د غير منصرف تعريف: دا هغه اسم معرب دى چې په دې كې د اسبابو د منع صرف نه دوه اسباب موجود وي يا داسې يو سبب چې هغه قائمقام د دوه سببونو وي لكه: **الف** مقصوره په حُبْلٰى كې يا **الف** ممدوده په حَمْرَاء كې يا صيغه د منتهى الجموع لكه مَسَاجِد نو په دوي كې يو سبب قائمقام د دوو سببونو دى نو داسې اسم ته غير منصرف ويلى كيږي او اسباب د منع منصرف نه ه دي چې ذكريږي را روان دى. **د غير منصرف حكم**: په كوم اسم كې چې دوه اسباب يا يو سبب چې قائمقام د دوو سببونو وي نو حكم يې دا دى چې كسره او تنوين به پرې نه راځي صرف ضمه او فتحه به پرې راځي نو په حالت رفعي كې به ضمه او په حالت نصبي او جري كې به پرې فتحه راځي.

سوال: دا څه وجه ده چې دوه سببونه يا يو سبب چې قائمقام د دوه سببونو وي په معرب اسم راشي نو د منصرف په ځاى يې غير منصرف ګرځوي او كسره او تنوين پرې نه شي راتلې؟

جواب: دا ځکه چې کله په یو معرب اسم کې دوه سببونه یا یو سبب چې قائمقام د دوه سببونو وي وموندلې شي نو په دغه وخت کې دې د فعل مشابه کیږي او هغه داسې چې فعل په خپل وجود کې دوه څیزونو ته محتاج دی:
(۱) یو فاعل ته یعنې تر کومې پورې چې فاعل نه وي نو فعل نه شي موجودیدی.
(۲) دویم فعل محتاج دی په اشتقاق کې مصدر ته تر کومې پورې چې مصدر نه وي نو فعل به د چا نه، نه مشتق کیږي نو لهذا فعل محتاجه شو دوه څیزونو ته، یو فاعل او دویم مصدر ته نو دا دواړه اصل شو او فعل د دوی فرع شوه. نو همدغه شان غیر منصرف اسم هم محتاج دی داسې دوو سببونو ته چې دغه دواړه سببونه فرع وي د بل څیز چې تفصیل یې را روان دی، نو غیر منصرف اسم د دې احتیاج د وجې نه د فعل سره مشابه شو او دا خو د فعل او د اسم په علاماتو کې معلومه شوې ده چې په فعل به نه کسره او نه تنوین راځي نو چونکه غیر منصرف اسم د فعل سره مشابه دی نو لهذا په ده باندې به هم کسره او تنوین نه راځي.

اسباب د منع صرف :

واسباب منع صرف نہ است عدل ووصف وتانیث ومعرفہ وعجمہ وجمع وترکیب
[او اسباب د منع صرف] [نه دي] [عدل] [او وصف] [او تانیث] [او معرفه] [عجمه] [او جمع] [او ترکیب]
او اسباب د منع صرف نهه (۹) دي: عدل او وصف او تانیث او معرفه او عجمه او جمع، او ترکیب
ووزن فعل والف ونون زائدتان چون عُمَرُ وَأَحْمَرُ وَطَلْحَةُ وَزَيْنَبُ وَإِبْرَاهِيْمُ
[او وزن فعل] [او الف او نون زائدتان] [لکه عُمَرُ] [او اَحْمَرُ] [او طَلْحَةُ] [او زَيْنَبُ] [او اِبْرَاهِيْمُ]
او وزن فعل، او الف او نون زائدتان، لکه: عُمَرُ او اَحْمَرُ او طَلْحَةُ او زَيْنَبُ او اِبْرَاهِيْمُ
وَ مَسَاجِدُ وَ مَعْدِيْكَرَبُ وَ أَحْمَدُ وَ عِمْرَانُ، رفعش بضمہ باشد ونصب وجر
[او مَسَاجِدُ] [او مَعْدِيْكَرَبُ] [او اَحْمَدُ] [او عِمْرَانُ] [رفع به یې په ضمې سره] [او نصب او جر]
او مَسَاجِدُ او مَعْدِيْكَرَبُ او اَحْمَدُ او عِمْرَانُ، رفع به یې په ضمې سره وي او نصب او جر به
بفتحہ چون : جَاءَ عُمَرُ، وَرَأَيْتُ عُمَرَ، وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ.
[په فتحې سره وي] [لکه] [جَاءَ عُمَرُ] [وَرَاَيْتُ عَمَرَ] [وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ].
یې په فتحې سره وي لکه جَاءَ عُمَرُ وَ رَاَيْتُ عَمَرَ وَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د منع صرف د نهو (۹) اسبابو بیان کوي.

تشریح : د نهه (۹) اسبابو تفصیل : اسباب د منع صرف نهه (۹) دي، کوم چې شاعر په دې شعر کې ذکر کړي دي:

عدل و وصف و تانيث و معرفة　　وعجمة ثم جمع ثم تركيب

والنون زائدة من قبلها الف　　ووزن فعل وهذا القول تقريب

اولنی سبب عدل : د نحویانو په اصطلاح کې عدل وایي : **تحويل الاسم من حالة الى حالة اخرى مع بقاء المادة الاصلية و المعنى الاصلي بلا قانون صرفي** ، ګرځول د یو اسم دي د خپل اصلي حالت نه بل حالت ته سره د پاتې کیدو د اصلي مادې او د معنی اصلي په غیر د صرفي قانون نه، یعنې ګرځول د یو اسم دي د خپلي اصلي حالت نه بل حالت ته خو په دې شرط چې ددې دا تبدیلي او بدلون په قانون او قاعدې سره نه وي او ماده اصلي او معنی اصلي هم باقي پاتې شي، اولني حالت ته معدول عنه او دویم حالت ته معدول ویلی شي نو معدول عنه اصل دی او معدول فرع ده.

د عدل اقسام : عدل په دوه (۲) قسمه دي: (۱) عدل تحقیقي، (۲) عدل تقدیري:

(۱) عدل تحقیقي : دا هغه عدل دی چې په دې کې د خپل اصل نه د ګرځېدو څه ثبوت او دلیل موجود وي، یا په بل تعبیر سره چې موجود وي دلیل په وجود د اصل سره په غیر د منع صرف نه، لکه: **ثلاث**، نو په ده کې دوه سببونه موجود دي وصف او عدل او په ده کې د خپل اصل نه د ګرځېدو دلیل شته او هغه دا چې دا په اصل کې **ثلاثة ثلاثة** وو یعنې درې درې دلیل یې دا دی چې د دې په معنی کې تکرار دی نو تکرار د معنی دلالت کوي په تکرار د لفظ باندې.

(۲) عدل تقدیري : دا هغه دی چې په اصل او معدول عنه باندې د غیر منصرف نه علاوه څه دلیل موجود نه وي یعنې یو لفظ په اصطلاح د عربو کې غیر منصرف مستعمل وي خو د بل لفظ نه د ګرځېدو څه ثبوت په کې نه وي، دغه بل لفظ صرف تصور کړی شوی او فرض کړی شوی وي، یا په بل تعبیر سره چې موجود نه وي دلیل په وجود د اصل سره، لکه **عمر** او **زفر**، نو دا اسماء غیر منصرف دي.خو په دوی کې د غیر منصرف والي نه علاوه د بل لفظ نه د ګرځېدو څه ثبوت نشته او د دې ته په کلام د عربو کې غیر منصرف ویلی کېږي نو نحویانو سوچ وکړو چې په دوي کې خو به یو سببیت علمیت موجود دی دویم په کې نشته حالانکه د غیر منصرف والي لپاره دوه سببونه ضروري وي نو دوي په کې عدل فرض کړو چې د **عمر** اصل **عامر** او د **زفر** اصل **زافر** وو نو د دې په اصل څه دلیل نشته خو صرف فرض کړی شوي دي نو **عامر** او **زافر** معدول منه او اصل

دي او **عمر** او **زفر** معدول دي او فرع دي.

سوال: مصنف رحمة الله علیه په باقي وو اسبابو ولې مقدم کړو؟

جواب: دا ځکه چې عدل په غیر د څه شرط نه سبب جوړیده او د باقي اسبابو لپاره شرطونه وو نو د دې وجې نه یې دی مقدم کړو.

دویم سبب وصف: دویم سبب د اسبابو د منع صرف نه وصف دی.

د وصف تعریف: وصف دا سې یو عرض ته ویلې کیږي چې هغه په غیر د موصوف نه، نه شي موندې نو موصوف اصل شو او وصف یې فرع شو لکه **ارقم**، په کوم اسم کې چې وصف وي نو د هغه د سبب د جوړیدو لپاره شرط دا دی چې دغه لفظ د وصف به په اصل کې د وصفي معنی لپاره وضع شوې وي اگر که وروستو د علم لپاره استعمال شي خو دغه وصفیت اصلي به د غیر منصرف کېدو کار کوي نو **ارقم** په لغت کې برگوالي ته ویلی شي او دا صفت دی، ځکه دده اصل وضع د صفت لپاره شوې ده چې برگوالې دی او دا د برگ مار نوم هم دی خو دده په غیر منصرف والي کې څه اثر نه راولي نو دا غیر منصرف دی ځکه چې یوه په کې معنی وصفي اصلي ده او بل په کې علمیت دی نو دوه سببونه په کې موجود شو.

دریم سبب تانیث: دا خو ظاهره خبره ده چې تانیث فرع د مذکر ده ځکه د تانیث په علامې لگولو سره د مذکر اسم نه مؤنث جوړیږي لکه **ضَارِبٌ** مذکر دی نو دده سره په **تاء** لگولو سره **ضَارِبَةٌ** مؤنث نو د دې نه معلومه شوه چې مذکر اصل دی او مؤنث فرع ده.

د تانیث اقسام: تانیث په څلور (۴) قسمه دی: (۱) تانیث لفظي، (۲) تانیث معنوي، (۳) تانیث په **الف** مقصوره سره، (۴) تانیث په **الف** ممدوده سره.

(۱) تانیث لفظي: یعني چې لفظاً په کې **تاء** راغلې وي لکه **طلحة** نو دا غیر منصرف دی، ځکه چې دوه سببونه په کې موجود دي، یو معرفه، دویم تانیث لفظي.

(۲) تانیث معنوي: دده د سببیت لپاره دوه شرطونه دي: علمیت، د دریو څیزونو نه په کې د یو څیز راتلل یو دا چې حروف به یې د دریو نه زیات وي لکه **زینب** دویم دا چې عجمه به وي لکه **ماه** او **جور** نو دا ټول مثالونه د غیر منصرف دي ځکه دوه دوه سببونه په کې موجود دي: علمیت او تانیث معنوي.

(۳) تانیث په الف مقصوره سره لکه **حُبْلَی**.

(٤) تانیث په الف ممدوده سره لکه حَمْرَاء.

دوی به همېشه لپاره غیر منصرف وي د دوي د سببیت د جوړېدو لپاره هیڅ شرط نشته او دا یو سبب قائمقام د دوو سببونو دی او دا ځکه چې دا په کومه کلمه باندې راشي نو د هغې سره دا لازم شي که د وقف په حالت کې وي او که د وصل په حالت کې وي لکه حُبْلٰی او حَمْرَاء نو گویا چې په دوي کې دوه سببونه شول یو تانیث دویم لزوم د تانیث نو په دې وجه دا د دوو دوو سببونو قائمقام دي.

څلورم سبب معرفه: څلورم سبب د اسبابو د منع صرف نه معرفه ده، د معرفې په اووه قسمونو کې صرف علمیت معتبر دی یعني معرفه به هله په اسبابو د منع صف کې شمارلی کېږي چې کله دا علم وي د مثال په طور لکه زَيْنَبُ شو چې دوه سببونه په کې موجود وي یو معرفه او دویم تانیث معنوي نو که چېرته معرفه وي او علم نه وي نو په منع صرف کې به هغه اثر نه کوي نو لهذا مضمرات، اسماء اشارات او موصولات، اگر چې دا معرفې دي خو علمیت په کې نه موندلی کېږي نو په دې وجه دا د معرب د حکم نه خارج دی او په مبنیاتو کې شمار دی او د مبنیاتو حکم به پرې جاري کېږي.

د معرفې د فرعیت وضاحت: دا خو ښکاره خبره ده چې معرفه د نکرې فرع ده لکه اَلرَّجُل نو رَجُل نکره ده نو د **الف لام** داخلولو په وجه دا معرفه گرځي نو نکره اصل شوه او معرفه یې فرع شو **رجل** او **الرجل** په مثال کې راوړل صرف د دې لپاره دي چې د نکرې اصلیت او د معرفې فرعیت ثابت شي خو دا خیال نه دي کول په کار چې گنې **رجل** او **الرجل** غیر منصرف دي بلکې دا دواړه منصرف دي په دې سره صرف دا ثابت کړی شوي دي چې نکره اصل ده او معرفه فرع ده

پنځم سبب عجمه: پنځم سبب د اسبابو د منع صرف نه عجمه ده.

د عجمې تعریف: عجمه هغې اسم ته ویلی کېږي چې هغه عجمي وي او په عجمي لغت کې د چا لپاره علم واقع شوی وي ځکه عجمي لفظ خو عربو نه وي وضع کړی نو د دې لپاره د دې ادا کول مشکل وي او دا کېدی شي چې عرب د دې د ثقل لرې کولو لپاره په دې کې څه تغیر راولي او ثقل والی یې ختم کړي نو د سبب د جوړېدو قابل به پاتې نه شي نو د دې وجې نه دا شرط په کې ولگولی شو چې دی به په عجمي لغت کې د چا لپاره علم وي لکه **اِبْـرَاهِيْم** نو که چېرته عجمه ژبه کې وموندلی شي نو دغه عجمي لفظ به په عربی ژبه کې فرع وي، ځکه په هره ژبه کې اصل خبره دا ده چې په هغې کې د بلې ژبې کلمه یو ځای نه شي او که چېرته یو ځای شي نو هغه به په دغې بله ژبه کې فرع شي نو **ابـراهیم** د عجمي لفظ نوم دی او په عربو کې هم دا نوم کېښودلې شو نو په ده کې د غیر منصرف دوه سببونه دي یو عجمه دویم معرفه.

شپږم سبب جمع : شپږم سبب په اسبابو د منع صرف کې جمع ده خو هره يوه جمع نه بلکې صيغه د منتهي الجموع يعنې د جمع صيغه چې انتهاء ته رسېدلې وي او دوباره به په جمع تکسيرې سره نه جمع کېږي او د دې درې وزنونه دي: چې د **الف** د جمع نه وروستو په کې دوه حروف راغلې وي لکه **مَسَاجِدُ** په وزن د **مفاعل**. دوم: چې د **الف** د جمع نه وروستو مشدد حرف راغلی وي لکه **دَوَابّ** دلته کې صيغه د منتهی الجموع قائمقام د دوو سببونو ده يو جمعيت او بل لزوم د جمعيت ځکه چې دا قسم جمع بيا دويم ځلې په جمع تکسيرې سره نه جمع کېږي نو جمعيت ورسره لازم شو نو ګويا دا دوه ځله جمع کړی شوه او جمع فرع د واحد ده ځکه په واحد کې په تغيير کولو سره جمع جوړولی کېږي نو واحد اصل شو او جمع فرع شوه.

اوم سبب ترکيب : اووم سبب د اسبابو د منع صرف نه ترکيب دی د ترکيب مطلب دا چې دوه کلمې يو ځای شي او د يو څيز لپاره علم شي لکه **مَعْدِيْكَرَب** نو **معدي** يو کلمه ده او **کرب** بله کلمه ده د دواړو نه يو اسم جوړ کړی شوی دی او د يو سړي نوم دی نو دا غير منصرف دی دوه سببونه په کې موجود دي يو ترکيب او دويم معرفه.

اتم سبب وزن فعل : اتم سبب د اسبابو د منع صرف نه وزن فعل دی يعنې وزن به د فعل وي او د فعل نه به اسم ته نقل کړې شوې وي نو دغه وزن فعل به فرع وي د اسم د وزن ځکه چې اصل په اسم او فعل کې دا ده چې د خپلو خپلو اوزانو سره خاص وي د اسم وزن په فعل کې نه شي موندلی او د فعل وزن اسم کې نه شي موندلې، نو چې کله د فعل خپل اصلي وزن اسم ته منتقل شو نو دغه وزن اوس د اسم فرع شوه، لکه **أَحْمَدُ** نو دا د فعل په وزن باندې دی او غير منصرف دی دوه سببونه په کې موجود دي، وزن فعل، علميت.

سوال : وزن فعل د غير منصرف سبب ولې جوړ کړې شوې دی؟

جواب : دا ځکه چې کله د فعل وزن په اسم کې راشي، نو ثقيل به شي نو د ثقل په وجه به غير منصرف ويلې شي.

نهم سبب الف نون زائدتان : نهم سبب د اسبابو د منع صرف نه **الف نون** مزيدتان دي يعنې هغه **الف نون** چې هغه زائد وي، اصلي نه وي او د اسم په آخر کې زياتی کړی شوې وي **الف نون** زائدتان به يا د اسم په آخر کې راغلې وي يا به د صفت په آخر کې راغلې وي که چېرته د اسم په آخر کې راغلې وي نو شرط په کې علميت دی يعنې دی به هله غير منصرف وي چې د چا لپاره علم وي لکه **عمران عثمان** او که چېرته د صفت په آخر کې راغلی وي نو بيا يې د غير منصرف کېدو لپاره شرط دا دی چې مؤنث به يې د **فعلانة** په وزن باندې نه راځي لکه **سکران** هغه سړی چې د نشې په حالت کې وي د ده مؤنث **سکری** راځي نو د دې وجې نه دی غير منصرف دی او **نَدْمَان** منصرف دی ځکه اګر چې په آخر کې

يې **الف نون** راغلی دی او دصفت صيغه هم ده ليکن دده مؤنث **ندمانة** په وزن د **فعلانة** باندې راځي نوځکه منصرف دی. او دا دواړه الف نون زائدتان فرع ده د هغې اسم چې په کوم اسم کې دا زياتي کړې شوي وي لکه **عمران** نو په **عمران** کې **الف نون** زائدتان دي په اصل کې **عمر** دی په آخر کې يې **الف نون** زياتي کړی شو نو **عمران** شو نو دا اوس غير منصرف دی يو په کې علميت دی او بل په کې **الف نون** زائدتان دی.

د غير منصرف اسم اعراب: د غير منصرف اسم دوه قسمه (٢) اعراب دی: (١) رفع، (٢) فتحه: په حالت رفعي کې به يې رفع په غير د تنوين نه وي او په حالت نصبي، جري کې به يې فتحه په غير د تنوين نه وي، حالت جري يې د حالت نصبي تابع دی لکه جَاءَ عُمَرُ رَأَيْتُ عُمَرَ مَرَرْتُ بِعُمَرَ.

د اسماء سته مکبره اعراب:

ششم: اسماء ستہ مکبّرہ در وقتیکہ مضاف باشند بغیر یای
[شپږم] [اسماء] [سته مکبره] [خو دا په هغه وخت کې چې] [مضاف وي] [په غير] [د ياء د]
شپږم قسم اسماء سته مکبره دي، خو دا به په هغه وخت کې معرب وي چې مضاف وي په غير د **ياء** د
متکلم چون: أَبٌ و أَخٌ و حَمٌ و هَنٌ و فَمٌ و ذُوْ مَالٍ ' رفع شان بواو
[متکلم ته] [لکه] [أَبٌ] [او أَخٌ] [او حَمٌ] [او هَنٌ] [او فَمٌ] [او ذُوْ مَالٍ] [رفع به يې په واو]
متکلم ته لکه: أَبٌ او أَخٌ او حَمٌ او هَنٌ او فَمٌ او ذُوْ مَالٍ شو، حالت رفعي به يې په واو
باشد و نصب بالف و جر بیا چون: جَاءَ أَبُوْكَ، وَ رَأَيْتُ
[سره وي] [او نصب په الف سره] [او جر په ياء سره] [لکه] [جَاءَ أَبُوْكَ] [او رَأَيْتُ]
سره، حالت نصبي به يې په الف سره او حالت جري به په **ياء** سره وي لکه: جَاءَ أَبُوْكَ. وَرَأَيْتُ
أَبَاكَ، وَمَرَرْتُ بِأَبِيْكَ.
[أَبَاكَ] [او مَرَرْتُ بِأَبِيْكَ].
أَبَاكَ. وَمَرَرْتُ بِأَبِيْكَ.

7

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسماء سته مکبره اعراب بیانیږي.

تشریح : د اسم معرب اعراب په دوه (۲) قسمه دی: (۱) اعراب بالحرکة، (۲) اعراب بالحرف : **اعراب بالحرکة** : رفع ،نصب، جر ته وايي. **اعراب بالحرف** : واو، الف یاء ته وايي. واو د دوه ضمو نه، الف د دوه فتحو نه او یاء د دوه کسرونه جوړيږي نو دوه فتحې د الف او دوه ضمې د واو او دوه کسرې د یاء اصل دی او دغه وجه ده چې الف ما قبل فتحه او واو ما قبل ضمه او یاء ما قبل کسره غواړي او دا خبره هم واضحه ده چې مفرد اصل دی او تثنیه او جمع فرعي دی نو نحویانو اعراب په داسې طریقې سره تقسیم کړو چې اصل یې اصل ته ورکړو او فرعې یې فرعي ته ورکړه لیکن د دې سره سره په داسې تقسیم په مفرداتو او تثنیو جمعو کې یو قسم منافرت او جدا والی پیدا کېدلو ځکه مفردات په اعراب بالحرکة اخیستلو سره جدا شول او تثنیه او جمع په اعراب بالحرف اخیستلو سره جدا شول نو د دې منافرت ختمولو لپاره نحویانو داسې وکړل چې بعض مفرداتو له یې هم اعراب بالحرف ورکړو او دغه مفردات صرف شپږ اسمونه دي او شپږ اسمونه ځکه دي چې د تثنیې او د جمع شپږ حالتونه دي درې د تثنیې یعنې حالت رفعي نصبي جري او درې د جمع دي یعنې حالت رفعي، نصبي، جري نو دهریو حالت په مقابله کې اسمائی سته دا دي: **أَبٌ، أَخٌ، حَمٌ هَنٌ فَمٌ ذُوْ مَالٍ**. او د دې شپږو د خصوصیت وجه داده چې د دوی په آخر کې داسې حرف دی چې هغه د اعراب بالحرف د جوړېدو صلاحیت لري او په نورو اسمونو کې دا خبره د عربو نه نه ده اوریدلی شوې.

د اسماء سته مکبرو اعراب : د دې اعراب بالحرف دی په حالت رفعي کې په واو سره په حالت نصبي کې په الف سره او په حالت جري کې په یاء سره ، لیکن د دې اعراب درې شرطونه دي: چې دا اسمونه به مکبر وي او مصغر به نه وي، مضاف وي، چې د واحد متکلم ضمیر یاء ته ، که مضاف نه وي نو بیا یې دغه اعراب دی او که چېرته دا اسماء مصغر وي نو بیا به یې اعراب په دریوو واړو حالتونو کې بالحرکة وي ، او که چېرته مضاف نه وي نو بیا به یې هم اعراب بالحرکة وي لکه : **جَاءَنِيْ اَبٌ ، رَاَيْتُ اَبًا مَرَرْتُ بِأَبٍ**، او که چېرته دا اسماء د واحد متکلم ضمیر یاء ته مضاف وي نو بیا به یې هم اعراب بالحرکة وي لیکن تقدیري به وي لکه **جَاءَنِيْ اَخِيْ. رَاَيْتُ اَخِيْ. مَرَرْتُ بِأَخِيْ**، د مکبر مطلب دا چې مصغر نه وي.

مصغر : هغې اسم ته وايي چې په هغه کې د وړوکوالي او د کمي معنی ظاهریږي

ترکیب : جاء ابوک : جاء فعل ابوک مضاف مضاف الیه دا فاعل شو د پاره د فعل چې جاء دی، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

رایت اباک : رایت فعل ضمیر په کې مستتر دی چې انا دی هغه ورته فاعل اباک مضاف الیه مضاف الیه دا مفعول به شو د پاره د **رایت**، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

مررت بابیک : مررت فعل ضمیر په کې مستتر دی چې انا دی هغه یې فاعل بـا جار ابیک مضاف مضاف الیه دا مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر مررتُ پورې، فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه.

د مثنی ، کلا او کلتا ، اثنان او اثنتان اعراب :

هفتم : مثنی چون : رَجُلَانِ . هشتم : کِلَا وَ کِلْتَا مضاف
[اوم قسم] [تثنیه ده] [لکه] [رَجُلَانِ] [اتم قسم] [کِلَا] [او کِلْتَا دی] [چې مضاف وي]
اوم قسم : مثنی ده لکه رَجُلَانِ ، اتم قسم : کِلَا او کِلْتَا دی ، خو دا به هله معرب وي چې کله مضاف
بمضمر ، نہم : اِثْنَانِ وَاِثْنَتَانِ ، رفع شان بالف باشد و نصب و جر به
[ضمیر ته] [نهم] [اِثْنَانِ] [او اِثْنَتَانِ دی] [رفع به یې په الف سره وي] [او نصب او جر به یې]
وي ضمیر ته ، نهم قسم : اِثْنَانِ او اِثْنَتَانِ دی ، د دې رفع به په **الف** سره وي نصب او جر به یې په
یاء ما قبل مفتوح چون : جَاءَ رَجُلَانِ وَکِلَاهُمَا وَاِثْنَانِ ، وَ رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ
[په یاء ما قبل مفتوح سره وي] [لکه] [جَاءَ رَجُلَانِ وَکِلَاهُمَا وَاِثْنَانِ] [وَرَأَیْتُ رَجُلَیْنِ]
یاء ماقبل مفتوح سره وي ، لکه : جَاءَ رَجُلَانِ وَ کِلَاهُمَا وَ اِثْنَانِ ، وَ رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ
وَکِلَیْهِمَا وَاِثْنَیْنِ ، وَمَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ وَکِلَیْهِمَا وَاِثْنَیْنِ .
[وَکِلَیْهِمَا وَاِثْنَیْنِ] [وَمَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ وَکِلَیْهِمَا وَاِثْنَیْنِ] .
وَکِلَیْهِمَا وَ اِثْنَیْنِ ، وَ مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ وَ کِلَیْهِمَا وَ اِثْنَیْنِ .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د مثنی ، کلا او کلتا ، اثنان او اثنتان اعراب بیانیږي .

تشریح : د اعراب په لحاظ سره د اسم متمکن اوم قسم تثنیه ده لکه رَجُلَانِ ، او اتم قسم **کِلَا** او **کِلْتَا** دی کله چې دا مضاف وي ضمیر ته ، نهم قسم اِثْنَانِ او اِثْنَتَانِ دی. **د درې وارو قسمونو اعراب :** په حالت رفعي کې به

الف وي او په حالت نصبي او جري کې به **یاء** ما قبل مفتوح وي لکه : **جَاءَ رَجُلَانِ وَكِلَاهُمَا وَاِثْنَانِ** ، نو په دې واړو اسمونو کې اعراب په **الف** سره دی نو په دې کې **جَاءَ** فعل دی او دا نور ټول ورته فاعل دي او فاعل مرفوع وي نو دا هم مرفوع شول لیکن د دې رفع په **الف** سره ده ، حالت نصبي **رَأَيْتُ رَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ** ، تو **رَاَيْتُ** فعل فاعل دی او دا وروستی ورته مفعول واقع شوی دی او مفعول منصوب وي نو دا هم منصوب دی دلته د دې نصب په **یاء** ما قبل مفتوح سره دی ، حالت جري **مَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَكِلَيْهِمَا وَاِثْنَيْنِ** ، په دې مثالونو کې **با** جاره ده او وروستني الفاظ ټول مجرور دي.

﴿كِلَا و كِلْتَا﴾ : د دې اعراب په حالت رفعي کې په **الف** سره او په حالت نصبي جري کې په **یاء** ما قبل مفتوح سره په هغې وخت کې دی چې کله **كِلَا** او **كِلْتَا** مضاف وي ضمیر ته او که چېرته اسم ظاهر ته مضاف وي نو بیا به یې اعراب بالحرکة تقدیري وي لکه **جَاءَنِيْ كِلَا الرَّجُلَيْنِ** ، **رَاَيْتُ كِلَا الرَّجُلَيْنِ مَرَرْتُ بِكِلَا الرَّجُلَيْنِ** ، **رجلان كلا اثنان** په دې درې واړو کې **رَجُلَانِ** تثنیه ده **كلا اثنان** ملحقان د تثنیې دی ځکه تثنیه هغې ته ویلی کېږي چې د هغې واحد وي لکه د **رجلان** واحد **رجل** دی او هر چې **كلا** او **اثنان** دی نو دا خو صورت د تثنیې معلومېږي ځکه معنی یې دوه دوه ده **كِلَا** دوه سړي **كِلْتَا** دوه ښځې **اِثْنَتَانِ** دوه ښځې لیکن دا په حقیقت کې تثنیې نه دي ځکه د دې واحد نه راځي او چونکه صورت یې د تثنیې دی نو اعراب ورته هم د تثنیې ورکړی شو او نوموړي یې ملحقات د تثنیې شول.

سوال : په مثال کې یې **كِلْتَا** او **اِثْنَتَانِ** ولې ونه لګول؟ **جواب** : د دې جواب خو ښکاره دی چې **كِلْتَا** او **اِثْنَتَانِ** څه نوې څیزونه نه دي په اصل کې **كِلَا** او **اِثْنَانِ** وو په مؤنث کې د فرق د وجې نه په کې **تاء** زیاتی کړې شوې ده.

ترکیب : **جاء رجلان وكلاهما و اثنان** : **جاء** فعل **رجلان** ورته فاعل فعل سره د فاعله معطوف علیه ، **كلاهما** دا معطوف اول او **اثنان** ورته دوهم معطوف دی ، معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه دا مفعول به شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه دا جمله فعلیه خبریه.

رائیت رجلین و كلیهما و اثنین : رایت فعل فاعل رجلین معطوف علیه کلیهما معطوف اول واو عاطفه اثنین معطوف ثاني ، معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه دا مفعول به شو د پاره د رایت ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه.

مررت برجلین وكلیهما و اثنین : مررت فعل فاعل **باء** جار **رجلین** معطوف علیه **كلیهما** معطوف اول **اثنین**

ورته دوهم معطوف شو معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه د ا مجرور شو د پاره د جار چې باء ده جار سره د مجرور نه ظرف لغو د ا متعلق شو تر مررت پورې، مررت فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه.

د جمع مذکر سالم، اولوا، عشرون نه تسعون پورې اعراب:

وہم: جمع مذکر سالم چوں مُسْلِمُوْنَ، یازدہم: أُوْلُوْ، دوازدہم: عِشْرُوْنَ
[لسم قسم] [جمع مذکر سالم] [لکه مُسْلِمُوْنَ] [یوولسم قسم أُوْلُوْ] [دولسم قسم عِشْرُوْنَ]
لسم قسم جمع مذکر سالمه ده لکه: مُسْلِمُوْنَ، یوولسم قسم أُوْلُوْ دی، دولسم قسم عِشْرُوْنَ
تا تِسْعُوْنَ، رفع شان بواو ماقبل مضموم باشد، ونصب و
[دی تر تِسْعُوْنَ پورې] [رفع به یې] [په واو] [ماقبل مضموم] [سره وي] [او] [نصب او]
دی، تر تِسْعُوْنَ پورې، د دې حالت رفعي به په واو ماقبل مضموم سره وي او حالت نصبي او
جر به یاء ماقبل مکسور چوں: جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ أُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ
[جر] [به یې په یاء ماقبل مکسور سره وي] [لکه جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ أُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ]
جري به یې په یاء ماقبل مکسور سره وي، لکه: جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَ أُوْلُوْ مَالٍ وَ عِشْرُوْنَ
رَجُلاً، وَرَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَأُوْلِيْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ
[رَجُلاً] [وَ رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَأُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِیْنَ رَجُلاً] [وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ]
رَجُلاً، وَ رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ وَ أُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِیْنَ رَجُلاً، وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ
وَأُوْلِيْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً.
[وَأُوْلِيْ مَالٍ وَعِشْرِیْنَ رَجُلاً].
وَ أُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِیْنَ رَجُلاً.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د جمع مذکر سالم، اولوا او د عشرون نه تر تسعون پورې اعراب بیانیږي.

تشریح: لسم قسم د اسم ممتکن په اعتبار د اعراب سره جمع مذکر سالم ده لکه مُسْلِمُوْنَ، یوولسم قسم یې أُوْلُوْ دی

دولسم قسم يې عِشْرُوْنَ دی تر تِسْعُوْنَ پورې د دې دريوو واړو اعراب هم په حرف سره دی په حالت رفعي کې واو ما قبل مضموم او په حالت نصبي جري دواړو کې په ياء ما قبل مکسور سره دی، د حالت رفعي مثال لکه: جَآءَ مُسْلِمُوْنَ وَ أُوْلُوْ مَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا په دې درې واړو کې اعراب په واو ما قبل مضموم سره دی، د حالت نصبي، جري مثال لکه: رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ وَ أُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ رَجُلاً، وَ مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ وَ أُوْلِيْ مَالٍ وَ عِشْرِيْنَ رَجُلاً، په دواړو حالتونو کې دلته اعراب په ياء ما قبل مکسور سره دی.

نو خلاصه دا شوه چې د جمع مذکر سالمې او د دې د ملحقاتو اعراب هم په دوو حروفو سره په دريوو حالتونو کې کېږي دلي شو لکه څنګه چې په تثنيه کې وو فرق صرف دومره دی چې په تثنيه کې حالت رفعي په الف سره وو حالت نصبي جري په ياء ما قبل مفتوح سره وو او په جمع کې حالت رفعي په واو ما قبل مضموم سره دی او په حالت نصبي جري کې په ياء ما قبل مکسور سره دی مُسْلِمُوْنَ أُوْلُوْ عِشْرُوْنَ بللي دی، درې واړو کې مُسْلِمُوْنَ جمع ده أُوْلُوْ او عِشْرُوْنَ ملحقات د جمع دي البته أُوْلُوْ جمع ده مفرد يې ذُوْ دی ليکن ذُوْ او أُوْلُوْ دواړه جدا جدا الفاظ دي د دې وجې نه جمع مذکر سالمه نه شوه ځکه چې د جمع سالمې مفرد خو د جمع د لفظ نه وي لکه مُسْلِمٌ مفرد دی او مُسْلِمُوْنَ يې جمع ده. او هر چې د عِشْرُوْنَ نه تر تِسْعُوْنَ پورې لسيزې دي نو دا خو صورةً د جمعې دی ليکن حقيقتا جمعې نه دي ځکه حقيقتا جمع هغه وي چې کم از کم درې افراد وي او د زياتو يې حد مقرر نه وي او په دې لسيزو کې حد مقرر دی چې د دې نه، نه په کم او نه په زياتو ويلې شي. او هر چې جمع حقيقي ده نو د هغې د عدد حد مقرر نشته کم از کم د دريو لپاره راځي او د زيات يې حد نشته لکه اَلْمُسْلِمُوْنَ د دريو لپاره هم راځي او د زرو لپاره هم راځي او د لکونو لپاره هم راځي.

فائده: د اعراب حروف درې دي: واو، الف، ياء، د تثنيې درې حالتونه دي، او د جمع درې حالتونه دي نو دواړه شپږ حالتونه شو نو که چېرته څوک ووايي چې درې واړو حروف د تثنيې درې واړه حالتونو له ورکړی شي نو جمع مذکر او د هغې ملحقات به بغير د اعراب نه پاتې شي او که چېرته درې واړه حروف د جمع مذکر سالمې درې واړه حالتونو ته ورکړې شي نو تثنيه او د هغې ملحقات بغير د اعراب نه پاتې کېږي. نو هغه ته به په واضحه الفاظو سره وويلی شي چې واو خو د جمع مذکر سالمې او د هغې ملحقاتو ته په حالت رفعي کې ورکړو او الف خو د تثنيې او د هغې ملحقاتو ته په حالت رفعي کې ورکړو دا دواړه حروف خو جدا جدا تقسيم شول پاتې شوه ياء نو دا خو مشترکه ده يعنې د تثنيې په حالت نصبي او جري کې او د جمع په حالت نصبي او جري کې او په دواړو کې به فرق داسې وي چې د تثنيې په دوه حالتونو کې به ياء ما قبل مفتوح

وي او په جمع مذکر سالمه کې په دواړو حالتونو کې به یاء ما قبل مکسور وي.

ترکیب: **جاء مسلمون و اولو مال وعشرون رجلاً:** **جاء** فعل **مسلمون** معطوف علیه واو عاطفه اولو مضاف **مال** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا اول معطوف، واو عاطفه **عشرون** عدد مبهم ممیز **رجلاً** ورته تمیز، ممیز سره د تمیز نه دا دوهم معطوف شو، معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** فعل، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه خبریه.

و رائیت مسلمین و اولي مال و عشرین رجلاً: **رائیت** فعل ضمیر په کې مستتر چې **انا** دی هغه یې فاعل، **مسلمین** معطوف علیه واو عاطفه **اولي** مضاف **مال** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف اول، واو عاطفه **عشرین** عدد مبهم ممیز **رجلاً** یې تمیز ممیز سره د تمیز نه دا دوهم معطوف شو، معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه دا مفعول به شو د پاره د **رائیت**، **رائیت** فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه.

و مررت بمسلمین و اولي مال وعشرین رجلاً: **مررت** فعل فاعل، **با** جار **مسلمین** معطوف علیه واو عاطفه **اولي** مضاف **مال** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف اول، واو عاطفه **عشرین** عدد مبهم ممیز **رجلاً** ورته تمیز، ممیز سره د تمیز نه دا دوهم معطوف شو، معطوف علیه سره د دواړو معطوفاتو نه دا مجرور شو د پاره د جار چې **باء** وه جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **مررت** پورې، **مررت** فعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا جمله فعلیه خبریه.

د اسم مقصور، او د هغې جمع مذکر سالمې چې مضاف نه وي یاء د متکلم ته او د اسم منقوص اعراب:

سیزدہم اسم مقصور وآن اسمی است کہ در آخرش الف مقصورہ باشد چون مُوْسیٰ
[دیارلسم] [اسم مقصور دی] [او دا] [هغه اسم دی] [چې په آخر کې یې الف مقصوره وي] [لکه مُوْسیٰ]
دیارلسم قسم: اسم مقصور دی او دا هغه اسم دی چې په آخر کې یې الف مقصوره وي لکه: مُوْسیٰ،
چهاردہم: غیر جمع مذکر سالم مضاف بہ یاء متکلم چون:
[څوارلسم قسم] [غیر د جمع مذکر سالم] [چې مضاف وي] [یاء د متکلم ته] [لکه]
څوارلسم قسم هغه اسم دی چې د جمع مذکر سالم نه غیر دي او مضاف وي **یاء** د متکلم ته لکه:

غُلَامِيْ ، رفع شان بتقدیر ضمه باشد و نصب بتقدیر فتحه
[غُلَامِيْ] [رفع به یې] [په تقدیر د ضمې سره وي] [او نصب به یې په تقدیر د فتحې سره وي]
غُلَامِيْ شو، چې د دې حالت رفعي په ضمه تقدیري سره دی او حالت رفعي یې په فتحه تقدیري
و جر بتقدیر کسره ، و در لفظ همیشه یکسان باشند چون :
[او جر] [به یې په تقدیر د کسرې سره وي] [او په] [لفظ کې] [همیشه] [یو شان] [وي] [لکه]
سره دی او جري یې په کسره تقدیري سره دی او ظاهراً به په لفظ کې همېشه لپاره یو شان وي لکه:
جَاءَ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ ، وَرَأَيْتُ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ ، وَ مَرَرْتُ بِمُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ
[جَاءَ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ] [وَرَأَيْتُ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ] [وَمَرَرْتُ بِمُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ]
جَاءَ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ ، وَ رَأَيْتُ مُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ ، وَ مَرَرْتُ بِمُوْسَىٰ وَ غُلَامِيْ .
پانزدهم اسم منقوص ، وآن اسمی است که آخرش یاء ما قبل مکسور باشد چون
[پنځلسم] [اسم منقوص دی] [او دا] [هغه اسم دی] [چې په آخر کې یې] [یاء ما قبل مکسور وي] [لکه]
پنځلسم قسم : اسم منقوص دی، او دا هغه اسم دی چې په آخر د دې کې یاء ما قبل مکسور وي لکه:
قَاضِيْ ، رفعش بتقدیر ضمه باشد و نصبش بفتحه لفظی
[قَاضِيْ] [رفع به یې] [په تقدیر د ضمې سره] [وي] [او] [نصب به یې] [په فتحه لفظي سره وي]
قَاضِيْ شو، د دې حالت رفعي په ضمه تقدیري سره دی او حالت نصبي یې په فتحه لفظي سره دی
وجرش بتقدیر کسره چون جَاءَ الْقَاضِيْ ، وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ ، وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ
[او جري یې په تقدیر د کسرې سره دی] [لکه جَاءَ الْقَاضِيْ] [وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ] [وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ]
او جري یې په تقدیر د کسرې سره دی، لکه: جَاءَ الْقَاضِيْ، وَرَأَيْتُ الْقَاضِيَ، وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسم مقصور ، او د هغې جمع مذکر سالمې چې مضاف نه وي یاء د متکلم ته او د اسم منقوص اعراب بیانیږي.

تشریح : دیارلسم قسم د اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره اسم مقصور دی.

اسم مقصور: دا هغې اسم ته ویلی کېږي چې په آخر کې یې **الف** مقصوره وي لکه **مُوْسٰی**، څوارلسم قسم هغه اسم دی چې جمع مذکر سالمه نه وي او **یاء** د متکلم ته مضاف وي لکه **غُلَامِيْ** د دې دواړو قسمونو اعراب به تقدیري وي په حالت رفعي کې به رفع مقدره وي او په حالت نصبي کې به نصب مقدر وي او په حالت جري کې به جر مقدر وي او د لفظي اعراب له وجې نه د لفظ صورت بدلېږي او دلته خو چونکه اعراب په الفاظو کې نه راځي نو په ټولو حالتونو کې به د لفظ صورت یو شان وي لکه: **جَاءَ مُوْسٰی وَ غُلَامِيْ، وَرَأَیْتُ مُوْسٰی وَغُلَامِيْ، وَمَرَرْتُ بِمُوْسٰی وَ غُلَامِيْ**، په دې دریواړو حالتونو کې د **مُوْسٰی** او د **غُلَامِيْ** یو صورت دی.

سوال: د اسم مقصوره په آخر باندې اعراب ولې نه راځي؟ **جواب**: دا ځکه چې د ده په آخر کې **الف** دی او **الف** همېشه لپاره ساکن وي نو که چېرته اعراب پرې راشي، نو بیا به **الف** پاتې نه شي **همزه** به ترې نه جوړ شي.

سوال: د جمع مذکر سالمې نه علاوه چې کوم اسم **یاء** د متکلم نه مضاف وي نو په دې تقدیري اعراب ولې راځي؟

جواب: د دې وجه دا ده چې کله د یو اسم اضافت وشي **یاء** د متکلم ته نو د اضافت سره سره په مضاف باندې اعراب نه شي راتلې ځکه که چېرته عامل رافع وي نو رفع به ورکوي نو که دا رفع په مضاف راوړی شي نو بیا خو به یو حرف باندې دوه مخالف حرکتونه راغلل یو خو د عامل د وجې نه رفع دویمه کسره د **یاء** متکلم د وجې نه نو د ویلو نه به وویستلی شي او که چېرته د عامل د وجې نه فتحه وي نو بیا به د غه غضب وي او که چېرته عامل د جار وي نو کسره به ورکوي او کسره خو دلته کې د مخکې نه موجود ده ذ بلې کسرې ګنجائش نشته نو لهذا په هر لحاظ سره د لفظي اعراب لاربنده ده نو خامخا به تقدیري اعراب راځي.

سوال: که چېرته یو طالب وو ایي چې اعراب په **یاء** د متکلم باندې راوړی شي په دې کې څه نقصان دی؟

جواب: مونږ به ورته ووایو چې **یاء** د متکلم جدا کلمه ده او مضاف جدا کلمه ده او عامل خو په مضاف کې عمل کوي د مضاف الیه سره یې هیڅ تعلق نشته، نو حاصل دا چې په **یاء** د متکلم باندې اعراب نه شي راتلې.

نو د دې بیان نه معلومه شوه چې د اعراب بالحرکة دوه قسمونه دي: لفظي بلکې د اسم متمکن د اول قسم نه تر پنځمه پورې، تقدیري لکه د دیارلسم او د څوارلسم قسم اعراب چې اوس بیان شو.

پنځلسم قسم د اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره اسم منقوص دی. **اسم منقوص**: دا هغه اسم ته ویلی کېږي چې په آخر کې یې **یاء** ما قبل مکسور وي لکه **قَاضِيْ** د ده اعراب به په دوه حالتونو کې تقدیري وي او په یو حالت کې به لفظي وي،

په حالت رفعي او جري کې به اعراب تقدیري وي ځکه چې **یاء** حرف علت ضعیف دی ضمه او کسره قوي حرکتونه دي د دې وجې نه د دې تلفظ په ژبه ګران وي نو د آسانتیا لپاره به یې اعراب تقدیري وي او هر چې فتحه ده نو هغه سپک حرکت دی نو د دې وجې نه په حالت نصبي کې به فتحه لفظاً وي لکه **جَاءَ الْقَاضِيْ** دلته رفع تقدیري ده **وَ مَرَرْتُ بِالْقَاضِيْ** دلته جر تقدیري دی، **رَاَيْتُ الْقَاضِيَ** دلته فتحه لفظي ده.

سوال: د دیارلسم او څوارلسم قسم اعراب هم تقدیري دي او دلته هم فرق شته او که نه د دواړو تقدیر یو شان دی؟

جواب: د دواړو ځایونو نه په تقدیري اعراب کې فرق دی په اولنیو دوو کې اعراب د سره راتلې نه شي او دلته کې لفظ راتلی شي تلفظ پرې کېدی شي خو د ثقل د دفع کولو لپاره دلته په دوو حالتونو کې اعراب تقدیري دی.

ترکیب: جاء موسی وغلامي: جاء فعل **موسی** معطوف علیه واو عاطفه **غلامي** مضاف مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** فعل، فعل سره د فاعل نه دا جمله فعلیه خبریه.

و رائیت موسی وغلامي: **رائیت** فعل ضمیر په کې مستتر چې **انا** دی هغه یې فاعل، **موسی** معطوف علیه **واو** عاطفه **غلامي** مضاف مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مفعول به شو د پاره د **رائیت**، **رائیت** فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه.

و مررت بموسی و غلامي: **مررت** فعل فاعل، **با** جار **موسی** معطوف علیه **واو** عاطفه **غلامي** مضاف مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مجرور شو د پاره د جار چې **باء** وه جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **مررت** پورې، **مررت** فعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا جمله فعلیه خبریه.

جاء القاضي: **جاء** فعل **القاضي** دا یې فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه.

و رائیت القاضي: **رائیت** فعل فاعل، **القاضي** مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه.

مررت بالقاضي: **مررت** فعل فاعل **باء** حرف جر **القاضي** مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **مررت** فعل پورې، فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه.

د هغې جمع مذکر سالم اعراب چې مضاف وي یاء د متکلم ته :

شانزدہم : جمع مذکر سالم مضاف به یاء متکلم چون : مُسْلِمِيَّ ، رفعش
[شپاړسم] [جمع مذکر] [سالمه] [چې مضاف وي] [یاء د متکلم ته] [لکه مُسْلِمِيَّ رفع به یې]
شپاړسم قسم : جمع مذکر سالمه ده چې مضاف وي یاء د متکلم ته، لکه : مُسْلِمِيَّ رفعه به یې
بتقدیر واو باشد ، و نصب و جرش به یاء ما قبل مکسور چون هَؤُلَاءِ
[په تقدیر] [د واو سره وي] [او نصب او جریې] [په یاء] [ماقبل مکسور سره وي] [لکه هَؤُلَاءِ]
په تقدیر د واو سره، او حالت نصبي او جري به یې په یاء ماقبل مکسور سره وي لکه : هَؤُلَاءِ
مُسْلِمِيَّ که دراصل مُسْلِمُوْنَ بود ، نون باضافت ساقط شد ، واو و یاء
[مُسْلِمِيَّ] [چې په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وو] [نون د اضافت د وجې نه وغورځیدو] [بیا واو او یاء]
مُسْلِمِيَّ ، چې په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وو ، نون د اضافت د وجې نه وغورځیدو ، بیا واو او یاء
جمع شده بودند و سابق ساکن بود ، واو را به یاء بدل کردند ، و یاء را در یاء ادغام
[جمع شوي وو] [او سابق یې ساکن وو] [واو مو په یاء سره] [بدل کړو] [او یاء مو په یاء کې مدغم]
جمع شوي وو ، او سابق یې ساکن وو ، نو واو مو په یاء سره بدل کړو ، او یاء مو په یاء کې مدغم
کردند مُسْلِمِيَّ شد ضمه میم را بکسره بدل کردند وَرَأَیْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ
[کړونو مُسْلِمِيَّ شو] [ضمه د میم مو په کسرې سره بدله کړه] [وَرَأَیْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ]
کړه نو مُسْلِمِيَّ شو ضمه د میم مو په کسرې سره بدله کړه وَرَأَیْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د هغې جمع مذکر سالمې اعراب چې مضاف وي یاء د متکلم ته بیانیږي.

تشریح : شپاړسم قسم د اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره جمع مذکر سالمه ده په هغه وخت کې چې کله د دې اضافت یاء د متکلم ته شوی وي لکه مُسْلِمِيَّ د دې اعراب په حالت رفعي کې واو مقدر دی او په حالت نصبي جري کې یاء ما قبل مکسور ده مُسْلِمِيَّ په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وو قاعده داده چې کله تثنیه او جمع مضاف کیږي نو نون د تثنیې او نون د

جمع په اضافت سره ساقطېږي نو د مُسْلِمُوْنَ نه مُسْلِمُوْیَ جوړ شو نو دلته د صرف قاعده داده چې واو او یاء جمع شي او مخکې په کې ساکن وي نو واو به په یاء باندې بدلېږي نو بیا دوه حروفه د یو جنس جمع شول نو د صرفو د قاعدې مطابق به دلته اوس ادغام کولې شي نو اولنې یاء مو په دویمه یاء د مُتکلم کې مدغمه کړه نو مُسْلِمِيَّ شو او یاء تقاضا د ما قبل کسرې کوي نو میم ته مو کسره ورکړه نو مُسْلِمِيَّ شو نو دلته واو مقدر دی ځکه ادغام د وجې نه واو یاء شو نو لفظاً باقي پاتې نه شو نو خامخا په حالت رفعي کې به مقدر منلی کېږي، وَرَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ، وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ، په دې دواړو حالتونو کې اعراب په یاء ما قبل کسرې سره دی.

سوال: کومه یاء د اعراب حرف دی؟

جواب: هغه یاء کومه چې په واو سره بدل شوې ده ځکه چې دویمه یاء کومه چې مدغم فیه ده، اسم دی او حرف نه دی.

سوال: د ادغام نه وروستو خو اوله یاء په دویمه کې مدغمه شوه نو گویا چې ختمه شوه نو بیا دلته کې اعراب لفظي څنگه شو دلته کې هم تقدیري په کار دی؟

جواب: اوله یاء خو صحیح ده چې په دویمه کې مدغمه شوه لیکن دا غلطه خبره ده چې ختمه شوه، ځکه که چېرته ختمه شوې وی نو بیا به مشدد نه ویلی کېده نو معلومه شوه چې په ادغام سره حرف ختمیږي نه نو لهذا اعراب یې په دواړو حالتونو کې لفظي وي دلته دا نتیجه راووتله چې اعراب بالحرف هم په دوه قسمه دی، لفظي وي دلته دا نتیجه راووتله چې اعراب بالحرف هم په دوه قسمه دی: لفظي، تقدیري. اعراب بالحرف لفظي لکه د شپږم نه تر اووم قسم پورې اعراب بالحرف تقدیري لکه د شپاړسم قسم حالت رفعي چې واو په کې مقدر دی.

فائده: د اسم متمکن په شپاړسو قسمونو کې په اتوو کې اعراب بالحرکت دی او په اتو کې اعراب بالحرف دی اگر چې په بعضې حالتونو کې لفظي دی او په بعضو حالتونو کې تقدیري دی په اول دویم دریم څلورم پنځم قسم کې په درې واړو حالتونو کې اعراب بالحرکت دی په پنځلسم قسم کې په درې واړو حالتونو کې اعراب بالحرکت دی په پنځلسم قسم کې په درې واړو حالتونو کې اعراب بالحرکت دی په پنځلسم قسم کې په دوو حالتونو کې تقدیري او په یو حالت کې نصبي کې لفظي دی په دیارلسم او څوارلسم قسم کې په درې واړه حالتونو کې اعراب بالحرکت تقدیري دی او په باقي اتوو کې شپږم، اووم، اتم، نهم، لسم یوولسم دولسم شپاړسم قسم کې اعراب بالحرف لفظي دی او د شپاړسم په حالت رفعي کې اعراب بالحرف تقدیري دی.

ترکیب: جاء مسلمي: جاء فعل مسلمي دا یې فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه.

و رائيت مسلمي : رائيت فعل فاعل ، مسلمي مفعول به ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به نه دا جمله فعليه خبريه.

مررت بمسلمي: مررت فعل فاعل باء حرف جر مسلمي مجرور ، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر مررت فعل پورې ، فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعليه خبريه.

په اعتبار د اعراب سره د اسم متمکن د اعراب اقسام:

شماره	اسم متمکن	په حالت رفعي کې	په حالت نصبي کې	په حالت جري کې
۱-	مفرد منصرف صحيح	لفظي ضمه	لفظي فتحه	لفظي کسره
۲-	مفرد منصرف جاري مجرى صحيح	لفظي ضمه	لفظي فتحه	لفظي کسره
۳-	جمع مکسر منصرف	لفظي ضمه	لفظي فتحه	لفظي کسره
۴-	جمع مؤنث سالم	ضمه لفظي	لفظي کسره	لفظي کسره
۵-	غير منصرف	ضمه لفظي	لفظي فتحه	لفظي فتحه
۶-	اسماء سته مکبره	واو لفظي	لفظي الف	لفظي ياء
۷-	حقيقي تثنيه	الف ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح
۸-	معنوي تثنيه	الف ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح
۹-	صورتاً تثنيه	الف ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح	ياء ماقبل مفتوح
۱۰-	حقيقي جمع	واو ماقبل مضموم	ياء ماقبل مكسور	ياء ماقبل مكسور
۱۱-	معنوي جمع	واو ماقبل مضموم	ياء ماقبل مكسور	ياء ماقبل مكسور
۱۲-	صورتاً جمع	واو ماقبل مضموم	ياء ماقبل مكسور	ياء ماقبل مكسور
۱۳-	اسم مقصور	تقديري ضمه	تقديري فتحه	تقديري کسره
۱۴-	غير جمع مذکر سالم مضاف په ياء متکلم سره	تقديري ضمه	تقديري فتحه	تقديري کسره
۱۵-	اسم منقوص	تقديري ضمه	لفظي فتحه	تقديري کسره

۱٦-	جمع مذکر سالم مضاف په یاء متکلم سره	تقدیري واو ماقبل مضموم	لفظي یاء ماقبل مکسور	لفظي یاء ماقبل مکسور

د مضارع اعراب :

فصل بدانکه اعراب مضارع سه است : رفع و نصب و جزم، فعل مضارع باعتبار
[فصل][پوه شه چي] [اعراب د مضارع دري دي][رفع][او نصب][او جزم][فعل مضارع په اعتبار د]
فصل : پوهه شه ! چي اعراب د مضارع دري (۳) دي:رفع، نصب،جزم ، فعل مضارع په اعتبار د
وجوه اعراب بر چهار قسم است : اول : صحیح مجرد از ضمیر بارز
[وجوه د اعراب] [په څلور] [قسمه دی] [اول] [صحیح چي خالي وي] [د ضمیر بارز]
وجوه د اعراب سره په څلور (۴) قسمه ده :اول قسم :مضارع صحیح ده چي خالي وي د ضمیر بارزه
مرفوع برای تثنیه و جمع مذکر و برای واحد مؤنث مخاطبه، رفعش
[مرفوع][کوم چي وي دپاره د تثنیي][او دجمع مذکر][او دپاره دواحد مؤنث مخاطب] [رفع به یې]
مرفوعه نه کوم چي د تثنیي او د جمع مذکر او د واحد مؤنث مخاطب د پاره وي ،رفع به یې په
بضمه باشد و نصب بفتحه و جزم بسکون چون : هُوَ يَضْرِبُ،
[په ضمې سره وي][او نصب په فتحې سره وي][او جزم یې په سکون سره وي][لکه][هُوَ يَضْرِبُ]
ضمې سره وي او نصب به یې په فتحې سره وي او جزم به یې په سکون سره وي لکه : هُوَ يَضْرِبُ،
وَلَنْ يَضْرِبَ، وَلَمْ يَضْرِبْ .دوم : مفرد معتل واوی چون : يَغْزُوَ ویائی
[لَنْ يَضْرِبَ] [او لَمْ يَضْرِبْ] [دویم] [مفرد معتل واوي دی] [لکه] [يَغْزُوَ] [او یائي]
لَنْ يَضْرِبَ او لَمْ يَضْرِبْ ، دویم قسم : مفرد معتل واوي دی لکه : يَغْزُوَ ، او بل یائي دی
چون : يَرْمِيْ، رفعش بتقدیر ضمه باشد و نصب بفتحه لفظی، و جزم
[لکه يَرْمِيْ][رفع به یې په تقدیر][د ضمې سره وي][او نصب به یې په فتحه لفظي سره وي][او جزم]
لکه يَرْمِيْ ، رفع به یې په تقدیر د ضمې سره وي ، او نصب په فتحې لفظي سره وي ، او جزم به یې

بحذف لام چون : هُوَ يَغْزُوْ وَيَرْمِيْ وَلَنْ يَغْزُوَ وَلَنْ يَرْمِيَ وَلَمْ يَغْزُ
[په حذف د لام سره] [لکه هُوَ يَغْزُوْ] [وَ يَرْمِيْ] [وَلَنْ يَغْزُوَ] [وَلَنْ يَرْمِيَ] [وَ لَمْ يَغْزُ]
په حذف د لام سره وي لکه : هُوَ يَغْزُوْ وَ يَرْمِيْ وَ لَنْ يَغْزُوَ وَ لَنْ يَرْمِيَ وَ لَمْ يَغْزُ
وَلَمْ يَرْمِ . سوم : مفرد معتل الفي چون : يَرْضَى ، رفعش بتقدير ضمه باشد
[وَلَمْ يَرْمِ] [دريم] [مفرد معتل الفي] [لکه يَرْضَى] [رفع به يې په تقدير د ضمې سره وي]
وَلَمْ يَرْمِ ، دريم قسم : مفرد معتل الفي لکه : يَرْضَى ، رفعه به يې په تقدير د ضمې سره وي ،
و نصب بتقدير فتحه و جزم بحذف لام چون : هُوَ يَرْضَى وَ لَنْ
[او نصب به يې] [په تقدير د فتحې سره وي] [او جزم يې په حذف د لام سره] [لکه هُوَ يَرْضَى] [وَلَنْ]
او نصب به يې په تقدير د فتحې سره وي ، او جزم يې په حذف د لام سره وي لکه : هُوَ يَرْضَى وَ لَنْ
يَرْضَى وَ لَمْ يَرْضَ .
[يَرْضَى] [وَلَمْ يَرْضَ].
يَرْضَى وَلَمْ يَرْضَ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د فعل مضارع اعراب بيانيږي .

تشريح : مخکې دا خبره معلومه شوه چې معرب دوه څيزونه دي : اسم متمکن، چې په ترکيب کې واقع شوی وي چې بيان يې په مختلفو شپاړسو قسمونو کې تفصيلاً تير شوی، فعل مضارع چې کله خالي وي د نون د جمع مؤنث غائب او حاضر نه او د نون تاکيد ثقيله او خفيفه نه نو دا اسم متمکن بيان خو ختم شو اوس د دې فصل نه د مضارع معرب بيان شروع کيږي.

د مضارع اعراب درې (۳) دي : په حالت رفعي کې ضمه، په حالت نصبي کې فتحه، په حالت جزمي کې سکون مصنف رحمة الله عليه د مضارع د معرب کيدو څلور طريقې بيان کړي دي .

د څلورو قسمونو د بيان نه مخکې ځان په يوه خبره پوه کول په کار دي چې څلور واړه قسمونه ذهن ته ښه راشي دا خبره په علم الصرف کې معلومه شوې ده، چې د مضارع څوارلس (۱۴) صيغې دي دوه صيغې يعنې د جمع مؤنث غائب او حاضر خو مبني

دي باقي پاتې شوې دوولس نو اووه صيغې خو په کې داسې دي چې نون اعرابي او ضمير د فاعل ورسره لګېدلې وي يعني څلور د تثنيې يَضْرِبَانِ يَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ تَضْرِبَانِ او دوه د جمع مذکر غائب او حاضر يَضْرِبُوْنَ تَضْرِبُوْنَ او يوه د واحد مؤنث حاضر تَضْرِبِيْنَ باقي پاتې شوې پنځه صيغې واحد مذکر غائب، واحد مؤنث غائب، واحد مذکر حاضر، واحد متکلم، تثنيه و جمع متکلم يَضْرِبُ تَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ نو دا پنځه طبقې به يا صحيح وي يعني د لام کلمې په ځای به حرف علت نه وي يا به صحيح نه وي (يعني د لام کلمې په ځای به حرف علت وي نو د لام کلمې په ځای به حرف علت خو يا واو وي يا به ياء وي يا به الف وي نو لکه د لام کلمه په ځای واو وو نو معتل واوي به وي او که ياء وي نو معتل يائي او که الف وي نو معتل الفي به وي نو که چېرته دغه پنځه صيغې صحيح وي، نو د دې اعراب مصنف په قسم اول کې بيان کړي دي چې:

﴿قوله: اول صحيح مجرد از ضمير بارز مرفوع﴾ يعني اول هغه مضارع چې هغه صحيح وي معتل نه وي او خالي وي د ظاهر ضمير د فاعل نه کوم چې د تثنيې لپاره او د جمع مذکر د پاره او د واحد مؤنث حاضر لپاره وي نو چې کله مضارع صحيح د تثنيې د ضمير نه او د جمع مذکر د ضمير نه او د واحد مؤنث حاضر د ضمير نه خالي وي نو مطلب به يې دا شي چې نه تثنيه وي او نه جمع مذکر غائب او حاضر وي او نه واحد مؤنث حاضر وي نو نتيجه يې دغه مذکورې پنځه صيغې راووتې ځکه چې دغه پنځه صيغې داسې دي چې په کې د فاعل ضمير ظاهر تثنيه بلکې ضمير د فاعل په کې پټ وي.
خو د لته د صحيح نه هغه صحيح مراد نه دی کوم چې د صرفي حضراتو په اصطلاح کې دی بلکې دلته هغه صحيح مراد دی کوم چې د نحويانو په اصطلاح کې دی، د نحويانو په اصطلاح کې صحيح هغې ته ويلې کيږي د کوم په آخر کې چې حرف علت نه وي لهذا مهموز او مثال او مضاعف او اجوف ټول صحيح کې داخل دی.

د اول قسم اعراب: په حالت رفعي کې به رفع وي او په حالت نصبي کې به نصب وي او په حالت جزمي کې به سکون وي لکه هُوَ يَضْرِبُ هِيَ تَضْرِبُ. اَنْتَ تَضْرِبُ اَنَا اَضْرِبُ نَحْنُ نَضْرِبُ دا حالت رفعي شو ځکه په دې پنځه وارو مثالونو کې مضارع خبر د مبتداء واقع شوی دی.

حالت نصبي: لَنْ يَضْرِبَ لَنْ تَضْرِبَ لَنْ تَضْرِبَ لَنْ اَضْرِبَ لَنْ نَضْرِبَ په دې کې لن عامل ناصبه دی د دې وجې نه په مضارع په پنځه وارو کې منصوبه وي.

حالت جزمي: لَمْ يَضْرِبْ لَمْ تَضْرِبْ لَمْ تَضْرِبْ لَمْ اَضْرِبْ لَمْ نَضْرِبْ په دې پنځه واړه صيغو کې د لم د وجې نه مضارع ته جزم ورکړې شوې دی او که چېرته دا پنځه واړه معتل واوي يا معتل يائي وي نو د دواړو قسمونو اعراب

به یو وي یعني په حالت رفعي کې به ضمه مقدره وي او په حالت نصبي کې به فتحه لفظي وي او په حالت جزمي کې به د لام کلمه غورځېږي د حرف علت کېدو د وجې نه، مثال د معتل واوي لکه: يَغْزُو تَغْزُو تَغْزُو اَغْزُو نَغْزُو.

حالت رفعي: وَهُوَ يَغْزُو هِيَ تَغْزُو هِيَ تَغْزُو اَنَا اَغْزُو نَحْنُ نَغْزُو په دې پنځه واړه کې ضمه مقدره ده.

حالت نصبي: لَنْ يَغْزُوَ لَنْ تَغْزُوَ لَنْ تَغْزُوَ لَنْ اَغْزُوَ لَنْ نَغْزُوَ، په دې پنځه واړو کې فتحه لفظاً ده.

حالت جزمي: لَمْ يَغْزُ لَمْ تَغْزُ لَمْ تَغْزُ لَمْ اَغْزُ لَمْ نَغْزُ.

په دې پنځه واړه کې د عامل جازمه د وجې نه حرف علت واو غورځېدلی دی مثال د معتل يائي: يَرْمِيْ، تَرْمِيْ، تَرْمِيْ، اَرْمِيْ، نَرْمِيْ.

حالت رفعي: هُوَ يَرْمِيْ هِيَ تَرْمِيْ اَنْتَ تَرْمِيْ اَنَا اَرْمِيْ نَحْنُ نَرْمِيْ په دوي کې هم د معتل واوي په شان ضمه مقدره ده.

حالت نصبي: لَنْ يَرْمِيَ لَنْ تَرْمِيَ لَنْ تَرْمِيَ لَنْ اَرْمِيَ، لَنْ نَرْمِيَ په دې حالت کې به د عامل ناصب د وجې نه فتحه لفظاً وي.

حالت جزمي: لَمْ يَرْمِ لَمْ تَرْمِ لَمْ تَرْمِ لَمْ اَرْمِ لَمْ نَرْمِ.

په دې پنځه واړو کې د عامل جازمه د وجې نه حرف علت غورځېدلی دی، د دې دواړو قسمونو اعراب مصنف په دویم قسم کې بیان کړي دي، مثال د معتل الفي: يَرْضٰى تَرْضٰى تَرْضٰى اَرْضٰى، نَرْضٰى، د دې حالت رفعي به په تقدير د ضمې سره او حالت نصبي په تقدير د فتحې سره او حالت جزمي په حذف د لام کلمې سره دی.

حالت رفعي: هُوَ يَرْضٰى هِيَ تَرْضٰى اَنْتَ تَرْضٰى اَنَا اَرْضٰى نَحْنُ نَرْضٰى.

په دې پنځو کې ضمه تقديري ده ځکه په دوی کې حرف علت **الف** دی او **الف** حرکت نه قبلوي.

حالت نصبي: لَنْ يَرْضٰى لَنْ تَرْضٰى لَنْ تَرْضٰى لَنْ اَرْضٰى لَنْ نَرْضٰى، په دې پنځو کې هم فتحه تقديري ده.

حالت جزمي: لَمْ يَرْضَ لَمْ تَرْضَ لَمْ تَرْضَ لَمْ اَرْضَ لَمْ نَرْضَ په دې پنځو کې حرف علت د عامل جازمه د وجې نه غورځېدلی دی. تر دې ځای پورې خو د پنځو صيغو حالت د اعراب په لحاظ سره بیان کړې شو.

8

ترکیب: هو یضرب: هومبتدا، **یضرب** فعل ضمیر په کې مستترچې هودی هغه یې فاعل، فعل سره دفاعل نه دا خبرشو دپاره دمبتداء، مبتدا سره دخبرنه جمله اسمیه ځکه چې ددې په اول کې حرف اسم دی. **لن یضرب:** لن ناصبه **یضرب** فعل ضمیر په کې مستتر چې **هُو** دی هغه یې فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه ناصبه. **لم یضرب:** لم جازمه **یضرب** فعل هو ضمیرورته فاعل، فعل سره دفاعل نه جمله فعلیه خبریه جازمه.

ددې نورو ترکیب په همدې ترکیب باندې قیاس کړه.

چهارم صحیح یا معتل با ضمائر ونونهای مذکوره ' رفع شان
[څلورم قسم] [صحیح یا معتل] [سره د ضمائرو] [او] [سره د نوناتو مذکورو نه] [رفع به یې]
څلورم قسم: صحیح یا معتل دي سره د ضمائرو او نوناتو نه چې ذکر دي په متن کې، رفع به یې
باثبات نون باشد چنانکه در تثنیه گوئی: هُمَا يَضْرِبَانِ وَيَغْزُوَانِ وَيَرْمِيَانِ
[په اثبات] [دنون سره وي] [نو په تثنیه کې به وایې] [هُمَا يَضْرِبَانِ] [وَيَغْزُوَانِ] [وَيَرْمِيَانِ]
په اثبات د نون سره وي، لکه په تثنیه کې به وایې: هُمَا يَضْرِبَانِ وَ يَغْزُوَانِ وَ يَرْمِيَانِ
وَيَرْضَيَانِ ودر جمع مذکر گوئی: هُمْ يَضْرِبُوْنَ وَيَغْزُوْنَ وَيَرْمُوْنَ وَيَرْضَوْنَ '
[وَيَرْضَيَانِ] [او په جمع مذکر کې به وایې] [هُمْ يَضْرِبُوْنَ وَيَغْزُوْنَ وَيَرْمُوْنَ وَيَرْضَوْنَ]
وَيَرْضَيَانِ، او په جمع مذکر کې به وایې: هُمْ يَضْرِبُوْنَ وَيَغْزُوْنَ وَ يَرْمُوْنَ وَيَرْضَوْنَ
ودر مفرد مؤنث حاضر گوئی: أَنْتِ تَضْرِبِيْنَ وَتَغْزِيْنَ وَتَرْمِيْنَ وَتَرْضَيْنَ '
[او په مفرد مؤنث حاضر کې به وایې] [أَنْتِ تَضْرِبِيْنَ وَ تَغْزِيْنَ وَ تَرْمِيْنَ وَ تَرْضَيْنَ]
او په مفرد مؤنث حاضر کې به وایې: أَنْتِ تَضْرِبِيْنَ وَ تَغْزِيْنَ وَ تَرْمِيْنَ وَ تَرْضَيْنَ،
ونصب وجزم بحذف نون چنانکه در تثنیه گوئی: لَنْ يَضْرِبَا وَلَنْ يَغْزُوَا
[او نصب او جزم] [دا په حذف د نون سره وي] [لکه په تثنیه کې به وایې] [لَنْ يَضْرِبَا وَلَنْ يَغْزُوَا]
او نصب او جزم دا په حذف د نون سره وي لکه په تثنیه کې به وایې: لَنْ يَضْرِبَا وَلَنْ يَغْزُوَا

وَلَنْ يَرْمِيَا وَلَنْ يَرْضَيَا وَلَمْ يَضْرِبَا وَلَمْ يَغْزُوَا وَلَمْ يَرْمِيَا وَلَمْ يَرْضَيَا
[وَلَنْ يَرْمِيَا وَلَنْ يَرْضَيَا وَلَمْ يَضْرِبَا وَ لَمْ يَغْزُوَا وَ لَمْ يَرْمِيَا وَ لَمْ يَرْضَيَا]
وَلَنْ يَرْمِيَا وَلَنْ يَرْضَيَا وَلَمْ يَضْرِبَا وَ لَمْ يَغْزُوَا وَلَمْ يَرْمِيَا وَلَمْ يَرْضَيَا،
و در جمع مذکر گوئی : لَنْ يَضْرِبُوْا وَلَنْ يَغْزُوْا وَلَنْ يَرْمُوْا وَلَنْ يَرْضَوْا وَلَمْ
[او په جمع مذكر كې به وايې][لَنْ يَضْرِبُوْا وَلَنْ يَغْزُوْا وَلَنْ يَرْمُوْا وَلَنْ يَرْضَوْا وَلَمْ]
او په جمع مذكر كې به وايې : لَنْ يَضْرِبُوْا وَلَنْ يَغْزُوْا وَلَنْ يَرْمُوْا وَلَنْ يَرْضَوْا وَلَمْ
يَضْرِبُوْا وَلَمْ يَغْزُوْا وَلَمْ يَرْمُوْا وَلَمْ يَرْضَوْا ' و در واحد مؤنث حاضر گوئی:
[يَضْرِبُوْا وَلَمْ يَغْزُوْا وَلَمْ يَرْمُوْا وَلَمْ يَرْضَوْا] [او په واحد] [مؤنث حاضر كې] [به وايې]
يَضْرِبُوْا ، وَلَمْ يَغْزُوْا ، وَلَمْ يَرْمُوْا ، وَلَمْ يَرْضَوْا ، او په واحد مؤنث حاضر كې به وايې
لَنْ تَضْرِبِيْ وَلَنْ تَغْزِيْ وَ لَنْ تَرْمِيْ وَلَنْ تَرْضَيْ وَلَمْ تَضْرِبِيْ وَلَمْ تَغْزِيْ
[لَنْ تَضْرِبِيْ وَ لَنْ تَغْزِيْ وَ لَنْ تَرْمِيْ وَ لَنْ تَرْضَيْ وَ لَمْ تَضْرِبِيْ وَلَمْ تَغْزِيْ]
لَنْ تَضْرِبِيْ وَلَنْ تَغْزِيْ وَ لَنْ تَرْمِيْ وَ لَنْ تَرْضَيْ وَ لَمْ تَضْرِبِيْ وَلَمْ تَغْزِيْ
وَلَمْ تَرْمِيْ وَلَمْ تَرْضَيْ.
[وَلَمْ تَرْمِيْ وَلَمْ تَرْضَيْ].
وَلَمْ تَرْمِيْ وَلَمْ تَرْضَيْ.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د كتاب د باقي اوو صيغو اعراب بيانوي.

تشريح : د دې ځای نه مصنف رحمة الله عليه د باقي اوو صيغو اعراب بيانوي، يعنې دوه د جمع مذكر غائب او حاضر او يوه د واحد مؤنث حاضر او څلور د تثنيې دا اووه واړه صيغې كه صحيح وي كه معتل واوي وي كه معتل يائي وي كه معتل الفي وي نو د ټولو اعراب يو شان دی د دوي اعراب په حالت رفعي كې په ټولو صيغو كې نون اعرابي پاتې پرېښودل او په حالت نصبي او جزمي كې د ټولو نه نون اعرابي غورځول دا د دوي اعراب دی.

د تثنيې د حالت رفعي مثالونه (صحيح): هُمَا يَضْرِبَانِ، هُمَا تَضْرِبَانِ، اَنْتُمَا تَضْرِبَانِ، اَنْتُمَا تَضْرِبَانِ.

د معتل واوي د تثنيې مثال: هُمَا يَغْزُوَانِ هُمَا تَغْزُوَانِ، اَنْتُمَا تَغْزُوَانِ، اَنْتُمَا تَغْزُوَانِ.

د معتل يائي د تثنيې مثال: هُمَا يَرْمِيَانِ، هُمَا تَرْمِيَانِ، اَنْتُمَا تَرْمِيَانِ، اَنْتُمَا تَرْمِيَانِ.

د معتل الفي د تثنيې مثال: هُمَا يَرْضِيَانِ، هُمَا تَرْضِيَانِ، اَنْتُمَا تَرْضِيَانِ، اَنْتُمَا تَرْضِيَانِ.

د تثنيې د حالت نصبي مثالونه: لَنْ يَضْرِبَا، لَنْ تَضْرِبَا، لَنْ تَضْرِبَا، لَنْ تَضْرِبَا.

د معتل واوي مثالونه: لَنْ يَغْزُوَا، لَنْ تَغْزُوَا، لَنْ تَغْزُوَا، لَنْ تَغْزُوَا.

د معتل يائی مثالونه: لَنْ يَرْمِيَا، لَنْ تَرْمِيَا، لَنْ تَرْمِيَا، لَنْ تَرْمِيَا.

د تثنيې د حالت جزمي مثالونه (صحيح): لَمْ يَضْرِبَا، لَمْ تَضْرِبَا، لَمْ تَضْرِبَا لَمْ تَضْرِبَا.

معتل واوي حالت جزمي: لَمْ يَغْزُوَا، لَمْ تَغْزُوَا، لَمْ تَغْزُوَا، لَمْ تَغْزُوَا.

معتل يائي حالت جزمي: لَمْ يَرْمِيَا، لَمْ تَرْمِيَا، لَمْ تَرْمِيَا، لَمْ تَرْمِيَا.

معتل الفي حالت جزمي: لَمْ يَرْضِيَا، لَمْ تَرْضِيَا، لَمْ تَرْضِيَا، لَمْ تَرْضِيَا.

د جمع مذكر غائب مثالونه: جمع مذكر غائب حالت رفعي: هُمْ يَضْرِبُوْنَ، هُمْ يَغْزُوْنَ، هُمْ يَرْمُوْنَ، هُمْ يَرْضُوْنَ.

جمع مذكر غائب حالت نصبي: لَنْ يَضْرِبُوْا، لَنْ يَغْزُوْا، لَنْ يَرْمُوْا، لَنْ يَرْضُوْا.

جمع مذكر غائب حالت جزمي: لَمْ يَضْرِبُوْا، لَمْ يَغْزُوْا، لَمْ يَرْمُوْا، لَمْ يَرْضُوْا.

د جمع مذكر حاضر مثالونه: جمع مذكر حاضر حالت رفعي: اَنْتُمْ تَضْرِبُوْنَ، اَنْتُمْ تَغْزُوْنَ، اَنْتُمْ تَرْمُوْنَ، اَنْتُمْ تَرْضُوْنَ.

جمع مذكر حاضر حالت نصبي: لَنْ تَضْرِبُوْا، لَنْ تَغْزُوْا، لَنْ تَرْمُوْا، لَنْ تَرْضُوْا.

جمع مذكر حاضر حالت جزمي: لَمْ تَضْرِبُوْا، لَمْ تَغْزُوْا، لَمْ تَرْمُوْا، لَمْ تَرْضُوْا.

دواحدمؤنث حاضرمثالونه : واحدمؤنث حاضر حالت رفعي :اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ، اَنْتِ تَغْزِيْنَ، اَنْتِ تَرْمِيْنَ، اَنْتِ تَرْضِيْنَ.

واحد مؤنث حاضر حالت نصبي : لَنْ تَضْرِبِيْ، لَنْ تَغْزِيْ، لَنْ تَرْمِيْ، لَنْ تَرْضِيْ.

واحد مؤنث حاضر حالت جزمي :لَمْ تَضْرِبِيْ، لَمْ تَغْزِيْ، لَمْ تَرْمِيْ، لَمْ تَرْضِيْ.

نو خلاصه دا شوه چې د دې اوو صيغو اعراب دی او په څلورم نمبر کې مصنف هم دا بيان کړی دی د مضارع اعراب ختم شو.

ترکيب : هما يضربان ويغزوان ويرميان ويرضيان : هما مبتداء **يضربان** فعل الف د تثنيې په کې فاعل فعل سره د فاعل نه معطوف عليه، واو عاطفه **يغزوان**، معطوف اول، واو عاطفه **يرميان** معطوف ثاني، واو عاطفه **يرضيان**، معطوف ثالث، معطوف عليه سره د دري واړو معطوفاتو نه دا خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه. د دې نورو ترکيب هم د همدې په شان وکړي.

لن يضربا ولن يغزوا ولن يرميا ولن يرضيا: لن ناصبه **يضربا** فعل الف تثنيه ورته فاعل فعل سره د فاعل دا معطوف عليه، **ولن يغزوا ولن يرميا ولن يرضيا**، دا ټول ورته معطوفات دی معطوف عليه سره د ټولو معطوفاتو نه جمله فعليه خبريه. د دې نورو ترکيب هم د همدې په شان وکړي.

لن يضربوا ولن يغزوا ولن يرموا ولن يرضوا : د دې ترکيب د مخکې تثنيې په شان دی.

او د **لم يضربا** ترکيب هم د **لن يضربا** په شان وکړي.

په اعتبار د اعراب سره د فعل مضارع اقسام :

شماره	فعل مضارع	په حالت رفعي کې	په حالت نصبي کې	په حالت جري کې
۱-	مفرد صحيح مجرد د ضمائر بارزو نه	لفظي ضمه	لفظي فتحه	سکون د لام
۲-	مفرد معتل واوي او يائي مجرد د ضمائر بارزو نه	تقديري ضمه	لفظي فتحه	حذف د لام
۳-	مفرد معتل الفي مجرد د ضمائر بارزو نه	تقديري ضمه	تقديري فتحه	حذف د لام
۴-	صحيح يا معتل چې مشتمل وي په ضمائرو بارزو باندې	اثبات د نون اعرابي	ساقط کول د نون اعرابي	ساقط کول د نون اعرابي

د اعراب د عواملو تقسیم :

فصل : بدانکه عوامل اعراب بردو قسم است : لفظی و معنوی ' لفظی بر سه
[فصل][پوهه شه چې] [عوامل د اعراب] [په دوه قسمه دی] [لفظي] [او معنوي] [لفظي په دري]
فصل : پوهه شه ! چې عوامل د اعراب په دوه (۲) قسمه دی : لفظي او معنوي ، لفظي په درې قسمه
قسم است حروف وافعال واسماء ' واین رادر سه باب یاد کنیم ان شاء الله تعالی
[قسمه دی] [حروف او افعال او اسماء] [او دا به] [په دري بابونو کې یاد کړو **إن شاء الله تعالی**]
دی : حروف ، افعال او اسماء او دا درې واړه به په درې بابونو کې ذکر کړو **إن شاء الله تعالی**.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اعراب د عواملو اقسام بیانیږي .

تشریح : په معرب اسم یا به مضارع معرب کې چې کوم عوامل اعراب پیدا کوي نو د هغه لپاره دوه قسمونه دي : عامل لفظي ، عامل معنوي بیا د عامل لفظي درې قسمونه دي : حروف عامله ، افعال عامله ، اسماء عامله .(قابل غور)
حروف عامله به په یو باب کې جدا بیانیږي او افعال عامله او اسماء عامله به هم په جدا جدا بابونو کې بیانیږي :

اول باب په بیان د حروف عامله کې :

باب اول در حروف عامله ودرو دو فصل است : فصل اول : در حروف
[اول باب] [په بیان د حروف عاملو کې] [او په دې کې] [دوه فصله دی] [اول فصل] [په بیان د حروفو]
اول باب په بیان د حروف عاملو کې او په دې کې دوه (۲) فصله دي : اول فصل په بیان د حروف
عامله در اسم ' وآن پنج قسم است :
[عاملو په اسم کې] [او دا په] [پنځه قسمه دي] .
عاملو د اسم کې دی او دا په پنځه قسمه دی .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رحمة الله علیه د حروفو عاملو بیان کوي .

تشریح : په اول باب کې به حروف عامله بیانولې شي او په دې باب کې دوه فصلونه دي : په اول فصل کې به هغه حروف بیانیږي کوم چې په اسم کې عمل کوي او په فعل کې عمل نه کوي او په دویم فصل کې به هغه حروف بیانیږي چې په مضارع کې عمل کوي او په اسم کې عمل نه کوي .

۱) حروف جاره :

قسم اول حروف جر و آن هفتده است : باو من والی و حتی و فی ولام ورب
[اول قسم] [حروف جاره] [او دا اولس دی] [بَاء] [مِنْ] [إِلٰى] [حَتّٰى] [فِيْ] [لام] [رُبَّ]
اول قسم : حروف جاره دی او دا اولس (۱۷) دي : بَاء ، مِنْ ، إِلٰى ، حَتّٰى ، فِيْ ، لام ، رُبَّ ،
و واو قسم و تاء قسم و عن و علی وکاف تشبیه و مذ و منذ و حاشا وخلا وعدا '
[واو قسم] [تاء قسم] [عَنْ] [علی] [کاف تشبیه] [مُذْ] [مُنْذُ] [حَاشَا] [خَلا] [عَدَا]
واو قسم ، تاء قسم ، عَنْ ، علی ، کاف تشبیه ، مُذْ ، مُنْذُ ، حَاشَا ، خَلا ، عَدَا ،
این حروف در اسم روند وآخرش را بجر کنند ' چون : اَلْمَالُ لِزَيْدٍ .
[دغه حروف] [په اسم] [داخلیږي] [او آخر ته] [جرور کوي] [لکه اَلْمَالُ لِزَيْدٍ] .
دغه حروف په اسم داخلیږي او آخر ته جرور کوي لکه : اَلْمَالُ لِزَيْدٍ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف علیه الرحمة د حروفو جارو بیان کوي .

تشریح : د حروف جاره تعریف: حروف جاره هغه حروف دی چې کوم فعل یا معنی فعل خپل مدخول طرف ته ورسوي .**د شبه فعل تعریف** :شبه فعل هغه اسم دې کوم چې د فعل په شان عمل کوي او د فعل د مادې نه وي لکه مصدر او اسم فاعل او اسم مفعول او صفت مشبه وغیره .**د معنی فعل تعریف** : دا هغه دی د کوم نه چې معنی د فعل مستنبط وي لیکن هغه د مادې د فعل نه ، نه وي لکه : اسم اشاره ، اسماء افعال ، حروف تنبیه ، ظرف ، جار مجرور ، حروف تمنی ، حروف ترجي ، حروف تشبیه ، دا په معنی باندې دلالت کوي لیکن د فعل د مادې نه ، نه دي .هغه حروف چې عمل کوي په اسم کې نو په هغې کې اول حروف جاره دي، حروف جاره اولس (۱۷) دي ، په یادولو کې د اسانی لپاره په دې شعر کې را جمع شوي دي : بَاو تَا و کَاف و لَام وَاو و مُذْ مُنْذُ خَلا ... رُبَّ حَاشَا مِنْ عَدَا فِيْ عَنْ عَلٰى حَتّٰى إِلٰى

دا حروف په اسم داخلیږي او د خپل مدخول آخري حرف له جرور کوي لکه اَلْمَالُ لِزَيْدٍ نو په لِزَيْدٍ کې لام حرف جر دی او زید یې مدخول دی او د زید آخر حرف ته یې جرور کړې دی . حروف جاره په ضمائرو او اسم ظاهر دواړو باندې داخلیږي البته بعضې حروف صرف په اسم ظاهر باندې داخلیږي ، ضمائرو باندې نه داخلیږي لکه : ک ، تا ، واو ، مُنْذُ ، مُذْ ، خَلا ،

عَدَا وغیره، که حروف جاره په ضمیر باندې داخل وي نو دې ضمیر ته ضمیر مجرور متصل ویلې کیږي لکه بِهٖ ، بِهِمْ ، لَهٗ ، لَنَا ، عَلَیْهِ ، عَلَیْنَا ، فِیْهِ ، فِیْنَا ، عَنْهُ ، عَنَّا ، إِلَیْهِ ، إِلَیْنَا .

که په اسم ظاهر باندې داخل وي لکه : بِالْقَلَمِ د قلم په ذریعې سره ، تَاللّٰهِ د الله قسم ، كَالْأَنْعَامِ ، د څناورو په شان ، لِلّٰهِ الله دپاره ، وَاللّٰهِ دالله قسم ، مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ د مسجد حرام نه ، فِي الْقِصَاصِ ،قصاص کې ، عَلَى الْفُلْكِ په کشتی باندې ، إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَىٰ مسجد اقصی پورې ، مِنْ قَوْلِكَ ستاد قول نه ، حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ تر سحره پورې .

حروف جاره د پاره د یو متعلق کیدل ضروري دی او متعلق فعل یا شبه فعل (اسماء مشتقات :اسم فاعل ،اسم مفعول ، صفت مشبه ، مصدر اسم تفضیل) وي که متعلق عبارت کې موجود وي نو دې ته ظرف لغو ویلې کیږي لکه فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

ترکیب : فَتَحَ فعل اللّٰهُ فاعل عَلَى جاره كُمْ ضمیر مجرور متصل ، جار د خپل مجرور سره د فَتَحَ فعل سره متعلق شو فعل سره د خپل فاعل او سره د متعلق جمله فعلیه خبریه شوه ، همدارنګې يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ ، يُؤْمِنُوْنَ فعل واو ضمیر بارز فاعل ، بآ جاره ، الْغَيْبِ مجرور ، جار مجرور متعلق شو تر يُؤْمِنُوْنَ فعل پورې ، فعل سره د خپل فاعل او سره د متعلق جمله فعلیه خبریه .

المال لزید : المال مبتدا ، لام جار زید مجرور جار سره د مجرور نه ظرف مستقر دا متعلق شو تر ثابت پورې ، ثابت اسم فاعل سره د فاعله چې هو دی دا یې فاعل ، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلقه شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه .

۲) مشبه بالفعل :

دوم حروف مشبہ بفعل وآن شش است إِنَّ وَأَنَّ وَكَأَنَّ وَلٰكِنَّ وَلَيْتَ وَلَعَلَّ
[دوهم] [حروف مشبه بالفعل] [او دا] [شپږ حروف دی] [إِنَّ وَأَنَّ وَكَأَنَّ وَلٰكِنَّ وَلَيْتَ وَلَعَلَّ]
دویم قسم حروف مشبه بالفعل دی او دا شپږ حروف دی : إِنَّ وَأَنَّ وَكَأَنَّ وَلٰكِنَّ وَلَيْتَ وَلَعَلَّ ،
این حروف را اسمی باید منصوب وخبری مرفوع چون إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ زید را
[دا حروف] [باید اسم ته] [نصب] [او خبرته] [رفع ورکړي] [لکه إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ] [زید ته]
ددې حروفو اسم باید منصوب او خبر یې مرفوع وي ،لکه : إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ ، زید ته

اسم إِنَّ گویند، وقَائِمٌ راخبرإِنَّ. بدانکه إِنَّ وَأَنَّ حروف تحقیق است وكَأَنَّ
[اسم د إِنَّ وايي][او قَائِمٌ ته][خبر د إِنَّ][پوه شه چې إِنَّ][او أَنَّ حروف تحقیق دی][او كَأَنَّ]
اسم د إِنَّ وايي او قَائِمٌ ته خبر د إِنَّ ، پوه شه ! چې إِنَّ او أَنَّ حروف تحقیق دی ، او كَأَنَّ
حرف تشبیه، ولٰكِنَّ حرف استدراک، ولَیْتَ حرف تمنی، ولَعَلَّ حرف ترجی.
[حرف تشبیه][او][لٰكِنَّ حرف استدراک][او][لَیْتَ حرف تمنی][او][لَعَلَّ حرف ترجي دي].
حرف تشبیه دی ، او لٰكِنَّ حرف استدراک دی ، او لَیْتَ حرف تمني دی ، او لَعَلَّ حرف ترجي دي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د حروف مشبه بالفعل بیان کیږي.

تشریح : حروف مشبه بالفعل شپږ(٦) حروف دی : (١)إِنَّ ، أَنَّ ، كَأَنَّ ، لٰكِنَّ ، لَیْتَ ، لَعَلَّ ددې متعلق دري خبرې یادې ساتئ دې ته مشبه بالفعل ولې ویلي کیږي؟ ددې څه معنی ده ؟ ددې عمل څه دی؟د مشبه بالفعل مطلب د فعل مشابه کیدل دی او دا حروف په مختلفو شیانو (د حروف تعداد ، معنی او عمل کې یو اسم ته نصب او دویم ته رفع ورکولو) کې د فعل مشابه وي .د مشبه بالفعل د معانیو وضاحت ددې مثالونو نه واضحه کیږي چې : إِنَّ او أَنَّ د تاکید معنی (یقیناً ، بې شکه) باندې دلالت کوي چې ددې نه خبر د شک نه پاکیږي او په جمله کې زور او تاکید پیدا کیږي ، كَأَنَّ تشبیه د پاره راځي لَیْتَ تمنا او آرزو باندې دلالت کوي ، لَعَلَّ ترجي معنی امید او د توقع فائده ورکوي او لٰكِنَّ استدراک یعني د غلط فهمي د لرې کولو د پاره راځي لکه د سابقه کلام نه یو داسې خبره معلومیږي چې د حقیقت نه خلاف وي نو د لٰكِنَّ نه پس دا مفهوم لرې کیږي مثلاً زید ډیر سخي دی نو چې کله قائل وویل زَیْدٌ جَوَادٌ نو اوریدونکي ته دا وهم وشو چې بهادر به هم وي نو قائل په لٰكِنَّ سره دا وهم لرې کړو یعنې زَیْدٌ جَوَادٌ لٰكِنَّهُ جَبَانٌ نو قائل د لٰكِنَّ په ذریعې سره هغه وهم لرې کوي چې کوم د سابقه کلام په بناء باندې ؤ .

د حروف مشبه بالفعل عمل دادی چې دا حروف په جمله اسمیه یعنې په مبتداء ، او خبر باندې داخلیږي او مبتداء منصوب او خبر مرفوع جوړوي ددې اسم چونکې حقیقت کې مبتداء وي لهذا د مبتداء چې څومره صورتونه ؤ هغه دلته هم جاري کیږي ، یعنې کله ددې اسم د ضمیر په صورت کې به وي لکه : إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ، کله اسم اشاره لکه : إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا ، کله اسم موصول ، کله اسم ظاهر ، بیا کله مفرد ، کله مرکب او خبر هم کله مفرد او کله مرکب وي .

فائده : چونکې د حروف مشبه بالفعل عمل نصب ورکول دی، نو ځکه ددې حروفو متصل چې کوم ضمیر وي هغې ته ضمیر متصل ویلي کیږي لکه: إِنَّه ، إِنَّنَا ، لَيْتَهُ ، لَيْتَنِيْ ، لَعَلَّه ، لَعَلَّنَا ، كَأَنَّهُ ، كَأَنَّنَا .بعضې وخت کې د حروف مشبه بالفعل نه پس **ما** کافه راځي ، **كافه** په معنی د منع کول او چونکې دا **ما** حروف مشبه بالفعل عمل منع کوي نو ځکه دې ته ما کافه وايي په دې صورت کې دا حروف عمل نه کوي او افعالو باندې هم داخلیږي ، **إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ** (اهل ایمان په خپل مینځ کې سره وروڼه دی) **إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ** (زه خو ستاسو په شان یو انسان یم).

په **إِنَّمَا** باندې مشتمل جملې ترکیب به داسې کولې کیږي مثلاً : **إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِ اللهِ** ، **إِنَّمَا** ان حرف مشبه بالفعل ، **ما** کافه ، **يفتري** فعل ، **الكذب** مفعول به مقدم ، **الذين** اسم موصول **لايؤمنون** فعل سره د فاعل (واو ضمیر بارز فاعل) **بآيات الله با** جاره **آيات** مضاف **الله** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه مجرور ، جار سره د مجرور نه ظرف لغو د پاره د **يؤمنون** فعل ، فعل سره د خپل فاعل او سره د متعلق صله د پاره د موصول ، موصول سره د خپلې صلې دا فاعل شو د پاره د **يفتري** فعل ، **يفتري** فعل سره د خپل فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه شوه.

ترکیب : **ان زيداً قائم** : ان دا حرف دی د حروفو مشبه بالفعل نه **زيدا** اسم د ان او **قائم** خبر د ان ، ان سره د اسم او سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

۳) ما و لا مشبه بلیس :

سوم : ماولاالمشبهتان بہ لیس ، وآن عمل لَيْسَ می کنند ، گوئی : مَا زَيْدٌ
[دریم] [ما ولا] [چې مشابه وي] [د لَيْسَ سره] [او دا] [عمل د لیس کوي] [لکه وایي به] [مَا زَيْدٌ]
دریم قسم : **ما و لا** چې مشابه وي د **لَيْسَ** سره ، او دا عمل د **لَيْسَ** کوي ، لکه وایي به : مَا زَيْدٌ
قَائِماً ، زید اسم مَا است و قَائِماً خبر او .
[**قَائِماً**] [**زيد**] [اسم د **مَا**] [او **قَائِماً**] [خبر د **مَا**].
قَائِماً ، **زيد** اسم د **مَا** او **قَائِماً** خبر د **مَا**.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د هغه ما و لا چې مشابه دی د لیس سره بیان کیږي.

تشريح : دريم قسم په حروف عامله کې هغه **ما** او **لا** دي چې د **ليس** سره مشابه وي دا دواړه حروف د **ليس** په شان عمل کوي يعني اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي لکه **ما زيد قائماً زيد** اسم د **ما** دی او **قائماً** یې خبر دی.

سوال: د **ما** او د **لا** د **ليس** سره مشابهت څنګه دی؟ **جواب:** د **ما** او د **لا** د **ليس** سره مشابهت صرف د دوو وجهو نه دی: يو خو يې مشابهت په نفي کې دی يعنې **ليس** هم نفي راولي او دا دواړه هم نفي راولي، بله دا چې **ليس** هم په جمله اسميه باندې داخليږي او دا دواړه هم په جمله اسميه داخليږي.

سوال: **ما** او **لا** په مشابهت کې د **ليس** سره برابر دي که څه کمی زياتی په کې شته؟ **جواب:** د مشابهت د **ليس** سره زيات قوي دی ځکه چې **ليس** نفي په زمانه د حال کې کوي او په **ما** سره هم نفي په حال کې راځي همدغه وجه ده چې **ما** په معرفه او نکره دواړو باندې داخليږي لکه څنګه چې **ليس** داخليږي او هر چې **لا** دی نو دده نفي عامه ده نو لهذا د **لا** مشابهت د **ليس** سره کمزوری دی د دې کمزوري مشابهت د وجې نه **لا** صرف په نکره داخليږي په معرفه نه داخليږي.

ما ولا مشبه بليس دا دوه حروف دي : (١) **ما** ، (٢) لا .دې ته مشبه بليس ځکه وايي چې دا د معنی او عمل په اعتبار سره د **ليس** مشابه دي چې لکه څنګه **ليس** د نفي د پاره راځي دا هم د نفي د پاره راځي او لکه څنګه چې **ليس** په مبتداء او خبر باندې داخل شي مبتداء لره مرفوع او خبر لره منصوب ګرځوي نو دا هم همدغه شان عمل کوي .ددې دواړو عمل د حروف مشبه بالفعل عمل نه خلاف دی ، حروف مشبه بالفعل خپل اسم ته نصب او خبر ته رفع ورکوي او دا دواړه خپل اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي لکه د ذکر شوي مثال نه واضح دی ، دا دوه هغه وخت کې عمل کوي چې کله دا دري شرطونه وموندلې شي : (١) ددې خبر به په اسم باندې مقدم نه وي .(٢) ددې په اسم باندې **أنْ** زائده داخل نه وي . (٣) په خبر باندې يې **إلّا** داخل نه وي . دې دواړو کې فرق دادی چې : (١) د **مَا** په خبر باندې عام طور باندې **باء** زائده راځي. (٢) **مَا** معرفه او نکره په دواړو باندې داخليږي.(٣) د **مَا** عمل په اشعار او غير اشعار دواړو کې کيږي او **لا** صرف په نکره باندې داخليږي او دا عموما په اشعارو کې استعماليږي او ددې خبر عام طور باندې محذوف وي چې نيابت يې جار مجرور کوي. **ما** مشبه بليس باندې د مشتملې جملې ترکيب داسې کولې کيږي :**مَا هٰذَا بَشَراً** ، **ما** مشبه بليس **هذا** مبني برسکون مرفوع محلاً ددې اسم **بشراً** ددې خبر ،**ما** سره د خپل اسم او خبره جمله اسميه خبريه .

مَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ : **مَا** مشبه بليس ، **هُمْ** ضمير مرفوع منفصل مبني برسکون محلاً ددې اسم ، **بَا** جاره زائده ، **مؤمنين** مجرور لفظاً منصوب محلاً خبر **مَا** ، **مَا** د خپل اسم او خبر سره جمله اسميه خبريه . ددې خبرې خيال دې وساتلې شي چې **ما**

مشبه بلیس چې په جمله اسمیه باندې داخل شي نو عمل کوي لهذا چې کومه مَا چې په فعل باندې داخله شي هغه به مَا نافیه وي که د مَا نه پس جمله فعلیه د صلې په صورت کې وي نو هغه مَا موصوله ده که د استفهام په معنی باندې دلالت وکړي نو مَا استفهامیه ورته ویلي کیږي، همدا رنګې ما مصدریه او زائده هم ده.

ترکیب: **مازید قائما**: ما مشابه د لیس، زید اسم د ما قائما خبر د ما، ما سره د اسم او خبره جمله اسمیه خبریه.

۴) لای نفي جنس :

چهارم: لای نفی جنس اسم این لا اکثر مضاف باشد منصوب و خبرش مرفوع
[څلورم] [لای نفي جنس] [اسم ددې لا] [اکثر مضاف وي] [او منصوب وي] [او خبریې مرفوع]
څلورم قسم: لای نفي جنس دی، اسم ددې لا اکثر مضاف وي، او منصوب وي، او خبریې مرفوع
چون: لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ، واگر نکره مفرد باشد مبنی باشد بر
[لکه] [لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ] [او که چیرته] [نکره مفرد وي] [نو مبني به وي] [په]
وي لکه: لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ، او که چیرته نکره مفرد وي، نو مبني به وي په
فتحه چون: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ، واگر بعد او معرفه باشد تکرار لا
[فتحې سره] [لکه لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ] [او که چیرته] [پس ددې نه معرفه وي] [نو تکرار د لا به]
فتحې سره لکه: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ، او که چیرته پس ددې لا نه معرفه وي، نو تکرار د لا به
با معرفه دیگر لازم باشد، ولا ملغی باشد یعنی عمل نکند وآن معرفه مرفوع باشد
[د بلې معرفې سره] [لازم وي] [او لا به ملغی وي] [یعني عمل به نه کوي] [او دا به معرفه مرفوع وي]
د بلې معرفې سره لازم وي، او لا به ملغی وي یعني عمل به نه کوي، او دا معرفه به مرفوع وي
بابتداء چون لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو واگر بعد آن لا نکره مفرد باشد مکرر
[په ابتداء سره] [لکه لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو] [او که چیرته] [پس ددې نه] [لا نکره مفرد وي مکرر]
په ابتداء سره لکه: لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو، او که چیرته پس ددې لا نه نکره مفرد وي مکرر

با نکره دیگر در وپنج وجه رواست چون لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حَوْلٌ
[د بلي نکرې سره] په دې کې پنځه وجهې روا دي [لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ] [وَلَا حَوْلٌ]
د بلې نکرې سره په دې کې پنځه (۵) وجهې جائز دي: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حَوْلٌ
وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ،
[وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ] [وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ] [وَلَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ]
وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ ، وَلَا حُوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ،
وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ .
[وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ] .
وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ.

خلاصه د متن : په دې عبارت د لای نفي جنس بيان کيږي.

تشريح : د لای نفي جنس عمل د حروف مشبه بالفعل په شان يعنې خپل اسم ته نصب او خبر ته رفع ورکول دي.

د لا د اسم څلور (۴) حالته دي: (۱) د لا اسم مضاف وي، لکه: لَا صَاحِبَ خَيْرٍ مَذْمُوْمٌ . لَا شَاهِدَ زُوْرٍ مَحْبُوْبٌ .

(۲) شبه مضاف وي لکه: لَا رَاكِباً فَرَساً فِي الطَّرِيْقِ . لَا مُسْرِفاً فِيْ مَالِهِ مَحْمُوْدٌ ، دې دواړو صورتونو کې به د لا اسم منصوب وي.

شبه مضاف : هر هغه اسم ته ويلې کيږي چې دې کوم نه پس داسې دويم اسم وي چې د اولني معنی تامه کړي او د دې د وجې نه د اضافت والا معنی پيدا وي لکه په ذکر شوو مثالونو کې دي، همدارنګې لَا كَرِيْماً خُلُقُهُ مُضَامٌ . لَا طَامِعًا فِي الْجَنَّةِ كَافِرٌ .

(۳) د لا اسم نکره مفرده وي يعنې مرکب نه وي لکه: لَا رَيْبَ فِيْهِ ، په دې صورت کې به د لا اسم مبني بر فتحه وي. (۴) د لا اسم معرفه وي لکه: لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو ، په دې صورت کې به د لا عمل باطل وي او تکرار د لا واجب دی.

د لا د عمل شرائط : (۱) لا به د نفي جنس وي، نافيه يا مشبه بليس يا زائده به نه وي. (۲) د لا اسم او خبر دواړه به نکره وي. (۳) د لا خبر د دې په اسم باندې به مقدم نه وي لهذا که د لا نه پس معرفه راغله يا د لا او د دې اسم په مينځ کې

فاصل راشي نو د لا عمل به باطليږي او د لا تکرار واجبيږي لکه لَا زَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو . لَا الْمَرْأَةُ كَسْلَانَةٌ وَ الْبِنْتُ. لَا فِي الْحَدِيْقَةِ صِبْيَانٌ وَلَا بَنَاتٌ . لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ.

که د لا اسم نکره مفرده تکرار سره وي لکه لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ نو په دې کې پنځه صورته جائز دی:

(۱) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ (۲) لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ.

(۳) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ إِلَّا بِاللهِ (۴) لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. (۵) لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً إِلَّا بِاللهِ.

په لای نفي جنس باندې د مشتملې جملې ترکيب به داسې کولې کيږي:

لَا رَيْبَ فِيْهِ ، لا نفي جنس ، **ريب** ددې اسم ، **في** جاره **هـ** ضمير مجرور متصل ، جار مجرور دا متعلق شو تر **ثابت** پورې ، **ثابت** اسم فاعل ضمير مستتر معبر بـ **هو** فاعل ، اسم فاعل سره د خپل فاعل او سره د متعلقه دا خبر د لا ، لا سره د اسم او خبر جمله اسميه خبريه .

واضحه دې وي چې لای جنس هغه لا دی چې په جمله اسميه باندې داخل شي او مخصوص عمل کوي.

ترکيب: لا حول ولا قوة الا بالله : په دې کې پنځه وجهې جائز دی ليکن مونږ په کې صرف يوه وجه د اختصار د وجې نه را اخلو : ددې اصل عبارت به داسې وي : **لا حول عن المعصية ثابت لاحد الا بالله ولا قوة على الطاعة ثابت لاحد الا بالله** . لا لنفي الجنس **حول** مصدر **عن** جار **المعصية** مجرور جار مجرور ظرف لغو متعلق شو تر **حول** مصدر پورې **حول** مصدر سره د متعلقه دا اسم د لا شو **ثابت** صيغه د اسم فاعل ضمير په کې مستتر دی چې **هو** دی هغه يې فاعل **لام** جار **احد** مجرور جار مجرور دا مستثنی منه **الا** حرف استثنی **باء** حرف جر **الله** مجرور جار مجرور دا مستثنی ، مستثنی منه سره د مستثنی نه دا متعلق شو تر **ثابت** پورې اسم فاعل سره د فاعل او سره د متعلقه چې **لاحد الا بالله** دی دا خبر شو د پاره د لا ، لا سره د اسم او سره د خبره دا جمله اسميه خبريه معطوف عليه ، واو عاطفه **لا** لنفي الجنس **قوة** مصدر **على** جار **الطاعة** مجرور ، جار مجرور دا متعلق شو تر **قوة** مصدر پورې **قوة** سره د متعلق نه دا اسم د لا شو او **ثابت** صيغه دا اسم فاعل ضمير په کې مستتر دی هغه ورته فاعل شو ، **لام** جار **احد** مجرور جار مجرور دا مستثنی منه ، **الا** حرف استثنی **باء** جار **الله** مجرور جار مجرور دا مستثنی شو ، مستثنی منه سره د مستثنی نه دا متعلق شو تر **ثابت** پورې ، **ثابت** صيغه د اسم فاعل او سره د متعلقه دا خبر شو د پاره د **لا** ، **لا** سره د اسم او سره د خبر دا معطوف شو ، معطوف عليه سره د معطوف نه دا جمله اسميه خبريه .

۵) حروف نداء :

پنجم حروف نداوآن پنج است : یاوأیاوهیاوأي وهمزه مفتوحه واین حروف
[پنځم][حروف ندا دی][او دا پنځه حروف دی][یا][أي][هیا][أي][او همزه مفتوحه] [او دا حروف]
پنځم قسم : حروف نداء دی او دا پنځه (۵) حروف دي : یا ، ایا ، هیا ، ای ، همزه مفتوحه او دا حروف
منادائے مضاف رانصب کنند چون یَاعبدَالله ومشابه مضاف راچون یَاطَالِعًا
[منادی مضاف ته] [نصب ورکوي] [لکه یَاعبدَالله] [او مشابه د مضاف ته] [لکه یَاطَالِعًا]
منادی د مضاف ته نصب ورکوي لکه : یَاعبدَالله ، او مشابه د مضاف ته هم لکه : یَاطَالِعًا
جَبَلًا ، ونکره غیر معین را ، چنانکه اعمٰی گوید : یَارَجُلًا ! خُذْ بِیَدِيْ ، و
[جَبَلًا][او نکره][غیر معین ته هم نصب ورکوي][لکه ړوند چې وایي یَارَجُلًا خُذْبِیَدِيْ] [او]
جَبَلًا ، او نکره غیر معین ته هم به نصب ورکوي لکه ړوند چې وایي : یَارَجُلًا ! خُذْ بِیَدِيْ ، او
منادائے مفرد معرفه مبنی باشد برعلامت رفع چون یَازَیْدُوَیَازَیْدَانِ وَیَامُسْلِمُوْنَ
[منادی مفرد معرفه مبني وي][په علامت د رفعې سره][لکه یَازَیْدُوَیَازَیْدَانِ وَیَامُسْلِمُوْنَ]
منادی مفرد معرفه مبني وي په علامت د رفعې سره لکه : یَازَیْدُ ! وَیَازَیْدَانِ ! وَیَامُسْلِمُوْنَ
وَیَامُوْسٰیْ ! وَیَاقَاضِيْ ! بدانکه ای و همزه برای نزدیک است وایا و هیا برای
[وَیَامُوْسٰیْ] [وَیَاقَاضِيْ] [پوه شه چې][ای او همزه][د پاره د نزدې دی][او ایا او هیا][د پاره د]
وَ یَا مُوْسٰیْ ! وَ یَا قَاضِيْ ! پوه شه ! چې ای او همزه د نزدې د پاره دی او ایا او هیا د پاره د
دور و یا عام است .
[د لرې][او عام دی].
د لرې او عام دی.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د حروف نداء بیان کیږي.

تشریح : نداء په لغت کې آواز ورکولو او آواز کولو ته وایي ، او په اصطلاح کې : په خاصو حروفو سره رابلل او ددې

مقصد د پاره چې کوم حروف استعمالیږي هغې ته حروف نداء ویلي کیږي او آواز کولو والا ته منادی او چا ته چې آواز وکړې شي هغه ته منادي ویل کیږي. په عربي ژبه کې د نداء د پاره پنځه (۵) الفاظ دی: (۱) يَا (۲) أَيَا (۳) هَيَا (۴) أَيْ (۵) أَ. أي او همزه مفتوحه منادی قریب د پاره، أیـا، هیـا، منادی بعید د پاره او یـا عام ده منادی قریب او بعید دواړو د پاره استعمالیږي.

سوال: دا حروف په اسم کې څه عمل کوي؟

جواب: د دې حروفو په عمل کې لږ تفصیل دی که چیرته منادی مضاف وي یا مشابه د مضاف سره وي یا نکره غیر معینه وي نو په دې درې واړو صورتونو کې به دا حروف منادی ته نصب ورکوي.

د هغې منادی مثال چې مضاف وي لکه **یا عبدالله** نو **عبد** منادی ده او لفظ د **الله** ته یې اضافت شوې دی نو **عبد** به منصوب وي.

د هغې منادی مثال چې مشابه وي د مضاف سره لکه **یا طالعا جبلاً** نو **طالعا** منادی ده او د مضاف سره مشابه ده نو دا به هم منصوبه وي.

سوال: مشابه د مضاف څه ته ویلی شي؟

جواب: چې د مضاف په شان وي یعنې لکه څنګه چې د مضاف معنی بغیر د مضاف الیه نه نه پوره کیږي نو دغه شان به مشابه د مضاف کې لومړنی اسم په غیر د دویم اسم نه خپله معنی نه ظاهروي لکه **یا طالعا** ای ختونکیه! نو د دې معنی پوره نه ده چې کله ورسره **جبلاً** ولګولی شي نو معنی یې پوره شوه یعنې ای غره ته ختونکیه!

د هغې منادی مثال چې هغه نکره غیر معینه وي لکه یو ړوند سړی وایي چې **یـا رجلاً خذ بیدی**، ای سړیه زما لاس ونیسه نو دا خو ښکاره خبره ده چې ړوند سړی مطلق سړي ته آواز کوي هغه په خیال کې څوک خاص سړی نه وي نو دا **رجلا** نکره غیر معینه ده دا درې قسمونه د منادی منصوب دي.

که چیرته منادی مفرده معرفه وي نو بیا به منادی مبني وي په ضمې سره لکه یا زید نو زید منادی ده او مفرد دی او معرفه هم نو په رفع باندې به مبني وي لکه **یا زیدان** نو **زیدان** منادی ده مبني ده په علامې د رفع سره د **الف** دی څکه چې په تثنیې کې حالت رفعي په الف سره وي نو زیدان په سره مبني شوه.

سوال: **زیدان** خو مفرد نه دی تثنیه ده؟

جواب: د مفرد نه مراد دا دی چې مضاف نه وي يا شبه مضاف نه وي او نکره غير معينه نه وي نو که چېرته بيا تثنيه وي او که جمع وي ځکه چې مفرد کله د مضاف په مقابله کې وي نو بيا به په مفرد کې تثنيه او جمع ټول داخل وي لکه **يا مسلمون** نو **مسلمون** منادی ده او په دې کې علامه د رفع **واو** دی نو دا په **واو** سره مبني شو يا لکه **يا موسی يا قاضي** په دې ټولو مثالونو کې منادی د رفعي په علامې سره مبني وي.

سوال: د قاعدې د پوهه کولو لپاره خو يو مثال هم پوره وو نو مصنف رحمة الله عليه دا دومره مثالونه ولې ذکر کړي دي؟

جواب: دا ځکه چې دلته کې بغير د دې ټولو مثالونو نه د منادی مبني د قاعدې وضاحت نه کېدو ځکه د رفع درې علامې دي، **ضمه، الف، واو**، بيا د رفع دوه قسمونه دي: لفظي، تقديري.

نو **يا زيد** مثال د رفع لفظي دی **يا زيدان** مثال د هغې رفع دی چې هغه د **الف** په شکل کې وي **يا مسلمون** مثال د هغې رفع دی چې هغه د **واو** په شکل کې وي **يا موسی** مثال د رفع تقديري دی او **يا قاضي** مثال د هغې رفع تقديري دی چې په لفظ کې خو راتلی شي ليکن د ثقل د وجې نه، نه راځي نو د دې وجوهاتو وجې نه مصنف رحمة الله عليه دومره مثالونه د منادی مبني راوړل.

د منادی اعراب: د منادی اعراب په دوه قسمه دی: (١) که منادی مفرد (د مضاف او شبه مضاف نه احتراز دی) معرفه وي لکه: **يَا حَسَّانُ! يَا رَوَاحَةُ! يَا أَسِيدُ!** يا منادی نکره مقصوده وي، د نکرې مقصودې مطلب دا دی چې يو داسې نکره چې د نداء نه پس معين او مخصوص جوړه شي لکه يو کس ته مخاطب کړې او ووايې: **يَا رَجُلُ! يَا جِبَالُ، أَوِّبِي مَعَهُ**، نو په دې دواړو صورتونو کې به منادی مبني بر ضمه وي لکه د مثالونو نه چې واضح دی. (٢) که چېرته منادی مضاف وي لکه: **يَا عَبْدَ اللهِ! يَا غُلَامَ رَجُلٍ! يَا أَبَا بَكْرٍ!** يا شبه مضاف وي لکه: **يَا طَالِعاً جَبَلاً! يَا رَاكِباً فَرَساً! اَلسَّفَرُ طَوِيْلٌ**. يا نکره غير مقصوده وي يعنې د نداء نه مراد داسې خاص کس نه وي لکه: **يَا طَالِباً! اَلْجُهْدُ مِفْتَاحُ النَّجَاحِ. يَا مُسْرِعاً! فِي الْعَجَلَةِ النَّدَامَةُ. يَا لَاهِياً عَنْ دَرْسِهِ! عَاقِبَةُ اللَّهْوِ الْحُزْنُ**. يا يو ړوند کس ووايي: **يَا رَجُلاً! خُذْ بِيَدِي**، نو په دې درې واړو صورتونو کې به منادی منصوب وي لکه د دې مثالونو نه چې واضحه شوه.

حروف نداء کله د تحسير (حسرت) د پاره وي، نو په دې وخت کې د اسم خصوصيت نه وي حروفو باندې هم داخليږي لکه: **يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرَاباً**.

فریاد ، تعجب او استغاثه (مدد طلب کولو) موقع باندې اسم منادی باندې د حرفِ جر لام اضافه کیږي دې ته لام استغاثه هم ویلي کیږي لکه د امیر نه د فریاد کولو په وخت کې وویلي شي: يَا لَلْأَمِيْرِ ! (ای امیر محترم!) د ملګرو نه د مدد او مرستې په وخت کې وویلي شي : يَا لَلْأَصْحَابِنَا (ای زما ملګرو !) د یو قابلِ تعجب خبرې اوریدو په وخت کې وویلي شي : يَا لَلْعَجَبِ ! (څومره د تعجب خبره ده !) همدارنګې کثرت لیدلو په وخت کې ویلي شي : يَا لَلْمَاءُ . يَا لَلْعَشَبِ . يَا لَلْبَحْرِ .بعضې وخت کې د فریاد او استغاثه د پاره اسمِ منادی په آخر کې الف، د الف او د ها اضافه کولې شي دې ها ته هاء ندبه ویلي کیږي لکه : يَا صَبَاحَاهُ (های د سحر آفته) يَا أَبَاهُ (های پلاره).

د مصیبت په وخت کې د يا په ځای د وا استعمال کیږي لکه : وَا زَيْدَاهُ (های زید) وَا مُطْعِمَ الْمِسَاكِيْنَاهُ وَامُصِيْبَتَاهُ (های مصیبت) وَا رَأْسَاهُ (های زما د سر درده) وَا حُسَيْنَاهُ (های حسین) جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه مخکې غشي باندې حضرت فاطمه رضی الله عنها ویلې وُ : وَا كَرْبَ أَبَاهُ (های زما د پلار مې چیني) حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه (متوفی ۳۱هـ) جنازې کې به حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه (متوفی ۵۵هـ) به ویل : وَا جَبَلَاهُ ! وَا جَبَلَاهُ ! (های افسوس ! دا غر هم لاړ ، های افسوس ! دا غر هم لاړ).

کله منادی د آخر نه یو دوه حرفه راویستلې شي او هغه مختصر کړې شي نو دې ته ترخیم ویلي کیږي لکه : يَا حَارِثُ ، يَا مَالِكُ، يَا عَبَّاسُ، يَا فَاطِمَةُ، يَا مَرْوَانُ ددې په ځای يَا حَارِ ، يَا مَالِ ، يَا عَبَّ ، يَا فَاطِمُ ، يَا مَرْوَ وویلي شي.

د قرینې په موجودتیا کې حروف نداء حذف کول جائز دي لکه : يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هَذَا ، أَيْ يَا يُوسُفُ ، همدارنګې د دعاګانو په شروع کې لفظ د رَبَّنَا نه مخکې حرف نداء محذوف وي یعنې يَا رَبَّنَا .

د نداء والا جملې په ترکیب کې دري (۳) شیان په ذهن کې وساتئ : (۱) حرف نداء ، (۲) منادی ، (۳) جوابِ نداء .

حرفِ نداء خو دې پنځو حروفو نه په یو وي ، او منادی هغه اسم دی چې چا ته آواز وکړې شي او د جواب نداء نه مراد هغه خبره ده چې د بنودلو د پاره نداء ولګولې شي مثلاً : يَا إِبْرَاهِيمُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ، په دې جملې کې يا حرفِ نداء ده ، ابراهیم منادی ده او أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا جوابِ نداء ده .ددې ترکیب به داسې کولې شي : يا حرف نداء قائمقام ادعو ، ادعو فعل ، ضمیر مستتر معبر با انا فاعل ، ابراهیم مرفوع لفظاً منصوب محلاً مفعول به ، فعل سره د خپل فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیة انشائیه نداء شوه ، اعرض فعل امر ، ضمیر مستتر معبر با انت فاعل ، عن جاره ، هذا مجرور ، جار مجرور متعلق شو ترا اعرض فعل پورې ، فعل سره د خپل فاعل او سره د متعلقه جمله فعلیه انشائیه جوابِ نداء شوه .

ترکیب: یا عبدالله: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل **عبدالله** مضاف مضاف الیه دا مفعول به شو د پاره د **ادع**، **ادع** فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه انشائیه ندائیه.

یا طالعاً جبلاً: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل **طالعاً** صیغه د اسم فاعل ضمیر په کې مستتر دی چې **هُو** دی هغه یې فاعل او **جبلاً** ورته مفعول به شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا مفعول به شو د پاره د **ادع**، **ادع** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه.

یا رجلاً خذ بیدي: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل رجلا منادی مفعول به، ادع فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه فعل نداء، خذ دا صیغه د امر ده ضمیر په کې مستتر دی چې انت دی هغه یې فاعل باء حرف جر ید مجرور مضاف یا ضمیر متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار مجرور دا متعلق شو خذ پورې، خذ فعل امر سره د فاعله او سره د متعلقه دا جمله فعلیه جواب د نداء شو، فعل نداء سره د جواب نداء نه دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه.

یا زید: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **زید** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه. **یا زیدان**: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **زیدان** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه.

یا مسلمون: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **مسلمون** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه.

یا موسی: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **موسی** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه.

یا قاضي: **یا** حرف نداء قائم دی په مقام د **ادع** کې، **ادع** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **قاضي** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول دا جمله فعلیه انشائیه ندائیه شوه.

په فعل مضارع کې د حروف عاملو بیان :

فصل دوم : در حروف عامله در فعل مضارع ' وآن بر دو قسم است :
[دوهم فصل] [په بیان د حروف عاملو] [په فعل مضارع کې] [او دا] [په دوه] [قسمه دی]
دویم فصل په بیان د هغه حروفو کې چې عمل کوي په فعل مضارع کې او دا بیا په دوه(۲) قسمه دي :
قسم اول : حروفیکه فعل مضارع را بنصب کنند ' وآن چهار است : اول : أَنْ
[اول قسم] [هغه حروف چې] [فعل مضارع ته] [نصب ورکوي] [او دا څلور حروف دی] [اول أَنْ دی]
اول قسم : هغه حروف دي چې فعل مضارع ته نصب ورکوي او دا څلور (۴) حروف دي : اول أَنْ دی
چون : أُرِیْدُ أَنْ تَقُوْمَ ' وأَنْ با فعل بمعنی مصدر باشد یعنی أُرِیْدُ
[لکه أُرِیْدُ أَنْ تَقُوْمَ] [او أَنْ سره د فعله] [په معنی د مصدر سره وي] [یعني أُرِیْدُ]
لکه : أُرِیْدُ أَنْ تَقُوْمَ د غه أَنْ مع الفعل چې تقدم دی په معنی د مصدر سره ګرځي یعني أُرِیْدُ
قِیَامَکَ ' وبدین سبب اورا مصدریه گویند . دوم : لَنْ چون : لَنْ یَخْرُجَ
[قِیَامَكَ] [او ددې وجې نه] [دې ته] [مصدریه وایي] [دویم لَنْ دی] [لکه] [لَنْ یَخْرُجَ]
قِیَامَكَ ویل کېږي او په همدې وجه دې ته أَنْ مصدریه هم وایي، دویم لَنْ دی لکه : لَنْ یَخْرُجَ
زَیْدٌ ' وَلَنْ برای تاکید نفی است . سوم کَيْ چون أَسْلَمْتُ کَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ
[زَیْدٌ] [او لَنْ د پاره د نفي د تاکید دي] [دریم کَيْ دی] [لکه أَسْلَمْتُ کَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ]
زَیْدٌ ، او لَنْ د پاره د نفي د تاکید دي ، دریم کَيْ دی لکه : أَسْلَمْتُ کَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ ،
چهارم : إِذَنْ چون : إِذَنْ أُکْرِمُکَ ' در جواب کسی
[څلورم] [إِذَنْ دی] [لکه] [إِذَنْ أُکْرِمُكَ] [په جواب] [د هغه]
څلورم : إِذَنْ دی لکه : إِذَنْ أُکْرِمُكَ (په دې وخت کې به زه ستا اکرام وکړم) په جواب د هغه

کہ گوید : أَنَا آتِيْکَ غَداً.
[چا کې] [چې وايي] [أَنَا آتِيْکَ غَداً] .
سړي کې چې وايي : أَنَا آتِيْکَ غَداً زه ۱ م تا ته سبا.

خلاصه د متن : په دې فصل کې په فعل مضارع کې د حروفو عاملو بيان کيږي.

تشريح : مخکې دا خبره معلومه شوې وه چې معرب دوه څيزونه دي: اسم متمکن، فعل مضارع، نو په اسم متمکن کې چې کومو حروفو عمل کولو نو هغه په مخکې فصل کې بيان شول، اوس په دې فصل کې د هغې حروفو ذکر دی چې هغه به فعل مضارع کې عمل کي په فعل مضارع کې چې کوم حروف عمل کوي نو هغه په دوه قسمه دي: حروف ناصبه، حروف جازمه، حروف ناصبه څلور دي، ان، لن، کیٔ، اذن، چې په دې شعر کې ذکر دي:

أَنْ و لَنْ پس کَيْ إِذَنْ اين چار حرف معتبر ○ نصب مستقبل کند اين جمله دائم اقتضاء

دغه مذکوره څلور حروف فعل مضارع کې پنځه صيغو ته نصب ورکوي او د اوو صيغو نه نون اعرابي غورځوي.

أَنْ ځکه نصب ورکوي چې مشابهت لري د إِنَّ سره هغه خپل مدخول ته نصب ورکوي نو دی هم نصب ورکوي.

دويم لن دی لکه: لن يخرج زيد . دريم کَيْ دی لکه: أَسْلَمْتُ کَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ يعني اسلام مې راوړو د دې لپاره چې داخل شي جنت ته. څلورم إِذَنْ دی لکه: إِذَنْ أُکْرِمُکَ داد هغه چا په جواب کې چې وايي : أَنَا آتِيْکَ غَداً زه تا ته سبا راځم، نو ته ورته په جواب کې ووايې چې : إِذَنْ أُکْرِمُکَ يعني که ته راغلې نو دغه وخت کې به زه ستا عزت وکړم.

د هغې مضارع مثال چې هغه د أَنْ ناصبه د وجې نه منصوب شوې وي لکه: أُرِيْدُ أَنْ تَقُوْمَ نو تقوم د أَنْ د وجې نه منصوب شوی دی، معنی يې دا ده چې زه اراده لرم ستا د اودريدو.

سوال: تَقُوْمَ خو فعل مضارع ده او تا يې مصدري معنی وکړه د دې څه وجه ده؟ **جواب:** د دې وجه دا ده چې کله په فعل مضارع باندې أَنْ داخل شي نو مضارع په معنی د مصدر سره ګرځوي، لکه أَنْ تَقُوْمَ په معنی د قِيَامَکَ سره يا لکه أَنْ تَضْرِبَ په معنی د ضَرْبَکَ سره، د دې وجې نه دې أَنْ ته مصدريه هم ويلې کيږي . دويم مضارع ته نصب ورکوونکې حرف لَنْ دی لکه: لَنْ يَخْرُجَ زَيْدٌ يعني زيد به هېڅکله را ونه وځي، دا هم پنځه ځايه نصب ورکوي او اوه ځايه نون اعرابي غورځوي دا لَنْ چې په مضارع داخل شي نو په راتلونکې زمانه کې نفي مؤکد کوي.

دحرف لَنْ په باره کې دغه لاندې خبرې يادې وساتئ؛ (۱) داد فعل مضارع نه مخکې راځي او فعل مضارع منصوب ګرځوي.

(۲) معنوي طور باندې په فعل مضارع کې د مستقبل معنی پیدا کوي. (۳) دا حرف نفي تاکیدي ده یعنې ددې په ذریعې سره په کړې شوي نفي کې شدت او مبالغه وي مثلاً: هر گز نه ده لکه: **يَا مُوسَى لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ** (ای موسی! مونږ په یو قسم خوراک باندې هرگز صبر نه شو کولې) په لن باندې د مشتملو جملو په ترکیب کې صرف د حرف لن متعلق دا صراحت کیږي چې لن حرف نفي ده باقي څه اضافي شي نه دی مثلاً: **يَا مُوسَى لَن نَّصْبِرَ عَلَىٰ طَعَامٍ وَاحِدٍ**، **یا** حرف نداء قائمقام **ادعو**، **ادعو** فعل ضمیر مستتر معبر بـ **نحن** فاعل، **علی** جاره، **طعامٍ** موصوف، **واحد** صفت، موصوف سره د خپل صفت نه مجرور، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **ادعو** فعل پورې، **ادعو** فعل سره د خپل فاعل او سره د متعلق نه جمله فعلیه خبریه جواب نداء شوه.

دریم مضارع ته نصب ورکوونکي حرف **كَيْ** دی لکه: **أَسْلَمْتُ كَيْ أَدْخُلَ الْجَنَّةَ** نو **ادخل** فعل مضارع دی نو چې کله **كَيْ** پرې داخل شو نو **أَدْخُلَ** ته یې نصب ورکړو، نو معنی یې داده چې ما اسلام راوړو د دې د پاره چې جنت ته داخل شم.

څلورم مضارع ته نصب ورکوونکی حرف **إِذَنْ** دی لکه: **إِذَنْ أُكْرِمَكَ** د **إِذَنْ** د داخلیدو د وجې نه د **اکرم** په میم باندې نصب راغی، **اذن اکرمك** به په هغې وخت کې ویلې شي چې کله څوک داسې ووایي چې: **أَنَا آتِيكَ غَداً**، یعنې زه به سبا ستا خواله راشم نو اوریدونکی جواب ورکړي چې: **إِذَنْ أُكْرِمَكَ** یعنې په هغه وخت به زه ستا اکرام وکړم یعنې چې کله تاسو تشریف راوړئ، نو چې څومره کېدای شي نو زه به ستا اکرام وکړم.

ترکیب: ارید ان تقوم: **ارید** صیغه د فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، **ان** ناصبه **تقوم** فعل مضارع ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله دا جمله فعلیه خبریه په تاویل د مصدر سره مفعول به شو د پاره د **ارید**، **ارید** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه خبریه.

لن یخرج زید: **لن** ناصبه **یخرج** صیغه د فعل مضارع معلوم او **زید** ورته فاعل دی، فعل سره د فاعله دا جمله فعلیه خبریه.

اسلمت کي ادخل الجنة: **اسلمت** صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې انا دی دا یې فاعل فعل سره د فاعله دا جمله فعلیه معلله، **کي** حرف ناصبه **ادخل** صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل **الجنة** مفعول فیه شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه دا جمله فعلیه خبریه معلله.

اذن اکرمک: **اذن** حرف ناصبه **اکرمک** صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی

دا یې فاعل، **کاف** ضمیر منصوب متصل دا مفعول به شو ورته، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه خبریه جوابیه. دا جواب ددې سوال دی: **انا آتیک غدا** : **انا** مبتدا **آتي** صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم، ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل او **کاف** ضمیر منصوب مفعول به شو **غدا** ورته مفعول فیه شو، **آتي** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د مبتداء چې **انا** دی مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه سوالیه.

وبدانکه أَنْ بعد از شش حروف مقدر باشد و فعل مضارع را بنصب کند حَتّٰی
[او پوه شه چې] [أَنْ پس د] [شپږو حروفو] مقدر وي [او فعل مضارع ته] [نصب ورکوي] [حَتّٰی]
او پوهه شه چې أَنْ مقدر کېږي وروستو د شپږو حروفو نه او فعل مضارع ته نصب ورکوي، حَتّٰی
نحو: مَرَرْتُ حَتّٰی أَدْخُلَ الْبَلَدَ ' ولام جحد نحو مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ' واَوْ
[لکه] [مَرَرْتُ حَتّٰی أَدْخُلَ الْبَلَدَ] [او لام جحد] [لکه] [مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ] [او هغه اَوْ]
لکه: مَرَرْتُ حَتّٰی أَدْخُلَ الْبَلَدَ، او لام جحد لکه: مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ ، او هغه اَوْ چې
بمعنی إِلٰی أَنْ یا إِلَّا أَنْ نحو: لَأَلْزِمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ ' و واو الصرف و
[چې په معنی د] [إِلٰی أَنْ] [یا إِلَّا أَنْ سره وي] [لکه لَأَلْزِمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ] [او واو د صرف]
په معنی د إِلٰی أَنْ یا إِلَّا أَنْ سره وي، لکه: لَأَلْزِمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ، او واو د صرف او
لام کَيْ و فا که در جواب شش چیز است امر و نهی و نفی و استفهام و تمني و عرض
[لام د کَيْ] [او فاء] [چې په جواب کې یې] [شپږ شیان وي] [امر، نهي، نفي، استفهام، تمني او عرض]
لام د کَيْ او فاء چې په جواب کې یې شپږ شیان وي: امر، نهي، نفي، استفهام، تمني او عرض او
و أمثلتها مشهورة .
[او ددې مثالونه] [مشهور دی].
ددې شپږو مثالونه مشهور دی.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې ددې بیان کېږي چې أَنْ پس د شپږو حروفو نه مقدر وي.

تشریح : مخکې مصنف د فعل مضارع عوامل ناصبه بیان کړل او په دغه عواملو کې یو عمل أَنْ وو نو په کوم ځایونو کې چې أَنْ ښکاره وي نو هلته خو ظاهره ده چې أَنْ به فعل مضارع ته نصب ورکوي، لیکن د دې نه علاوه نور شپږ ځایونه داسې دي چې هلته مضارع منصوبه وي د أَنْ د وجې نه ،او په الفاظو کې نه وي بلکې مقدروي هغه شپږ ځایونه دادي: (۱) د حَتّٰی نه وروستو به أَنْ مقدر وي. (۲) د لام جحد نه وروستو به أَنْ مقدر وي، د لام جحود نه پس، لام جحود هغه لام ته وایي چې د نفي د پاره راشي او د نفي په تاکید باندې دلالت وکړي لکه : مَا جِئْنَا لِنُفْسِدَ فِي الْأَرْضِ . مَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ . (۳) أَوْ په معنی د إِلَّا یا إِلٰی نه پس : بنیادي طور باندې لفظ أَو حرف عطف دی لیکن چې کله دا د إِلَّا یا إِلٰی په معنی کې استعمال شي نو د دې نه پس إن مضمر کیږي لکه : لَأَلْزَمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِي حَقِّي (زه به هم تا سره یم الا دا چې ته ما ته خپل حق راکړې) . (۴) د واو الصرف نه وروستو. (۵) او د لام كَيْ نه وروستو، دې ته لام تعلیل یا لام عاقبت هم ویلې کیږي او د دې په ذریعې سره د ماقبل علت او وجه بیانولې کیږي لکه: فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا . (٦) او د هغې فاء نه وروستو به مقدر وي چې هغه په جواب د شپږو څیزونو کې راځي د امر نهي نفي استفهام تمني او عرض کې. د هغې مضارع مثال چې د حَتّٰی نه وروستو منصوبه وي لکه : مَرَرْتُ حَتّٰی أَدْخُلَ الْبَلَدَ اصل عبارت داسې دی یا حَتّٰی أَنْ أَدْخُلَ الْبَلَدَ.

سوال : د دې څه وجه ده چې حَتّٰی نه وروستو او د ادخل نه مخکې أَنْ مقدر وي؟

جواب: ادخل فعل دی او حَتّٰی حرف جر دی او حرف جر خو په اسم داخلیږي او دلته خو په فعل داخل شوی دی حالانکه دا خو د قاعدې خلاف ده، خو چې کله دا خبره وښودلې شوه چې د حَتّٰی نه وروستو أَنْ مقدر وي نو په دې وخت کې داخیدل په ادخل باندې صحیح شو ځکه چې د أَنْ د وجې نه ادخل فعل پاتې نه شو بلکې په تاویل د مصدر سره شو او مصدر اسم دی نو لهذا حتی په اسم باندې داخل دی ځکه په معنی د ادخل دخول شوه. د هغې مضارع مثال چې د او نه وروستو راغلی وي او د أَنْ د مقدر کېدو د وجې نه منصوبه وي او دغه أَوْ د إِلٰی أَنْ یا د إِلَّا أَنْ په معنی سره مشتمل وي لکه : لَأَلْزَمَنَّكَ أَوْ تُعْطِيَنِي حَقِّي (یعنې زه په تا پسې درپسې یم تر دې چې ته ما ته زما حق راکړې) د دې اصل خو یا إِلٰی أَنْ تُعْطِيَنِي دی یا إِلَّا أَنْ تُعْطِيَنِي دی او په دواړو کې أَنْ موجود دی.

واو صرف : هغه واو چې د هغې نه ماقبل فعل د ما بعد فعل سره نه شئ یو ځای کېدی، لکه لا تنه عن خلق و تأتي

مثله، نو دلته تَأْتِيَ معطوف دی او تنه عن خلق معطوف علیه دی او د معطوف علیه نه اول لا نهي راغلی دی نو د لا د تَأْتِيَ نه مخکې نه شي راتلې چې معطوف دی ځکه که چیرته د معطوف نه مخکې راشي نو په معنی کې به فساد راشي.

د هغې مضارع مثال چې د لام کَيْ نه وروستو راغلې وي او د اَنْ مقدر کېدو د وجې نه هغه منصوب وي لکه: مَرَرْتُ لِاَدْخُلَهَا، دا په اصل کې لِاَنْ اَدْخُلَ دی لَام کَيْ هم لام جاره وي.

شپږم: اَنْ د هغې فاء نه پس مقدر وي چې هغه د شپږو شیانو نه د یو په جواب کې راشي: د امر، نهي، استفهام، تمني، عرض، نود دې نه وروستو چې کومه فاء راشي نو د هغې په جواب کې به اَنْ مقدر وي مصنف خو فرمایي چې د دوی مثالونه مشهور دي خو ذکر کول یې مناسب دي: د امر مثال: زُرْنِيْ فَاُكْرِمُكَ په ا کرمك کې چې کومه فاء ده نو دا هغه فاء ده چې د زرني امر په جواب کې واقع شوې ده او د دې فاء نه وروستو اَنْ مقدر دی نو د دې وجې نه د دې مدخول به منصوب وي. د نهي نه پس د فاء مثال: لَا تَشْتُمْنِيْ فَاَضْرِبُكَ په فاضربك کې هغه فاء ده چې د نهي په جواب کې واقع شوې ده نو د دې نه وروستو اَنْ مقدر دی نو د دې مدخول به هم منصوب وي. د نفي نه پس د فاء مثال: اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيهَا. د استفهام نه پس د فاء مثال: هَلْ لَنَا مِنْ شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوْا لَنَا. د تمني نه پس د فاء مثال: لَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّاَ مِنْهُمْ. د عرض نه پس د فاء مثال: اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا.

ترکیب: مررت حتی ادخل البلد: مررت فعل فاعل صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې انا دی دا یې فاعل، حتی حرف جر ادخل صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې انا دی دا یې فاعل، ادخل منصوب دی بنا بر ان مقدر سره، البلد منصوب لفظا مفعول فیه، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه دا جمله فعلیه په تاویل د مصدر سره مجرور شو د پاره د جار چې حتی دی جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق دی تر مررت فعل پورې، فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه. ما کان الله لیعذبهم: ما نافیه کان فعل ناقص الله اسم د کان شو، لام حرف جر، یعذب صیغه د واحد مذکر غائب فعل مضارع ضمیر په کې مستتر دی چې هُو دی دا یې فاعل، هم ضمیر منصوب دا مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه خبریه مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر متعلق شو تر قاصدا پورې قاصدا صیغه د اسم فاعل ضمیر په کې مستتر دی چې هُوَ دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا خبر شو د پاره د کان، کان سره د اسم او خبره جمله فعلیه خبریه.

لالزمنك او تعطيني حقي: لام تاكيد **الزمن** صيغه د واحد متكلم نون ثقيله ضمير په كې مستتر دى چې انا دى دا يې فاعل ک ضمير منصوب مفعول به شو او په معنى د الى ان سره الى حرف جر ان حرف ناصبه **تعطي** صيغه د واحد مذكر مخاطب ضمير په كې مستتر دى چې انت دى دا يې فاعل، نون وقايه ياء مفعول به اول، **حقي** حق مضاف ياء ضمير متكلم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول ثاني شو د **تعطي** د پاره، **تعطي** فعل سره د فاعله او سره د مفعولينو دا مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **لالزمن** فعل پورې، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعليه خبريه تاكيديه شوه.

قسم دوم: حروفيكه فعل مضارع را بجزم كنند و آن پنج است:
[دوهم قسم] [هغه حروف] [چې فعل مضارع ته] [جزم وركوي] [او دا حروف] [پنځه حروف دى]
دويم قسم: هغه حروف دي چې هغه فعل مضارع ته جزم وركوي، او دغه حروف پنځه (۵) دي:
لَمْ ولَمَّا ولام امر ولاى نهي وإِنْ شرطيه چون لَمْ يَنْصُرْ وَلَمَّا يَنْصُرْ وَلْيَنْصُرْ
[لَمْ] [لَمَّا] [لام امر] [لاى نهي] [او إِنْ شرطيه] [لكه لَمْ يَنْصُرْ وَلَمَّا يَنْصُرْ وَلْيَنْصُرْ]
لَمْ، لَمَّا، لام امر، لاى نهي، او إِنْ شرطيه لكه: لَمْ يَنْصُرْ وَ لَمَّا يَنْصُرْ وَلْيَنْصُرْ
وَلَا تَنْصُرْ وَ إِنْ تَنْصُرْ أَنْصُرْ. بدانكه إِنْ در دو جمله رود چون: إِنْ
[وَلَا تَنْصُرْ] [وَإِنْ تَنْصُرْ أَنْصُرْ] [پوهه شه چې] [إِنْ په دوه جملو] [داخليږي] [لكه إِنْ]
وَلَا تَنْصُرْ وَإِنْ تَنْصُرْ أَنْصُرْ. پوهه شه! چې إِنْ داخليږي په دوه (۲) جملو باندې، لكه: إِنْ
تَضْرِبْ أَضْرِبْ جمله اول را شرط گويند و جمله دوم را جزا و إِنْ براى مستقبل
[تَضْرِبْ أَضْرِبْ] [اولې جملې ته شرط] [او دوهمې جملې ته جزا وايي] [او إِنْ د پاره د مستقبل]
تَضْرِبْ أَضْرِبْ، د جملې اول جزء ته شرط او دويم جزء ته جزاء وايي او إِنْ د فعل مستقبل د پاره
است اگرچه در ماضى رود چون إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ واينجا جزم تقديرى بود زيرا
[دي] [اگر كه په ماضي داخل شي] [لكه إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ] [او دلته جزم تقديري دى] [ځكه چې]
دي، اگر كه په ماضي داخل شي لكه: إِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ، او دلته جزم تقديري دى؛ ځكه چې

که ماضی معرب نیست وبدانکه چون جزای شرط جمله اسمیه باشد یاامر یا نهی
[ماضي معرب نه ده] [او پوهه شه چې] [هر کله جزاء د شرط] [جمله اسميه وي] [يا امر يا نهي وي]
ماضي معرب نه ده ، او پوهه شه! چې هر کله جزاء د شرط جمله اسميه وي، يا امر وي، يا نهي وي
یا دعاء در جزا آوردن لازم بود ' چنانکه گوئی : إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكْرَمٌ .
[يا دعا وي] [نو د فاء راوړل] [په جزاء کې لازمي دي] [لکه وايي به] [إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكْرَمٌ]
يا دعا وي، نو د فاء راوړل په جزاء کې به لازمي وي لکه وايي به ته : إِنْ تَأْتِنِيْ فَأَنْتَ مُكْرَمٌ .
وَإِنْ رَأَيْتَ زَيْداً فَأَكْرِمْهُ وَإِنْ أَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ وَإِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ
[وَإِنْ رَأَيْتَ زَيْداً فَأَكْرِمْهُ] [وَإِنْ أَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ] [وَإِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ]
وَإِنْ رَأَيْتَ زَيْداً فَأَكْرِمْهُ . وَإِنْ أَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ . وَإِنْ أَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ
اللهُ خَيْراً.
[اللهُ خَيْراً]
اللهُ خَيْراً.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د هغه حروفو بيان کوي چې فعل مضارع ته جزم ورکوي.

تشريح : مخکې د هغې حروفو ذکر وشو چې هغه مضارع ته نصب ورکولو اوس دويم قسم د هغې حروفو بيانېږي چې هغه فعل مضارع ته جزم ورکوي. نو مضارع ته پنځه حروف جزم ورکوي: **لَمْ، لَمَّا، لام امر، لای نهي، إِنْ شرطيه.** دا پنځه حروف د مضارع پنځوو صيغو ته جزم ورکوي او که په آخر کې يې حرف علت وي نو حرف علت غورځوي. لکه **لَمْ يَدْعُ** وغيره او اووه صيغو نه اعرابي غورځوي، او دوه د جمع مؤنث به په خپل حال وي.

﴿بدانکه ان در دو جمله﴾ : مصنف د إِنْ تفصيل جدا ځکه بيانوي چې د نورو حرفونو تعلق د يوې جملې سره دی او ده تعلق د دوو سره دی، دويم دا چې د نورو حروفو معمولات فعل مضارع ده او د إِنْ تعلق د مضارع او ماضي دواړو سره دی او دريم دا چې إِنْ اگر که په ماضي داخل شي خو د مستقبل په معنی يې گرځوي نو د دې وجې نه مصنف د إِنْ تشريح جدا ذکر کړې ده نو اول خو دا چې إِنْ په دوه جملو داخلېږي اولې جملې ته شرط او دويمې ته جزا ويلې شي لکه إِنْ تَضْرِبْ

اِضْرِبْ. دویم دا چې اِنْ د فعل مستقبل د پاره وي اگر که په فعل ماضي داخل شي لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ په ضربت کې جزم تقدیري دی ځکه چې دا مبني دی اِنْ شرطیه په دوو جملو داخلیږي اولې ته شرط وایي او دویمې ته جزا وایي.
د جزاء متعلق لږ غوندې تفصیل دی او هغه دا دی چې کله د شرط جزا جمله اسمیه وي یا امر وي یا نهي یا دعا وي نو د جزاء په سر کې به د **فاء** راوړل لازمي وي.
د جملې اسمیې مثال لکه: اِنْ تَأْتِنِيْ فَاَنْتَ مُكْرَمٌ اَنْتَ مُكْرَمٌ جزا ده او جمله اسمیه ده نو ځکه یې په سر کې **فاء** راوړلی شوې ده، د امر مثال لکه: اِنْ رَأَيْتَ زَيْدًا فَاَكْرِمْهُ اَكْرِمْهُ صیغه د امر ده نو ځکه د دې په سر کې **فاء** راغلې ده، د نهي مثال لکه: اِنْ اَتَاكَ عَمْرٌو فَلَا تُهِنْهُ، د جملې دعائي مثال لکه: اِنْ اَكْرَمْتَنِيْ فَجَزَاكَ اللهُ خَيْرًا.

ترکیب: لم ینصر: لم جازمه، **ینصر** صیغه د فعل مضارع معلوم **هو** ضمیر په کې مستتر دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه جازمه.

لما ینصر: **لما** جازمه، **ینصر** صیغه د فعل مضارع معلوم **هو** ضمیر په کې مستتر دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه جازمه.

لینصر: لام امر، **ینصر** صیغه د فعل مضارع معلوم **هو** ضمیر په کې مستتر دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه جازمه

ان تضرب اضرب: ان حرف شرط **تضرب** صیغه د فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی هغه یې فاعل، فعل سره د فاعله دا فعل شرط، **اضرب** صیغه د واحد متکلم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله دا جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله فعلیه خبریه شرطیه.

ان ضربت ضربت: ان حرف شرط **ضربت** صیغه مخاطب فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی هغه یې فاعل، فعل سره د فاعله فعل شرط، **ضربت** صیغه د واحد متکلم فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه فعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله فعلیه خبریه شرطیه.

ان تاتني فانت مکرم: ان حرف شرط، **تأتي** صیغه د واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم **انت** ضمیر مستتر یې فاعل شو، **نون** وقایه **یاء** د متکلم مفعول به دا فعل شرط، **فاء** جزائیه **انت** مبتداء **مکرم** یې خبر مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله شرطیه.

و ان رایت زیدا فاکرمه: ان حرف شرط، **رائیت** صیغه مخاطب فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې

انت دی اهغه یې فاعل، زیدا مفعول به شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه فعل شرط، فاء جزائیه اکرمه امر حاضر معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې انت دی دا یې فاعل هٔ ضمیر ورته مفعول به شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله شرطیه.

و ان اتاک عمرو فلا تهنه: ان حرف شرط اتی صیغه فعل ماضي معلوم، ک ضمیر منصوب مفعول به شو، عمرو ورته فاعل شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا فعل شرط، فاء جزائیه، لا ناهیه، تهن صیغه د فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې انت دی دا یې فاعل هٔ ضمیر مفعول به، فعل فاعل مفعول به جمله فعلیه ناهیه جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله شرطیه.

د افعالو عمل:

باب دوم در عمل افعال: بدانکه هیچ فعل غیر عامل نیست و افعال در اعمال
[دوهم باب] [په عمل دافعالو کې] [پوه شه چې] [هیڅ یو فعل] [غیر عامل نه دی] [او افعال په عمل کې]
دویم باب په بیان د افعالو د عمل کې، پوه شه! چې هیڅ یو فعل غیر عامل نشته او افعال په عمل
بر دو گونه است: قسم اول: معروف، بدانکه فعل معروف خواه لازم باشد
[په دوه قسمه دی] [اول قسم] [معروف] [پوه شه چې] [فعل معروف] [برابره خبره ده که لازم وي]
په عمل کې په دوه (۲) قسمه دي: اول قسم معلوم افعال دي، پوه شه چې فعل معلوم که لازمي وي
یا متعدی فاعل را برفع کند چون: قَامَ زَيْدٌ وَ ضَرَبَ عَمْرٌو، و شش اسم
[یا متعدي وي] [فاعل ته به] [رفع ورکوي] [لکه] [قَامَ زَيْدٌ وَ ضَرَبَ عَمْرٌو] [او شپږو اسمونو]
او که متعدي وي فاعل ته رفع ورکوي لکه: قَامَ زَيْدٌ وَ ضَرَبَ عَمْرٌو، او شپږو (٦) اسمونو
را بنصب کند.
[ته نصب] [ورکوي].
ته نصب ورکوي.

تشریح: په مخکې باب کې د حروفو عاملو بیان وو او په دې باب کې د افعال عاملو بیان دی او په دریم باب کې به د اسماء عاملو بیان وي په لومړني باب کې وو چې پنځه قسمه حروف په اسم کې عمل کوي او دوه قسمه په مضارع کې عمل

کوي، نو د دې نه معلومه شوه چې د دغې حروفو نه علاوه نور حروف عمل نه کوي او وروستو په دویم باب کې به راشي چې اسماء عامله یولس قسمه دي نو دهغې نه معلومیږي چې د غې یولسو قسمونو نه علاوه به نور عمل نه کوي نو خلاصه دا شوه چې بعضې غیر عامله دي او په دویم باب کې مصنف فرمایي چې داسې یو فعل نشته چې هغه عمل نه کوي بلکې هر یو فعل عمل کوي که هغه معروف وي که مجهول وي او که تام وي که ناقص وي او که فعل مدح یا ذم وي یا فعل لازم وي یا متعدي وي نو خلاصه دا چې هر فعل عمل کوي نو ځکه مصنف وویل چې :

﴿بدانکه هیچ فعل غیر عامل نیست﴾ یعنې هیچ یو فعل داسې نشته چې هغه عمل نه کوي البته د فعل مجهول او د معروف په عمل کې فرق نشته فعل معروف هر څنګه چې وي که لازمي وي که متعدي وي فاعل ته به خامخا رفع ورکوي، لکه **قَامَ زَيْدٌ** داد فعل لازمي مثال دی دلته کې **قَامَ زَيْدٌ** ته رفع ورکړې ده ځکه د **قَامَ** فاعل **زید** دی او **قام** فعل لازم دی ځکه چې دا مشتق دی د **قیام** نه او د **قیام** معنی ده او دریدل نو د زید او دریدل د ذات پورې دی او د زید نه په اخوا باندې متعدي شوی، د فعل معروف متعدي مثال لکه : **ضَرَبَ زَيْدٌ** نو **زید** فاعل دی او **ضَرَبَ** فعل ورته رفع ورکړې ده او دا فعل متعدي دی ځکه **ضرب** د **زید** نه صادر شوی دی او په بل واقع شوې دی لیکن فاعل ته په رفع ورکولو کې **قَامَ** او **ضَرَبَ** دواړه برابر دي نو فعل معروف که لازمي وي او که متعدي شپږو اسماوو ته به نصب ورکوي او هغه شپږ اسماء دي.

فعل په اعتبار د فاعل سره په دوه قسمه دی : (۱) فعل معلوم، (۲) فعل مجهول، فعل معلوم : هغه دی چې په نسبت قیامیه باندې دلالت وکړي یعنې فاعل یې مذکور وي، فعل مجهول : دا هغه دی چې په نسبت وقوعیه باندې دلالت وکړي یعنې فاعل مذکور نه وي. او فعل په معنی د اعتبار سره په دوه قسمه دی : (۱) فعل لازمي : فعل لازمي هغه دی چې کوم په فاعل باندې پوره شي یعنې د خپلې مخې په لحاظ سره مفعول به طرف ته محتاج نه وي لکه : **قَامَ زید**، (۲) فعل متعدي : هغه دی چې کوم په فاعل پوره نه شي بلکې د خپلې معنی په لحاظ سره مفعول ته هم محتاج وي لکه : **ضرب زید عمراً**.

ترکیب : قام زید : قام فعل، **زید** ورته فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

ضرب عمرو : ضرب فعل ماضي معلوم، **عمرو** ورته فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

مفعول مطلق :

اول : مفعول مطلق را چون : قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا وَ ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا.
[اول قسم] [مفعول مطلق] [ته] [لکه] [قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا] [وَ ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا].
اول قسم مفعول مطلق ته نصب ورکوي لکه : قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا وَ ضَرَبَ زَيْدٌ ضَرْبًا.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د هغه شپږو اسمونو نه چې فعل معلوم ورته نصب ورکوي د اول اسم يعني د مفعول مطلق بيان کوي.

تشريح : په دغې شپږو اسمونو کې اول قسم مفعول مطلق دی، او مفعول مطلق د همېشه د پاره منصوب وي نو په دغې دوو مثالونو کې دوه مفعول مطلق دي اول **قِيَامًا** او دويم **ضَرْبًا** دی **قيامًا** ته نصب **قَامَ** ورکړې دی او **ضَرْبًا** ته نصب **ضَرَبَ** ورکړې دی، اولني مثال د فعل لازم دی او دويم مثال د فعل متعدي دی.

وجه تسميه : مفعول مطلق ته مفعول مطلق ځکه وايي چې نور مفاعيل مقيد وي په قيد سره لکه مفعول فيه، مفعول معه، مفعول له وغيره او مفعول مطلق د يو قيد سره هم مقيد نه دی نو ځکه دې ته مفعول مطلق وايي.

ترکيب : قام زيد قياما : قام فعل، زيد فاعل، قيامًا مفعول مطلق، فعل سره د فاعله او سره د مفعول مطلق جمله فعليه خبريه.

ضرب زيد ضربا : ضرب فعل، زيد فاعل، ضربًا مفعول مطلق، فعل سره د فاعله او سره د مفعول مطلق جمله فعليه خبريه.

مفعول فيه :

دوم مفعول فيه راچون صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَجَلَسْتُ فَوْقَکَ ' سوم مفعول
[دوهم قسم] [مفعول فيه ته] [لکه] [صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَجَلَسْتُ فَوْقَکَ] [دريم قسم مفعول]
دويم قسم مفعول فيه ته نصب ورکوي لکه صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَجَلَسْتُ فَوْقَکَ دريم قسم مفعول
معه راچون جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ أَيْ مَعَ الْجُبَّاتِ ' چهارم مفعول له راچون
[معه ته] [لکه] [جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ] [أَيْ مَعَ الْجُبَّاتِ] [څلورم قسم مفعول له ته] [لکه]
معه ته نصب ورکوي لکه جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتُ. أَيْ: مَعَ الْجُبَّاتِ څلورم قسم مفعول له ته لکه:
قُمْتُ إِکْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا پنجم حال راچون جَاءَ زَيْدٌ رَاکِبًا ششم
[قُمْتُ إِکْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا] [پنځم قسم] [حال دی] [لکه جَاءَ زَيْدٌ رَاکِبًا] [شپږم]
قُمْتُ إِکْرَامًا لِزَيْدٍ وَضَرَبْتُهُ تَأْدِيبًا، پنځم قسم: حال دی لکه: جَاءَ زَيْدٌ رَاکِبًا، شپږم

تمیز را و قتیکه در نسبت فعل بفاعل ابهامی باشد چون : طَابَ زَیْدٌ نَفْسًا
[تمیزته] [په هغه وخت کې چې] [په نسبت د فعل کې] [فاعل ته څه ابهام وي] [لکه طَابَ زَیْدٌ نَفْسًا]
تمیز خو دا په هغه وخت کې چې په نسبت د فعل کې فاعل ته څه ابهام وي، لکه: طَابَ زَیْدٌ نَفْسًا
اما فعل متعدی مفعول به را بنصب کند چون ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْراً ، واین عمل
[هرچې فعل متعدي] [دا به مفعول به ته] [نصب ورکوي] [لکه] ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْراً] [او دا عمل به]
او هرچې فعل متعدي دی نو دا مفعول به ته نصب ورکوي لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْراً، او دا عمل به
فعل لازم را نباشد.
[په فعل لازم کې] [نه وي]
په فعل لازمي کې نه وي (ځکه چې هغه په فاعل پوره کېږي).

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د هغه اسماو بیان کوي چې فعل مضارع معلوم ورته نصب ورکوي.

تشریح : دویم هغه اسم چې فعل معروف ورته نصب ورکوي مفعول فیه ده مفعول فیه په حقیقت کې فعل ظرف ته وایي او ظرف په دوه قسمه دی: زمان، مکان، نو په په اول مثال کې **یَوْمُ الْجُمُعَةِ** مفعول فیه زمان دی او په دویم مثال کې **فَوْقَكَ** مفعول فیه مکان دی.

﴿قوله : سوم مفعول معه را﴾ دریم قسم د هغې اسمونو نه چې فعل معلوم ورته نصب ورکوي مفعول معه دی لکه: **وَالْجُبَّاتِ** دا مفعول معه دی **جَاءَ** ورله نصب ورکړی دی.

سوال : **اَلْجُبَّاتِ** خو مکسور دی او ته خو وایې چې **اَلْجُبَّاتِ** منصوب دی؟

جواب : دا خو تاسو ته د مخکې نه معلومه ده چې د جمع مؤنث سالم حالت نصبي د حالت جري تابع وي.

﴿قوله : چهارم مفعول له را﴾ څلورم قسم د هغې اسمونو نه چې فعل معلوم ورته نصب ورکوي مفعول له دی په ذکر شوو مثالونو کې **اِکْرَاماً** او **تَأْدِیْباً** دواړه مفعول له دي اول مفعول له ته نصب فعل لازم ورکړی دی او دویم ته فعل متعدي ورکړی دی.

﴿قوله پنجم حال را﴾ پنځم د هغې اسمونو نه چې فعل ورته نصب ورکوي، حال دی په دې مثال کې **رَاکِباً** حال دی او

جَآءَ ورله نصب ورکړي دی معنی راغي زید په دې حال کې چې سور وو.

﴿قوله ششم تمیز را﴾ شپږم قسم د هغې اسمونو نه چې فعل معروف ورته نصب ورکوي تمیز دی خو دا فعل به تمیز له په هغې وخت کې نصب ورکوي چې د فعل نسبت چې فاعل ته شوی وي په هغې کې څه قسم ابهام او پټوالی وي نو د هغې ابهام لرې کولو د پاره د تمیز ضرورت وي لکه مثلاً چې کله وویلې شي چې طَابَ زَیْدٌ معنی یې ده چې ښه دی زید نو دلته وهم پیدا شو چې زید په کوم اعتبار سره ښه دی نو د دې وهم د لرې کولو د پاره چې کوم لفظ زیاتي کولی کیږي نو هغې ته تمیز ویلی کیږي لکه طَابَ زَیْدٌ نَفْساً نو د نفساً په زیاتولو سره هغه ابهام لرې شو ځکه چې معنی یې شوه ښه دی زید د خپل ذات په اعتبار سره.

﴿قوله اما فعل متعدي مفعول به را﴾ فاعل ته په رفع ورکولو کې او دې شپږو اسمونو ته نصب ورکولو کې فعل لازم او فعل متعدي دواړه برابر دي، لیکن په فعل متعدي کې یو عمل زیات دی نو مطلب دا چې فعل متعدي خو دغې شپږو اسمونو ته نصب ورکوي خو مفعول به ته هم نصب ورکوي لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْراً او فعل لازم چونکه په فاعل باندې تمامیږي او مفعول به نه غواړي نو د دې وجې نه دده دا عمل هم نشته نو. خلاصه دا چې د فعل لازم شپږ منصوبات شول: لومړی: مفعول مطلق، دوهم: مفعول فیه، دریم: مفعول معه، څلورم: مفعول له، پنځم: حال، شپږم: تمیز، او د فعل متعدي اوه منصوبات شول شپږ خو دغه او اوم مفعول به.

تر دې ځای پورې ټول معمولات اته شول: لومړی: فعل، دوهم: مفعول فیه، دریم: مفعول معه، څلورم: مفعول له، پنځم: حال، شپږم: تمیز، او د فعل متعدي اوه منصوبات شول شپږ خو دغه او اوم مفعول به، تر دې ځای پورې د دوي مختصر بیان وشو په راتلونکي فصل کې به د هر یو تعریف او مثال بیانیږي إن شاء الله.

سوال: د یو عامل اته معمولات څنګه شول؟ **جواب**: دیو عامل اته معمولات داسې دي چې کله یو کار کوونکي کار کوي نو دغې یو کار لپاره یو څو څیزونه ثابتیږي: (۱) یو خو کار کوونکی نو دې ته فاعل وایي. (۲) او د دغې فاعل دا فعل چې د کوم مصدر نه راوتې وي که چیرته دغه مصدر د دغې فعل نه وروستو د څه خاص مصلحت د وجې نه ذکر شوی وي نو دې ته مفعول مطلق وایي. (۳) او د فعل چې په کوم ځای کې او په کوم وخت کې شوې وي نو هغې ځای او وخت ته مفعول فیه وایي. (۴) او که چیرته د دغه فعل په واقع کېدو کې ورسره بل څوک شریک وي او د دواړو په منځ کې واو په معنی د مع سره راشي نو دې ته مفعول معه وایي. (۵) او د کومې وجې نه چې دغه کار کړې شوې وي نو هغې ته مفعول له وایي. (٦) او فاعل چې کوم حالت کې دغه کار کړی وي نو دغې حالت ته حال ویلی شي. (۷) او که چیرته د دغې فعل په نسبت کې فاعل ته لږ پټوالی وي نو د هغې د ختمولو لپاره چې کوم لفظ راوړی شي نو هغې ته تمیز ویلی شي. (۸) او په چا باندې چې د فاعل فعل واقع شوې وي نو هغې ته مفعول به وایي نو تاسو ولیدو چې د یو فعل د وجې نه څومره څیزونه ثابت شول.

10

ترکیب : صمت یوم الجمعة : صمت فعل فاعل ، یوم مضاف ، **الجمعة** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه خبریه .

جلستُ فوقک : جلست فعل فاعل ، **فوق** مضاف ، **کاف** ضمیر مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفعول فیه شو ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه خبریه .

جاء البرد والجبات ای مع الجبات : **جاء** صیغه فعل ماضي معلوم **البرد** فاعل ، واو په معنی د **مع** سره دا مضاف **الجبات** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفسَر ، **ای** حرف تفسیر **مع** مضاف **الجبات** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا مفسِر شو ، مفسَر سره د مفسِر نه دا مفعول معه شو ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول معه جمله فعلیه خبریه .

جاء زید راکباً : **جاء** فعل ماضي معلوم ، **زید** ذو الحال **راکباً** ورته حال شو ، ذو الحال سره د حال نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعل او سره د حال نه جمله فعلیه خبریه . **طاب زید نفسا :** **طاب** صیغه فعل ماضي معلوم ، **زید** ممیز **نفسا** ورته تمیز شو ، ممیز سره د تمیز نه دا فاعل شو د پاره د **طاب** ، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه .

ضرب زید عمروا : **ضرب** فعل ماضي معلوم ، **زید** یې فاعل ، **عمروا** ورته مفعول به ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه .

د فاعل تعریف :

فصل : بدانکه فاعل اسمی است که پیش از وی فعلی باشد مسند بدان
[فصل] [پوهه شه چې] [فاعل هغه اسم دی] [چې مخکې دد ې نه] [یو فعل وي] [چې مسند وي دې]
فصل : پوهه شه ! چې فاعل هغه اسم دی چې مخکې د دې نه فعل وي او نسبت یې شوی وي دغه
اسم بر طریق قیام فعل بدان اسم چون : زَیْدٌ در ضَرَبَ زَیْدٌ .
[اسم ته] [په طریقې] [د قیام د فعل] [تر دې اسم پورې] [لکه زَیْدٌ شو] [په ضَرَبَ زَیْدٌ کې] .
اسم ته په طریقې د قیام د فعل دد ې اسم پورې لکه : زَیْدٌ شو په ضَرَبَ زَیْدٌ کې .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د فاعل تعریف بیانیږي .

تشریح : په مخکې فصل کې مصنف رحمة الله علیه د فعل معمولات (یو فاعل او شپږ منصوب اسماء) بیان کړل او س په دې فصل کې د دغې معمولاتو تفصیل بیانوي ، په دغې معمولاتو کې د ټولو نه اولنی فاعل دی .

د فاعل تعریف: فاعل هغه اسم ته ویلی کېږي چې دده نه مخکې فعل یا شبه فعل وي او د دغې فعل یا شبه فعل نسبت دغې وروستني اسم ته په داسې طریقې سره شوې وي چې دا فعل او شبه فعل ده سره قائم وي د فعل مثال لکه: **ضَرَبَ زَیْدٌ** نو په **زَیْدٌ** باندې د فاعل تعریف صادقېږي ځکه **زید** اسم دی او مخکې ترې نه فعل دی او د دغې فعل نسبت **زید** ته شولی دی په خلاف د **زَیْدٌ ضَرَبَ** په دې مثال کې **زید** ته فاعل نه شي ویلې ځکه دلته فعل د **زید** نه وروستو دی د فاعل کېدو د پاره شرط دا دی چې فعل به مخکې وي بلکې **زید** مبتداء ده **ضرب** که فعل ضمیر په کې مستتر دی هغه ورله فاعل دی فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه شوه د پاره د مبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه، د شبه فعل مثال لکه: **زَیْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ**، نو په دې مثال کې **قائم** اسم فاعل شبه فعل دی او **ابوه** ورله فاعل دی نو اسم سره د فاعل نه خبر شو لپاره د **زید** نو **زید** سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه شوه.

سوال: شبه فعل کوم کوم څیزونه دي؟

جواب: شبه فعل اسم فاعل صفت مشبه، مصدر، اسم فعل، اسم تفضیل او ظرف ته ویلی شي.

سوال: دوي ته شبه فعل ولې ویلی شي؟ **جواب:** دوی په عمل کولو کې د فعل په شان دي او لکه څنګه چې د فعل د پاره فاعل وي نو د دوي د پاره هم فاعل وي او لکه څنګه چې فعل خپل فاعل ته رفع ورکوي هم دغه شان دوي هم خپل فاعل ته رفع ورکوي نو د دې وجې نه دوی ته شبه فعل ویلی شي.

ترکیب: ضرب زید: ضرب فعل، زید یې فاعل، نعل فاعل جمله فعلیه خبریه.

د مفعول مطلق، مفعول فیه، مفعول معه او د مفعول له تعریف:

ومفعول مطلق مصدری است که واقع شود بعد از فعلی وآن مصدر بمعنی آن
[او مفعول مطلق] [هغه مصدر دی] [چې واقع شي] [پس د یو فعل نه] [او دغه مصدر په معنی د هغه]
او مفعول مطلق هغه مصدر دی، چې واقع شوی وي پس د یو فعل نه، او دغه مصدر په معنی د دغې
فعل باشد چون ضَرْبًا در ضَرَبْتُ ضَرْبًا وَقِیَامًا در قُمْتُ قِیَامًا ومفعول
[فعل سره وي] [لکه ضَرْباً] [په ضَرَبْتُ ضَرْباً کې] [او قِیَاماً] [په قُمْتُ قِیَاماً کې] [او مفعول]
فعل سره وي لکه ضَرْباً شو په ضَرَبْتُ ضَرْباً کې او قِیَاماً شو په قُمْتُ قِیَاماً کې، او مفعول

فیہ اسمی است کہ فعل مذکور درو واقع شود، واو را ظرف گویند، و ظرف
[فیه] [هغه اسم دی چې] [فعل فعل په هغې کې واقع شوی وي] [او دې ته] [ظرف وايي] [او ظرف]
فیه هغه اسم دی: چې په دې کې فعل مذکور واقع شوی وي، او دې ته ظرف هم ویلې شي، او ظرف
بر دو گونہ است ظرف زمان چون يَوْمَ در صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وظرف مکان
[په دوه قسمه دی] [ظرف زمان] [لکه] [يَوْمَ په] [صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ کې] [او بل ظرف مکان]
په دوه (۲) قسمه دی: یو ظرف زمان لکه يَوْمَ شو په صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ کې، او بل ظرف مکان
چون عِنْدَ در جَلَسْتُ عِنْدَكَ و مفعول معہ اسمی است کہ مذکور باشد بعد از واو
[لکه] [عِنْدَ] [په جَلَسْتُ عِنْدَكَ کې] [او مفعول معه هغه اسم دی] [چې ذکروي] [پس د واو نه]
لکه عِنْدَ شو په جَلَسْتُ عِنْدَكَ کې، او مفعول معه هغه اسم دی چې ذکر وي پس د داسې واو نه
بمعنی مع چون وَ الْجُبَّاتِ در جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ أي
[چې په معنی] [د مع سره وي] [لکه] [وَ الْجُبَّاتِ] [په] [جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ کې] [یعنې]
چې دغه واو په معنی د مَعَ سره وي، لکه: وَ الْجُبَّاتِ په جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ کې یعنې
مَعَ الْجُبَّاتِ. و مفعول لہ اسمی است کہ دلالت کند بر چیزی کہ سبب فعل
[مَعَ الْجُبَّاتِ] [او مفعول به] [هغه اسم دی] [چې دلالت کوي په یو داسې شي باندې] [چې سبب د فعل]
مَعَ الْجُبَّاتِ او مفعول به هغه اسم دی چې دلالت کوي په یو داسې شي باندې چې سبب د فعل یې
مذکور باشد چون: إِكْرَامًا در قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ.
[يې مذکور] [وي] [لکه] [اِكْرَاماً] [په قُمْتُ اِكْرَاماً لِزَيْدٍ کې].
مذکور وي، لکه: اِكْرَاماً شو، په قُمْتُ اِكْرَاماً لِزَيْدٍ کې.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د مفعول مطلق، مفعول فیه، مفعول معه او د مفعول له بیان کیږي.

تشریح: د مفعول مطلق تعریف: دا هغې مصدر ته ویلی شي چې د هغې نه مخکې یو فعل وي او دغه

مصدر ددغې مخکې فعل په معنی سره وي لکه ضَرْباً او قِيَاماً دواړه مفعول مطلق دي او دواړه مصدر دي د ضَرْباً نه مخکې ضَرَبْتُ دی او ضَرْباً د ضَرَبْتُ په معنی سره دی او د قِيَاماً نه مخکې قُمْتُ دی دا قِيَاماً د قُمْتُ په معنی سره دی د مفعول مطلق د پاره دوه خبرې ضروري دي: چې فعل نه به وروستو واقع شوې وي او په معنی ددغې فعل به وي اگر که باب يې بدل وي يا په کې لفظي تبديلي وي لکه قُمْتُ قِيَاماً، أَنْبَتَهُ اللهُ نَبَاتاً، قَعَدْتُ جُلُوْساً.

د مفعول مطلق د استعمال غرضونه: تاکيد لکه قُمْتُ قِيَاماً، بيانول د قسم لکه جَلَسْتُ جَلْسَةَ الْقَارِيِّ زه کېناستم په شان ته د ناستې د قاعدې، تعداد ظاهرول لکه جَلَسْتُ جَلْسَةً زه کېناستم يو ځل.

﴿قوله مفعول فيه﴾ مفعول فيه هغې اسم ته ويلی کېږي چې په هغې کې هغه فعل واقع شوی وي کوم چې د هغې نه مخکې ذکر شوې وي او دې مفعول فيه ته ظرف هم ويلی شي او ظرف په دوه (۲) قسمه دی: مفعول فيه ظرف زمان، مفعول فيه ظرف مکان د مفعول فيه ظرف زمان مثال، لکه يَوْمَ شو په صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ کې يعنې ما د جمعې په ورځ روژه نيولې وه، نو روژه فعل دی او د جمعې په ورځ واقع شوې ده نو د جمعې ورځ د روژې د وجې نه مفعول فيه ظرف زمان شو مثال د مفعول فيه ظرف مکان لکه عِنْدَ شو په جَلَسْتُ عِنْدَكَ کې يعنې زه ستا خوا ته کېناستم نو د چا خوا ته کېناستل خو به په مکان کې وي نو دغه عند به د جلوس فعل لپاره مفعول فيه شي.

﴿قوله مفعول معه﴾ مفعول معه هغې اسم ته ويلی کېږي چې هغه د داسې واو نه وروستو ذکر شوې وي چې دا واو د مع په معنی سره وي، لکه وَالْجُبَّاتِ نو اَلْجُبَّاتِ مفعول معه ده ځکه د دې نه مخکې چې کوم واو دی نو هغه د مَعَ په معنی سره دی نو معنی په داسې شي چې ژمی او د ژمي کپړې دواړه په يو ځای راغلل يعنې د ژمي په راتلو سره غټې گرمې جامې راوځي.

﴿قوله مفعول له﴾ دا خو معلومه ده چې کوم کار کولی شي نو د هغې خامخا څه وجه او سبب وي نو کوم اسم چې دلالت کوي په هغې سبب چې د هغې وجې نه هغه کار کړې شوې وي نو هغې ته مفعول به ويلی شي لکه قُمْتُ إِكْرَاماً نو په دې کې إِكْرَاماً مفعول له دی ځکه چې د متکلم او درېدل د زيد د تعظيم د وجې نه دی نو قِيَاماً صرف د زيد د تعظيم د وجې نه واقع شوی دی نو لهذا إِكْرَاماً د قُمْتُ لپاره مفعول له شو نو معنی به داسې شي چې پاڅېدم زه د زيد د تعظيم د وجې نه.

ترکيب: ضربت ضرباً : ضربت فعل فاعل، ضرباً دا يې مفعول مطلق، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

قمت قياماً: قمت فعل فاعل، قياماً دا يې مفعول مطلق، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

صمت يوم الجمعة: صمت فعل فاعل، يوم مضاف، الجمعة مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فيه جمله فعليه خبريه. **جلستُ عندک**: جلست فعل فاعل، عند مضاف، كاف ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفعول فيه شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فيه جمله فعليه خبريه.

جاء البرد والجبات اى مع الجبات: جاء صيغه فعل ماضي معلوم البرد فاعل، واو په معنى د مع سره دا مضاف الجبات مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفسَّر، اى حرف تفسير مع مضاف الجبات مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مفسِر شو، مفسَّر سره د مفسِر نه دا مفعول معه شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول معه جمله فعليه خبريه.

جاء زيد راكباً: جاء فعل ماضي معلوم، زيد ذوالحال راكباً ورته حال شو، ذوالحال سره د حال نه دا فاعل شو د پاره د جاء، جاء فعل سره د فاعل او سره د حال نه جمله فعليه خبريه. **طاب زيد نفسا**: طاب صيغه فعل ماضي معلوم، زيد مميز نفسا ورته تميز شو، مميز سره د تميز نه دا فاعل شو د پاره د طاب، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

ضرب زيد عمروا: ضرب فعل ماضي معلوم، زيد يې فاعل، عمروا ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

د حال تعريف :

وحال اسمی است نکره که دلالت کند بر هیأت فاعل چون رَاكِبًا در جَاءَ زَيْدٌ
[او حال] [هغه اسم نكره دى] [چې دلالت كوي په هيئت د فاعل باندې] [لكه] [رَاكِباً] [په جَاءَ زَيْدٌ]
او حال هغه اسم نكره دى چې دلالت كوي په هيئت او صورت د فاعل باندې لكه رَاكِباً په جَاءَ زَيْدٌ
رَاكِبًا ، يا بر هيأت مفعول چون مَشْدُوْداً در ضَرَبْتُ زَيْداً
[رَاكِباً كې] [يا په] [هيئت د مفعول باندې دلالت كوي] [لكه مَشْدُوْداً] [په ضَرَبْتُ زَيْداً]
رَاكِباً كې، يا دا حال په هيئت د مفعول باندې دلالت كوي، لكه: مَشْدُوْداً په ضَرَبْتُ زَيْداً
مَشْدُوْداً ، يا بر هيأت هر دو چون رَاكِبَيْنِ در لَقِيْتُ زَيْداً
[مَشْدُوْداً كې] [يا په هئيت د هر دواړو باندې دلالت كوي] [لكه رَاكِبَيْنِ] [په لَقِيْتُ زَيْداً]
مَشْدُوْداً كې، يا دا حال دلالت كوي په هيئت د دواړو باندې لكه: رَاكِبَيْنِ په لَقِيْتُ زَيْداً

رَاکِبَیْنِ و فاعل و مفعول راذوالحال گویند وآن غالبا معرفه باشد واگر نکره باشد
[رَاکِبَیْنِ کې] [او فاعل او مفعول ته] [ذوالحال وایي] [او دا اکثر معرفه وي] [او که چېرته نکره وي]
رَاکِبَیْنِ کې، او فاعل او مفعول ته ذوالحال وایي، او دا اکثر معرفه وي، او که چېرته نکره وي نو
حال را مقدم دارند چون جَاءَنِيْ رَاکِبًا رَجُلٌ وحال جمله نیز باشد چنانچه رَأَیْتُ
[حال به] [مقدم وي] [لکه] [جَاءَنِيْ رَاکِبًا رَجُلٌ.] [او حال] [جمله هم وي] [لکه رَأَیْتُ]
حال به مقدم وي په ذوالحال باندې لکه: جَاءَنِيْ رَاکِبًا رَجُلٌ، او حال جمله هم وي لکه: رَأَیْتُ
الأَمِیْرَ وَهُوَ رَاکِبٌ.
[الأَمِیْرَ وَهُوَ رَاکِبٌ].
الأَمِیْرَ وَهُوَ رَاکِبٌ.

تشریح: د حال تعریف: حال هغه ته وایي چې د ذوالحال یعني د فاعل یا د مفعول حالت بیان کړي لکه:

جاءني زید راکباً، نو په دې مثال کې راکباً حال دی، نو فاعل یعني کار کوونکی چې کله څه کار کوي نو یا به یې په ناسته کوي یا په ولاړه یا په بل حالت کې دغه شان مفعول هم دی کله به پرې فعل په یو حالت کې واقع شوی وي او کله به پرې په بل حالت کې نو چې کوم لفظ د فاعل د کار کولو حالت ښکاره کړي یا د مفعول حالت ظاهر کړي او یا د دواړو حالت ظاهر کړي چې فاعل او مفعول د فعل کولو په وخت کې په فلانکي حالت باندې وو نو داسې لفظ ته حال ویلی شي او د چا حال چې یې بیان کړی وي نو هغې ته ذوالحال وایي او مصنف د حال داسې تعریف کړی دی چې حال هغه اسم دی چې هغه نکره وي معرفه نه وي چې دلالت وکړي په حالت د فاعل یا د مفعول یا د دواړو په حالت باندې. د فاعل د حالت د ظاهرولو مثال لکه جَاءَنِيْ زَیْدٌ رَاکِباً په دې کې رَاکِباً حال دی او زید ذوالحال دی او فاعل دی نو جاء دا وښودله چې د زید راتلل د سوروالي په حالت کې وو. د مفعول د حالت د ظاهرولو مثال لکه: ضَرَبْتُ زَیْداً مَشْدُوْداً، یعني ما زید ووهلو په داسې حالت کې چې تړلی شوی وو نو په دې مثال کې مَشْدُوْداً حال دی نکره دی او زید ذوالحال مفعول دی او معرفه دی. د هغې حال مثال چې د فاعل او مفعول د دواړو حالت یې ظاهر کړي وي لکه: لَقِیْتُ زَیْداً رَاکِبَیْنِ یعني ما ملاقات وکړو د زید سره په داسې حال کې چې مونږه دواړه سواره وو نو د ملاقات څلور صورتونه دي خو چې رَاکِبَیْنِ یې وویل نو درې

صورتونه ساقط شول او یو صورت متعین شو نو په دې مثال کې رَاکِبَیْنِ تثنیه حال دی او لَقِیْتُ فعل فاعل دی زَیْداً یې مفعول دی او رَاکِبَیْنِ حال د فاعل او مفعول د دواړو حالت بیان کړی دی یعنې فاعل او مفعول دواړه سواره وو.

﴿قوله فاعل و مفعول را﴾ حال چه د چا بیانوي هغه ته ذوالحال ویلی شي او عام طور ذوالحال معرفه وي لکه په تېرو مثالونو کې زید هم معرفه وه او ضمیر هم معرفه وه، ځکه چې د ذوالحال مثال د مسند الیه دی. نو د مسند الیه لپاره معرفه کېدل مناسب دي او د مصدر لپاره نکره والی مناسب دی او که چېرته اتفاقي طور ذوالحال نکره وه نو بیا به په دې صورت کې حال مقدم کولی شي او ذوالحال به مؤخر کولی شي لکه جَاءَنِيْ رَاکِباً رَجُلٌ، نو په دې مثال کې رَجُلٌ نکره ذوالحال دی او رَاکِباً حال دی نو د ذوالحال د نکره والي د وجې نه رَاکِباً حال مقدم کړی شوې دی.

سوال: د دې څه وجه ده چې ذوالحال نکره وي نو حال به مقدم کولی شي؟

جواب: د دې وجه داده که چېرته مقدم یې نه کړو او داسې ووایو چې: جَاءَنِيْ رَجُلٌ رَاکِباً، رَأَیْتُ رَجُلاً رَاکِباً، وَ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ رَاکِباً نو په دې درېو کې په حالت نصبي کې دا شبهه پیدا کېږي چې رَجُلاً رَاکِباً حال ذوالحال دی او که صفت موصوف دی ځکه چې د صفت موصوف اعراب یو وي نو دلته دواړه احتماله راځي نو چې کله حال مخکې شو نو د صفت موصوف احتمال ختم شو ځکه چې صفت د خپل موصوف ته د سره نه مخکې کېږي نو په دې صورت کې حال او ذوالحال کېدل متعین شوه، او هر چې حالت رفعي او جري دی نو په هغوی کې التباس نه راځي ځکه په دې دواړو صورتونو کې یې اعراب جدا جدا دی او حالت رفعي او جري یې ځکه په تله کې وتلل چې د ټولو حکم یو شي لکه څنګه چې په بعهد کې واود قاعدې مطابق غورځولې شوې وو نو په تَعِدُ اَعِدُ نَعِدُ کې د دې وجې نه غورځول شوې وو چې د ټول باب حکم یو شي، حال لکه څنګه چې مفرد دی نو جمله خبریه هم واقع کېږي ځکه مقصود د ذوالحال حالت بیانول وي نو لکه څنګه یې چې مفرد بیانوي نو دغه شان یې جمله هم بیانوي لکه: رَأَیْتُ الْاَمِیْرَ وَهُوَ رَاکِبٌ یعنې ولیدو ما امیر لره په داسې حالت کې چې هغه سور وو نو الامیر ذوالحال دی او وهو راکب حال دی.

ترکیب: جاء زید راکباً: جاء فعل ماضي معلوم، زید ذوالحال راکباً ورته حال شو، ذوالحال سره د حال نه دا فاعل شو د پاره د جاء، جاء فعل سره د فاعل او سره د حال نه جمله فعلیه خبریه.

ضربت زیدا مشدوداً: ضربت فعل، زیداً ورته ذوالحال، مشدودا حال، ذوالحال سره د حال نه دا مفعول به شو د پاره د ضربت، ضربت فعل سره د فاعل او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

لقیت زیدا راکبین : **لقیت** صیغه د واحد متکلم فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل او ذوالحال، **زیدا** مفعول به دا هم ذوالحال شو ، **راکبین** دا ورته حال شو ، نو فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د دوارو ذوالحالو نه جمله فعلیه خبریه.

جاءني راکبا رجل : **جاء** فعل **نون** وقایه **یاء** مفعول به **راکباً** حال ، **رجل** ذوالحال مؤخر ، حال سره د ذوالحال نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

رأیت الامیر وهوراکب: **رَاَیْتُ** فعل فاعل، **اَلْاَمِیْرَ** ذوالحال ، **وا**و حالیه **هُوَ** مبتدا ، **رَاکِبٌ** خبر ، مبتدا سره د خبر نه حال شو د پاره د ذوالحال، ذوالحال سره د حال نه مفعول به شو د **رَاَیْتَ** د پاره، فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه.

د تمییز او مفعول به تعریف :

و تمیز اسمی است که رفع ابهام کند از عدد چون عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا یا از
[او تمییز] [هغه اسم دی چې] [رفع د ابهام کوي] [د عدد نه] [لکه عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا] [یا د]
او تمیز هغه اسم دی چې : رفع د ابهام کوي د عدد نه، لکه : **عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا** ، یا د
وزن چون : عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا ' یا از کیل چون : عِنْدِيْ
[وزن نه] [لکه] [عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا] [یا د] [کیل نه] [لکه] [عِنْدِيْ]
وزن نه رفع د ابهام کوي، لکه : **عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا** ، یا د کیل نه رفع د ابهام کوي، لکه : **عِنْدِيْ**
قَفِيْزَانِ بُرًّا ' یا از مساحت چون : مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا . و
[قَفِيْزَانِ بُرًّا] [یا د] [مساحت نه] [لکه] [مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا] [او]
قَفِيْزَانِ بُرًّا ، یا د مساحت نه رفع د ابهام کوي ، لکه : **مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا** ، او
مفعول به اسمی است که فعل فاعل بر وواقع شود چون ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا بدانکه
[مفعول به] [هغه اسم دی چې] [فعل د فاعل] [په ده واقع کیږي] [لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا] [پوهه شه]
مفعول به هغه اسم دی چې فعل د فاعل په ده واقع کیږي لکه : **ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا** . پوهه شه : چې دا

این همه منصوبات بعد از تمامی جمله باشند وجمله بفعل و فاعل تمام شود بدین
[چې داټول][منصوبات][پس د پوره کیدو][د جملې نه راځي][او جمله په فعل او فاعل پوره کیږي][د دې]
ټول منصوبات پس د جملې د پوره کیدو نه راځي، او جمله په فعل او فاعل سره پوره کیږي، نو د دې
سبب گویند که : اَلْمَنْصُوْبُ فَضْلَةٌ.
[وجې نه] [ویل کیږي چې] [اَلْمَنْصُوْبُ فَضْلَةٌ].
وجې نه ویل کیږي چې اَلْمَنْصُوْبُ فَضْلَةٌ، منصوب فضله او زیاتي څیز دی.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د تمییز او د مفعول به تعریف بیانیږي.

تشریح : تمییز په لغت کې جدا کولو ته وایي او تمییز ته تبیین تفسیر او ممیز هم ویل کیږي او په اصطلاح کې تمییز دې ته وایي چې رفع د ابهام کوي، یعنې بعضې خبرې داسې وي چې په هغې کې پټوالې وي تر کومې پورې چې ورسره څه لفظ زیات کړې شوې نه وي نو تر هغې پورې ترې نه هغه پټوالې نه پورته کیږي نو دا پټوالې به یا په عدد او شمار کې وي لکه یو سړی وو وایي چې عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ نو مخاطب ته پوره پته نه وي چې یولس څه دي نو چې کله ورسره دِرْهَمًا زیات شو نو پټوالې یې ختم شو او مخاطب ته پته ولگیده چې د متکلم سره یولس دراهم دي. او دا پټوالی کله د یو څیز په وزن کې وي لکه یو سړی وو وایي چې عِنْدِيْ رِطْلٌ (رطل یو قسم پیمانه ده) یعنې زما سره یو رطل دی نو مخاطب په شک کې پریوځي چې یو رطل څه څیز دی خو چې کله متکلم وو وایي چې عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا نو پټوالی ختم شي او خبره واضحه شي چې د ما سره یو رطل تیل دی. او کله دا پټوالی د یو څیز په ناپ او په پیمانه کې وي لکه یو سړی وو وایي چې عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ زما سره دوه پیمانې دي نو مخاطب ته خبره پوره معلومه نه وي خو چې کله ورسره متکلم بُرًّا زیات کړي نو مخاطب ته خبره واضحه شي چې دوه پیمانې د غنمو دي. او کله دا پټوالی په پیمائش کې وي لکه یو سړی وو وایي چې مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ یعنې نشته په آسمان کې په قدر د یو ورغوي نو په دې کې ابهام دی چې په قدر د یو ورغوي څه څیز نشته نو چه سَحَابًا وویلې شو نو ابهام او پټوالې ترې نه ختم شو.

نو په کوم لفظ سره چې پټوالې لرې کیږي نو هغې ته تمیز ویلې کیږي نو په اول مثال کې اَحَدَ عَشَرَ ممیز دی او دِرْهَمًا ورله تمیز دی او په دویم مثال کې اَحَدَ عَشَرَ ممیز دی او دِرْهَمًا ورله تمیز دی او په دریم مثال کې رِطْلٌ ممیز دی او زَيْتًا ورله تمیز دی او په څلورم مثال کې قَفِيْزَانِ ممیز دی او بُرًّا ورله تمیز دی او په شپږم مثال کې رَاحَةٍ ممیز او سَحَابًا ورله تمیز دی.

﴿قوله مفعول به﴾ مفعول به هغې اسم ته ويلی کېږي چې په هغې باندې د فاعل فعل واقع وي لکه **ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرٌوْ**، نو **ضَرَبَ** فعل دی او **زَيْدٌ** يې فاعل دی او **عَمْرٌوْ** يې مفعول به ده دا ځکه چې **ضَرْب** په **عَمْرٌوْ** باندې واقع شوې دی. په دې خبره ځان پوه کول په کار دي، چې د جملې فعليې دوه ارکانه وي يو فاعل دويم فعل په دې دوو باندې جمله تمامېږي او پاتې شو دا نور منصوبات نو دوي ته د جملې په تمامېدو کې هيڅ دخل نشته ځکه دا ټول د جملې نه زياتي وي هم دغه وجه ده چې عربي ژبه کې ويلې شي چې **اَلْمَنْصُوْبُ فُضْلَةٌ** يعنې منصوب فضله او زياتي څيز دی.

ترکيب : عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَماً: عند مضاف ضمير د متکلم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه مفعول فيه شو د فعل محذوف **ثَبَتَ** لپاره، **ثَبَتَ** صيغه د واحد مذکر غائب ضمير په کې مستتر دی، چې تعبير ترې نه کېږي په **هُوَ** سره هغه ورته فاعل شو، فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول فيه نه جمله فعليه خبريه خبر مقدم، **اَحَدَ عَشَرَ** عدد مبهم مميز، **دِرْهَماً** تميز، مميز سره د تميز نه مبتداء مؤخره، مبتداء مؤخره سره د خبر مقدم نه جمله اسميه خبريه.

عندي رطل زيتا : عندي مضاف **ياء** متکلم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه ظرف مستقر متعلق شو تر **ثابت** پورې، **ثابت** اسم فاعل سره د فاعله دا خبر مقدم، **رطل** مميز **زيتا** دا يې تميز، مميز سره د تميز نه مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر نه جمله اسميه خبريه.

عندي قفيزان برا : عندي مضاف **ياء** متکلم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه ظرف مستقر متعلق شو تر **ثابت** پورې، **ثابت** اسم فاعل سره د فاعله دا خبر مقدم، **قفيزان** مميز **برا** دا يې تميز، مميز سره د تميز نه مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر نه جمله اسميه خبريه.

مافي السماء قدر راحة سحابا : ما مشابه د **ليس في** حرف جر **السماء** مجرور، جار مجرور دا متعلق شو تر **ثابتا** پورې **ثابتا** صيغه د اسم ضمير په کې مستتر دی چې **هُو** دی دا يې فاعل، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا خبر مقدم شو د پاره د **ما**، **قدر** مضاف **راحة** مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مميز، **سحابا** ورته تميز شو، مميز سره د تميز نه دا اسم مؤخر شو د پاره د **ما**، **ما** سره د اسم مؤخر او د خبر مقدم جمله اسميه خبريه.

ضرب زيد عمرا : ضرب فعل **زيد** فاعل، **عمرا** مفعول، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

د فاعل اقسام :

فصل : بدانکه فاعل بر دو قسم است : مظهر چون : ضَرَبَ زَيْدٌ ، و مضمر بارز
[فصل] [پوه شه چې] [فاعل] [په دوه قسمه دي] [مظهر] [لکه] [ضَرَبَ زَيْدٌ] [او ضمير بارز]
فصل : پوه شه چې فاعل په دوه قسمه دی : یو اسم ظاهر لکه : ضَرَبَ زَيْدٌ، دویم ضمیر چې بارز وي
چون ضَرَبْتُ و مستتر یعنی پوشیده چون زَيْدٌ ضَرَبَ که فاعل ضَرَبَ هُوَ است
[لکه] [ضَرَبْتُ] [او ضمير مستتر] [یعنې پټ] [لکه] [زَيْدٌ ضَرَبَ] [چې فاعل د ضَرَبَ] [هُوَ دی]
لکه : ضَرَبْتُ او بل هغه ضمیر چې پټ وي لکه : زَيْدٌ ضَرَبَ ، چې د ضَرَبَ فاعل هُوَ دی چې هغه
در ضَرَبَ مستتر. بدانکه چون فاعل مؤنث حقیقي باشد یا ضمیر مؤنث علامت
[په ضَرَبَ کې پټ دی] [پوهه شه چې] [هر کله فاعل د مؤنث حقیقي وي] [یا ضمیر د مؤنث وي] [علامت د]
په ضَرَبَ کې پټ دی پوهه شه ! چې هر کله فاعل مؤنث حقیقي وي یا ضمیر د مؤنث وي نو علامت د
تانیث در فعل لازم باشد چون قَامَ هِنْدٌ وَهِنْدٌ قَامَتْ أَيْ هِيَ و در مظهر مؤنث
[تانیث په فعل کې] [لازمي وي] [لکه قَامَ هِنْدٌ] [او هِنْدٌ قَامَتْ یعنې هِيَ] [او په اسم ظاهر مؤنث]
تانیث به په فعل کې لازمي وي لکه : قَامَ هِنْدٌ او هِنْدٌ قَامَتْ یعنې هِيَ ، او په اسم ظاهر مؤنث
غیر حقیقي و در مظهر جمع تکسیر دو وجه روا باشد چون طَلَعَ الشَّمْسُ وَ طَلَعَتِ
[غیر حقیقي] [او په اسم ظاهر جمع تکسیر کې] [دوه وجهې روا دي] [لکه طَلَعَ الشَّمْسُ وَ طَلَعَتِ]
غیر حقیقي او په اسم ظاهر جمع تکسیر کې دوه (۲) وجهې جائز دي لکه طَلَعَ الشَّمْسُ وَ طَلَعَتِ
الشَّمْسُ ، وَقَالَ الرِّجَالُ وَ قَالَتِ الرِّجَالُ .
[الشَّمْسُ] [وَ قَالَ الرِّجَالُ وَ قَالَتِ الرِّجَالُ] .
الشَّمْسُ ، وَقَالَ الرِّجَالُ وَ قَالَتِ الرِّجَالُ .

تشریح : د الفاظو په اعتبار سره فاعل په دوه (۲) قسمه دی : (۱) فاعل مظهر ، (۲) فاعل مضمر. که چېرته د فعل فاعل

ظاهر اسم وي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ نو ضَرَبَ فعل دی او زَيْدٌ يې فاعل اسم ظاهر دی نو دې ته فاعل ظاهر وايي. او که چېرته فاعل ضمير وي نو يا به ضمير ظاهر وي لکه ضَرَبْتُ نو په دې کې ضَرَبَ فعل دی او (تُ) ضمير د واحد متکلم فاعل دی او ښکاره دی او يا به د فاعل ضمير مستتر او پټ وي لکه زَيْدٌ ضَرَبَ نو په دې کې د ضَرَبَ نسبت هغې ضمير ته شوې دی کوم چې په دې کې پټ دی او زيد ته راجع دی نو حال دا شو چې د فاعل درې (۳) قسمونه شول: (۱) فاعل ظاهر، (۲) فاعل ضمير بارز، (۳) فاعل ضمير مستتر (پټ).

﴿قوله فاعل مؤنث حقيقي باشد يا ضمير﴾ دلته مصنف رَحِمَهُ اللهُ د يوې قاعدې بيان کوي چې کوم د فعل د تذکير او تانيث د پاره ده، مصنف رحمة الله عليه وايي چې که چېرته د فعل فاعل مؤنث حقيقي وي يا د فعل فاعل داسې ضمير وي چې هغه مؤنث حقيقي طرف ته راجع کېږي نه په دواړو صورتونو کې دا ضروري ده چې په فعل کې به علامه د تانيث لګولی شي، د دې لپاره چې د تانيث د علامې نه دا پته ولګېږي چې د دې مؤنث فعل وروستو فاعل مؤنث را روان دی که دغه فاعل ظاهر مؤنث حقيقي وي، يا ضمير د مؤنث وي.

د هغې فاعل مثال چې مؤنث حقيقي وي لکه قَامَتْ هِنْدٌ، نو هِنْدٌ فاعل دی د قَامَتْ او هِنْدٌ مؤنث حقيقي دی نو لهذا په قَامَتْ کې علامه د تانيث ولګولی شوه.

د هغې فاعل مثال چې مؤنث ضمير وي لکه هِنْدٌ قَامَتْ نو قَامَتْ فعل دی د دې فاعل ضمير مستتر دی چې هغه هندې طرف ته راجع دی چې هغه هِيَ نو لهذا فعل مؤنث راوړې شو.

او که چېرته فاعل ظاهر مؤنث غير حقيقي وي يا فاعل ظاهر جمع مکسره وي نو په دواړو صورتونو کې د فعل مؤنث او مذکر راوړل دواړه صحيح دي مؤنث خو ځکه صحيح دی چې علامه د تانيث په مؤنث لفظي کې موجود ده.

نو لهذا فعل هم مؤنث راوړلی شو، او مذکر راوړل ځکه صحيح دي چې ګويا لفظاً مؤنث دی ليکن په حقيقت کې خو مؤنث نه دی، نو ځکه فعل مذکر راوړلې شي لکه په طَلَعَ الشَّمْسُ او طَلَعَتِ الشَّمْسُ کې نو په دې کې شمس مؤنث غير حقيقي دی. او د نحويانو په نزد د جمع مکسرې هم دغه حکم دی کوم چې د ظاهر مؤنث غير حقيقي دی نو لهذا په دې کې هم فعل مذکر او مؤنث راوړل دواړه صحيح دي، لکه قَالَ الرِّجَالُ او قَالَتِ الرِّجَالُ.

ترکيب: ضرب زيد : ضرب فعل، زيد يې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

زيد ضرب : زيد مبتداء ضرب فعل ضمير په کې مستتر دی چې هو دی هغه يې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه خبر شو د پاره د مبتداء چې زيد دی، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

قامت هند: **قامت** صيغه واحد مؤنث غائب فعل ماضي معلوم **هند** يې فاعل، فعل سره د فاعل جمله فعليه خبريه.

هند قامت: **هند** مبتداء **قامت** فعل ضمير په كې مستتر دى چې **هي** دى هغه يې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبره جمله اسميه خبريه.

طلع الشمس: **طلع** صيغه د فعل ماضي معلوم **الشمس** ورته فاعل شو، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

طلعت الشمس: طلعت صيغه د فعل ماضي معلوم **الشمس** ورته فاعل شو، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

قال الرجال: **قال** صيغه د فعل ماضي معلوم، **الرجال** ورته فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

قالت الرجال: **قالت** صيغه د فعل ماضي معلوم، **الرجال** ورته فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعليه خبريه.

قسم دوم مجهول : بدانكه فعل مجهول بجاى فاعل مفعول به رابرفع كند و باقى
[دوهم قسم مجهول] [پوهشه چې] [فعل مجهول په ځاى د] [فاعل مفعول به ته] [رفع وركوي] [او باقي]
دويم قسم: مجهول دى پوهشه! چې فعل مجهول په ځاى د فاعل مفعول به ته رفع وركوي، او باقيو
رابنصب كند چون ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهِ
[ته نصب وركوي] [لكه] [ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهِ]
ته نصب وركوي، لكه: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهِ
تَأْدِيْبًا وَالْخَشَبَةَ و فعل مجهول را فعل مالم يسم فاعله گويند و مرفوعش را مفعول
[تَأْدِيْبًا وَ الْخَشَبَةَ] [او فعل مجهول ته] [فعل مالم يسم فاعله وايي] [او مرفوع ته يې مفعول]
تَأْدِيْبًا وَ الْخَشَبَةَ، او فعل مجهول ته فعل ما لم يسم فاعله هم وايي، او مرفوع ته يې مفعول
مالم يسم فاعله گويند.
[ما لم يسم فاعله وايي].
ما لم يسم فاعله وايي.

تشريح: مخكې مصنف رحمة الله عليه ويلي وو چې په اعتبار د عمل كولو سره فعل په دوه (۲) قسمه دى: (۱) معروف، (۲) مجهول نو د فعل معروف بيان او معمولات خو څه تفصيلي بيان شول اوس د فعل دويم قسم فعل مجهول او د هغه معمولات بيانوي، دا خو معلومه شوې ده چې فعل معروف فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب وركوي. اوس دلته كې ځان په

دې خبره پوهه کول پکار دي چې د فعل مجهول خو فاعل معلوم نه وي نو که چېرته دا رفع ورکوي نو چاته به ورکوي نو د دې لپاره نحويانو قانون مقرر کړې دی چې فعل مجهول به د فاعل په ځای مفعول ته رفع ورکوي او باقي مفعولاتو ته لکه څنګه چې فعل معروف نصب ورکوي نو فعل مجهول به ورته هم نصب ورکوي لکه ضُرِبَ زَيْداً ، ووهلې شو زيد ضُرِبَ فعل مجهول دی او زيد نائب فاعل دی ځکه چې دلته د فعل نسبت په ځای د فاعل مفعول ته شوی دی نو ګويا زيد د فاعل نائب دی او اصل فاعل د څه نکتې په وجه پټ ساتلې شوې دی نو څنګه چې د فعل معروف فاعل مرفوع وي دغسې د فعل مجهول نائب فاعل هم مرفوع وي او په دې وجه چې دلته د فاعل ذکر نشته نو دې فعل مجهول ته فعل مالم يسم فاعله ويلې شي يعنې هغه فعل چې د هغه فاعل نه وي ذکر شوې او نائب فاعل ته مفعول مالم يسم فاعله ويلی کېږي يعنې مفعول د هغې فعل چې د هغه فاعل نه وي ذکر شوې .او مصنف دې الله تعالی خوشحاله کړي د طالبانو د اسانۍ لپاره يې داسې لوی مثال راوړی دی چې په هغې کې ټول معمولات جمع دي، لکه ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَأْدِيْبًا وَالْخَشَبَةَ ، ووهلې شو زيد د جمعې په ورځ د امير په مخکې په سخت وهلو سره په خپل کور کې د ادب ورکولو د وجې نه په لرګي سره. په دې مثال کې ضُرِبَ فعل مجهول دی او فاعل خو يې معلوم نه دی نو مفعول به زَيْدٌ ته يې رفع ورکړه، يَوْمَ الْجُمُعَةِ ظرف زمان دی أَمَامَ الْأَمِيْرِ دا ظرف مکان دی ضَرْباً مفعول مطلق دی او شَدِيْداً د ضَرْباً صفت دی د دې نه معلومه شوه چې وهل سخته وو فِيْ دَارِهٖ جار مجرور دی په ضُرِبَ پورې متعلق دی تَأْدِيْباً مفعول له ده د دې نه د وهلو وجه معلومه شوه وَالْخَشَبَةَ مفعول معه دی د دې نه دا معلومه شوه چې د زيد وهل په لرګي سره شوې ده.

ترکيب: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيْرِ ضَرْبًا شَدِيْدًا فِيْ دَارِهٖ تَأْدِيْبًا وَالْخَشَبَةَ : ضُرِب صيغه واحد مذکر فعل ماضي مجهول ، **زيد** يې نائب فاعل ، **يوم** مضاف **الجمعة** مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه دا ظرف زمان، **امام** مضاف **الامير** مضاف اليه مضاف سره د مضاب اليه دا ظرف مکان شو ، **ضربا** موصوف **شديدا** صفت موصوف صفت دا مفعول مطلق شو د پاره د **ضُرب** ، **في** جار **دار** مجرور مضاف **هٗ** ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا مجرور شو د پاره د جار ا جار سره د مجروره ظرف لغو متعلق شو تر **ضُرب** پورې ، **تاديبا** مفعول له ، **والخشبة** مفعول معه ، **ضُرب** فعل سره د نائب فاعل او سره د مفاعليو او سره د متعلق جمله فعليه خبريه .

د فعل متعدي اقسام :

فصل بدانکه فعل متعدی بر چہار قسم است : اول متعدی بیک مفعول چون
[فصل] [پوه شه چې] [فعل متعدي په څلور قسمه دی] [اول] [متعدي یو مفعول ته] [لکه]
فصل : پوهه شه چې فعل متعدي په څلور (۴) قسمه دی: اول قسم چې متعدي وي یو مفعول ته لکه:
ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا دوم : متعدی بدو مفعول که اقتصار بریک مفعول روا باشد
[ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا] [دویم] [متعدي دوه مفعولینو ته] [چې اقتصار یې] [په یو مفعول باندې جائز دی]
ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا دویم قسم هغه چې متعدي وي دوه مفعولینو ته او اقتصار په یو باندې جائز وي
چون : أَعْطَىٰ وآنچه در معنی او باشد چون : أَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا ، وانجا
[لکه] [أَعْطَىٰ] [او هغه الفاظ چې] [ددې په معنی کې دي] [لکه أَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا] [او دلته]
لکه : أَعْطَىٰ ، او هغه الفاظ چې د دې په معنی کې دي لکه: أَعْطَيْتُ زَيْدًا دِرْهَمًا ، او دلته
أَعْطَيْتُ زَيْدًا نیز جائز است ، سوم : متعدی بدو مفعول که اقتصار
[أَعْطَيْتُ زَيْدًا] [هم جایز دی] [دریم] [هغه چې متعدي وي] [دوه مفعولینو ته] [چې اقتصار]
أَعْطَيْتُ زَيْدًا هم جایز دی ، دریم قسم : هغه چې متعدي وي دوه مفعولینو ته ، چې د دې اقتصار
بریک مفعول روا نباشد واین در افعال قلوب است چون عَلِمْتُ وَظَنَنْتُ وَحَسِبْتُ
[په یو مفعول باندې جائز نه وي] [او دغه په افعال قلوبو کې دي] [لکه عَلِمْتُ وَظَنَنْتُ وَحَسِبْتُ]
په یو مفعول باندې جایز نه وي ، او دغه په افعال قلوبو کې وي لکه: عَلِمْتُ وَ ظَنَنْتُ وَ حَسِبْتُ
وَخِلْتُ وَزَعَمْتُ وَرَأَيْتُ وَوَجَدْتُ چون عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا وَظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا
[وَخِلْتُ وَ زَعَمْتُ وَ رَأَيْتُ وَوَجَدْتُ لکه عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا وَ ظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا].
وَخِلْتُ وَ زَعَمْتُ وَ رَأَيْتُ وَوَجَدْتُ لکه عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا وَ ظَنَنْتُ زَيْدًا عَالِمًا.

تشريح : په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مفاعيلو د تعداد په لحاظ سره د فعل متعدي قسمونه بيانوي دا خو معلومه خبره ده چې فعل متعدي هغې فعل ته ويلی کېږي چې د هغې اثر د فاعل نه مفعول ته اوړي نو په دغې وخت کې دې ته کتل په کار دي چې دغه اثر په يو مفعول ختميږي که چېرته په يو مفعول باندې ختمېږي نو داسې متعدي ته متعدي بيک مفعول ويلی شي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْراً، ضرب فعل متعدي دی د زيد فعل دی او په عمرو باندې ختم شوی دی مطلب دا چې زيد عمرو ووهلو نو د زيد د وهلو اثر د عمر تر بدنه پورې دی نو دې ته متعدي بيک مفعول ويلی شي.

او بعضې فعل متعدي داسې دي چې د هغې اثر د فاعل نه اخوا دوه مفعولو ته رسي نو داسې فعل متعدي ته متعدي بدو مفعول ويلی شي.

نو دلته اوس دې ته کتل په کار دي چې دغه دواړه مفعوله جدا جدا څيزونه دي او که په حقيقت کې دواړه يو څيز دی صرف په لفظونو کې جدا جدا دي نو که چېرته دواړه جدا جدا وي نو د يو حذف کول او د يو باقي پاتې کول جايز دي د داسې متعدي مثال چې هغه دوه مفعوله غواړي او دواړه مفعوله جدا جدا وي لکه اعطی، او د دې په معنی نو رافعي اعظي صيغه د واحد مذکر غائب بحث اثبات فعل ماضي معروف باب افعال مثال أَعْطَيْتُ زَيْداً دِرْهَماً، أَعْطَيْتُ فعل متعدي دی او فاعل يې ضمير بارز د متکلم دی زيدا يې مفعول اول دی او درهما يې مفعول ثاني دی.

نو دلته دا هم جايز دي چې اول مفعول حذف کړی شي او دويم پاتې پرېښودلی شي او همدا رنګې د دې بالعکس هم جائز دی، ځکه چې زيدا يو اځې د خپل وجود سره موجود دی، معنی يې داده چې ورکړو ما زيد ته درهم او بعضې فعل متعدي داسې دي چې هغه دوه مفعوله غواړي، او دواړه په حقيقت کې يو څيز وي او دواړه جدا جدا نه وي داسې فعل متعدي ته افعال قلوب وايي د داسې افعالو د دوو مفعولينو نه يو حذف کول جائز نه دي ځکه د يو مفعول حذف کول به داسې شي لکه چې د يوې کلمې نه بعضې اجزاء حذف کړې شي او بعض باقي پاتې کړې شي او دا نه شي کېدی.

﴿**قوله علمت**﴾ نو په دې مثال کې علمت فعل متعدي بدو مفعول دی اول زَيْداً او دويم فَاضِلاً دی د مفعول اول او دويم کېدل د لفظ په اعتبار سره دي ګنې زيد او د هغه فضيلت خو دواړه جدا جدا څيزونه دي د زيد فضيلت په زيد کې دننه موجود دی باقي افعال قلوب په دې مثال باندې قياسي دي.دا افعال قلوب په جمله اسميه داخلېږي مبتداء او خبر دواړو ته نصب ورکوي د دوی مبتداء ته مفعول اول او خبر ته مفعول ثاني ويلی شي.

ترکيب : ضرب زيد عمرواً : ضرب فعل ، زيد فاعل ، عمروا مفعول به ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.**اعطيت زيداً درهما** : اعطيت فعل فاعل ، زيدا مفعول اول درهما ورته مفعول ثاني ، فعل

سره دفاعله او سره د دوارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه .**اعطیت زیداً**: اعطیت فعل فاعل، زیدا مفعول به، فعل سره دفاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه .**علمت زیدا فاضلاً** : علمت فعل فاعل، زیدا مفعول اول، فاضلاً مفعول ثاني، فعل سره دفاعله او سره د دوارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه. **ظننت زیدا عالما**: ظننت فعل فاعل، زیدا مفعول اول، فاضلاً مفعول ثاني، فعل سره دفاعله او سره د دوارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه.

د فعل متعدي څلورم قسم :

چهارم : متعدی بسه مفعول چون : أَعْلَمَ وَ أَرَی وَ أَنْبَأَ وَ أَخْبَرَ وَ خَبَّرَ
[څلورم] [متعدي وي دري مفعولینو ته] [لکه] [أَعْلَمَ] [وَأَرَی] [وَأَنْبَأَ] [وَأَخْبَرَ] [وَ خَبَّرَ]
څلورم قسم : هغه چې متعدي وي دریو مفعولینو ته لکه : أَعْلَمَ وَأَرَی وَ أَنْبَأَ وَ أَخْبَرَ وَ خَبَّرَ
وَنَبَّأَ وَحَدَّثَ چون أَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا بدانکه این همه مفعول مفعول به
[وَنَبَّأَ] [وَحَدَّثَ] [لکه] [أَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا] [پوهه شه چې] [داټول مفعولات مفعول به]
وَنَبَّأَ وَحَدَّثَ لکه : أَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا .پوهه شه! چې داټول مفعولات مفعول به
اند و مفعول دوم در باب عَلِمْتُ و مفعول سوم در باب أَعْلَمْتُ و مفعول له و
[دي] [او دوهم مفعول] [په باب د عَلِمْتُ] [او دریم مفعول] [د باب د أَعْلَمْتُ] [او مفعول له او]
دي ، او مفعول ثاني په باب د عَلِمْتُ ، او مفعول ثالث د باب د أَعْلَمْتُ ، او مفعول له او
مفعول معه را بجائے فاعل نتوانند نهاد و دیگرها را شاید و در باب أَعْطَيْتُ
[مفعول معه] [په ځای د فاعل] [نه شي راتلې] [او نور مفعولات راتلای شي] [او په باب د أَعْطَيْتُ]
مفعول معه په ځای د فاعل نه شي راتلې، او نور مفعولات راتلای شي ، او په باب د أَعْطَيْتُ کې
مفعول اول بمفعول مالم یسم فاعله لائق تر باشد از مفعول دوم.
[مفعول اول] [د مفعول مالم یسم فاعله کېدو] [زیات مناسبت لري] [د دویم مفعول نه].
مفعول اول د مفعول ما لم یسم فاعله کېدو زیات مناسبت لري د دویم مفعول نه.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د فعل متعدي څلورم قسم بيانيږي .

تشريح : په څلورم قسم کې هغه فعل متعدي بيانيږي چې هغه درې مفعوله غواړي لکه **اعلم الله زيداً عمراً فاضلاً**، **اعلم**، فعل ماضي ده لفظ **الله** يې فاعل دی **زيداً** يې مفعول اول دی **عمراً** يې مفعول ثاني دی او **فاضلاً** يې مفعول ثالث دی معنی يې داده چې وښود له الله تعالی **زيد** ته چې **عمرو** فاضل دی باقي افعال د دريو مفعولونو په لحاظ سره په اعلم باندې قياس کړئ. په دوی کې اولني څلور د باب **افعال** نه او درې آخرني د باب **تفعيل** نه دي دا څومره مفاعيل چې په قسم اول او په دوهم او دريم او څلورم کې بيان شول نو دا ټول مفعول به دي (فقط، دا خبره خو مخکې تېره شوې ده چې د فعل مجهول نه وروستو مفعول به دده نائب فاعل وي تر دې ځای پورې خو د پر مفاعيل بيان شول.

اوس مصنف دا بيانوي چې د فاعل قائمقام کوم کوم مفاعيل کېدی شي او کوم کوم نه شي کېدی نو فرمايي چې د افعال قلوبو دويم مفعول او د **علمت** دريم مفعول مفعول له او مفعول معه د فاعل قائمقام نه شي کېدی، هر چې دويم مفعول د افعال قلوبو دی نو دی نائب فاعل ځکه نه شي کېدی چې دی اول مفعول ته مسند دی ځکه چې دا په اصل کې خبر دی او مفعول اول مبتداء ده او خبر مسند وي مبتداء ته نو که چېرته نائب فاعل شي نو فعل به ده ته مسند شي نو لازم به شي کېدل د مفعول مسند او مسند اليه په يو وخت کې او دا جايز نه دي.او هر چې مفعول ثالث د باب د **اعلمت** دی نو دې هم نائب فاعل نه شي کېدی ځکه چې دی مسند دی مفعول ثاني ته نو که نائب فاعل شي نو مسند اليه به شي نو لازم به شي کېدل د يو شي مسند او مسند اليه په يو وخت کې او هر چې مفعول له دی نو دا نائب فاعل نه شي گرځېدی ځکه چې د مفعول له نصب دلالت کوي په سببيت باندې او که چېرته نائب فاعل شي نو مرفوع به شي نو د سببيت په معنی به دلالت فوت شي البته که چېرته په مفعول به کې لام ذکر وي نو بيا نائب فاعل گرځېدی شي ځکه چې لام په سببيت باندې دلالت کوي نو که قائم مقام د فاعل شي نو دلالت په سببيت نه فوت کېږي لکه **ضرب للتاديب**، خو په دې صورت کې مفعول له مرفوع نه وي بلکې د لام د وجې نه به مجرور وي.او هر چې مفعول معه دی نو دا نائب فاعل ځکه نه شي گرځېدلی، چې د دې سره **واو** دی په معنی د **مع** سره نو که چېرته د **واو** سره دې نائب فا عل وگرځولې شي نو **واو** فاصل به يې په مينځ کې اجنبيت راولي او دا ناجايز دی ځکه چې په فعل او نائب فاعل کې ښه کلک اتصال دی .

او که چېرته **واو** ترې نه حذف کړې شي او مفعول معه نائب فاعل په ځای ولگولی شي نو بيا خو به د مفعول معه په کېدو باندې څه څيز دلالت کولو والا پاتې نه شي او د دوی نه علاوه نور مفاعيل د فاعل قائمقام کېدی شي لکه مفعول به مفعول مطلق مفعول فيه مفعول له د **لام** سره جار مجرور د باب د **اعطيت** دواړه مفعوله .

ترکیب: اعلم الله زیدا عمرا فاضلاً: اعلم فعل، لفظ د الله یې فاعل، زیدا مفعول اول، عمروا مفعول ثاني، **فاضلاً** مفعول ثالث، فعل سره د فاعله او سره د دري وارو مفعولینو جمله فعلیه خبریه.

افعال ناقصه :

فصل: بدانکه افعال ناقصه هفده اند کَانَ وَ صَارَ وَ ظَلَّ وَ بَاتَ وَ أَصْبَحَ وَ أَضْحَى
[فصل] [پوه شه چې] [افعال ناقصه] [اولس دی] [کَانَ وَ صَارَ وَ ظَلَّ وَ بَاتَ وَ أَصْبَحَ وَ أَضْحَى]
فصل پوهه شه چې افعال ناقصه اولس (۱۷) دي: کَانَ وَ صَارَ وَ ظَلَّ وَ بَاتَ وَ أَصْبَحَ وَ أَضْحَى
وَأَمْسَى وَعَادَ وَ آضَ وَ غَدَا وَ رَاحَ وَمَا زَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَا بَرِحَ وَمَا فَتِئَ وَمَا
[وَ أَمْسَى وَ عَادَ وَ آضَ وَ غَدَا وَ رَاحَ وَمَا زَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَا بَرِحَ وَمَا فَتِئَ وَمَا]
وَ أَمْسَى وَ عَادَ وَ آضَ وَ غَدَا وَ رَاحَ وَمَا زَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَا بَرِحَ وَمَا فَتِئَ وَمَا
دَامَ وَلَيْسَ ' این افعال بفاعل تنها تمام نشوند و محتاج باشند بخبری؛
[دَامَ وَلَيْسَ] [دا ټول افعال] [صرف په فاعل باندې] [نه پوره کیږي] [بلکې محتاج وي خبرته]
دَامَ وَ لَيْسَ ، دا ټول افعال صرف په فاعل باندې نه پوره کیږي ، بلکې خبر ته هم احتیاج لري
بدین سبب اینها را ناقصه گویند ' ودر جمله اسمیه روند ' و مسندالیه را برفع
[ددې وجې نه] [دې افعالو ته] [ناقصه وایي] [او په جمله اسمیه داخلیږي] [او مسندالیه ته] [رفع]
ددې وجې نه دې افعالو ته افعال ناقصه وایي، او په جمله اسمیه باندې داخلیږي او مسندالیه ته رفع
کنند و مسند را بنصب چون کَانَ زَيْدٌ قَائِمًا و مرفوع را اسم کان گویند و منصوب را
[ورکوي] [او مسند ته نصب ورکوي] [لکه کَانَ زَيْدٌ قَائِمًا] [نو مرفوع ته اسم د کَانَ وایي] [او منصوب ته]
ورکوي او مسند ته نصب ورکوي لکه: کَانَ زَيْدٌ قَائِمًا. نو مرفوع ته اسم د کَانَ وایي او منصوب ته
خبر کَانَ ' و باقی را برین قیاس کن. بدانکه بعضی ازین افعال در بعضی احوال
[خبر د کان] [او باقي په دې باندې] [قیاس کړه] [پوه شه چې] [بعضې ددې افعالونه] [په بعضې احوالوکې]
خبر د کَانَ وایي، او باقي نور ټول په دې قیاس کړه، پوه شه چې بعضې ددې افعالونه په بعضې احوالوکې

بفاعل تنہا تمام شوند چون کَانَ مَطَرٌ شد باران بمعنی حَصَلَ واورا کَانَ تامہ
[صرف په فاعل] [تمامیږي] [لکه کَانَ مَطَرٌ] [وشو باران] [په معنی د حَصَلَ سره] [او دې ته کان تامه]
صرف په فاعل پوره کېږي لکه کَانَ مَطَرٌ یعني باران وشو په معنی د حَصَلَ سره نو دې ته کَانَ تامه
گویند ' وکَانَ زائده نیز باشد.
[وایي] [او کان زائده] [هم ورته وایي].
وایي او بعضې ځایونو کې کَانَ زائد هم وي.

تشریح: افعال په دوه (۲) قسمه دي: (۱) افعال تامه: (۲) افعال ناقصه: **(۱) افعال تامه:** دا هغې ته ویلی کېږي چې هغه د فاعل سره یو ځای شي او کلام پوره کړي لکه ضَرَبَ زَیْدٌ . ضَرَبَ فعل تام دی د زید سره یو ځای شو نو کلام یې پوره کړو .**(۲) افعال ناقصه:** او افعال ناقصه هغې افعالو ته ویلې کېږي چې هغه د فاعل سره یو ځای شي او کلام نه شي پوره کیدې تر کومې پورې چې ورسره یو منصوب نه وي لګولې شوې لکه کَانَ زَیْدٌ د دې معنی ده وو زید نو دا خبره ناقصه ده نو سوال راځي، چې زید څه وو نو چې کله وویلې شو چې کَانَ زَیْدٌ قَائِماً یعنې زید ولاړ وو نو کلام پوره شو په دې افعال ناقصه وو کې د مرفوع او منصوب دواړو نه جمله پوره کېږي او دوي ته افعال ناقصه ځکه ویلی کېږي چې دوي یوازې د فاعل په یو ځای کېدو پوره معنی نه ورکوي بلکې د خبر هم محتاجه وي نو مصنف فرمایي چې افعال ناقصه اولس (۱۷) دي: کَانَ وَ صَارَ وَ ظَلَّ وَ بَاتَ وَ أَصْبَحَ وَ أَضْحَى وَ أَمْسَى وَ عَادَ وَ آضَ وَ غَدَا وَ رَاحَ وَمَا زَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَا بَرِحَ وَمَا فَتِئَ وَمَا ، دا افعال ناقصه په جمله اسمیه باندې داخلېږي مسند الیه ته رفع ورکوي او مسند ته نصب ورکوي مسند الیه مرفوع ته ددې اسم ویلې کېږي او مسند ته ورله خبر ویلی کېږي لکه کَانَ زَیْدٌ قَائِماً کَانَ فعل ناقص دی، زید مرفوع دده اسم دی قَائِماً منصوب او خبر ددې دی همدا رنګې د کان زید نه علاوه چې نور کوم افعال ناقصه دي نو اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي .مصنف فرمایي چې په دې افعال ناقصوو کې بعضې افعال په بعض وخت کې تام کېږي د تام کېدو صورت دا دی چې صرف په فاعل باندې خبره پوره کېږي او خبر ته یې ضرورت نه راځي لکه کَانَ مَطَرٌ د دې معنی ده چې باران وشو بس خبره پوره شوه نو په دې وخت کې کَانَ په معنی د حصل سره شوه یعنې حَصَلَ الْمَطَرُ نو په دې وخت کې به د دې کَانَ نوم کَانَ تامه وي. او کله نا کله به په بعضې ځایونو کې کَانَ زائد وي د زائد وي مطلب دا چې که په عبارت کې وي او که نه وي لیکن په اصل معنی کې به څه تغیر او تبدیل نه راځي.

ترکیب : **کان زید قائما** : **کان** فعل دی د افعال ناقصو نه اسم مرفوع خبر منصوب غواړي **زید** یې اسم شو د **کان** او **قائما** ورته خبر شو ، **کان** سره د اسم او سره د خبره جمله اسمیه خبریه.

کان مطر : **کان** فعل دی د افعال ناقصه نه ، **مطر** ورته فاعل شو ، **کان** فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

افعال مقاربه :

فصل بدانکه افعال مقاربه چار است عَسَىٰ و کَادَ و کَرُبَ و أَوْشَکَ واین افعال
[فصل] [پوه شه چې] [افعال مقاربه] [څلور دی] [عَسَىٰ] [کَادَ] [کَرُبَ] [أَوْشَکَ] [او دا افعال]
فصل : پوهه شه چې افعال مقاربه څلور (۴) دي: عَسَىٰ، کَادَ، کَرُبَ، أَوْشَکَ او دغه افعال مقاربه
در جمله اسمیه روند چون کان ' اسم را برفع کنند و خبر را بنصب ' إلا آنکه
[په جمله اسمیه داخلیږي] [او په شان د کان] [اسم ته رفع ورکوي] [او خبر ته نصب ورکوي] [مگر که]
مقاربه په جمله اسمیه باندې داخلیږي ، او د کَانَ په شان اسم ته رفع ورکوي او خبر ته نصب ، مگر که
خبر اینها فعل مضارع باشد باأنْ چون عَسىٰ زَیْدٌ أَنْ یَخْرُجَ یا بے أنْ چون
[خبر ددې] [فعل مضارع وي] [سره د أنْ لکه] [عَسىٰ زَیْدٌ أَنْ یَخْرُجَ] [یا بغیر د أنْ نه] [لکه]
د دوې خبر فعل مضارع وي سره د أنْ لکه: عَسىٰ زَیْدٌ أَنْ یَخْرُجَ ، یا بغیر د أنْ نه راشي لکه :
عَسىٰ زَیْدٌ یَخْرُجَ ' وشاید که فعل مضارع باأنْ فاعل عَسىٰ باشد واحتیاج
[عَسىٰ زَیْدٌ یَخْرُجَ] [او کیدی شي چې] [فعل مضارع په أنْ سره] [فاعل د عَسىٰ وي] [او احتیاج]
عَسىٰ زَیْدٌ یَخْرُجَ ، او کیدی شي چې فعل مضارع په أنْ سره د عَسىٰ فاعل وي ، او احتیاج یې
بخبر نیفتد چون : عَسىٰ أَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ در محل رفع بمعنی مصدر .
[یې خبر ته] [پاتې نه شي] [لکه] [عَسىٰ أَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ] [په محل د رفع کې په معنی د مصدر سره]
خبر ته پاتې نه شي لکه عَسىٰ أَنْ یَخْرُجَ زَیْدٌ په محل د رفع کې په معنی د مصدر سره.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د افعال مقاربو بیان کیږي.

تشریح: په دې فعل کې مصنف د افعال مقاربه وو بیان کړی دی څنګه چې د اسماوو مختلف نومونه دي لکه مبني معرب معرفه نکره مذکر مؤنث واحد تثنیه او جمع اسم متمکن اسم غیر متمکن نو دغه شان د افعالو هم مختلف نومونه دي لکه: فعل لازم، فعل متعدي، فعل تام، فعل ناقص، ماضي، مضارع او امر وغیره.

نو څنګه چې د اسم په بیان کې د هر یو تعریف او علامه بیان شوې وه نو دغه شا د هر فعل تعریف او د هغې عمل بیانېږي نو په دې فصل کې د افعال مقاربه وو بیان دی او دوی ته افعال مقاربه ځکه ویلی کېږي چې د دوی خبر فاعل لره په نږدې زمانه کې حاصلېږي او د خبر حاصلیدل فاعل لره په درې قسمه دي: د امېد په طور یعنې متکلم دا تمه لري چې فاعل ته د خبر حاصلیدل قریب دي، لکه **عَسَىٰ زَيْدٌ أَنْ يَّخْرُجَ** امېد دی چې زید به زر راوځي، د حاصلېدو په طور یعنې متکلم دا خبر ورکوي چې فاعل ته د خبر حاصلیدل یقیني قریب دی، صرف امېد نه دی لکه **كَادَ أَنْ يَّخْرُجَ يقيناً** زید وتونکی دی، د شروع په لحاظ سره یعنې متکلم ته د دې خبرې امېد نه دی بلکې یقین دی چې فاعل خبر حاصلول شروع کړي دي لکه **كَرَبَ زَيْدٌ يَخْرُجَ** زید یقیناً وتل شروع کړي دي.

د **أَوْشَكَ** هم دغه مطلب دی کوم چې د **كَرَبَ** دی د دوي د استعمال طریقه لکه څنګه چې افعال ناقصه په جمله اسمیه داخلېږي نو دغه شان دا هم په جمله اسمیه باندې داخلېږي او لکه څنګه چې افعال ناقصه اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي، نو دا هم اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي. خو فرق په دواړو کې دا دی چې د افعال مقاربه وو خبر صرف او صرف فعل مضارع په **أَنْ** سره یا په غیر د **أَنْ** نه وي او هر چې افعال ناقصه دي نو د هغوی خبر عام دی کله فعل مضارع وي او کله غیر مضارع وي لکه **كَانَ زَيْدٌ قَائِماً**، **كان** فعل ناقص دی مضارع نه ده بلکې اسم فاعل دی او کله داسې هم کېږي چې **عَسَىٰ** ته د خبر ضرورت نه راځي خو دا هله چې د عسی فاعل مضارع سره د **أَنْ** نه وي نو په دغه وخت کې به **عَسَىٰ** په فاعل باندې تمامېږي او په دغه وخت کې به عسی فعل تام وي ناقص به نه وي لکه **عَسَىٰ أَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ**. او دا خو معلومه خبره ده چې **أَنْ** ناصبه خپل مدخول په معنی د مصدر سره ګرځوي نو داسې به شي چې **عَسَىٰ خُرُوْجَ زَيْدٍ** نو **عسى** فعل دی **خروج** مضاف **زيد** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه فاعل د **عسى** شو نو معنی به داسې شي چې نږدې دي وتل د زید نو په دې وخت کې جمله تامه شوه **عسى** ته د خبر ضرورت پاتې نه شو.

سوال: په **عَسَىٰ أَنْ يَّخْرُجَ** فاعل دی او فاعل خو مرفوع وي او دې خو مرفوع نه دی؟

جواب: رفع په درې (۳) قسمه ده: لفظي لکه **ضَرَبَ زَيْدٌ**، تقدیري لکه **جَاءَ مُوْسىٰ**، محلي لکه **جَاءَنِيْ هٰؤُلَاءِ** نو په

هٰؤُلَاءِ کې رفع محلي ده ځکه چې هٰؤُلَاءِ مبني دی او په مبني باندې نه لفظي اعراب راځي او نه تقديري بلکې مبني په داسې ځای کې وي کله چې دغه مبني د دغې ځای نه لرې کړی شي او معرب پرې کېښودلی شي نو په دغې معرب باندې اعراب لفظي یا اعراب تقديري راتلی شي بلکې چې هٰؤُلَاءِ لرې کړی شي او زید ورله په ځای ولګولی شي نو داسې بهٔ شي جَاءَنِيْ زَيْدٌ نو په زید باندې رفع راغله نو ددې نه معلومه شوه چې هٰؤُلَاءِ داعراب په ځای ورغلل او په دی خود مبني کېدو د وجې نه اعراب نه راځي نو همدغه حالت د أَنْ يَّخْرُجَ زَيْدٌ دی چې د أَنْ يَّخْرُجَ د عَسٰى فاعل دی او رفع یې محلي ده.

ترکیب: عسی زید ان یخرج : **عسی** دا فعل دی د افعال مقاربو نه **زید** اسم د **عسی** شو ، **ان** ناصبه مصدریه **یخرج** فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **هو** دی دا یې فاعل ، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه په تاویل د مصدر سره خبر شو د **عسی** ، **عسی** سره د اسم او سره د خبره جمله فعلیه انشائیه.

عسی زید یخرج : **عسی** فعل **زید** اسم د **عسی** **یخرج** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **هو** دی دا یې فاعل ، فعل سره د فاعله دا خبر شو د پاره د **عسی** ، **عسی** فعل سره د اسم او سره د خبره جمله فعلیه انشائیه.

افعال مدح او ذم :

فصل : بدانکه افعال مدح وذم چهار است : نِعْمَ و حَبَّذَا برای مدح ' وبِئْسَ و
[فصل] [پوه شه چې] [افعال مدح او ذم] [څلور دی] [نِعْمَ او حَبَّذَا] [د مدح د پاره] [او بِئْسَ او]
فصل : پوهه شه! چې افعال د مدح او ذم څلور (۴) دي: نِعْمَ او حَبَّذَا د مدح د پاره دي او بِئْسَ او
سَاءَ برای ذم ' هر چه مابعد فاعل باشد آن را مخصوص بالمدح یا مخصوص
[سَاءَ] [د ذم د پاره] [هر هغه اسم چې د فاعل نه وروستو وي] [هغې ته مخصوص بالمدح] [یا مخصوص]
سَاءَ د ذم د پاره دي او هر هغه اسم چې د فاعل نه وروستو وي هغې ته مخصوص بالمدح یا مخصوص
بالذم گویند وشرط آنست که فاعل معرف بلام باشد چون نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ
[بالذم وایي] [او شرط هغه دی] [چې فاعل به معرف باللام وي] [لکه] [نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ]
بالذم وایي ، او شرط په کې دا دی چې فاعل به معرف باللام وي لکه : نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ

یا مضاف بسوئے معرف بلام باشد چون نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ یا ضمیر
[یا مضاف وي] [په طرف د] [معرف باللام ته] [لکه] [نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ] [یاضمیر]
یا به مضاف وي په طرف د معرف باللام ته لکه : نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ ، یا به ضمیر
مستتر ممیز بنکرہ منصوبہ چون : نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ ' فاعل
[مستتر وي] [خو ممیز به وي] [په نکرې منصوبې سره] [لکه] [نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ] [فاعل د]
مستتر وي خو داسې چې ممیز به وي په نکرې منصوبې سره لکه : نِعْمَ رَجُلًا زَیْدٌ ، دلته فاعل
نِعْمَ هُوَ است مستتر در نِعْمَ و رَجُلًا منصوب است بر تمییز زیرا که هُوَ مبهم است
[نِعْمَ هُوَ دی] [چې مستتر دی] [په نِعْمَ کې] [او رَجُلًا منصوب دی بنا بر تمیز] [ځکه چې هُوَ مبهم دی]
نِعْمَ هُوَ دی چې مستتر دی په نِعْمَ کې او رَجُلًا منصوب دی بنا بر تمیز ځکه چې مبهم دی
و حَبَّذَا زَیْدٌ ' حَبَّ فعل مدح است و ذَا فاعل او و زَیْدٌ مخصوص بالمدح
[او حَبَّذَا زَیْدٌ] [حَبَّ] [فعل مدح دی] [او ذَا فاعل دی] [او زَیْدٌ] [مخصوص بالمدح دی]
او په حَبَّذَا زَیْدٌ کې حَبَّ فعل مدح دی او ذَا فاعل دی او زَیْدٌ مخصوص بالمدح دی،
و همچنین بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ ، وَ سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو .
[او همدا رنګې بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ] [او] [سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو] .
او همدا رنګې بِئْسَ الرَّجُلُ زَیْدٌ او سَاءَ الرَّجُلُ عَمْرٌو .

تشریح : په دنیا کې ښه کارونه هم کیږي او بد هم کیږي کوم خلک چې کار ښه کوي نو هغوی ته ښه ویلی کیږي او څوک چې بد کار کوي نو هغوی ته بد ویلی شي په ښه کار چې کوم تعریف وکړی شي هغې ته فعل مدح ویلی شي او په بد کار چې د چا بد وویلی شي نو هغې ته فصل ذم ویلی شي. نو افعال مدح دوه (۲) دي: بِئْسَ، سَاءَ او افعال ذم هم دوه (۲) دي: بِئْسَ، سَاءَ. نِعْمَ په اصل کې نِعِمَ وو د ډېر استعمال د وجې نه د عین کسره نقل کړی شوه او د نون د حرکت لرې کولو نه وروستو نون ته ورکړې او عین کسره کړی شو نو نِعْمَ شو هکذا بِئْسَ.

﴿و هر چه ما بعد فاعل﴾ د چا چې تعریف او مدح بیان شي نو هغې سړي ته مخصوص بالمدح ویلی شي او چې د چا مذمت بیان شي نو هغې سړي ته مخصوص بالذم ویلی شي. په جمله کې د دې دوارو ځای اول به فعل مدح یا فعل ذم وي بیا به د دوی فاعل وي او د فاعل نه وروستو به په فعل کې مدح کې مخصوص بالمدح وي او په فعل ذم کې به د فاعل نه وروستو مخصوص بالذم وي د دې افعال مدح او ذم نه علاوه چې کوم نور افعال دي نو د هغوی په فاعل کې شرط صرف دا دی چې فاعل به وروستو وي برابره خبره ده که هر څنګه وي که معرف باللام وي او که نه وي او د دې افعال مدح او ذم په فاعل کې (د حَبَّ د فاعل نه علاوه) شرط دا دی چې فاعل به د دوي معرف باللام وي لکه **نعم الرجل زید بئس الرجل زید. ساء الرجل زید**. او که چېرته فاعل یې معرف باللام نه وي نو بیا به فاعل داسې اسم وي چې معرف باللام طرف ته به مضاف وي لکه **نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ** نو په دې کې د نعم فاعل صاحب دی چې معرف باللام اسم طرف ته مضاف دی او که چېرته د دوی فاعل نه معرف باللام وي او نه داسې اسم وي چې هغه معرف باللام طرف ته مضاف وي نو بیا به د دوی فاعل ضمیر مستتر وي او په دغه ضمیر مستتره کې به ابهام وي او د هغې ابهام د لرې کولو لپاره به تمیز راوړی شي او دغه تمیز به نکره منصوب وي لکه **نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ** نو د نعم فاعل **هُوَ** مستتر ضمیر دی چې په **نِعْمَ** کې پټ دی او په دغې **هُوَ** ضمیر کې ابهام دی د دغې ابهام لرې کولو لپاره **رَجُلاً** تمیز راوړی شو او د **رَجُلاً** تمیز نه وروستو زید مخصوص بالمدح دی بالکل دغسې تفصیل په **بِئْسَ** او **سَاءَ** کې هم دی **حَبَّذَا** پوره فعل نه دی فعل صرف حب دی او **ذا** یې فاعل دی **زید** مخصوص بالمدح دی د حب فاعل عمیشه لپاره **ذا** وي.

ترکیب: نعم الرجل زید: **نعم** فعل مدح **الرجل** یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم، **زید** یې مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر جمله اسمیه خبریه انشائیه.

نعم صاحب القوم زید: **نعم** فعل مدح **صاحب** مضاف **القوم** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه دا فاعل شو د **نعم**، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم، **زید** مخصوص بالمدح دا مبتدا مؤخره، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخره جمله اسمیه خبریه. **نعم رجلا زید**: **نعم** فعل مدح ضمیر په کې مستتر دی چې **هو** دی دا یې ممیز **رجلاً** ورته تمیز، ممیز سره د تمیز دا فاعل شو د پاره د **نعم**، فعل مدح سره د افعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم، **زید** مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخره جمله اسمیه انشائیه.

حبذا زید: حب فعل مدح **ذا** یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم، زید مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخرې جمله اسمیه خبریه.

بئس الرجل زید : **بئس** فعل ذم **الرجل** یې فاعل ، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم ، **زید** یې مبتداء مؤخر ، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر جمله اسمیه خبریه انشائیه .**ساء الرجل عمرو:** ساء فعل ذم **الرجل** یې فاعل ، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه خبر مقدم ، **عمرو** یې مبتداء مؤخر ، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر جمله اسمیه خبریه انشائیه.

افعال تعجب :

فصل : بدانکه افعال تعجب دو صیغه از هر مصدر ثلاثی مجرد باشد اول : مَاأَفْعَلَهُ
[فصل][پوه شه چې][افعال تعجب][دوه صیغې][د هر مصدر ثلاثي مجرد نه وي][اول][مَاأَفْعَلَهُ]
فصل : پوهه شه چې افعال تعجب دوه (۲) صیغې د هر مصدر دثلاثي مجرد نه وي اول وزن **مَاأَفْعَلَهُ**
چون مَاأَحْسَنَ زَيْدًا چه نیکو است زید تقدیرش أَيُّ شَيْءٍ أَحْسَنَ زَيْدًا ' مَا بمعنی
[لکه مَاأَحْسَنَ زَيْدًا][څه ښه دی زید][چې تقدیر یې أَيُّ شَيْءٍ أَحْسَنَ زَيْدًا][مَا په معنی]
دي لکه: **مَاأَحْسَنَ زَيْدًا** ، څه ښه دی زید چې تقدیر یې : **أَيُّ شَيْءٍ أَحْسَنَ زَيْدًا مَا** په معنی
أَيُّ شَيْءٍ است در محل رفع بابتداء ' و احسن در محل رفع
[د أَيُّ شَيْءٍ سره دی][په محل د رفع کې][د مبتدا کېدو په وجه][او احسن چې په محل د رفع کې]
د **أَيُّ شَيْءٍ** سره دی او د مبتداء کېدو په وجه په محل رفع کې دی او **احسن** چې په محل د رفع کې
خبر مبتدا ' و فاعل أَحْسَنَ هُوَ است درو مستتر ' و
[خبر][د مبتدا][دی][فاعل][د أَحْسَنَ][هُوَ دی][چې په دې کې][مستتر][دی][او]
خبر د مبتداء دی هم په محل د رفع کې دی ، او فاعل د **أَحْسَنَ هُوَ** دی چې په دې کې مستتر دی ، او
زیدا مفعول به دوم أَفْعِلْ بِهِ چون أَحْسِنْ بِزَيْدٍ ' أَحْسِنْ صیغه امر است بمعنی
[زیدا مفعول به دی][دویم أَفْعِلْ بِهِ دی][لکه أَحْسِنْ بِزَيْدٍ][أَحْسِنْ صیغه د امر ده په معنی]
زیدا مفعول به دی ، دویم وزن **أَفْعِلْ بِهِ** دی لکه **أَحْسِنْ بِزَيْدٍ أَحْسِنْ** صیغه د امر ده په معنی

خبر ' تقدیرش : أَحْسَنَ زَیْدٌ أَيْ صَارَ ذَا حُسْنٍ ' و باء زائده است .
[دخبرسره] [چې تقدیریې] [أَحْسَنَ زَیْدٌ] [یعني] [صَارَ ذَا حُسْنٍ] [او بآء] [زائده ده].
د خبر سره چې تقدیریې : أَحْسَنَ زَیْدٌ یعني صَارَ ذَا حُسْنٍ دی، او بآء زائده ده.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د افعال تعجب بیان کیږي.

تشریح : په دې فصل کې مصنف افعال تعجب بیانوي دا هغې افعالو ته ویلې کیږي چې د دوي په ذریعې سره د تعجب اظهار کولې شي او د تعجب اظهار یو قسمه انشاء ده د دې وجې نه د دې نه چې کومه جمله تیاریږي نو هغه به انشائیه وي د منشعب په شروع کې یې دا خبره لیکلې ده چې د ثلاثي مجردو اته بابونه دي پنځه مطرد او درې شاذ دي ددغې اتوو بابونو نه چې څومره مصادر راځي نو د هر یو مصدر نه د فعل تعجب دوه دوه صیغې راوځي لکه څنګه چې د مصدر نه د ماضي مضارع امر وغیره صیغې راوځي نو همدغه شان ترې نه د تعجب دوه صیغې راوځي: اوله صیغه د فعل تعجب په وزن د **افعل** (قابل غور) راځي دا وزن د باب افعال د ماضي د صیغې واحد مذکر غائب دی. دویم وزن د **افعل** دی دا هم د باب افعال نه د واحد مذکر امر حاضر صیغه ده نو خلاصه دا شوه چې دوه وزنونه افعل افعل د تعجب لپاره د هر یو مصدر ثلاثي مجردو نه راځي مثلاً لکه **حسن** د ثلاثي مجردو مصدر دی د دې نه د فعل تعجب دوه صیغې راوځي یوه به د **افعل** په وزن سره **احسن** ځي او دویمه به د **اَفْعِلْ** په وزن **اَحْسِنْ** راځي.

سوال: په دې دوارو وزنونو کې خو اول وزن د ماضي دی او دویم د امر دی نو ماضي خو خبر وي او امر خو انشاء وي؟

جواب: اول وزن اګر چې د ماضي دی لیکن دا په معنی د انشاء سره ده نو د دوارو معنی یوه شوې.

سوال: په نحومیر کې خو مصنف د فعل تعجب یو مثال **ما افعله** او دویم **افعل به** ورکړی دی او په شرح خو **افعل** او **افعل** ورکړې شو؟ **جواب** : په دې کې خو د سوال څه خبره نشته فعل تعجب په کې صرف **افعل** او **افعل** دی په اول مثال کې **ما** او **هو** او په دویم مثال کې به د بل یو غرض د وجې نه زیات کړی شوی دی چې بیان یې را روان دی.

د اولنۍ صیغې تفصیل: **ما افعله** د دې په وزن به د **حسن** نه **ما احسنه** راځي دا په اصل کې **ای شئ احسن زیداً** دی لفظي ترجمه یې داده چې څه شی دی چې هغې زید ښایسته کړې دی او د تعجب په لهجه کې یې معنی داده چې څه ښه دی زید د **ما احسن زیداً**.

ترکیب: **ما** په معنی د **اَيّ شَيْءٍ** سره مبتداء **احسن** فعل دی ضمیر په کې مستتر دی چې تعبیر ترې کېږي په **هُوَ** سره هغه ورله فاعل **زیداً** يې مفعول به فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه جمله فعلیه خبریه شوه د مبتداء مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه انشائیه.

سوال: **ما** چې کله مبتداء شوه نو دې له خو رفع په کار وه دغه شان **احسن** خبر دی نو دې له هم رفع په کار وه؟

جواب: **ما** هم مبني دی او **احسن** هم مبني دی او په مبني باندې نه اعراب لفظي راځي او نه تقدیري، البته د دوي اعراب محلي دی لکه څنګه چې مخکې تېر شوي دي نو لهذا **ما** او **احسن** هم د رفع په ځای کې دي.

د دویمې صیغې تفصیل: **افعل به** دا د امر صیغه ده صورة ده او معنی خبر دی د دې په وزن به د **حسن** نه **احسن بزید** راځي معنی يې داده ښه څه دی زید نو په دې لحاظ سره د **احسن بزید** **احسن زید** دی او په **زید** کې يې **باء** زائده ده نو د نورو مصادرو نه هم د تعجب افعال راوباسه د الضرب نه ورو مبني صیغه **ما اضربه** او دویمه **اضرب بزید** د **القتل** نه **ما اقتله** او **اقتل بزید** وغیره.

ترکیب: **ما احسن زیداً:** **ما** استفهامیه په معنی د **اي شيء** سره مبتدا، **احسن زیدا** ورته خبر چې تقدیر د عبارت به داسې شي: **اي شيء احسن زیدا:** **اي** مضاف **شيء** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مبتداء، **احسن** صیغه د فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **هو** دې دا يې فاعل **زیدا** ورته مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبره جمله انشائیه تعجبیه.

احسن بزید: **احسن** صیغه د امر ضمیر په کې مستتر دی چې **انتَ** دی دا يې فاعل، **زید** مفعول به، **باء** زائده ده، نو **احسن** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله امریه انشائیه.

اسماء عامله:

باب سوم در عمل اسماء عامله و آن یازده قسم است: اول: اسماء شرطیه
[دریم باب] [په بیان د عمل د اسماء عامله کې] [او دا په یولس قسمه دی] [اول] [اسماء شرطیه]
دریم باب دی په بیان د عمل د اسماء عامله وو کې، او دا یولس (۱۱) قسمه دی: اول اسماء شرطیه

بمعنیٰ إنْ ، وآن نه است : مَنْ وَمَا وَأَيْنَ وَ مَتَى وَ أَيٌّ وَ أَنَّى وَ إِذْ مَا وَ حَيْثُمَا
[په معنی د إِنْ سره] او دا نهه دي] [مَنْ وَ مَا وَ أَيْنَ وَ مَتَى وَ أَيٌّ وَ أَنَّى وَ إِذْ مَا وَ حَيْثُمَا]
په معنی د إِنْ سره او دا نهه (۹) دي : مَنْ وَ مَا وَ أَيْنَ وَ مَتَى وَ أَيٌّ وَ أَنَّى وَ إِذْ مَا وَ حَيْثُمَا
وَمَهْمَا فعل مضارع را بجزم کنند چون مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ وَمَا تَفْعَلْ أَفْعَلْ وَ
[وَ مَهْمَا] [فعل مضارع ته جزم ورکوي] [لکه] [مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ ، وَمَا تَفْعَلْ أَفْعَلْ ، وَ]
وَ مَهْمَا دوي فعل مضارع ته جزم ورکوي لکه : مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ ، وَمَا تَفْعَلْ أَفْعَلْ ، وَ
أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ ، وَمَتَى تَقُمْ أَقُمْ ، وَأَيُّ شَيْءٍ تَأْكُلْ آكُلْ ، وَأَنَّى تَكْتُبْ
[أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ] [وَ مَتَى تَقُمْ أَقُمْ] [وَ أَيُّ شَيْءٍ تَأْكُلْ آكُلْ] [وَ أَنَّى تَكْتُبْ]
أَيْنَ تَجْلِسْ أَجْلِسْ ، وَمَتَى تَقُمْ أَقُمْ ، وَ أَيُّ شَيْءٍ تَأْكُلْ آكُلْ ، وَ أَنَّى تَكْتُبْ
أَكْتُبْ ، وَإِذْ مَا تُسَافِرْ أُسَافِرْ ، وَحَيْثُمَا تَقْصِدْ أَقْصِدْ ، وَمَهْمَا تَقْعُدْ أَقْعُدْ .
[أَكْتُبْ] [وَ إِذْ مَا تُسَافِرْ أُسَافِرْ] [وَ حَيْثُمَا تَقْصِدْ أَقْصِدْ] [وَ مَهْمَا تَقْعُدْ أَقْعُدْ].
أَكْتُبْ ، وَإِذْ مَا تُسَافِرْ أُسَافِرْ ، وَحَيْثُمَا تَقْصِدْ أَقْصِدْ ، وَمَهْمَا تَقْعُدْ أَقْعُدْ .

تشريح : په دويم باب کې د افعال عامله وو بيان وو اوس په دريم باب کې مصنف د اسماء عامله وو بيان ذکر کوي چې هغه په فعل مضارع او اسم متمکن کې عمل کوي نو کوم چې په اسم کې عمل کوي د هغې يولس (۱۱) قسمونه دي :

د اسماء عاملو لومړی قسم اسماء شرطيه دي او دا د إِنْ شرطيه په معنی سره دي : لکه څنګه چې إِنْ په دوه وو جملو باندې داخلېږي دغه شان دا هم په دوه وو جملو داخلېږي او څنګه چې إِنْ فعل مضارع ته جزم ورکوي نو دغه شان دا هم فعل مضارع ته جزم ورکوي.

او لکه څنګه چې د إِنْ نه وروستو اوله جمله شرط او دويمه جمله جزاء وي نو دغه شان د دوی نه وروستو هم اوله جمله شرط او دويمه جمله جزا وي او اسماء شرطيه نهه دي کوم چې په متن کې ذکر دي.

مثالونه يې دا دي : مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ څوک چې ته وهې نو زه يې وهم که ته زيد وهې نو زه به هم زيد وهم او که ته بکر وهې نو زه به هم بکر وهم.

نو مَنْ د إنْ شرطیه په معنی مشتمل دی نو د دې وجې نه به د دې په دوه جملو داخلېږي اوله به شرط او دویمه به جزاء وي او شرط او جزاء دواړه مجزوم وي لکه په دې مثال کې نو تَضْرِبْ ته یې د شرط په وجه جزم ورکړو او اَضْرِبْ ته یې د جزاء کېدو په وجه جزم ورکړو دغه شان په ټولو مثالونو کې به شرط او جزاء دواړه مجزوم وي.

ترکیب: من تضرب اضرب : **من** اسم شرط مفعول به مقدم، **تضرب** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی هغه یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه فعل شرط، **اضرب** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله فعلیه شرطیه.

ما تفعل افعل : ما اسم متضمن معنی د شرط لره دا مفعول به مقدم، **تفعل** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا فعل شرط، **افعل** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی هغه یې فاعل فعل سره د فاعله جمله فعلیه جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط نه جمله فعلیه شرطیه.

این تجلس اجلس : این اسم شرط مفعول فیه ظرف مکان مقدم، **تجلس** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دي دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه فعل شرط، **اجلس** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دي دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

متی تقم اقم : متی اسم شرط ظرف زمان مفعول فیه مقدم، **تقم** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه فعل شرط، **اقم** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

اي شيء تاکل اکل : اي مضاف **شيء** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول به مقدم، **تاکل** فعل ضمیر کې په مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به مقدم جمله فعلیه فعل شرط، **اکل** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

اذ ما تسافر اسافر : اذ ما ظرف زمان مفعول فیه مقدم، **تسافر** فعل ضمیر په کې مستتو دی چې **انت** دي دا یې فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه فعل شرط، **اسافر** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

حیثما تقصد اقصد : حیثما ظرف مکان مفعول فیه مقدم، **تقصد** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې

فاعل، فعل سره د فاعله او سره د مفعول فیه جمله فعلیه فعل شرط، **اقعد** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

مهما تقعد اقعد: **مهما** ظرف زمان مفعول فیه مقدم، **تقعد** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه فعل شرط، **اقعد** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جزاء شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه خبریه شرطیه.

دوم: اسماء افعال بمعنی ماضی چون هَيْهَاتَ وَ شَتَّانَ وَسَرْعَانَ اسم را
[دویم] [اسماء افعال دی] [په معنی د ماضي سره] [لکه] [هَيْهَاتَ او شَتَّانَ او سَرْعَانَ] [اسم ته به]
دویم قسم: اسماء افعال په معنی د ماضي سره، لکه: هَيْهَاتَ او شَتَّانَ او سَرْعَانَ، اسم ته به
بنابر فاعلیت برفع کنند چون هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ أَيْ بَعُدَ. سوم: اسماء افعال
[بنابر فاعلیت رفع ورکوي] [لکه هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ] [یعني بَعُدَ] [دریم] [هغه اسماء افعال]
بنا بر فاعلیت رفع ورکوي لکه: هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ أَيْ بَعُدَ دریم قسم: هغه اسماء افعال دي
بمعنی امر حاضر چون رُوَيْدَ و بَلْهَ و حَيَّهَلْ و عَلَيْکَ و دُوْنَکَ و هَا
[په معنی د امر حاضر سره] [لکه] [رُوَيْدَ] [و بَلْهَ] [و حَيَّهَلْ] [و عَلَيْکَ] [و دُوْنَکَ] [و هَا]
چې په معنی د امر حاضر سره وي لکه: رُوَيْدَ، و بَلْهَ، و حَيَّهَلْ، و عَلَيْکَ، و دُوْنَکَ، و هَا،
اسم را بنصب کنند بنابر مفعولیت چون رُوَيْدَ زَيْدًا أَيْ أَمْهِلْهُ.
[اسم ته به] [نصب ورکوي] [بنا بر مفعولیت] [لکه] [رُوَيْدَ زَيْدًا أَيْ أَمْهِلْهُ].
اسم ته به نصب ورکوي بنا بر مفعولیت، لکه: رُوَيْدَ زَيْدًا أَيْ أَمْهِلْهُ.

تشریح: دوم قسم د اسماء عاملو اسماء افعال دي یعني هغه اسماء چې هغه خو په ښکاره طور اسماء خو معنی د فعل ورکوي که چېرته په دغې اسماوو کې تېره شوې زمانه وموندلی شي نو دې ته اسماء افعال بمعني ماضي وایي او که چېرته په دوی کې راتلونکې زمانه وموندلی شي نو دې ته **افعال** بمعنی امر حاضر معروف وایي هغه اسماء چې په معنی د فعل ماضي سره دي، د هغوی مثال **هَيْهَاتَ** او **شَتَّانَ** او **سَرْعَانَ**. هیهات په معنی د **بَعُدَ** فعل ماضي سره او **شَتَّانَ** په معنی د

اِفْتَرَقَ فعل ماضي سره او سَرْعَانَ په معنی د سَرُعَ فعل ماضي سره هَيْهَاتَ يَوْمُ الْعِيْدِ معنی لرې شوه د اختر ورځ او هم دغه معنی د بَعُدَ ده.

سوال: د دوي څه عمل دی؟ **جواب**: دوي ما بعد اسم ته رفع ورکوي ځکه چې دغه اسم د دوي فاعل وي نو ځکه ورته رفع ورکوي هغه اسماء افعال چې د امر حاضر معروف په معنی سره وي رُوَيْدَ و بَلْهَ و حَيَّهَلْ و عَلَيْكَ و دُوْنَكَ و هَا، رُوَيْدَ په معنی د اَمْهِلْ سره اَمْهِلْ صیغه د واحد مذکر امر حاضر، بَلْهَ په معنی د دَعْ سره یعنې پرېږده، حَيَّهَلْ په معنی د اِيْتِ سره یعنې راشه ته، هَلُمَّ په معنی د اِيْتِ سره، عَلَيْكَ په معنی د اَلْزِمْ سره یعنې لازم و نیسه، دُوْنَكَ په معنی د خُذْ سره یعنې ته واخله، هَا دا هم په معنی د خُذْ سره ده.

سوال: د دې افعالو څه عمل دی؟ **جواب**: د دوي فاعل خو اَنْتَ ضمیر مستتر دی نو د دې نه وروستو اَمْسِ به خامخا مفعول به وي او مفعول به منصوب وي نو لهذا دا اسماء افعال به ما بعد اسم ته به نصب ورکوي لکه رُوَيْدَ زَيْداً، بَلْهَ زَيْداً. دُوْنَكَ زَيْداً، عَلَيْكَ زَيْداً. حَيَّهَلِ الصَّلٰوةَ. هَا زَيْداً، هَلُمَّ خَيْراً. نو د دې بیان مطابق اسماء افعال تول لس شول درې (۳) د فعل ماضي په معنی، او اوه (۷) د امر حاضر په معنی.

ترکیب: **هیهات یوم العید**: **هیهات** اسم فعل په معنی د بَعُدَ سره فعل، **یوم** مضاف **العید** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه دا فاعل شو د پاره د **هیهات**، **هیهات** فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

روید زیدا ای امهله: **روید** اسم فعل په معنی د امر حاضر **امهل** سره ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل **زیدا** ورته مفعول به شو، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه مفسر، **ای** حرف تفسیر، **امهل** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل او **هٔ** ضمیر یې مفعول به، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه دا یې تفسیر، مفسر سره د خپل تفسیر نه جمله فعلیه انشائیه.

اسم فاعل په معنی د حال یا استقبال سره:

چهارم: اسم فاعل بمعنی حال یا استقبال، عمل فعل معروف کند بشرط
[څلورم] [اسم فاعل په معنی د حال] [یا استقبال سره] [دا عمل] [د فعل معروف کوي] [خو په شرط د]
څلورم: اسم فاعل په معنی د حال یا استقبال سره، عمل د فعل معروف کوي، خو په دې شرط سره چې

12

آنکه اعتماد کرده باشد بر لفظیکه پیش ازو باشد ' وآن لفظ مبتدا باشد ' در لازم

[دې چې اعتماديې کړې وي] [په هغه لفظ چې] [ددې نه مخکې وي] [او دالفظ مبتدا وي] [په لازم کې]

اعتماد يې کړې وي په هغه لفظ چې د دې نه مخکې وي او هغه لفظ يا مبتداء وي په لازم کې

چون زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ ' ودر متعدی چون زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ عَمْرًا ' یا موصوف

[لکه] [زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ] [او په متعدي کې] [لکه] [زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرواً] [یا به موصوف]

لکه زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ او په صورت د متعدي کې لکه: زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرواً، یا به موصوف

چون مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٌ أَبُوْهُ بَكْرًا یا موصول چون جَاءَنِي الْقَائِمُ أَبُوْهُ، و

[وي لکه] [مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٌ اَبُوْهُ بَكْراً] [او یا به موصول وي] [لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ اَبُوْهُ]

وي لکه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٌ اَبُوْهُ بَكْراً او یا به موصول وي لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ اَبُوْهُ. او

جَاءَنِي الضَّارِبُ أَبُوْهُ عَمْرًا ' یا ذوالحال چون جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا

[جَاءَنِي الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرواً] [یا به ذوالحال وي لکه] [جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِباً غُلَامُهُ فَرَساً]

جَاءَنِي الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرواً، او یا به ذوالحال وي لکه جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِباً غُلَامُهُ فَرَساً،

یا همزه استفهام چون أَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًا یا حرف نفی چون مَا قَائِمٌ زَيْدٌ همان

[یا به همزه استفهام وي] [لکه أَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرواً] [یا به حرف نفي وي] [لکه مَا قَائِمٌ زَيْدٌ] [هغه]

یا به همزه استفهام وي لکه أَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرواً، یا به حرف نفي وي لکه مَا قَائِمٌ زَيْدٌ ، هغه

عمل که قَامَ و ضَرَبَ می کرد قَائِمٌ و ضَارِبٌ میکند.

[عمل چې] [قَامَ او ضَرَبَ کوي] [قَائِمٌ او ضَارِبٌ يې] [هم کوي].

عمل چې قَامَ او ضَرَبَ يې کوي قَائِمٌ او ضَارِبٌ يې هم کوي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسماء عاملو څخه څلورم قسم اسم فاعل په معنی د حال یا استقبال سره بیانوي.

تشریح : څلورم قسم د اسماء عامله وو اسم فاعل دی.

سوال: په اسم فاعل او فاعل کې څه فرق دی؟

جواب: فاعل هغې ذات ته ویلی شي چې د هغه نه فعل صادر شوی وي او اسم فاعل هغې اسم ته ویلی کېږي چې هغه د کار کوونکي په ذات باندې دلالت کوي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ نو په دې کې زيد فاعل دی او په زَيْدٌ ضَارِبٌ کې ضَارِبٌ اسم فاعل دی او په ضرب ضارب کې ضَارِبٌ فاعل دی او اسم فاعل هم دی نو خلاصه دا چې په فاعل او اسم فاعل کې نسبت د عموم خصوص من وجه دی په لومړني مثال کې صرف فاعل دی او په دویم کې صرف اسم فاعل دی او په دریم کې فاعل او اسم فاعل دواړه دي دا خبره خو په میزان کې معلومه شوې ده چې اسم فاعل د فعل معروف نه جوړېږي نو لهذا عمل به هم هغه کوي کوم چې فعل معروف کوي که چېرته فعل معروف لازم وو نو د دې نه راویستلی شوی اسم فاعل به هم لازم وي او فعل لازم فاعل ته رفع ورکوي نو دی به هم فاعل ته رفع ورکوي او که چېرته فعل معروف متعدي وي نو د دې نه چې کوم اسم فاعل مشتق وي هغه به هم متعدي وي فعل متعدي فاعل ته رفع او مفعول ته نصب ورکوي نو اسم فاعل به هم داسې کوي که چېرته دده فعل متعدي یېک مفعول وو نو دی به هم وي او که چېرته دده فعل متعدي بدو مفعول وي نو دی به هم وي او که چېرته دده فعل متعدي په څه مفعول وي نو دی به هم متعدي به سه مفعول وي د اسم فاعل عمل کولو لپاره شرط دا دی چې په ده کې به د حال یا د استقبال معنی وي که چېرته په معنی د ماضي سره وي نو بیا به عمل نه کوي.

سوال: دا شرط ولې ولګولی شو چې په معنی د حال یا د استقبال وي؟

جواب: دا شرط ځکه ولګولی شو چې اسم فاعل د دې وجې نه عمل کوي چې دی مشابه دی د فعل مضارع سره په حروفو او حرکاتو سکناتو کې نو دا خو د دواړو لفظي مشابهت شو او معنوي مشابهت یې هم د عمل کولو لپاره شرط کړو د دې لپاره چې د لفظي او معنوي دواړو مشابهتونو د وجې نه په عمل کې قوت پیدا شي او دا هله حاصلېږي چې د مضارع په شان دی هم په معنی کې د حال یا د استقبال وي، دویم شرط د اسم فاعل د عمل کولو لپاره دا دی چې د شپږو څیزونو نه به یو خامخا د ده نه مخکې وي چې دی پرې اعتماد وکړي او عمل وکړي هغه شپږ څیزونه دا دي: (۱) مبتداء، (۲) موصوف، (۳) موصول، (۴) ذوالحال، (۵) حرف استفهام، (٦) حرف نفي.

لومړی مثال د هغې اسم فاعل چې مخکې ترې نه مبتداء وي او د فعل لازم نه مشتق وي لکه زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ نو قَائِمٌ اسم فاعل دی او د يَقُوْمُ په واسطې سره د قَامَ نه مشتق دی او قَامَ فعل لازم دی چې صرف فاعل ته رفع ورکوي او قَائِمٌ هم لازم دی أَبُوْهُ ته یې رفع ورکړې ده نو اسم فاعل سره د فاعل نه خبر شو لپاره د مبتداء (چې زید دی).

د هغې اسم فاعل مثال چې د هغې نه مخکې مبتداء وي او دغه اسم فاعل د فعل متعدي نه مشتق وي لکه زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوْهُ

عَمْراً، **اَبُوْهٗ** زید مبتداء ده او **ضَارِبٌ** اسم فاعل دی چې په واسطه د **يَضْرِبُ** د **ضَرَبَ** نه مشتق دی او **اَبُوْهٗ** د **ضَارِبٌ** فاعل دی او **عَمْراً** مفعول دی چونکه **ضَارِبٌ** متعدي بيک مفعول دی د دې وجې نه يې فاعل ته رفع او مفعول به ته نصب ورکړو او ختم شو.

دوهم مثال د هغې اسم فاعل چې د هغې نه مخکې موصول وي لکه **جاء ني القائم ابوه** نو **جاء** فعل دی الف لام په **القائم** کې په معنی د **الذي** موصول سره قائم اسم فاعل دی او **ابوه** د **قائم** فاعل دی نو اسم فاعل سره د فاعل نه صله شوه د موصول، موصول سره د صلې نه فاعل شو لپاره د فعل د امثال خو د اسم فاعل لازم وو مثال د هغې اسم فاعل چې د هغې نه مخکې موصول وي او اسم فاعل د فعل متعدي نه مشتق وي لکه **جاء ني الضارب ابوه بكراً** نو **ضارب** اسم فاعل دی او **ابوه** يې فاعل دی او **بكراً** مفعول به ده نو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه صله شوه د موصول موصول سره د صلې نه فاعل شو لپاره د فعل.

دريم مثال د هغې اسم فاعل چې هغې نه مخکې موصوف وي لکه **مررت برجل ضارب ابوه عمراً** دلته **رجل** موصوف دی **ضارب** اسم فاعل دی **ابوه** يې فاعل دی او **عمرا** مفعول به ده اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه صفت شو د موصوف نو موصوف سره د صفت نه مجرور شو د جار، جار سره د مجرور نه متعلق شو په **مررتُ** فعل پورې.

څلورم مثال د هغې اسم فاعل چې د هغې نه مخکې ذوالحال وي لکه **جاء ني زيد راكباً غلامه فرساً** نو **راكباً** اسم فاعل دی او **غلامه** يې فاعل دی او **فرساً** يې مفعول به ده نو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه حال شو د ذوالحال چې **زيد** دی نو ذوالحال سره د حال نه فاعل شو د فعل.

پنځم مثال دهغې اسم فاعل چې مخکې ترې نه حرف استفهام وي لکه **اَضَارب زيد عمروا** نو **ضارب** اسم فاعل دی او **زيد** يې فاعل دی او **عمروا** يې مفعول به ده نو اسم فاعل سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه جمله اسميه انشائيه.

په دې مثال کې د اسم فاعل اعتماد په همزه استفهامي باندې په دې معنی سره دی چې د دې حرف استفهام نه فعل استفهم صيغه د واحد متكلم بحث فعل مضارع را وحي ځکه د دې معنی داده چې ځه استفهام کوم چې زيد وهونکی دی؟

شپږم مثال د هغې اسم فاعل چې د هغې نه مخکې حرف نفي وي لکه **ما قائمٌ زيد** نو **قائمٌ** اسم فاعل دی او **زيد** يې فاعل دی نو اسم فاعل د فاعل سره يو ځای شوی دی او په حرف نفي يې اعتماد کړې دی دلته به هم فعل يعني نفي را وځي نو په حقيقت کې په دې دوارو مثالونو کې اعتماد په فعل باندې دی اگر چې صورتاً په حرف استفهام او په حرف نفي باندې

دی د دې تقرير نه دا خبره معلومه شوه چې کوم عمل فعل کوي نو هم هغه عمل د هغې نه مشتق اسم فاعل هم کوي.

تركيب : زيد قائم ابوه : **زيد** مبتداء **قائم** صيغه د اسم فاعل ، **ابو** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د **قائم** ، فعل سره د فاعله جمله اسميه خبريه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

زيد ضارب ابوه عمرا : **زيد** مبتداء **ضارب** صيغه د اسم فاعل ، **ابو** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د **ضارب** ، عمروا ورته مفعول به شو فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله اسميه خبريه خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

مررت برجل ضارب ابوه بكرا : مررت فعل فاعل **باء** حرف جر **رجل** موصوف **ضارب** اسم فاعل **ابو** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه دا فاعل ، **بكراً** ورته مفعول به شو ، اسم فاعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا صفت شو د پاره د موصوف چې **رجل** دی ، موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه ظرف لغو متعلق شو تر **مررت** پورې ، **مررت** فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعليه خبريه.

جاءني القائم ابوه : **جاء** فعل نون وقايه **ياء** متكلم مفعول به **الف لام** په معنی د **الذي** سره **قائم** صيغه د اسم فاعل **ابو** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د **قائم** ، **قائم** اسم فاعل سره د فاعله دا صله شوه د پاره د موصول چې **الذي** دی موصول سره د صلې نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

جاءني الضارب ابوه عمروا : **جاء** فعل نون وقايه **ياء** متكلم مفعول به **الف لام** په معنی د **الذي** سره **ضارب** صيغه د اسم فاعل **ابو** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د **ضارب** ، **عمروا** ورته مفعول به شو ، اسم فاعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا صله شوه د پاره د موصول ، موصول سره د صلې نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

جاءني زيد راكبا غلامه فرسا : **جاء** فعل نون وقايه **ياء** متكلم مفعول به ، **زيد** ذوالحال **راكبا** اسم فاعل ، **غلام** مضاف **هُ** ضمير مضاف اليه مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د **راكبا** ، **فرساً** ورته مفعول به شو ، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه دا حال شو د پاره د ذوالحال ، ذوالحال سره د حال نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ،

جاء فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

اضارب زید عمروا: آ همزه استفهام **ضارب** اسم فاعل **زید** یې فاعل **عمروا** یې مفعول به، اسم فاعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله انشائیه.

ما قائم زید: **ما** نافیه **قائم** اسم فاعل **زید** یې فاعل، اسم فاعل سره د فاعله جمله اسمیه خبریه.

اسم مفعول:

پنجم اسم مفعول بمعنی حال و استقبال، عمل فعل مجهول
[پنځم] [اسم مفعول] [چې په معنی د حال] [یا استقبال سره وي] [دا] [عمل د] [فعل مجهول]
پنځم قسم: د اسماء عاملو نه اسم مفعول دی چې په معنی د حال یا استقبال وي، عمل د فعل مجهول
کند بشرط اعتماد مذکور چون: زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ عَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ
[کوي] [خو په شرط د اعتماد مذکور سره] [لکه] [زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ عَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ]
کوي خو په شرط د اعتماد مذکور سره، لکه: زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ أَبُوْهُ عَمْرٌو مُعْطًى غُلَامُهُ
دِرْهَمًا وَبَکْرٌ مَعْلُوْمٌ نِ ابْنُهُ فَاضِلًا وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ نِ ابْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا همان عمل
[دِرْهَمًا] [وَبَکْرٌ مَعْلُوْمٌ نِ ابْنُهُ فَاضِلًا] [وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ نِ ابْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا] [کوم عمل]
دِرْهَمًا، وَبَکْرٌ مَعْلُوْمٌ نِ ابْنُهُ فَاضِلًا، وَخَالِدٌ مُخْبَرٌ نِ ابْنُهُ عَمْرًا فَاضِلًا کوم عمل چې
ضُرِبَ و أُعْطِيَ و عُلِمَ و أُخْبِرَ می کرد مَضْرُوْبٌ و مُعْطًى و مَعْلُوْمٌ و
[ضُرِبَ] [او أُعْطِيَ او عُلِمَ او أُخْبِرَ کولو] [نو هغه عمل مَضْرُوْبٌ او مُعْطًى او مَعْلُوْمٌ او]
ضُرِبَ او أُعْطِيَ او عُلِمَ او أُخْبِرَ کولو، نو هغه عمل به مَضْرُوْبٌ او مُعْطًى او مَعْلُوْمٌ او
مُخْبَرٌ می کند.
[مُخْبَرٌ] [هم کوي].
مُخْبَرٌ هم کوي.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د اسماء عاملو نه د پنځم قسم یعنې د اسم مفعول چې په معنی د حال یا استقـ!!

سره وي ددې بيان کوي.

تشريح: پنځم قسم د اسماء عامله وو نه اسم مفعول دی.

د اسم مفعول تعريف: دا هغې اسم ته ويلی کېږي چې د فاعل فعل پرې واقع شوی وي دده د عمل کولو لپاره هم دوه شرطونه دي: يو دا چې په معنی کې د حال يا د استقبال وي. دويم شرط دا دی چې څنګه اسم فاعل په خپل ما قبل باندې اعتماد کوي نو دغه شان دې به هم کوي. دا خبره خو په ميزان الصرف کې معلومه شوې ده چې اسم مفعول د فعل مجهول نه مشتق کېږي نو چې کوم عمل فعل مجهول کوي نو هغه عمل به اسم مفعول کوي او دا خو تاسو ته معلومه ده چې فعل مجهول د فاعل په ځای مفعول ما لم يسم فاعله ته رفع ورکوي او با قيو ته نصب نو دغه شان اسم مفعول به مفعهول مالم يسم فاعله ته رفع ورکوي يعنې دده فعل که چېرته متعدي بيک مفعول وو نو دی به هم متعدي به يک مفعول وي او که چېرته فعل متعدي به دوو مفعولوو نو به هم متعدي به دوو مفعول وي او که چېرته دده فعل متعدي به سه مفعول وو نو دی به هم متعدي به سه مفعول وي. د هغې اسم مفعول مثال چې متعدي بيک مفعول وي: لکه: **زيد مضروب غلامه** په دې مثال کې **زيد** مبتداء ده **مضروب** اسم مفعول دی او غلامه دده مفعول ما لم يسم فاعله دی نو **مضروب** سره د خپل مفعول ما لم يسم فاعله نه خبر شو د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه، د هغې اسم مفعول مثال چې متعدي بدو مفعول وي او د يو باقي پاتې کوول او دبل حذف کول جائز وي لکه **عمرو معطي غلامه درهماً** نو په دې مثال کې **عمرو** مبتداء ده **معطي** اسم مفعول دی او **غلامه** يې مفعول ما لم يسم فاعله دی او **درهماً** يې مفعول ثاني دی نو په دې مثال کې د يو مفعول حذف کول او دوهم باقي پاتې کول جائز دي، د هغې اسم مفعول مثال چې متعدي بدو مفعول وي او د يو حذف کول او د بل باقي پاتې کول جايز نه وي لکه **بکر معلوم ابنه فاضلاً** په دې مثال کې **بکر** مبتداء ده **معلوم** اسم مفعول دی **ابنه** يې مفعول ما لم يسم فاعله دی او **فاضلاً** يې مفعول ثاني دی په دې کې د يو حذف کول جائز نه دی، دهغې اسم مفعول مثال چې هغه متعدي به سه مفعول وي، لکه **خالد مخبر ابنه عمرا فاضلاً**، په دې مثال کې **خالد** مبتداء ده او **مخبر** اسم مفعول دی د باب **افعال** نه **ابنه** يې مفعول ما لم يسم فاعله دی **عمرا** يې مفعول ثاني دی او **فاضلاً** يې مفعول ثالث دی نو تاسو وکتل چې کوم عمل **ضرب** او **اعطی** او **علم** او **اخبر** کوي نو هغه عمل هغه مفاعيل کوي کوم چې د دې افعالو نه وتلي وي.

ترکيب: **زيد مضروب ابوه:** **زيد** مبتداء **مضروب** صيغه د اسم مفعول **ابو** مضاف **ه** ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه د اخبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

عمرو معطی غلامه درهما : **عمرو** مبتداء **معطی** صیغه د اسم مفعول، **غلام** مضاف **هٔ** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا نائب فاعل د پاره د **معطی**، **درهما** ورته مفعول به شو ، **معطی** سره د نائب فاعل او سره د مفعول به شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

بکر معلوم ن ابنه فاضلا : **بکر** مبتداء **معلوم** صیغه د اسم مفعول **ابن** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا نائب فاعل شو د پاره د **معلوم** ، **فاضلاً** ورته مفعول به شو ، **معلوم** سره د فاعل او سره د مفعوله شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

خالد مخبر ابنه عمروا فاضلاً : **خالد** مبتداء **مخبر** صیغه د اسم مفعول **ابن** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا نائب فاعل شو د پاره د **مخبر** ، **عمروا** ورته مفعول اول شو **فاضلاً** ورته مفعول ثاني شو ، **مخبر** سره د فاعل او سره د مفعولینو نه شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

صفت مشبه :

ششم : صفت مشبه عمل فعل خود کند بشرط اعتماد مذکور
[شپږم قسم] [صفت مشبه] [دا عمل] [د فعل خپل کوي] [خو په شرط د] [اعتماد مذکوره سره]
شپږم قسم د اسماء عاملوو نه صفت مشبه دی، عمل د خپل فعل کوي په شرط د اعتماد مذکور سره
چون : زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ ' ہمان عمل کہ حَسُنَ می کرد حَسَنٌ میکند.
[لکه] [زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ] [کوم عمل چې] [حَسُنَ کولو] [هغه حَسَنٌ هم کوي].
لکه زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ، کوم عمل چې حَسُنَ کولو نو هغه عمل به حَسَنٌ هم کوي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د اسماء عامله نه د شپږم قسم یعنې د صفت مشبه بیان کیږي.

تشریح : شپږم قسم د اسماء عاملو نه صفت مشبه دی. **د صفت مشبه تعریف** : دا هغې صفت ته ویل کیږي چې د هغې ثبوت د خپل موصوف د پاره همېشه موجود وي، چې تجدد او حدوث په کې نه وي او هر چې اسم فاعل دی نو د هغه ثبوت د ذات لپاره همېشه موجود نه وي یعنې په هغه کې تجدد او حدوث وي لکه حسن (ښائسته) مثلاً هغې سړي ته ویلی شي چې په هغه کې حسن هر وخت موجود وي په خلاف د اسم فاعل چې په ده کې معنی مصدري همېشه نه وي، لکه ضارب.

سوال : صفت مشبه ته مشبه ولې ویلی شي؟

جواب: ځکه چې دا صفت مشابه دی د اسم فاعل سره په تثنیت او جمعیت او تذکیر او تانیث کېدو کې لکه **حسن حسان حسنون، حسنة حسنتان حسنات** دا داسې دي لکه **فاعل، فاعلان، حسنون، حسنة حسنتان حسنات** دا داسې دي لکه **فاعل، فاعلان، فاعلون، فاعلة فاعلتان فاعلات.**

سوال: صفت مشبه څه عمل کوي؟

جواب: صفت مشبه چونکه د فعل لازم نه مشتق وي نو د دې وجې نه خپل فاعل ته رفع ورکوي.

سوال: صفت مشبه به دا عمل کله کوي؟ **جواب:** دا په هغه وخت کې چې کله په خپل ما قبل باندې د اسم فاعل او د اسم مفعول په شان ته دی هم اعتماد وکړي لکه **زید حسن غلامه**، **حسن** صفت مشبه دی او **غلامه** یې فاعل دی نو صفت مشبه سره د خپل فاعل نه خبر دی، د مبتداء (چې **زید** دی) یعني د **زید** غلام بنایسته دی نو **حسن** داسې څیز دی چې د کوم وخت نه د **زید** سره **قائم** دی نو دا ورسره همېشه او یو شان دی.

د اسم فاعل او صفت مشبه په مینځ کې فرق: د اسم فاعل او د صفت مشبه په مینځ کې یو څو فرقونه دی: (۱) صفت مشبه لازم دی او اسم فاعل لازمي او متعدي دواړه دی، (۲) صفت مشبه کې ثبوت او دوام دی او اسم فاعل کې حدوث وي، (۳) د صفت مشبه معمول مقدم نه شي کیدې او د اسم فاعل مقدم کیدې شي.

د صفت مشبه اوزان: د صفت مشبه اوزان ډیر دی، چې د کوم متعلق د سماع سره دی قیاس ته په کې هیڅ دخل نشته لیکن صفت مشبه د لون او د عیب معنی کې همیشه د پاره د افعل په وزن باندې راځي لکه: **أبیض، أسود، أعور، أعمی.**

ترکیب: زید حسن غلامه: **زید** مبتداء **حسن** صیغه د صفت مشبه **غلام** مضاف **هٔ** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا فاعل شو د پاره د **حسن** صفت مشبه، صفت سره د فاعله دا شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

اسم تفضیل:

هفتم: اسم تفضیل ، و استعمال او بر سه وجه است: به مِنْ
[اوم قسم] [اسم تفضیل] [او استعمال د دې] [په درې وجهو سره] [دی] [په مِنْ سره]
اوم قسم: د اسماء عامله وو نه اسم تفضیل دی، او استعمال یې په درې طریقو سره دی، یا به د مِنْ

چون : زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو ، یا بالف و لام چون : جَاءَنِيْ
[لکه] [زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو] [یا په الف او لام سره] [لکه] [جَاءَنِيْ]
سره استعمال وي لکه زَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو، یا به په الف لام سره استعمال وي لکه جَاءَنِيْ
زَيْدُ نِ الْأَفْضَلُ ، یا باضافت چون : زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ ، و عمل او در
[زَيْدُ نِ الْأَفْضَلُ] [یا په اضافت سره] [لکه] [زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ] [او ددې عمل په]
زَيْدُ نِ الْأَفْضَلُ ، یا په اضافت سره استعمال وي لکه : زَيْدٌ أَفْضَلُ الْقَوْمِ او د دې عمل په
فاعل باشد ، وآن هُوَ است فاعل افضل که درو مستتر است .
[فاعل کې وي] [او هغه هُوَ دی] [چې فاعل د افضل] [په دې کې مستتر دی].
فاعل کې وي، او هغه هُوَ دی چې فاعل د افضل دی، چې په دې کې مستتر دی.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د اسماء عامله نه د اوم قسم د اسم تفضیل بیان کوي.

تشریح : اوم قسم د اسماء عاملو نه اسم تفضیل دی.

داسم تفضیل تعریف: داهغې اسم ته ویلی کېږي چې مشتق وي د مصدر نه او دلالت کوي په زیات والي د معنی مصدري باندې لکه أَضْرِبُ زیات وهلو والا او د ضَارِبٌ معنی وهلو والا مطلب دا چې مثلاً د یو دوو سړو نه د وهلو فعل صادر شي یو زیات وهل کړی وي او بل کم وهل کړی وي نو چا چې کم وهل کړی وي نو د هغه لپاره به اسم فاعل ضارب ویلی شي او چا چې زیات وهل کړی وي نو د هغه لپاره به اسم تفضیل اضرب ویلی شي دغه شان اعلم او عالم وغیره دی د کومو ثلاثي مجرد و په مصدر کې چې معنی د رنګ او د عیب موندلې شي نو د هغې نه به اسم تفضیل د افعل په وزن نه راځي لکه احمر او اعور ته به اسم تفضیل نه شي ویلی ځکه چې د احمر په معنی کې د رنګ والي او د اعور په معنی کې عیب موندلی کېږي ځکه چې د احمر معنی سور سړی او د اعور معنی یو سترګې سړی دی دې ته صفت مشبه ویلې کېږي.

د رنګ او عیب والا مادې نه د اسم تفضیل د جوړولو طریقه: د دې طریقه دا ده چې اول به لفظ د اشد راوړی شي او بیا به مصدر کېښودی شي او داسې به وویلی شي چې هو اشد حمرة هغه زیات دی د

سوروالي په لحاظ سره او **هو اشد عمی** هغه زيات دی د ړوندوالي په لحاظ سره او که چېرته د ثلاثي مزيد ويا رباعي مجرد ونه اسم تفضيل جوړ وي نو د هغې طريقه داده چې په اول کې به لفظ د **اشد** راوړی شي او بيا به د ثلاثي مزيد د هغه مصدر راوړی شي چې په هغې کې زياتوالی بيانولی شي مثلاً يو سړی د خلکو ډېر زيات تعظيم کوي چې په هغې کې زياتوالی بيانولی شي . مثلاً يو سړی د خلکو ډېر زيات تعظيم کوي نو د هغه نه به داسې تعبير کولی شي چې **هو اشد اکراماً** يا يو سړی ډېر زيات احسان کوي نو د هغه لپاره به داسې ويلی شي چې **هو اشد احساناً** يا يو سړی ډېر زيات پرهېز کوونکی وي نو هغه لپاره به داسې ويلی شي **هو اشد اجتناباً** يا نور مثالونه په خپله په دې باندې قياس کړي .

په اعتبارداستعمال سره داسم تفضيل بيان : د اسم تفضيل د استعمال درې طريقې دي : په **مِنْ** حرف جر سره ، يا په **الف لام** سره يا په اضافت سره د هغې اسم تفضيل مثال چې د هغې استعمال په **مِنْ** سره وي لکه **زيد افضل من عمرو** په دې مثال کې **زيد** مفضل دی او **عمرو** مفضل عليه دی ځوک چې په فضيلت کې زياتولی شي هغه ته مفضل ويلی شي او د چا نه چې زياتولی شي په فضيلت کې زياتولی شي هغه ته مفضل ويلی شي او دچانه چې زياتولی شي نو هغه نه مفضل عليه ويلی شي . نو په دې مثال کې **زيد** په فضيلت کې په **عمرو** زيات کړې شوی دی نو د دې وجې نه **زيد** مفضل دی او **عمرو** مفضل عليه دی د هغې اسم تفضيل مثال چې د هغې استعمال په **الف لام** سره وي لکه **زيدن الافضل** د هغې اسم تفضيل مثال چې د هغې استعمال په اضافت سره وي يعنې اسم تفضيل مضاف وي بل اسم ته لکه **زيد افضل القوم** نو **افضل** اسم تفضيل دی او **القوم** طرف ته مضاف دی د اسم تفضيل عمل دی صرف فاعل له رفع ورکوي .

سوال : د اسم تفضيل فاعل څه شی د اسم تفضيل فاعل همېشه ضمير مستتر وي اسم صريح نه وي؟

جواب : ضمير چې په اسم تفضيل کې مستتر وي او همېشه ضمير مستتره وي البته کله ناکله اسم ظاهر وي تفضيل به يې په يو لويو کتابونو کې راشي .

ترکيب : **زيد افضل من عمرو** : **زيد** مبتداء ، **افضل** صيغه د اسم تفضيل ضمير په کې مستتر دی چې **هو** دی دا يې فاعل ، **من** حرف جار **عمرو** مجرور ، جار مجرور دا متعلق شو تر **افضل** پورې ، **افضل** صيغه د اسم تفضيل سره د فاعله او سره د متعلقه شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه .

جاءَنِي زيدن الافضل : **جاء** نعل **نون** وقايه **ياء** متکلم مفعول به **زيد** موصوف ، **الافضل** صيغه د اسم تفضيل ضمير په کې مستتر دی چې **هو** دی دا يې فاعل ، **افضل** اسم تفضيل سره د فاعله شبه جمله صفت شو د پاره د موصوف ،

موصوف سره د صفت نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

زيد افضل القوم : **زيد** مبتداء ، **افضل** صيغه د اسم تفضيل مضاف **القوم** مضاف اليه ، مضاف سره د مضاف اليه نه شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

مصدر :

هشتم : مصدر بشرط آنکه مفعول مطلق نباشد ، عمل
[اتم قسم] [مصدر دی] [خو په دې شرط چې] [مفعول مطلق نه وي] [او] [عمل]
اتم قسم : د اسماء عاملو نه مصدر دی ، خو په دې شرط سره چې مفعول مطلق نه وي او عمل د خپل
فعلش کند چون : أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا .
[د خپل فعل کوي] [لکه] [أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا].
فعل په شان کوي لکه أَعْجَبَنِيْ ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْرًا.

خلاصه د متن : صاحب د نحومیر په دې عبارت کې د اسماء عاملو نه د اتم قسم یعنې د مصدر بیان کوي.

تشريح : د مصدر تعريف : مصدر هغه اسم دی چې دلالت وکړي فقط په حدث باندې ، د حدث معنی ده **قائم بالغير** ته ، نو تعریف به یې داسې شي چې : مصدر هغه اسم دی چې کوم دلالت وکړي په حدث باندې یعنې په داسې معنی باندې چې کومه قائم بالغیر وي.

د مصدر عمل : مصدر د خپل فعل عمل کوي یعنې که مصدر لازمي وي نو فقط فاعل ته به رفع ورکوي لکه: **اعجبني قيام زيد** ، نو **قيام** مصدر لازمي دی صرف فقط فاعل **زيد** ته رفع ورکړې ده او که مصدر متعدي وي نو فاعل ته رفع او مفعول به ته به نصب ورکوي لکه **اعجبني ضرب زيد عمراً**. نو لکه څنګه چې فعل عمل کوي نو دغه شان عمل مصدر هم کوي، لیکن شرط په کې دا دی چې دغه مصدر عمل کولو والا به مفعول مطلق نه وي که چیرته مصدر مفعول مطلق وي نو عمل به نه کوي لکه **ضَرَبْتُ ضَرْبًا زَيْدًا** نو په دې کې **ضربا** مفعول مطلق دی **زيدا** مفعول به ده خو **زيد** ته نصب **ضربت** فعل ورکړی دی **ضربا** نه دی ورکړی مثال د مصدر عامل لکه **اعجبني ضرب زيد عمروا** ، **ضرب** مصدر دی او **زيد** یې فاعل دی او **عمروا** مفعول به دی نو مصدر سره د فاعل نه او سره د مفعول به نه د فاعل شو د **اعجب**.

په مصدر او فعل کې فرق : مصدر او فعل کې یو څو فرقونه دي :(۱) د فعل فاعل نه شي حذف کیدې او د م

صدر فاعل حذف کیږي،(۲) فعل کې د فاعل ضمیر مستتر وي او مصدر کې ضمیر مستتر نه شي کیدې،(۳) فعل مجهول نائب فاعل ته رفع ورکوي لیکن مصدر نائب فاعل ته رفع ورکولو کې عاجز دی یعنې نائب فاعل ته رفع نه ورکوي.

سوال: چې کله زید د ضرب مصدر فاعل دی نو فاعل خو مرفوع وي او دی خو مجرور دی؟

جواب: دا ځکه مجرور دی چې **ضرب** مصدر خپل فاعل طرف ته مضاف دی او **زید** فاعل یې مضاف الیه ده او دا خو معلومه ده چې **وکل مضاف مجروراً** البته **زید** محلاً مرفوع دی.

ترکیب: **اعجبني ضرب زید عمراً:** **اعجب** فعل ماضي معلوم، نون وقایه **یا** ضمیر د متکلم منصوب محلاً مفعول به مقدم، **ضرب** مصدر متعدي مضاف، **زید** مجرور لفظاً مضاف الیه فاعل، **عمراً** منصوب لفظاً مفعول به مصدر د خپل فاعل او سره د مفعول دا فاعل دا **اعجب** شو، **اعجب** فعل د خپل فاعل مؤخر او مفعول مقدم سره جمله فعلیه خبریه شوه.

نہم: اسم مضاف' مضاف الیہ را بجر کند چون : جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ .
[نهم قسم] [اسم مضاف] [مضاف الیه ته] [جرور کوي] [لکه] [جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ]
نهم قسم د اسماء عاملو نه اسم مضاف دی چې مضاف الیه ته جرور کوي لکه جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ
بدانکه ایں لام بحقیقت مقدر است؛ زیراکه تقدیرش آنست که غُلَامٌ لِزَيْدٍ .
[پوه شه چې][دلته لام] [په حقیقت کې مقدر دی][ځکه چې تقدیر یې هغه دی چې] [غُلَامٌ لِزَيْدٍ]
پوهه شه چې دلته لام په حقیقت کې مقدر دی ځکه چې تقدیر د عبارت داسې دی غُلَامٌ لِزَيْدٍ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د اسماء عاملو نه د نهم قسم یعنې د اسم مضاف بیان کوي.

تشریح : نهم قسم د اسماء عاملو نه اسم مضاف دی، د اسم مضاف تعریف: مضاف د اضافت نه دی چې معنی یې ده نسبت کول او مضاف: **کل اسم نسب الی اسم بواسطة حرف الجر تقدیراً**، مضاف هر هغه اسم دی چې منسوب وي یو بل اسم طرف ته په واسطې د حرف جر تقدیري لکه **غلام زید** چې په اصل کې **غلام لزید** وو، اسم مضاف صورتاً مضاف الیه ته جر ورکوي لیکن په حقیقت کې مضاف الیه ته جر دلته حرف جاره ورکوي او دا د عبارت نه د دې وجې نه ویستلی شو کېدی شي چې د مضاف او د مضاف الیه په مینځ کې فاصله رانه شي لکه **غلام زید** نو دا په اصل کې **غلام لزید** دی، دی اضافت ته اضافت په تقدیر د **لام** سره ویلې کېږي ځکه چې اضافت په درې(۳) قسمه دی: (۱) اضافت په

تقدیر د **لام** سره (۲) اضافت په تقدیر د **في** سره لکه **صلوة اللیل** یعني **صلوة في اللیل**. (۳) اضافت په تقدیر د **مِنْ** سره لکه **خاتم فضة** یعني **خاتم من فضة**.

ترکیب: **جاءني غلام زید**: **جاء** فعل نون وقایه یاء متکلم مفعول به، **غلام** مضاف، **زید** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا فاعل شو د پاره د **جاء**، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

وهم: اسم تام، تمییز را بنصب کند، وتمامی اسم یا بتنوین باشد چون: مَا فِي
[لسم] [اسم تام] [تمییز ته نصب ورکوي] [او پوره کیدل د اسم به] [یا په تنوین سره وي] [لکه] [مَا فِي]
لسم قسم: اسم تام دی چې تمیز ته نصب ورکوي، او تمامیدل د اسم یا په تنوین سره وي لکه: مَا فِي
السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا، یا بتقدیر تنوین چون عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا،
[السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا] [یا په تقدیر د تنوین سره] [لکه] [عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا]
السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا، یا په تقدیر د تنوین سره وي لکه: عِنْدِيْ أَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا
وَزَيْدٌ أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا یا بنون تثنیه چون عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا، یا بنون جمع
[او زَيْدٌ أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا] [یا په نون د تثنیې سره] [لکه عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا] [یا په نون د جمع]
او زَيْدٌ أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا، یا په نون د تثنیې سره لکه عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا، یا په نون د جمع
چون هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِيْنَ أَعْمَالًا، یا بمشابه نون جمع چون: عِنْدِيْ
[سره] [لکه] [هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِيْنَ أَعْمَالًا] [یا په مشابه د نون د جمع سره] [لکه عِنْدِيْ]
سره لکه هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِيْنَ أَعْمَالًا، یا به مشابه د نون د جمع سره وي لکه عِنْدِيْ
عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا تا تِسْعُوْنَ، یا باضافت چون: عِنْدِيْ مِلْؤُهُ عَسَلًا.
[عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا] [تر تِسْعُوْنَ پورې] [یا په اضافت سره] [لکه عِنْدِيْ مِلْؤُهُ عَسَلًا].
عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا تر تِسْعُوْنَ پورې، یا په اضافت سره وي لکه عِنْدِيْ مِلْؤُهُ عَسَلًا.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې صاحب د کتاب د اسماء عامله نه د لسم قسم یعنې د اسم تام بیان کوي.

تشریح: لسم قسم د اسماء عامله وو نه اسم تام دی.

د اسم تام تعریف: دا هغې اسم ته ویلی کېږي چې اسم په داسې حالت باندې وي چې د دغې حالت کېدو سره بل اسم ته مضاف نه وي.

سوال: اسم د کومو کومو څیزونو نه سره تمامیږي؟

جواب: اسم تام خو یو د تنوین سره راځي که دغه تنوین لفظي وي او که تقدیري، او د **نون** تثنیې سره، او د **نون** جمع سره، او د هغې **نون** سره چې مشابه وي د **نون** د جمع سره، د اضافت سره هم، او اسم تام د **الف لام** سره هم، نو تنوین او **نون** د تثنیې او **نون** د جمع او اضافت او **الف لام** دا ټول د اسم داسې حالتونه دي چې په دې کې د هر یو حالت د کېدو سره مضاف نه شي کېدی، د هغې اسم مثال چې په تنوین سره تام شوی وي لکه **ما فی السماء قدر راحة سحاباً** نو **راحةً** لفظاً د تنوین د وجې نه تام شوی دی نو دا اسم تام شو او **سحاباً** یې تمیز شو.

د تقدیري تنوین مثال: لکه **عندي احد عشر رجلاً** په **احد عشر** کې تنوین مقدر دی ځکه دا په اصل کې **احد** و **عشر** وو نو **احد عشر** اسم تام دی او **رجلاً** دده تمیز دی یا لکه **اکثر مالاً** نو په **اکثر** کې هم تنوین مقدر دی ځکه دا غیر منصرف دی یو په کې وزن فعل دی او بل وصف دی تنوین پرې نه شي راتلې خو په حقیقت کې پرې تنوین شته نو **اکثر** اسم تام دی. د هغې اسم مثال چې په آخر کې یې **نون** د تثنیې وي لکه **عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ**، زما سره دوه پیمانې دي) نو **قفیزان** تثنیه ده تنوین پرې نه شي راتلې ځکه چې **نون** د تثنیې او تنوین دواړه علامې د اسم او دوه علامې په یو لفظ کې نه شي جمع کېدی نو **قفیز** د **نون** د تثنیې د یو ځای کېدو نه تام شو. د هغې اسم مثال چې په **نون** د جمعې سره تام شوې وي لکه **هل نبئکم بالاخسرین اعمالاً** نو **الاخسرین** جمع ده د **نون** د جمع په لاحق کیدو سره تام شوی دی او **اعمالاً** یې تمیز دی، د هغې اسم مثال چې تام شوی وي په داسې **نون** سره چې مشابه وي د **نون** د جمع سره لکه **عندي عشرون درهماً** تر **تسعون** پورې نو د **عشرون** نه تر **تسعون** پورې په دې لسیزو کې چې کوم **نونات** راغلي دي نو دا د جمع **نونات** نه دي بلکې دا **نونات** د **نوناتو** د جمع سره مشابه دي نو **عشرون** اسم تام شو په داسې **نون** سره چې مشابه وي د **نون** د جمع سره او **درهماً** ورله تمیز دی، د هغې اسم مثال چې تام شوې وي په اضافت سره یعنې چې د مضاف سره مضاف الیه یو ځای شي نو اسم به تام شي لکه **عِنْدِي ملوه عسلاً** نو مضاف شوی دی (**ة**) ضمیر ته نو دا د اضافت په

وجه تام شوی دی .

سوال: اسم تام څه عمل کوي؟

جواب: اسم تام تمیز ته نصب ورکوي لکه په دې ټولو مثالونو کې خبره واضحه ده .

ترکیب: مافي السماء قدر راحة سحاباً: **ما** مشابه د **لیس** **في** حرف جر **السماء** مجرور ، جار مجرور دا متعلق شو تر **ثابتا** پورې **ثابتا** صیغه د اسم ضمیر په کې مستتر دی چې **هُو** دی دا یې فاعل ، اسم فاعل سره د فاعله او سره د متعلقه دا خبر مقدم شو د پاره د **ما** ، **قدر** مضاف **راحة** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا ممیز ، **سحابا** ورته تمیز شو ، ممیز سره د تمیز نه دا اسم مؤخر شو د پاره د **ما** ، **ما** سره د اسم مؤخر او د خبر مقدم جمله اسمیه خبریه .

عِنْدِيْ عَشَرُون درهما: **عندي** مضاف مضاف الیه مبتداء، **عشرون** عدد مبهم ممیز، **درهما** تمیز، ممیز سره د تمیز نه خبر، مبتدا سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

عندي قفیزان براً : **عندي** مضاف **یاء** متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه ظرف مستقر متعلق شو تر **ثابت** پورې ،**ثابت** اسم فاعل سره د فاعله دا خبر مقدم ، **قفیزان** ممیز **برا** دا یې تمیز ، ممیز سره د تمیز نه مبتداء مؤخر ، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر نه جمله اسمیه خبریه .

هل ننبئکم بالاخسرین اعمالاً : **هل** استفهامیه ، **ننبئ** فعل فاعل ، **کم** مفعول به ، **با** جار **الاخسرین** ممیز **اعمالا** یې تمیز ، ممیز سره د تمیز نه دا مجرور شو د پاره د جار ، جار سره د مجرور نه ظرف لغو دا متعلق شو تر **ننبئکم** پورې ، **ننبئکم** فعل سره د فاعله او سره د متعلق جمله فعلیه استفهامیه .

عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رجلاً: **عند** مضاف ضمیر د متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه مفعول فیه شو د فعل محذوف **ثَبَتَ** لپاره، **ثَبَتَ** صیغه د واحد مذکر غائب ضمیر په کې مستتر دی، چې تعبیر ترې نه کېږي په **هُوَ** سره هغه ورته فاعل شو ، فعل سره د فاعل نه او سره د مفعول فیه نه جمله فعلیه خبریه خبر مقدم، **اَحَدَ عَشَرَ** عدد مبهم ممیز، **رجلاً** تمیز، ممیز سره د تمیز نه مبتداء مؤخره، مبتداء مؤخره سره د خبر مقدم نه جمله اسمیه خبریه.

عندي ملؤه عسلاً : **عندي** مبتداء **ملؤه** ممیز ، **عسلاً** یې تمیز ، ممیز سره د تمیز نه دا خبر شو د پاره د مبتداء ، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه .

13

اسماء کنایه :

یازدہم : اسماء کنایہ از عدد ، وآن دو لفظ است : کم وکذا ، کم بر دو قسم است :
[یولسم] [اسماء کنایه ده دعدد نه] [او دا] [دوه لفظه دی] [کم او کذا] [کم] [په دوه] [قسمه] [دی]
یولسم قسم اسم کنایه ده د عدد نه او دا دوه (۲) لفظونه دي : کَمْ او کَذَا ، کَمْ په دوه قسمه دی:
استفہامیہ وخبریہ استفہامیہ تمیز را بنصب کند وکذا نیز چون کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ؟
[استفهامیه او خبریه] [استفهامیه خپل تمیز ته نصب ورکوي] [او کذا هم] [لکه کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ؟]
استفهامیه، او خبریه. استفهامیه خپل تمیز ته نصب ورکوي او کذا هم لکه : کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ؟
و عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا ، وکم خبریہ تمیز را بجر کند چون کَمْ مَالٍ أَنْفَقْتُ وَكَمْ
[او عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا] [او کم خبریه خپل تمیز ته جر ورکوي] [لکه کَمْ مَالٍ أَنْفَقْتُ] [او کَمْ]
او عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا ، او کم خبریه خپل تمیز ته جر ورکوي لکه کَمْ مَالٍ أَنْفَقْتُ ، او کَمْ
دَارٍ بَنَيْتُ ، وگاہے من جار بر تمیز کم خبریہ آید چون قولہ تعالی : وَكَمْ مِنْ
[دَارٍ بَنَيْتُ] [او کله من جاره] [په تمیز د کم خبریه راځي] [لکه دا قول د الله تعالی] [وَكَمْ مِنْ]
دَارٍ بَنَيْتُ ، او کله کله من جاره په تمیز د کم خبریه راځي لکه دا قول د الله تعالی : وَكَمْ مِنْ
مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ.
[مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ].
مَلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ.

تشریح : یولسم قسم د اسماء عاملو نه اسماء کنایه دی اسماء کنایه دا هغه اسماء دي چې په هغې سره کنایه او اشاره د عدد مقدار طرف ته کېږي یعنې متکلم ښکاره عدد نه ذکر کوي چې سل یا دوه سوه ووایي بلکې دا سل یا دوه سوه په کنایه کې بیان کړي د دې لپاره چې بل سړی د عدد په مقدار پوهه نه شي دا سې اسم چې هغه یو کنایه لپاره راځي دوه دي: کَمْ او کَذَا، کَمْ په دوه قسمه دی: (۱) کم استفهامیه، (۲) کم خبریه.

13 **کم استفهامیه**: چې د هغې په ذریعې سره د مخاطب د یو څیز تپوس کولی شي لکه کم رجلا عندك.

کم خبریه: چې د هغې په ذریعې سره متکلم د خپل طرف نه د یو عدد مقدار په کنایه او اشاره کې بیان کړي لکه **کم مال انفقت و کم دار بنیت** متکلم دا خبر ورکوي چې ما ډېر زیات مال خرچ کړو او ډېر مکانات مې جوړ کړل نو په دې کې متکلم دا نه دي ښودلي چې څومره روپۍ مې خرچه کړې او څومره مکانات مې جوړ کړل بس مخاطب دومره پوهه شو چې مال کوم خرچ شوی دی نو هغه ډېر زیات دی دغه شان مکانات یو او دوه نه دي، بلکې ډېر زیات دي.

سوال: کَمْ څه عمل کوي؟

جواب: که چېرته کَمْ استفهامي وي نو خپل تمیز ته به نصب ورکوي لکه کم رجلا او که چېرته خبري وي نو خپل تمیز ته به د مضاف الیه کېدو په وجه جر ورکوي، لکه کم مال او کم دار او که چېرته د کم خبري او دده د تمیز په مینځ کې څه څیز حائل شوی وي نو بیا به کم خبري هم خپل تمیز ته نصب ورکوي، لکه عندي دارا نو که خبري دی دارا یې تمیز دی او په مینځ کې یې عندي حائل شوې دی نو د دې وجې نه یې تمیز ته نصب ورکړې دی دوهم اسم کنایه کذا دی کذا د عمل په اعتبار سره د کم استفهامي په شان دی یعنې تمیز ته همېشه نصب ورکوي او د معنی په اعتبار سره د کم خبري په شان دی یعنې معنی به یې داسې کولی شي لکه څنګه چې کم خبري کولی شي لکه عندي کذا درهما یعنې زما سره ډېر دراهم دي او کله کله به داسې کېږي چې د کم خبري په تمیز به من حرف جار داخلېږي لکه په قرآن کریم کې راغلي دي چې و کم من ملك في السموات په دې مثال کې کم خبري دی او ملك یې تمیز دی او په دې تمیز حرف جار داخل شوی دی د دې معنی داده چې ډېرې فرښتې دي په اسمانونو کې.

ترکیب: **کم رجلا عندك**: کم استفهامیه، رجلاً تمیز مقدم، عندك مضاف مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا ممیز مؤخر، ممیز مؤخر سره د تمیز مقدم نه جمله استفهامیه انشائیه.

عندي كذا درهما: عندي مضاف مضاف الیه مبتداء، كذا ممیز، درهماً تمیز، ممیز سره د تمیز نه دا خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

کم مال انفقت: کم خبریه، مال ممیز، انفقت فعل فاعل دا تمیز شو د پاره د ممیز. ممیز سره د تمیز نه جمله خبریه.

کم دار بنیتُ: کم خبریه، دار ممیز، بنیت تمیز، ممیز سره د تمیز نه جمله خبریه.

کم من ملك في السماوات: کم خبریه، من جار ملك مجرور، جار مجرور دا متعلق شو تر ثابت پورې، ثابت اسم

فاعل سره د فاعله چې هو ضمیر دي دا ممیز، فی جار السماوات مجرور جار مجرور دا متعلق ثاني شو د ثابت پورې، ثابت اسم فاعل سره د فاعله چې هو ضمیر دی او سره د متعلقه دا تمیز ممیز سره د تمیزه جمله خبریه.

د عوامل معنوي دوهم قسم :

قسم دوم در عوامل معنوی بدانکه عوامل معنوی بر دو قسم است : اول : ابتدا
[دوهم قسم] [په بیان د عوامل معنوي کې] [پوه شه چې] [عوامل معنوي] [په دوه قسمه دي] [اول ابتدا]
دویم قسم په بیان د عوامل معنویو کې، پوه شه چې عوامل معنوي په دوه (۲) قسمه دي: اول ابتداء
یعنی خلو اسم از عوامل لفظی که مبتدا و خبر را برفع کند، چون زَیْدٌ قَائِمٌ، وانجا
[یعني خالي والي د اسم] [د عوامل لفظیو نه] [چې مبتدا او خبر ته رفع ورکوي] [لکه زَیْدٌ قَائِمٌ] [او دلته]
یعني خالي والي د اسم د عوامل لفظیو نه چې مبتداء او خبر ته رفع ورکوي لکه: زَیْدٌ قَائِمٌ، دلته
گویند که زَیْدٌ مبتدا است مرفوع بابتداء، وقَائِمٌ خبر مبتدا است مرفوع
[به ویلي کیږي چې] [زید مبتدا ده او مرفوع ده بنابر ابتدا] [او قَائِمٌ خبر دی د مبتدا] [او مرفوع ده]
ویلې کیږي چې زید مبتداء، او مرفوع ده بنابر ابتدائیت او قَائِمٌ خبر دی د مبتداء او مرفوع ده بنابر
بابتداء وانجا دو مذهب دیگر است یکی : آنکه ابتدا عامل است در مبتدا و مبتدا در خبر
[بنابر ابتدائیت] [او دلته دوه مذهبه نور دي] [یو دا چې ابتدا عامل ده په مبتدا کې] [او مبتدا په خبر کې]
ابتدائیت، دلته دوه مذهبه نور دي: یو دا چې ابتداء عامل ده په مبتدا کې او مبتدا په خبر کې عامل ده
دیگر آنکه هر یکی از مبتدا و خبر عامل است در دیگر.
[بل هغه چې] [هر یو د مبتداء او خبر نه] [عامل دی] [په بل کې].
او بل مذهب دا دی چې هر یو د مبتداء او خبر نه عامل دی په یو بل کې.

خلاصه د متن : مخکې ذکر شو چې د عامل دوه قسمه دي: یو لفظي او بل معنوی، د عامل لفظي درې قسمونه (اسم، فعل، حرف) په درې بابونو کې ښه په تفصیل سره بیان شو په اول باب کې حروف عامله او په دویم باب کې افعال عامله معنوي بیان شروع کوي.

تشریح : د عامل معنوي دوه قسمونه دي: عامل معنوي د اسم، عامل معنوي د فعل مضارع. عامل معنوي د اسم عامل

معنوي د اسم هغه دی چې په اسماوو کې عمل کوي دی قسم عامل ته ابتداء ویلی شي.
سوال: د ابتداء څه مطلب دی؟ **جواب**: د ابتداء مطلب دا دی چې په مبتداء او خبر باندې عامل لفظي نه وي یعني نه اسم وي نه فعل او نه حرف وي او دواړه مرفوع وي نو رفع نصب جر خو بغیر د عامل نه نه موندلی کېږي نو په مبتداء او خبر باندې رفع د کوم ځای نه راغلل نو چې چا مبتداء او خبر ته رفع ورکړې ده نو د هغې عامل معنوي دی او هغه ابتداء ده یا داسې بغیر وکړي چې د مبتداء او د خبر د عامل لفظي نه خالي کېدل او مرفوع کېدل د دې نوم ابتداء ده لکه **زید قائمٌ** نو **زید** مبتداء ده او **قائمٌ** خبر دی او په دواړو باندې رفع ده او عامل لفظي نشته نو لهذا دا رفع د عامل معنوي یعني دا ابتداء د وجې نه ده دلته کې مبتداء او خبر ته د رفع ورکولو په باره کې دوه مذهبونه دي: یو مذهب دا دی چې مبتداء ته رفع عامل معنوي ورکړی ده او خبر ته رفع مبتداء ورکړې ده نو په دې صورت کې په مبتداء باندې رفع د عامل معنوي د وجې نه ده او په خبر باندې د عامل لفظي د وجې نه ده، دوهم مذهب دا دی چې په مبتداء په خبر کې عمل کوي او خبر په مبتداء کې عمل کوي، نو په دې صورت کې رفع د عامل لفظي د وجې نه ده یعني **زید** ته **قائم** رفع ورکړې ده او **قائم** ته **زید** رفع ورکړې ده نو په کلام د عربو کې دوه ځیزونه معرب دي: اسم متمکن، فعل مضارع نو دا اسم متمکن عامل لفظي او عامل معنوي ختم شول.
ترکیب: **زید قائم**: **زید** مبتداء **قائم** خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

دوم: خلو فعل مضارع از ناصب و جازم، فعل مضارع را برفع کند،
[دوهم] [خالي والي] [د فعل مضارع] [د عامل ناصبه او جازمه نه] [فعل مضارع ته] [به رفع ورکوي]
دویم قسم: خالي والي د فعل مضارع دی د عامل ناصبه او جازمه نه، فعل مضارع ته به رفع ورکوي
چون يَضْرِبُ زَيْدٌ اینجا يَضْرِبُ مرفوع است زیرا که خالی است از ناصب وجازم
[لکه] [يَضْرِبُ زَيْدٌ] [دلته يَضْرِبُ مرفوع دی] [ځکه چې خالي دي] [د عامل ناصبه او جازمه نه]
لکه: يَضْرِبُ زَيْدٌ، دلته يَضْرِبُ مرفوع دی، ځکه چې خالي دی د عامل ناصبه او جازمه نه
تمام شد عوامل نحو بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالٰی وَ عَوْنِهٖ .
[پوره شو] [عوامل د نحوې] [په توفیق د الله تعالی] [او په مدد د الله تعالی].
پوره شو بحث د عواملو د نحوې، په توفیق او په مدد د الله تعالی سره.

تشریح: او د مضارع عامل لفظي دوه وو: ناصب، جازم دا هم تېر شول اوس په دویم قسم کې د فعل مضارع د عامل معنوي ذکر کوي نو مصنف فرمایي چې مضارع د عامل ناصبه او د عامل جازمه نه خالي کېدل او مرفوع کېدل دا عامل

معنوي دی لکه يَضْرِبُ زَيْدٌ نو يَضْرِبُ مرفوع دی او دا رفع ورته عامل معنوي ورکړې ده ځکه په دې وخت کې يَضْرِبُ د عامل ناصبه او جازمه نه خالي دی د الله تعالی په توفیق او په امداد سره د علم نحو عوامل ختم شول.

ترکیب : یضرب زید : یضرب فعل زید ورته فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه انشائیه.

بتوفیق الله تعالیٰ و عونه : بآء حرف جار **توفیق** مجرور مضاف لفظ د **الله** ذوالحال **تعالیٰ** حال، ذوالحال سره د حال نه دا مضاف الیه شو د پاره د مضاف چې **توفیق** دې مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف علیه شو، واو عاطفه **عون** مضاف **ه** ضمیر مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار سره د مجرور نه ظرف مستقر دا متعلق شو تر **استعین** پورې، **استعین** صیغه د واحد متکلم فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا يې فاعل شو، **استعین** فعل سره د فاعل او سره د متعلق دا جمله فعلیه خبریه.

خاتمه :

خاتمه در فوائدِ متفرقه که دانستن آن واجب است، وآن سه فصل است.
[خاتمه] [په فوائد متفرقو کې] [چې پېژندل د دې] [واجب دی] [او دا درې فصله دي].
خاتمه ده په متفرقه فوائدو کې چې د دې پېژندل واجب دی او په دې کې درې فصله دي.

تشریح : مصنف فرمايي چې دا کتاب په مختلف فایدو ختموي چې د هغې پېژندل د طالب العلم لپاره ضروري دی او په دې خاتمه کې درې فصلونه دي.

توابع :

فصل اول : در توابع : بدانکه تابع لفظی است که دومی از لفظ سابق باشد
[اول فصل] [په بیان د توابعو کې] [پوهه شه چې] [تابع هغه لفظ دی چې] [دوهم لفظ نېو لفظ مخکې وي]
اول فصل : په بیان د توابعو کې : پوهه شه! چې تابع هغه لفظ دی چې د اول لفظ پسې دویم لفظ وي
باعراب سابق از یک جهت، ولفظ سابق را متبوع گویند، وحکم تابع آنست که
[په اعراب سابق سره] [په یو جهت سره] [او لفظ سابق ته متبوع وايي] [او حکم د تابع] [دا دی چې]
په اعراب سابق سره د یو جهت په وجه سره، او سابق لفظ ته متبوع وايي، او حکم د تابع دا دی چې د

همیشه در اعراب موافق متبوع باشد.
[د همېشه د پاره به] [په اعراب کې] [موافق د متبوع وي].
همېشه د پاره به په اعراب کې موافق د متبوع وي.

خلاصه د متن : په دې فصل کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د توابعو بيان کوي.

تشريح : داسې اسم چې د هغه اعراب بالواسطه وي هغه ته تابع ويلی کېږي. **د تابع تعريف : توابع** جمع د **تابع** ده تابع د هغې لفظ نوم دی چې د هغې نه مخکې يو بل لفظ وي او کوم اعراب چې د مخکني لفظ وي نو هماغه اعراب د وروستني لفظ هم وي او د کومې وجې نه چې اعراب په مخکني لفظ وي نو هم په هغې وجه به په دويم لفظ وي يعنې که چېرته په مخکني لفظ باندې رفع وي نو په دويم به هم رفع وي او که چېرته مخکني لفظ ته رفع د فاعل کېدو په وجه باندې وي نو وروستني تابع ته به هم رفع د فاعل کېدو په وجه د فاعل کېدو په وجه باندې وي نو وروستني تابع نه به هم رفع د فاعل کېدو په وجه باندې وي او که چېرته مخکني لفظ ته نصب د مفعول کېدو په بناء وي نو تابع ته به هم نصب د مفعول کېدو په بناء وي لکه **جَاءَنِي رجل عالم** نو **جاء** فعل په **رجل** باندې بلا واسطه داخل شوی دی او **رجل** فاعل ته يې رفع ورکړې ده، او **عالم** د **رجل** تابع دی نو په واسطې د **رجل** سره **عالم** ته هم رفع ورکړې شوې ده او دواړه مرفوع د يو جهت نه دي يعنې د فاعل کېدو د وجې نه ځکه چې د **جاء** نسبت مطلق رجل طرف ته نه دی بلکې داسې **رجل** طرف ته دی چې په هغه کې صفت د علم هم وي مخکني لفظ ته متبوع ويلی شي. د تابع او د متبوع عامل يو وي ليکن په متبوع کې اولاً بالذات عمل کوي او په تابع کې ثانياً بالعرض عمل کوي، او د متبوع او د تابع اعراب يو وي.

سوال: آيا تابع به صرف هغې لفظ ته ويلی شي چې هغه د وړومبني لفظ نه وروستو بغير د فاصلې نه واقع شوی وي؟

جواب: دې ځه تخصيص نشته تخصيص صرف دا دی چې دلومړني لفظ نه به وروستو وي د هغې نه وروستو يا که په دويمه درجه کې وي او که په دريمه درجه کې وي او که په څلورمه درجه کې وي لکه **جَاءَنِي رجل عالم حافظ قاري محدث كبير ظريف** نو په دې مثال کې **رجل** متبوع دی او دغه شپږ صفتونه دده تابع دي او د ټولو اعراب د يو جهت نه دی يعنې د فاعل کېدو د وجې نه نو خلاصه دا شوه چې کوم يو لفظ تابع وي نو هغه به همېشه لپاره د خپل متبوع په اعراب کې موافق وي.

د توابعو اقسام :

وتابع پنج نوع است : اول : صفت ' واو تابعی است کہ دلالت کند بر معنی کہ
[او تابع] [په پنځه قسمه دی] [اول صفت] [او دا هغه تابع دی] [چې دلالت وکړي] [په هغه معنی چې]
او تابع په پنځه قسمه دی : اول قسم : صفت دی او دا هغه تابع دی چې دلالت کوي په هغه معنی چې
در متبوع باشد چون : جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ ' یا بر معنی کہ در متعلق
[په متبوع کې وي] [لکه : جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ] [یا په هغه معنی باندې] [دلالت وکړي چې متعلق]
په متبوع کې وي، لکه : جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ ، یا په هغه معنی باندې دلالت وکړي چې متعلق د
متبوع باشد چون : جَاءَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ ، یا أَبُوْهُ مثلًا .
[د متبوع وي] [لکه جَاءَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ] [یا أَبُوْهُ شو مثلاً].
د متبوع وي لکه جَاءَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ ، یا أَبُوْهُ شو مثلاً .

خلاصه د متن : په دې عبارت کې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د تابع اقسام بیانوي.

تشریح : مخکې د تابع تعریف بیان شو اوس یې قسمونه بیانېږي نو تابع په پنځه قسمه دی : (۱) صفت، (۲) تاکید، (۳) بدل، (۴) عطف بالحرف، (۵) عطف بیان.

صفت : هغه تابع دی چې په داسې معنی باندې دلالت وکړي چې کومه معنی په متبوع کې موجوده وي لکه : **رجل عالم**، یا دا هغه تابع دی چې د دې نه د هغې معنی پته لګي چې کومه په متبوع کې ده او یا ترې نه د هغې معنی پته لګي چې هغه د متبوع په متعلقینو کې په یو کې موجود وي یعنې د متبوع په غلام کې یا په پلار کې په تره کې موجود وي. د اول مثال: لکه **عالمٌ** شو په **جاءني رجل عالم** کې نو په دې مثال کې **رجل** متبوع دی او **عالم** تابع صفت دی او ده هغه معنی ظاهره کړې ده کومه چې په متبوع کې ده. د دویم مثال: لکه **جاءني رجل حسن غلامه** معنی یې داده چې زما خواله داسې سړی راغلی و چې د هغه غلام ښکلی دی نو په دې مثال کې **رجل** موصوف او متبوع دی **حسن** یې صفت دی او دا **حسن** داسې صفت دی چې د دې په ذریعې سره د غلام حسن معلوم شو او غلام د **رجل** د متعلقینو په دې هغه د خپل متبوع

حالت ښکاره کړي نو هغې ته صفت بحاله وایي او هغه صفت چې د خپل متبوع د متعلق حالت بیان کړي نو هغې ته صفت بحال متعلقه وایي.

ترکیب: جاءني رجل عالم : **جاء** فعل نون وقایه یاء مفعول به، **رجل** موصوف **عالم** یې صفت، موصوف سره د صفت نه دا فاعل شو د پاره د **جاء**، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

جاءني رجل حسن غلامه : **جاء** فعل نون وقایه یاء مفعول به، **رجل** موصوف **حسن** صفت مشبه **غلام** مضاف **هٔ** مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه دا فاعل شو د پاره د **حسن**، صفت مشبه سره د فاعله دا شبه جمله صفت شو د پاره د **رجل**، موصوف سره د صفت نه دا فاعل شو د پاره د **جاء**، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

قسم اول در ده چیز موافق متبوع باشد در تعریف ' تنکیر ' وتذکیر ' وتانیث ' و
[اول قسم] [په لسو شیانو کې به] [موافق د متبوع وي] [په تعریف] [تنکیر] [تذکیر] [تانیث] [او]
اولنی قسم په لسو (۱۰) شیانو کې به د متبوع سره موافق وي: په تعریف، تنکیر، تذکیر، تانیث، او
افراد و تثنیه و جمع و رفع و نصب و جر چون عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ وَ رَجُلَانِ عَالِمَانِ
[افراد] [تثنیه] [جمع] [رفع] [نصب] [او جر کې] [لکه] [عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ] [وَرَجُلَانِ عَالِمَانِ]
افراد، تثنیه، جمع، رفع، نصب او جر کې لکه: عِنْدِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ ، وَ رَجُلَانِ عَالِمَانِ ،
وَ رِجَالٌ عَالِمُوْنَ ، وَاِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ، وَاِمْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ ، وَنِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ .
[وَ رِجَالٌ عَالِمُوْنَ] [وَاِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ] [وَاِمْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ] [وَنِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ].
وَ رِجَالٌ عَالِمُوْنَ ، وَاِمْرَأَةٌ عَالِمَةٌ، وَاِمْرَأَتَانِ عَالِمَتَانِ . وَنِسْوَةٌ عَالِمَاتٌ .

تشریح: د صفت دوه قسمونه ذکر شول یو هغه چې د خپل متبوع حالت ظاهر وي او بل هغه چې د متبوع د متعلق حالت ظاهر وي. اول قسم به په لسو څیزونو کې د متبوع موافق وي او په دې لسو کې به څلور په یو وخت په دواړو کې موندلی شي هغه لس څیزونه دا دي: د دواړو مذکر کېدل، د دواړو مؤنث کېدل، د دواړ معرفه کېدل، د دواړو نکره کېدل، د دواړو مفرد کېدل، د دواړو معرفه کېدل، د دواړو نکره کېدل، د دواړو مفرد کېدل، د دواړو تثنیه کېدل، د دواړو جمع کېدل، د دواړو مرفوع کېدل، د دواړو منصوب کېدل، د دواړو مجرور کېدل یعني که چېرته موصوف مذکر وي نو صفت به هم مذکر وي.

په یو وخت کې به د دې لسو نه څلور موندلی کېږي: د تعریف تنکیر نه یو، یو د تذکیر تانیث نه، یو افراد تثنیې او جمع نه، یو رفع نصب او جر نه نو د دې ټولو نه به یو یو خامخا راځي لکه **عندي رجل عالم**. نو دا دواړه نکرې دي: دواړه مذکر هم دي، دواړه مفرد هم دي او دواړو ته رفع هم ده او هرې جوړې نه یو یو راغلې ده.

رجلان عالمان، دواړه نکرې دي، دواړه مذکر دي، دواړه تثنیې دي، دواړو ته رفع ده **رجل عالمون**، دواړه نکرې دي، دواړه مذکر دي، دواړه جمعې دي، دواړو ته رفع ده.

امراة عالمة، دواړه مؤنث دي، دواړه مفرد دي، دواړه نکرې دي، دواړو ته رفع ده، **امراتان عالمتان**، دواړه مؤنث دي، دواړه تثنیې دي، دواړه نکرې دي، دواړو ته رفع ده.

نسوتان عالمتان دواړه نکرې دي، دواړه مؤنث دي، دواړه نکرې دي.

ترکیب: **عندي رجل عالم**: عند مضاف **یاء** متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه د امفعول فیه مقدم شو د پاره د **ثابت**، **ثابت** صیغه د اسم فاعل **هو** ضمیر په کې مستتر دی دا یې فاعل، اسم فاعل سره د فاعله او سره د مفعول به شبه جمله خبر مقدم، **رجل** موصوف **عالم** یې صفت، موصوف سره د صفت نه دا مبتداء مؤخره، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. **عندي رجلان عالمان**: عند مضاف **یاء** متکلم مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه د امفعول فیه مقدم شو د پاره د **ثابت**، **ثابت** صیغه د اسم فاعل **هو** ضمیر په کې مستتر دی دا یې فاعل، اسم فاعل سره د فاعله او سره د مفعول به شبه جمله خبر مقدم، **رجلان** موصوف **عالمان** یې صفت، موصوف سره د صفت نه دا مبتداء مؤخره، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

اما قسم دوم موافق متبوع باشد در پنج چیز: تعریف و تنکیر، و رفع، و نصب و جر
[هرچې دوهم قسم] [چې موافق د متبوع به وي] [په پنځو شیانو] [تعریف] [تنکیر] [رفع] [نصب] [او جر]
هرچې دویم قسم دي دا به موافق د متبوع وي په پنځه (۵) شیانو تعریف، تنکیر، رفع، نصب او جر
چون: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ.
[کې] [لکه] [جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ].
کې لکه: جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ أَبُوْهُ.

تشریح: دویم قسم به په پنځو (۵) شیانو کې د متبوع موافق وي: (۱) تعریف، (۲) تنکیر، (۳) رفع، (۴) نصب،

(۵) جر، په دې پنځو کې به دوه په يو وخت کې موندلی کېږي، لکه جآء ني رجل عالمٌ ابوه. نو رجل موصوف دی او عالم يې صفت دی، نو دا دواړه نکرې دي، او دواړو ته رفع ده او اګر چې دواړه مذکر هم دي ليکن دلته به دد ې لحاظ نه وي.

ترکيب: جآء ني رجل عالم ابوه: جآء فعل نون وقايه يـآء متکلم مفعول به، رجل موصوف عالم يې صفت، ابو مضاف هُ ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه دا فاعل شو د پاره د جآء، فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعليه خبريه.

بدانکه: نکره را بجمله خبريه صفت توان کرد چون جَاءَنِيْ رَجُلٌ أَبُوْهُ عَالِمٌ و
[پوه شه چې] [نکره په جملې خبريې سره] [صفت ګرځيدې شي] [لکه] [جَاءَنِيْ رَجُلٌ أَبُوْهُ عَالِمٌ]
پوهه شه! چې نکره په جمله خبريه سره صفت ګرځيدې شي لکه : جَاءَنِيْ رَجُلٌ أَبُوْهُ عَالِمٌ، او
در جمله ضميرى عائد بنکره لازم باشد.
[او په جمله کې به] [يو ضمير چې] [راجع وي نکرې ته] [لازم وي].
په جمله کې به يو ضمير چې راجع وي نکرې ته لازم وي.

تشريح: مخکې د صفت او د موصوف د مثالونو نه معلومه شوه چې صفت به هميشه مفرد وي يعني جمله به نه وي اوس مصنف فرمايي چې کله ناکله به داسې هم کېږي چې نکره موصوف وي او صفت به يې جمله خبريه وي لکه جآء ني رجل ابوه عالمٌ نو په مثال کې رجل نکره موصوف دی او ابوه مبتدا ده او عالمٌ ورله خبر دی مبتداء سره د خبريه جمله اسميه خبريه صفت شو د موصوف، موصوف سره د صفت نه فاعل شو د پاره د جآء فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبريه ليکن جمله خبريه به په هغې وخت کې د نکرې صفت وي چې کله په جمله کې يو ضمير وي او هغه نکرې موصوف ته راجع وي چې په دواړو کې ربط پيدا شي.

ترکيب: جآء ني رجل ابوه عالم: جآء فعل نون وقايه يآء متکلم مفعول به، رجل موصوف ابو مضاف هُ ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه دا مبتداء، عالم صيغه د اسم فاعل ضمير په کې مستتر دی چې هو دی دا يې فاعل، اسم فاعل سره د فاعله شبه جمله خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه خبريه.

تاکید :

دوم : تاکید و اوتابعی است کہ حال متبوع رامقرر گرداند در نسبت یا
[دوهم قسم] [تاکید دی] [اوداهغه تابع دي چې] [حال د متبوع] [مضبوطوي] [په نسبت کې] [یا]
دویم قسم د توابعو نه تاکید دی، او دا هغه تابع دي چې د متبوع حال مضبوط کوي په نسبت کې یا
در شمول ؛ تا سامع را شک نماند، و تاکید بر دو قسم است :
[په شمول کې] [ددې د پاره چې] [سامع ته] [شک پاتې نه شي] [او تاکید] [په دوه] [قسمه] [دي]
په شمول کې د دې لپاره چې اوریدونکی ته شک پاتې نه شي او تاکید بیا په دوه (۲) قسمه دی : یو
لفظی و معنوی، تاکید لفظی بتکرار لفظ است چون : زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ . وَ
[لفظي] [او معنوي] [تاکید لفظي] [په تکرار د لفظ سره] [وي] [لکه] [زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ] [وَ]
تاکید لفظي او بل تاکید معنوي تاکید لفظي په تکرار د لفظ سره وي لکه زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ . وَ
ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ وَإِنَّ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ و تاکید معنوی بهشت لفظ است : نَفْسٌ
[ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ] [وَإِنَّ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ] [او تاکید معنوي] [په اته الفاظو سره وي] [نَفْسٌ]
ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ ، وَإِنَّ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ شو او تاکید معنوي په اته الفاظو سره وي: نَفْسٌ
و عَيْنٌ وَكِلَا وَكِلْتَا وَكُلٌّ وَأَجْمَعُ وَأَكْتَعُ وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ چون جَاءَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ
[و عَيْنٌ] [او كِلَا وَكِلْتَا] [وَكُلٌّ وَأَجْمَعُ وَأَكْتَعُ وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ] [لکه] [جَاءَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ]
و عَيْنٌ وَكِلَا وَكِلْتَا وَكُلٌّ وَأَجْمَعُ وَأَكْتَعُ وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ لکه : جَاءَنِي زَيْدٌ نَفْسُهُ .
وَجَاءَنِي الزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا وَجَاءَنِي الزَّيْدُوْنَ أَنْفُسُهُمْ وَعَيْنٌ را برین قیاس کن
[وَجَاءَنِي الزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا وَجَاءَنِي الزَّيْدُوْنَ أَنْفُسُهُمْ] [او عَيْنٌ په دې باندې قیاس کره]
وَجَاءَنِي الزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا وَجَاءَنِي الزَّيْدُوْنَ أَنْفُسُهُمْ او عَيْنٌ په دې باندې قیاس کره

وَجَاءَنِيْ الزَّيْدَانِ كِلَاهُمَا وَالْهِنْدَانِ كِلْتَاهُمَا . وَكِلَا وَكِلْتَا خاص اند بمثنى وَ
[او جَاءَنِيْ الزَّيْدَانِ كِلَاهُمَا] [وَالْهِنْدَانِ كِلْتَاهُمَا] [وَكِلَا وَكِلْتَا خاص دی تر مثنی پورې] [او]
او جَاءَنِيْ الزَّيْدَانِ كِلَاهُمَا وَالْهِنْدَانِ كِلْتَاهُمَا . وَكِلَا وَكِلْتَا خاص دی تر مثنی پورې، او
جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ وَأَكْتَعُوْنَ وَأَبْتَعُوْنَ وَأَبْصَعُوْنَ بدانكه أَكْتَعُ
[جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ] [وَأَكْتَعُوْنَ وَأَبْتَعُوْنَ وَأَبْصَعُوْنَ] [پوه شه چې أَكْتَعُ]
جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ وَأَكْتَعُوْنَ وَأَبْتَعُوْنَ وَأَبْصَعُوْنَ ، پوه شه چې أَكْتَعُ
وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ اتباع اند به اجمع پس بدون أَجْمَعُ و مقدم بر أَجْمَعُ نباشند .
[وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ] [دا تابع دی د أَجْمَعُ] [پس په غير د أَجْمَعُ نه] [او په أَجْمَعُ به مقدم نه وي].
وَأَبْتَعُ وَأَبْصَعُ دا تابع دی د أَجْمَعُ پس په غير د أَجْمَعُ نه او په أَجْمَعُ به مقدم نه وي.

تشريح : کله نا کله داسې کېږي چې متکلم يو خبره کوي نو مخاطب يې په توجه سره نه اوري او کله خو داسې کېږي چې مخاطب خو خبره په توجه سره اوري ليکن په خبره يې يقين نه راځي او کله داسې کېږي چې په متکلم خو يې يقين وي ليکن خيال يې دا وي چې متکلم ګني په خپل کلام کې مجاز اختيار وي يعني کار به کړی بل چا وي او نسبت به يې بل چاته کوي نو د دې درې واړه احتمالاتو ختمولو لپاره چې کوم لفظ متکلم په خپل کلام کې زياتا کړي او خبره د شک نه اوباسي نو دغې لفظ ته تاکيد ويلی کېږي نو مصنف فرمايي چې د تابع دويم قسم تاکيد دی. **د تاکيد تعريف:** تاکيد په لغت کې مضبوطوالي ته وايي او په اصطلاح کې تابع هغه دی چې خپل متبوع په نسبت کې او په شامليدو کې يې شبهې او يقيني کړي د دې لپاره چې سامع بنه مطمئن شي تاکيد په دوه قسمه دی: (۱) لفظي (۲) او معنوي. **تاکيد لفظي:** کله چې يو لفظ دوه ځله مکرر راوړی شي نو دې ته تاکيد لفظي ويلی شي که دغه لفظ اسم وي که فعل وي او که حرف وي لکه **زيد زيد قائم** ، **ضرب ضرب زيد ان زيد زيد اقائم** نو په اولني مثال کې اولنی **زيد** متبوع دی او دويم **زيد** تابع دی نو چې کله متکلم **زيد قائم** وويل نو کېدی شي چې مخاطب په غفلت کې وي يا د مخاطب خيال راشي چې کېدای شي چې متکلم دروغ وايي يا د مخاطب خيال دا راغلې وي چې کېدای شي چې عمر لاړو وي او د ځه وجې نه يې د قيام نسبت **زيد** ته مجازاً کړی وي نو متکلم د زيد نه مخکې بل لفظ د **زيد** زيات کړي او مطلب يې دا وي چې صرف او صرف **زيد** ولاړ دی بل

څوک نه دی دغه شان دویم مثال او دریم مثال هم په دې قیاس دی. **تاکید معنوي**: تاکید معنوي لپاره اته الفاظ مقرر دي په دې اتوو کې چې کوم یو لفظ د شبهې لرې کولو لپاره زیات کړشي نو هغې ته تاکید معنوي ویلی شي او هغه الفاظ دا دي: **نفس، عین، کلا و کلتا، جمع، اکتع، ابتع، ابصع**.

نفس او **عین** دا دواړه الفاظ د واحد تثنیې او جمع درې واړو تاکید لپاره راځي په دې شرط سره چې د دوی صیغې او ضمیرونه بدل کړې شي لکه: **جاءني زيد نفسه، جاءني الزيدان انفسهما، جاءني الزيدون انفسهم** داسې حالت د **عينٌ** هم دی لکه **جاءني زيد عينه، جاءني الزيدان عيناهما، جاءني الزيدون اعينهم، كِلا او كلتا**، دا دواړه د تثنیې تاکید لپاره راځي **كلا** د تثنیې مذکر او **كلتا** د تثنیې مؤنث د تاکید لپاره راځي لکه **جاءني الرجلان كلاهما، جاءت المرأتان كلتاهما، كل، اجمع**، دا دواړه د واحد او د جمع د تاکید لپاره راځي لکه **قرات الكتاب كله جاء القوم كلهم، اشتريت الفرس اجمعه، جاء الدار اجمعون. اكتع ابتع ابصع** دا درې واړه الفاظ د **اجمع** تابع دي او **اجمع** به دده متبوع وي نو نتیجه دا شوه چې دا درې واړه الفاظ د تابع کېدو د وجې نه بغیر د **اجمع** نه، نه استعمالیږي نو د **اجمع** نه به مخکې نه شي راتلې همېشه به د **اجمع** نه وروستو راځي لکه **جَاءَنِي القوم كلهم اجمعون اكتعون ابتعون ابصعون** او داسې به غلط وي چې **جاء القوم كلهم اكتعون ابتعون ابصعون** ځکه په دې مثال کې دا **جمعون** متبوع نشته او تابع موجود دی او دا نه شي کېدای او داسې به هم غلط وي لکه **جاء القوم اكتعون ابتعون ابصعون اجمعون** په دې مثال کې تابع مقدم دی او **اجمعون** متبوع مؤخر دی او تابع په متبوع مقدم کول جائز نه دي بس صحیح مثال هم دغه لومړنی دی او دا نور دواړه غلط دي.

ترکیب: زيد زيد قائم : **زيد** مؤکد، **زيد** دا ورته تاکید شو، مؤکد سره د تاکید نه دا مبتداء، **قائم** یې خبر، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

ضرب ضرب زيد : **ضرب** مؤکد، **ضرب** یې تاکید، مؤکد سره د تاکید نه دا فعل، **زيد** یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

اِنَّ اِنَّ زيدا قائم : **اِنَّ** مؤکد، **اِنَّ** یې تاکید، مؤکد سره د تاکید نه دا حرف دی د حروفو مشبه بالفعل نه **زيد** یې اسم دی او **قائم** یې خبر، **اِنَّ** سره د اسم او سره د خبره جمله اسمیه خبریه.

جاءني زيد نفسه : **جاء** فعل **نون** وقایه **ياء** متکلم مفعول به، **زيد** مؤکد، **نفس** مضاف **هُ** ضمیر یې مضاف الیه،

مضاف سره د مضاف الیه نه دا تاکید شو د پاره د مؤکد ، مؤکد سره د تاکید نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه .

جاءني الزیدان انفسهما : **جاء** فعل نون وقایه **یاء** متکلم مفعول به ، **الزیدان** مؤکد ، **انفس** مضاف **هما** ضمیر یې مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا تاکید شو د پاره د مؤکد ، مؤکد سره د تاکید نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه .

جاءني الزیدون انفسهم : **جاء** فعل نون وقایه **یاء** متکلم مفعول به ، **الزیدون** مؤکد ، **انفس** مضاف **هم** ضمیر یې مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه نه دا تاکید شو د پاره د مؤکد ، مؤکد سره د تاکید نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه . او ددې پاتې نورو ترکیب هم په همدې ترکیب باندې قیاس کړه .

بدل :

سوم بدل ؛ واو تابعی است که مقصود به نسبت او باشد ؛ وبدل بر چهار قسم است
[دریم بدل] [او دا هغه تابع دی چې] [مقصود په نسبت] [دهغې سره وي] [او بدل په څلور قسمه دی]
دریم :قسم بدل دی او دا هغه تابع دی چې مقصود په نسبت دهغې سره وي او بدل په څلور قسمه دی:
بدل الکل وبدل الاشتمال وبدل الغلط وبدل البعض بدل الکل آنست که مدلولش
[بدل الکل بدل الاشتمال بدل الغلط او بدل البعض] [بدل الکل] [هغې ته وایي چې] [مدلول ددې]
بدل الکل ، بدل الاشتمال ، بدل الغلط او بدل البعض ، بدل الکل هغې ته وایي چې مدلول ددې
مدلول مبدل منه باشد چون جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ وبدل البعض آنست که مدلولش
[مدلول د مبدل منه وي] [لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ] [او بدل البعض] [هغې ته وایي چې مدلول ددې]
مدلول د مبدل منه وي لکه : جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ ، او بدل البعض هغې ته وایي چې مدلول ددې
جزو مبدل منه باشد چون ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ وبدل الاشتمال آنست که مدلولش
[جزء د مبدل منه وي] [لکه ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ] [او بدل اشتمال هغې ته وایي] [چې مدلول ددې د]
جزء د مبدل منه وي لکه : ضُرِبَ زَيْدٌ رَأْسُهُ ، او بدل اشتمال هغې ته وایي چې مدلول ددې د

متعلق بمبدل منہ باشد چون سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ وبدل الغلط آنست کہ بعد از غلط
[متعلق د مبدل منه سره وي] [لکه سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ] [او بدل الغلط هغې ته وايي چې پس د غلط]
متعلق د مبدل منه سره وي لکه : سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهُ ، او بدل الغلط هغې ته وايي چې پس د غلط
بلفظی دیگر یاد کنند چون : مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ.
[لفظ نه په بل لفظ سره یاد شي] [لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ].
لفظ نه په بل لفظ سره یاد شي لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د تابع د دریم قسم یعنې د تابع بیان کیږي.

تشریح : د تابع دریم قسم بدل دی. **د بدل تعریف :** بدل دا د هغې تابع نوم دی چې د مخکې لفظ نه وروستو راغلی وي او د کوم څیز نسبت چې مخکې لفظ طرف ته شوی وي نو په هغې نسبت سره د غه مخکې مقصود نه وي بلکې دغه دویم مقصود وي چې نوم یې بدل دی. په لیدو کې خو داسې معلومیږي چې نسبت مخکې طرف ته کیږي نو دغه لومړنی به مقصود وي لیکن په حقیقت کې دغه لومړنی هسې ذکر شوی وي مقصود په دغې نسبت سره دغه دویم وي لومړنی یعنې متبوع ته مبدل منه ویلی شي او دویم یعنې تابع ته بدل ویلی شي.

د بدل اقسام: بدل په څلور قسمه دي: (۱) بدل الکل، (۲) بدل البعض، (۳) بدل الاشتمال، (۴) بدل الغلط.

د بدل الکل تعریف : دا هغې بدل ته ویلی شي، چې کومه معنی او مدلول ددهٔ د مبدل منه وي نو هم هغه معنی او مدلول د دغې بدل وي لکه **جاءني زيد اخوك** نو چې په کوم ذات باندې **زيد** دلالت کوي، نو بالکل په هغې باندې **اخوك** هم دلالت کوي په دې مثال کې **زيد** مبدل منه دی او **اخوك** بدل دی نو ګوره نسبت د **زيد جاء** طرف ته کیږي او مقصود د دې نه **اخوك** دی مطلب دا شو چې زما خوا له ستا ورور راغلی و د زید ذکر محض د تمهید لپاره دی.

بدل البعض : چې د هغې معنی او مدلول د مبدل منه د معنی جزء وي لکه **ضرب زيد راسه زيد** مبدل منه دی او په **راسه** کې **راس** بدل دی د **زيد** دلالت په ټول بدن باندې دی او د **راس** دلالت صرف په سر باندې دی او سر د زید د معنی جزء دی نو لهذا د **راس** دلالت د مبدل منه په جزء باندې شوی د دې وجې د دې نوم بدل البعض شو.

بدل الاشتمال : دا هغې بدل ته ویلی کیږي چې د هغې مدلول خو نه د مبدل منه د معنی کل وي او نه جزء وي، بلکې د

بدل الاشتمال مدلول دا سې څیز وي چې هغه د مبدل منه د متعلقاتو او د ژوند د حاجتونو نه وي لکه سلب زید ثوبه یعنې وویستلې شوه د زید نه کپړه دې مطلب دا چې زید نه په خپله دا ایستلې شوی بلکې د هغه کپړه چې هغه دده د متعلقاتو او دده سر د ضرورتونو نه ده هغه وویستلې شوه.

بدل الغلط: دا هغې صحیح لفظ ته ویلې کېږي چې د مبدل منه د غلط کېدو د وجې نه وروستو ذکر کړی شي، یعنې متکلم خو صحیح لفظ ویل غوارې خو د غلطۍ د وجې نه ترې نه بل لفظ وځي او بیا په صحیح لفظ سره د هغې اصلاح وکړي، لکه **مررت بزید حمار** یعنې متکلم خو **مررت بحمار** ویل غوښتل لیکن په غلطۍ سره ترې نه **مررت بزید** وختلو نو بیا یې په **حمار** سره د هغې اصلاح وکړه په دې مثال کې **زید** مبدل منه دی او **حمار** بدل دی.

ترکیب: **جاءني زید اخوک**: **جاء** فعل **نون** وقایه **یاء** متکلم مفعول به، **زید** مبدل منه **اخو** مضاف **کاف** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بدل شو د پاره د مبدل منه، مبدل منه سره د بدل نه دا فاعل شو د پاره د **جاء**، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

ضُرب زید راسه: **ضُرب** فعل ماضي مجهول، **زید** مبدل منه راس مضاف **هُ** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بدل شو د پاره د مبدل منه، مبدل منه سره د بدل نه دا نائب فاعل شو د پاره د **ضُرب**، **ضُرب** فعل سره د نائب فاعل جمله فعلیه خبریه.

سُلب زید ثوبه: **سُلب** فعل ماضي مجهول، **زید** مبدل منه، **ثوب** مضاف **هُ** ضمیر مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه نه دا بدل شو د پاره د مبدل منه، مبدل منه سره د بدل نه دا نائب فاعل شو د پاره د **سُلب**، **سُلب** فعل سره د نائب فاعل جمله فعلیه خبریه.

مررت برجل حمار: **مررت** فعل ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، **باء** جار **رجل** مجرور مبدل منه، **حمار** دا بدل غلط شو، مبدل منه سره د بدل نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار مجرور دا متعلق شو تر **مررت** پورې **مررت** فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه.

عطف بالحرف :

چهارم : عطف بحرف ، واو تابعی است که مقصود باشد به نسبت با متبوعش
[څلورم قسم] [عطف په حرف سره] [او دا هغه تابع دی چې] [مقصود وي په نسبت سره] [سره د متبوع]
څلورم قسم : عطف بالحرف دی او دا هغه تابع دی چې په نسبت کې د خپل متبوع مقصود وي او واقع
بعد حرف عطف چون جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو و حروف عطف ده است در فصل سوم
[پس د حرف عطف نه] [لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو] [او حروف عطف لس دي] [چې په دریم فصل]
وي پس د حرف عطف نه لکه : جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو ، او حروف عطف لس دي ، چې په دریم فصل
یاد کنیم إن شاء الله تعالیٰ ، واورا عطف نسق نیز گویند .
[کې به یې بیان کړو ان شاءالله] [او دې ته عطف نسق هم ویلی کیږي].
کې به یې بیان کړو ان شاءالله او دغې عطف بحرف ته عطف نسق هم ویلی کیږي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د عطف بالحرف بیان کوي.

تشریح : څلورم قسم تابع عطف بالحرف دی. **عطف بالحرف** : دا هغه تابع دی چې د حرف عطف نه وروستو ذکر کړی شي او کوم نسبت چې متبوع طرف ته شوی وي نو هغه ده ته هم شوی وي لکه **جاءني زيد و عمرو** نو **زيد** متبوع دي **واو** حرف عطف دی او **عمرو** د **زيد** تابع دی او د حرف عطف په واسطې سره په نسبت د مجیئت کې دواړه برابر دي، یعني **زيد** او **عمرو** دواړه راغلل. او عطف بالحرف ته عطف نسق هم ویل کیږي ځکه چې د نسق معنی ترتیب ده او په بعضې حروفو عاطفو کې ترتیب هم دی لکه **جاءني زيد فعمرو** مطلب دا چې زید راغې او د دې نه وروستو سمدستي عمرو راغې یعني د **فاء** نه مخکې والا اول راغې او د **فاء** نه وروستو واله وروستو راغی وغیره ،او حروف عاطفه ټول لس دي.

ترکیب : **جاءني زيد وعمرو** : **جاء** فعل **نون** وقایه **یاء** مفعول به **زید** معطوف علیه **واو** عاطفه **عمرو** یې معطوف ، معطوف علیه سره د معطوف نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

14

عطف بیان :

پنجم : عطف بیان ' واو تابعی است غیر صفت کہ متبوع را روشن گرداند چون
[پنځم عطف بیان دی] [او دا هغه تابع دی چې] [صفت نه وي] [او متبوع یې ښکاره کړي وي] [لکه]
پنځم قسم عطف بیان دی، او دا هغه تابع دی چې صفت نه وي، خو متبوع یې ښکاره کړي وي، لکه:
أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ ' وقتیکہ بعلم مشہور تر باشد ' و
[أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ] [په هغه وخت کې چې] [په علم سره] [ډېر مشهور وي] [او]
أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ، په هغه وخت کې چې متبوع په علم سره ډېر مشهور وي او
جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَبُوْ عَمْرٍو وقتیکہ بکنیت مشہور تر باشد.
[جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَبُوْ عَمْرٍو] [په هغه وخت کې چې] [په کنیت سره ډېر مشهور وي].
جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَبُوْ عَمْرٍو، په هغه وخت کې چې په کنیت سره ډېر مشهور وي.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د تابع پنځم قسم یعنې عطف بیان کیږي.

تشریح : پنځم قسم عطف بیان دی. **عطف بیان :** دا هغه تابع دی چې د خپل متبوع حالت ښه واضحه کړي.

سوال : صفت هم د خپل متبوع حالت ظاهروي او دې هم نو په دواړو کې څه فرق دی؟

جواب : په دواړو کې فرق دا دی چې په صفت کې د صفت صیغه د خپل متبوع حالت ظاهروي او په عطف بیان کې د صفت صیغه نه وي په دې کې خو دومره خبره وي چې یو سړي ته په دوو نومونو سره آواز کولی کیږي او په دواړو کې یو زیات مشهور او بل سره کم مشهور وي نو خلک به یې ډېر کم پیژني نو د هغې نه وروستو چې ورسره هغه مشهور نوم راوړلی شي نو په دې سره به د هغې غیر مشهور معنی واضحه شي نو دې ته عطف بیان ویلی شي. مثلاً چا وویل **اقسم بالله ابو حفص** یعنې قسم وخوړو ابو حفص نو خلک به پوهه نه شي چې ابو حفص څوک دی؟ نو د دې معنی د واضح کولو لپاره **عمر** زیاتی کړی شي نو اوس معلومه شوه چې **ابو حفص** د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کنیت دی او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ابو حفص سره مشهور نه دی په خپل نوم سره مشهور دی نو لهذا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د **ابو حفص** لپاره عطف بیان دی.

دویم مثال : **جاءني زيد ابو عمر** یعنې دغه زما خوا له زید د عمر د پلار په دې مثال کې **ابو عمر** د **زید** عطف

بیان دی زید په خپل نوم سره مشهور نه دی بلکې په ابو عمرو سره مشهور دی د دې وجې نه د زید معنی واضحه کولو لپاره ابو عمرو په زید پسې راوړې شو نو خلاصه دا شوه چې په دوو نومونو کې په کوم یو سره زیات مشهور وي نو هغه به دوارو مبنې اسم لپاره عطف بیان وي نو د چا لپاره علم عطف بیان وي او چا لپاره به کنیت عطف بیان وي.

ترکیب : **اقسم بالله ابو حفص عمر** : **اقسم** فعل **با** جار لفظ **الله** مجرور ، جار مجرور دا متعلق شو تر **اقسم** پورې ، **ابو** مضاف **حفص** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه دا مبین شو ، **عمر** ورته عطف بیان شو ، **مبین** سره د بیان نه دا فاعل شو د پاره د **اقسم** فعل ، **اقسم** فعل سره د فاعله او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه.

جاءني زيد ابو عمرو : **جاء** فعل نون وقایه یاء مفعول به ، **زید** مبین **ابو** مضاف **عمرو** مضاف الیه ، مضاف سره د مضاف الیه دا عطف بیان شو د پاره د مبین ، مبین سره د عطف بیان نه دا فاعل شو د پاره د **جاء** ، **جاء** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

د منصرف او غیر منصرف تعریف:

فصل در بیان منصرف و غیر منصرف منصرف آنست که هیچ سبب از اسباب منع
[فصل] [په بیان د منصرف او غیر منصرف کې] [منصرف هغه دی چې] [هیڅ یو سبب د اسبابو د منع]
فصل : په بیان د منصرف او غیر منصرف کې : منصرف هغه دی چې هیڅ یو سبب د اسبابو د منع
صرف درو نباشد، و غیر منصرف آنست که دو سبب از اسباب منع صرف درو
[صرف نه په دې کې نه وي] [او غیر منصرف هغه دی چې] [دوه سببه د اسبابو د منع صرف نه] [په دې کې]
صرف نه په دې کې نه وي ، او غیر منصرف هغه دی چې دوه سببه د اسبابو د منع صرف نه په دې کې
باشد و اسباب منع صرف نه است : عدل و وصف و تانیث و معرفه و عجمه و جمع و
[وي] [او اسباب د منع صرف نهه دی] [عدل] [وصف] [تانیث] [معرفه] [عجمه] [جمع]
په دې کې وي ، او اسباب د منع صرف نهه (۹) دي : عدل ، وصف ، تانیث ، معرفه ، عجمه ، جمع ،
ترکیب و وزن فعل و الف و نون مزیدتان چنانچه در عُمَرُ عدل است و علم، و در ثُلَثُ
[ترکیب] [او وزن فعل] [او الف نون مزیدتان] نو په عُمَرُ کې] [عدل او علم دی] [او په ثُلَثُ]
ترکیب او وزن فعل او الف نون مزیدتان ، نو په عُمَرُ کې عدل او علم دی ، او په ثُلَثُ

وَ مَثْلَثُ صفت است و عدل و در طَلْحَةُ تانیث است و علم و در زَیْنَبُ تانیث
[او مَثْلَثُ کې یو صفت دی] [او بل عدل] [او په طلحة کې تانیث او علم دی] [او په زینب کې تانیث]
او مَثْلَثُ کې یو صفت دی او بل عدل، او په طلحة کې تانیث او علم دی، او په زینب کې تانیث
معنوی است و علم و در حُبْلیٰ تانیث است بالف مقصوره و در حَمْرَاءُ تانیث است
[معنوي او علم دی] [او په حبلیٰ کې تانیث دی] [په الف مقصوره سره] [او په حمراء کې تانیث دی]
معنوي او علم دی، او په حبلیٰ کې تانیث دی په الف مقصوره سره، او په حمراء کې تانیث دی
بالف ممدوده و این مؤنث بجائے دو سبب است ' و در إِبْرَاهِيْمُ عجمه است و
[په الف ممدوده سره] [او دا مؤنث په ځای د دوو سببونو دی] [او په ابراهیم کې عجمه] [او]
په الف ممدوده سره، او دا مؤنث په ځای د دوو سببونو دی، او په ابراهیم کې عجمه او
علم ' و در مَسَاجِدُ وَ مَصَابِيْحُ جمع منتهی الجموع بجائے دو سبب
[علم دی] [او په مساجد او مصابیح کې] [جمع منتهی الجموع ده] [چې دا په ځای د دوه سببونو]
علم دی، او په مساجد او مصابیح کې جمع منتهی الجموع ده چې دا په ځای د دوه سببونو
است و در بَعْلَبَکَ ترکیب است و علم و در أَحْمَدُ وزن فعل است و علم و در سَکْرَانُ
[دی] [او په بعلبک کې ترکیب او علم دی] [او په احمد کې وزن فعل او علم دی] [او په سکران کې]
ده او په بعلبک کې ترکیب او علم دی، او په احمد کې وزن فعل او علم دی، او په سکران کې
الف و نون زائدتان است و وصف و در عُثْمَانُ الف و نون زائدتان است و علم '
[الف او نون مزیدتان او وصف دی] [او په عثمان کې] [الف او نون مزیدتان] [او علم دی]
الف او نون مزیدتان او وصف دی، او په عثمان کې الف او نون مزیدتان او علم دی،

و تحقیق غیر منصرف از کتب دیگر معلوم شود .
[او تحقیق] [د غیر منصرف] [د نورو کتابونو نه] [هم معلومیږي] .
او د غیر منصرف تحقیق د نورو کتابونو نه ښه معلومیږي .

خلاصه د متن : په دې دویم فصل کې مصنف علیه الرحمة د منصرف او د غیر منصرف بیان کوي .

تشریح : د خاتمې په دویم فصل کې مصنف د منصرف او غیر منصرف بیان ذکر کوي د منصرف او د غیر منصرف تعریف د غه رنګ د عدل تعریف او قسمونه مخکې د اسم متمکن په پنځم قسم کې بیان شوي دي، دلته به بعض هم خبرې ذکر کیږي چې هغه د مقام مناسب دي د وصف تفصیل هم مخکې بیان شوي دي.

د تانیث وضاحت : تانیث په دوه قسمه دی: لفظي معنوي :

تانیث لفظي : هغې ته ویلی کیږي چې **تاء** په کې لفظًا راغلې وي لکه **طلحة** تانیث لفظي به هم په هغه وخت کې د اسباب د منع صرف نه وي چې کله هغه علم وي لکه **طلحة** نو دا د یو سړي نوم هم دی او تانیث لفظي په کې **تاء** موجود ده .

تانیث معنوي : تانیث معنوي هغې ته ویلی کیږي چې **تاء** په لفظ کې نه وي او هغه کلمه د یو مؤنث ذات لپاره علم وي لکه **زینب**، نو په دې کې یو علمیت دی او بل په کې تانیث معنوي دی د تانیث معنوي لپاره علم کېدل ضروري نه دي .

تانیث معنوي به هله د غیر منصرف سبب ګرځي چې په کومه کلمه کې د یو مؤنث ذات لپاره علم وي لکه **زینب**، نو په دې کې یو علمیت دی او بل په کې تانیث معنوي دی د تانیث معنوي لپاره علم کېدل ضروري نه دي تانیث معنوي به هله د غیر منصرف سبب ګرځي چې په کومه کلمه کې تانیث معنوي وي نو چې د دریوو حروفو نه په کې زیات حروف وي لکه **زینب** او که چېرته درې حرفونو والا وي وي نو بیا شرط دا دی چې مینځنی حرف به متحرک وي ساکن به نه وي لکه **سقر** او که چېرته مینځنی حرف ساکن وو نو بیا شرط دا دی چې دغه کلمه به عجمي وي لکه **ماه جور**.

څلورم سبب معرفه د معرفې او وه قسمونه دي په دوی کې صرف یو قسم د معرفې چې په علمیت کې موندلی کیږي د غیر منصرف سبب به وي فقط د پنځم سبب نه تر نهم سبب **الف نون** مزید تان پورې مخکې وضاحت شوي . په **ثلث** او **مثلث** کې یو سبب وصف او بل عدل دی په **طلحة** کې یو سبب تانیث لفظي او دویم علم دی په **زینب** کې یو سبب تانیث معنوي او دویم علم دی په **حبلی** کې **الف مقصوره** دی چې قائمقام د دوو سببونو دی په **حمراء** کې **الف ممدوده** دی چې قائمقام د دوو سببونو دی په **ابراهیم** کې یو سبب عجمه او بل علم دی **مساجد** جمع منتهی الجموع ده قائمقام د دوو سببونو ده

همدارنګې **مصابیح** ده په **بعلبك** کې یو ترکیب او بل علم دی په **احمد** کې یو وزن فعل دی او دویم علم دی په **سکران** کې یو سبب **الف نون** مزیدتان او دویم وصف دی په **عثمان** کې یو سبب **الف نون** مزیدتان او دویم علم دی.

د حروف غیر عامله بیان :

فصل سوم : در حروف غیر عامله وآن شانزده قسم است : اول : حروف تنبیه و
[دریم فصل] [په بیان د حروفو غیرعاملو کې] [او دا په شپاړس قسمه دی] [اول] [حروف تنبیه] [او]
دریم فصل په بیان د حروف غیر عاملو کې او دا په شپاړس (۱٦) قسمه دي اول قسم حروف تنبیه دي او
آن سه است أَلَا وَأَمَا وَهَا دوم حروف ایجاب وآن شش است : نَعَمْ وَبَلَى وَأَجَلْ
[دا درې دي] [أَلَا وَ أَمَا وَ هَا] [دویم قسم حروف ایجاب دي] [او دا شپږ دي] [نَعَمْ وَ بَلَى وَأَجَلْ]
دا درې دي: أَلَا وَ أَمَا وَ هَا ، دویم قسم حروف ایجاب دي او هغه شپږ (٦) دي: نَعَمْ وَبَلَى وَأَجَلْ
وَإِيْ و جَيْرِ وَإِنَّ ،سوم : حروف تفسیر ،وآن دو است : أَيْ و أَنْ کقوله
[وَأَجَلْ وَإِيْ و جَيْرِ وَإِنَّ] [دریم حروف تفسیر دي] [او دا دوه دي] [أَيْ وأَنْ] [لکه دا قول]
وَ أَجَلْ وَ إِيْ و جَيْرِ وَ إِنَّ ، دریم قسم حروف تفسیر دي او دا دوه دي: أَيْ و أَنْ لکه دا قول
تعالی : وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ ، چهارم حروف مصدریه ،وآن سه است :
[د الله تعالی] [وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ] [څلورم] [حروف مصدریه دي] [او دا درې دي]
د الله تعالی شو : وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ ، څلورم قسم حروف مصدریه دي او دا درې دي:
مَا و أَنْ و أَنَّ ،مَا أَنْ در فعل روند ؛ تا فعل بمعنی مصدر باشد .
[مَا وأَنْ وأَنَّ] [ما او أَنْ دا په فعل باندې داخلېږي] [د دې د پاره چې فعل په معنی د مصدر سره وګرځوي]
مَا وأَنْ وأَنَّ ، ما او أَنْ دا په فعل باندې داخلېږي د دې د پاره چې فعل په معنی د مصدر سره وګرځوي .

خلاصه د متن : په دې دریم فصل کې صاحب د کتاب د حروفو غیر عاملو یعنې د هغو حروفو بیان کوي چې هغه په لفظونو کې هیڅ عمل نه کوي.

تشریح : حروف غیر عامله په شپاړس (۱٦) قسمه دي: **اول حروف تنبیه** :دا حروف د خبر دارۍ لپاره

استعمالیږي او دا درې دي: **الا ، اما ، ها**، دا حروف په جمله اسمیه باندې داخلیږي هیڅ قسمه عمل نه کوي صرف مخاطب د غفلت نه د ویښولو لپاره استعمالیږي لکه **الا زید قائمٌ** خبردار زید ولاړ دی، **ها زید عالم**.

دویم حروف ایجاب: دا حروف د جواب لپاره راځي او دا شپږ حروف دي: **نعم ، بلی، اجل، جیر، ای، ان**، **نعم** د تصدیق لپاره راځي که کلام مثبت وي او که منفي وي.

د منفي مثال: مثلاً چا وویل چې **اما قام زید** نو په جواب کې به **نعم** راځي یعنې آو زید ولاړ نه دی نو دا د منفي کلام تصدیق شو.

د مثبت مثال: مثلاً چا وویل چې **قام عمر** نو په جواب کې به **نعم** راځي هو زید ولاړ دی نو دا د مثبت کلام تصدیق شو، **بلی** دا د منفي کلام اثبات کوي لکه **الست بربکم** نو جواب به یې **بلی** وي نو **الست بربکم** منفي کلام دی نو لفظ **بلی** مثبت کړو.

ای دا هم د **نعم** په شان استعمالیږي خو فرق په کې صرف دا دی چې دده نه مخکې استفهام وي او وروستو به قسم وي لکه څوک ووایي چې **اقام زید** آیا زید ولاړ دی نو په جواب کې به راځي چې **ای والله** او قسم دی زید ولاړ دی.

اجل جیر: د دوی استعمال هم د **نعم** په شان دی لیکن په دې دواړو کې قسم ضروري نه دی لکه څنګه چې په **ای** کې وو **ان** دا هم د **نعم** په شان دی لیکن د دې استعمال ډیر کم دی.

دریم حروف تفسیر دي او دا دوه حروف دي: ای، ان. ای دا اکثر د تغیر او د تشریح لپاره استعمالیږي او د ان استعمال ډیر کم دی د **ای** مثال لکه **جاء ني رجل ای زید**. په دې مثال کې د مفرد تفسیر په مفرد سره کړې شوی دی او د جملې تغیر هم کوي لکه **قطع رزقه ای مات** نو په دې سره د جملې تغیر شوی دی. **بل مثال** لکه دا قول د الله تعالی شو: **نادینه ان یا ابراهیم** نو **ان یا ابراهیم** تغیر دی (هٗ) ممیز چې د **نادینا** مفعول دی نو معنی دا شوه چې آواز وکړو مونږ ابراهیم علیه السلام ته په یو لفظ سره چې هغه لفظ دا قول دی مونږه وو چې **یا ابراهیم**.

څلورم قسم حروف مصدریه: دا درې (۳) حروف دي: **ما، ان، ان**، **ما ان** دا دواړه په جمله فعلیه داخلیږي او معنی مصدري ته یې اړوي لکه **وضاقت علیهم الارض بما رحبت** نو په **ما رحبت** داخل شوی دی او په معنی د **رحبة** سره یې کړی دی د **رحبة** معنی ده وسعت داره.

د مصدریه مثال لکه :**اعجبني ان خرجت** نو دإن د وجې نه **خرجت** په معنی د خروج سره شو، ان دا خاص دی په جملې اسمیې پورې لکه **اعجبني انك قائمٌ** نو د ان د وجې نه دا په معنی د **قیامك** سره شو یعني **اعجبني قیامك** او که چېرته د ان سره **ما** کافه یو ځای شي یعني **انما** شي نو بیا به په جمله فعلیه هم داخلیږي او په جمله اسمیه هم داخلیږي.

ترکیب : **نادیناه ان یا ابراهیم** : **نادیناه** صیغه د متکلم فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **نحن** دی دا یې فاعل **هُ** ضمیر مفعول به اول، دوهم مفعول به یې محذوف دی چې **بلفظ** دی، **ان** حرف تفسیر **یاء** حرف نداء قائمقام د **ادع**، **ادع** صیغه د فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دي دا یې فاعل **ابراهیم** منادی مفعول به، **نادینا** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به دا جمله فعلیه خبریه په تاویل د مصدر سره مفسِر شو، مفسِر سره د مفسَر نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار مجرور دا مفعول ثاني شو د پاره د **نادیناه**، **نادینا** فعل سره د فاعله او سره د مفعولینو جمله فعلیه خبریه.

حروف تحضیض ، حروف توقع ، حروف ردع :

پنجم : حروف تحضیض، وآن چهار است أَلَّا و هَلَّا و لَوْلَا و لَوْمَا ششم : حروف
[پنځم] [حروف تحضیض] [او دا څلور دی] [أَلَّا] [و هَلَّا] [و لَوْلَا] [و لَوْمَا] [شپږم] [حروف]
پنځم قسم حروف تحضیض دي او دا څلور (۴) دي: أَلَّا و هَلَّا و لَوْلَا و لَوْمَا، شپږم قسم حروف
توقع، وآن قَدْ است برای تحقیق در ماضی و برای تقریب ماضی بحال،
[توقع] [او دا قَدْ دی] [داد پاره د تحقیق دی] [په ماضي کې] [او دپاره د نزدیکت د ماضي حال ته]
توقع دي، او دا قَدْ دی چې په ماضي باندې د تحقیق لپاره راځي، او لپاره د نزدیکت د ماضي حال
وور مضارع برای تقلیل هفتم حروف استفهام وآن سه است : مَا و همزه و هَلْ
[او په مضارع کې] [د پاره د تقلیل وي] [اوم] [حروف استفهام] [او دا دري دی] [ما، همزه، هل]
ته او په مضارع کې لپاره د تقلیل وي اوم قسم حروف استفهام دي او دا دري دي: ما، همزه، هل،

هشتم : حروف ردع ، وآن کَلَّا است بمعنی باز گردانیدن ، وبمعنی حَقًّا نیز آمده
[اتم] [حروف ردع] [او دا کَلَّا دی] [په معنی د منع کولو سره] [او په معنی د حَقًّا سره] [هم راغلی]
اتم قسم : حروف ردع دی او دا کَلَّا دی په معنی د منع کولو سره ، او په معنی د حَقًّا سره هم راغلی
است چون : كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ .
[دی لکه] [كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ].
دی ، لکه : كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د حروف غیر عامله د باقي اقسامو بیان کیږي.

تشریح : پنځم قسم حروف تحضیض: دا څلور حروف دي: **الا ، هلا ، لولا ، لوما**، د دې څلورو حروفو نه وروستو به خامخا فعل راځي که لفظي وي او که تقدیري دي خووي به خامخا دا حروف که چیرته په فعل ماضي داخل شي نو د زورنې معنی به ورکوي لکه **هلا ضربت زیدا** یعنې تا زید ولې نه دی وهلی. او چې کله په مضارع داخل شي نو بیا به د لا پارولو معنی ورکوي چې مخاطب فعل په وجود کې راولي لکه **هلا تضرب زیدا** ته ولې زید نه دی وهلی (یعنې وي وهه).

شپږم قسم حروف توقع: دا صرف یو حرف دی چې هغه **قَدْ** دی په فعل ماضي هم داخلیږي او په مضارع هم چې په ماضي داخل شي نو تحقیق فائده کوي او ماضي حال ته نږدې کوي لکه **قد رکب الامیر** یعنې بېشکه امیر صاحب سور شوی دی او چې په مضارع داخل شي نو تقلیل فایده کوي لکه **الجواد قد یبخل** یعنې سخي هم کله نا کله بخل کوي او کله نا کله تحقیق هم فایده کوي لکه **قد یعلم الله** یعنی په تحقیق سره الله تعالی پوهیږي یا لکه **قد نری تقلب وجهك فی السماء** په تحقیق سره مونږه وینو مخ مبارک ستاسو په طرف د آسمان بار بار اوچتول.

اوم حروف استفهام: دا درې حروف دي: **ما، همزه، هل**، دا درې حروف د کلام په شروع کې راځي او په مینځ او آخر کې نه راځي او په جمله اسمیه باندې داخلیږي او په فعلیه باندې هم داخلیږي.

د جملې اسمیې مثال لکه : **ما اسمك** . **د فعلیې مثال** لکه : **ما قال زید** .

د جملې اسمیې مثال لکه : **ازید قائم**. **د فعلیې مثال** لکه : **اقام زید**.

د جملې اسمیې مثال لکه : **ازید قائم**. **د فعلیې مثال** لکه : **اقام زید**.

د جملې اسمیې مثال لکه: **هل زید قائمٌ. د فعلیې مثال** لکه: **اقام زید.**

او کله کله **هَلْ** په منی د **قَدْ** سره راځي لکه **هل اتی علی الانسان ای قد اتی.**

اتم حروف ردع: دا یو حرف دی یعنې **کلا** دی دې ته حرف ردع ویلې شي په معنی د منع کولو سره او دی هم د منع کولو لپاره راځي، د معمول د مخکښي کلام لکه یو سړی تاته ووایي چې **زید یغضبك** یعنې زید په تا غصه کوي نو ته په جواب کې ووایې چې کله یعنې هیڅ کله نه یعنې زید غصه نه کوي.

او د **حقا** په معنی سره هم راځي لکه: **کلا ان الانسان لیطغی**، چې دا خبره حقه او ثابته ده چې بیشکه انسان خامخا سرکشه دی یا لکه: **کلا سوف تعلمون** یعنې ثابته ده زرد ده چې پوهه به شي تاسو، او کله نا کله د چا د خبرې د نه قبلولو لپاره هم راځي لکه چا ته ووایي چې **افعل کذا** ته دا کار وکړو نو په جواب کې ورته ووایې چې **کلا** هرګز ستا خبره نه منم.

ترکیب: کلا سوف تعلمون: کلا حرف ردع، سوف دا عامل دی د فعل د پاره، تعلمون صیغه فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې انتم دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه خبریه.

تنوین :

نهم : تنوین وآن پنج است : تمکن چون : زَیْدٌ و تنکیر چون : صَهٍ أَيْ
[نهم][تنوین][او دا][پنځه دی][تمکین][لکه][زَیْدٌ][او][تنکیر][لکه][صَهٍ شو][یعنې]
نهم قسم تنوین دی، او دا په پنځه (۵) قسمه دی: تمکن، لکه زَیْدٌ شو، تنکیر لکه صَهٍ شو، یعنې
أُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِيْ وَقْتٍ مَّا اما صَهْ بغیر تنوین فمعناه : أُسْكُتْ
[أُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِيْ وَقْتٍ مَّا][هر چې صَهْ دی][په غیر د تنوین نه][نو معنی یې ده چې أُسْكُتْ]
أُسْكُتْ سُكُوْتًا مَّا فِيْ وَقْتٍ مَّا هر چې صَهْ دی په غیر د تنوین نه نو معنی یې داده چې: أُسْكُتْ
السُّكُوْتَ الآنَ و عوض چون : يَوْمَئِذٍ و مقابله چون : مُسْلِمَاتٍ و ترنم
[السُّكُوْتَ الآنَ][او عوض][لکه يَوْمَئِذٍ][او د مقابلې لپاره][لکه مُسْلِمَاتٍ][ترنم لپاره]
السُّكُوْتَ الآنَ او عوض لپاره لکه يَوْمَئِذٍ شو، د مقابلې لپاره لکه مُسْلِمَاتٍ شو، ترنم لپاره

که در آخر ابیات باشد شعر :
[چې] [په آخر د شعرونو کې] [وي] [شعر]
چې د شعر په آخر کې وي لکه:
أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ وَقُوْلِي إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ
[کمه کړه ملامتیا اوزورنه] [ای عازله] [او وبه وایې که چیرته زه حق ته ورسیدم چې په تحقیق سره ته ورسېدې]
کمه کړه ملامتیا اوزورنه ای عازله او وبه وایې که چیرته زه حق ته ورسیدم چې په تحقیق سره ته ورسېدې
و تنوین ترنم در اسم و فعل و حرف رود، اما چهار اولین خاص است با اسم.
[او تنوین ترنم] [په اسم، فعل او حرف باندې داخلیږي] [هرچې څلور اولني دي نو دا خاص دي تر اسم پورې]
او تنوین ترنم په اسم، فعل او حرف باندې راځي هرچې څلور اولنۍ دي نو هغه اسم پورې خاص دي.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د حروف غیر عامله د باقي اقسامو بیان کیږي.

تشریح: نهم قسم د حروف غیر عاملو نه تنوین دی تنوین په حقیقت کې **نون** ساکن ته ویلی کیږي اگر چې ظاهري خو دوه حرکتونه دي لیکن په حقیقت کې حرف دی دده په حرفیت دلیل دا دی چې که چیرته د تنوین نه وروستو ساکن وي نو دغې تنوین ته د کسرې حرکت ورکولی شي او د وورستني ساکن سره یو ځای کولی شي لکه **خیران العصبة** نو اول تنوین دی او وروستو ترې نه **لام** ساکن دی نو دغې تنوین ته به د کسرې حرکت ورکړی شي او داسې به وویلی شي چې **خیران العصبة**. نو ددې نه معلومه شوه چې تنوین حرف دی ځکه په حرکت خو حرکت نه راځي حرکت خو په حرف باندې راځي.

د تنوین اقسام: تنوین په پنځه (۵) قسمه دی: (۱) تمکن، (۲) تنکیر، (۳) عوض، (۴) مقابله، (۵) ترنم.

تنوین تمکن: دا هغه تنوین معرب ته ویلی کیږي چې د دې مدخول معین نه وي لکه: **صَهٍ** نو دا تنوین د تنکیر لپاره دی ځکه ددې معنی ده **اسکت سکوتاً ما في وقت ما**، یعني ته څه نه څه په یو وخت کې چپ شه نو د چپ کېدو لپاره وخت معین نه دی یو خو **صَهْ** بغیر د تنوین نه دی نو د دې معنی ده ته اوس چپ شه په دې کې تعین شته.

تنوین عوض: دا هغې تنوین ته ویلی کیږي چې په یو اسم باندې د مضاف الیه په بدل کې راوړلې شوې وي لکه د **حینئذٍ** تنوین دا د مضاف الیه په بدله کې راوړلې شوې وي لکه د **حینئذٍ** تنوین دا د مضاف الیه په بدله کې راوړلې شوې دې ځکه چې دا په اصل کې **حین اذ کان کذا** وو نو **حین** مضاف دی **اذ** ظرف ته او **اذ** مضاف دی **کان کذا** د جملې طرف

ته په جمله کې د سهولت پیدا کولو لپاره **کان کذا** حذف کړې شو نو **حینئذٍ** پاتې شو نو چې کله **اذ** د اضافت نه پټ شو نو اسم تام پاتې نه شو نو لهذا د **کان کذا** په بدله کې یې ده ته تنوین ورکړ نو اسم تام ترې نه جوړ شو.

تنوین مقابله : دا هغې تنوین ته ویلی کیږي چې د جمع مؤنث سالمې په آخر کې راځي لکه **مسلماتٌ** او دا تنوین د جمع مذکر سالمې د **مسلمون** او **مسلمین** په بدله او مقابله کې راځي.

تنوین ترنم : دا هغې تنوین ته ویلی کیږي چې د آواز د ښایسته کولو لپاره د شعرونو په آخر کې راځي لکه شعر:

أَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ   وَقُوْلِيْ إِنْ أَصَبْتُ لَقَدْ أَصَابَنْ

ترجمه: کم کړه ای محبوبې ملامته کول او زورنه زما، او وایه ته که چېرته زه صحیح کار وکړم چې ښیشکه ده (یعنې ما) صحیح کار کړې دی. نو اصل خبره دلته داده چې تنوین ترنم په فعل کې هم راځي لکه **اصاب** فعل ماضي ده او د دې په آخر کې اواز په خیشوم کې اوږد کړی شوی دی یعنې **اصابن**. ورو مبني څلور په اسم پورې خاص دي، او تنوین ترنم د اسم فعل حرف د درې وارو په آخر کې راځي.

ترکیب : صه ای اسکت سکوتا ما في وقت ما : **صه** مفسر **ای** حرف تفسیر **اسکت** صیغه واحد مذکر امر حاضر معلوم ضمیر په کې په مستتر دی چې **انت** دی دا یې فاعل، **سکوتا** موصوف **ما** یې صفت موصوف سره د صفت نه دا مفعول به شو د پاره د **اسکت**، **في** جار **وقت** مجرور موصوف، **ما** صفت، موصوف سره د صفت نه دا مجرور شو د پاره د جار، جار مجرور ظرف لغو متعلق شو تر **اسکت** فعل پورې، **اسکت** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به او سره د متعلقه جمله فعلیه خبریه تفسیر شو د پاره د مفسر، مفسر سره د تفسیر نه جمله فعلیه انشائیه تفسیریه.

نون تاکید :

دہم : نون تاکید در آخر فعل مضارع ثقیله و خفیفه چون إِضْرِبَنَّ وَإِضْرِبَنْ.
[لسم][نون تاکید][چې په آخر د فعل مضارع][د نون ثقیله او نون خفیفه کې وي][لکه إِضْرِبَنَّ وَإِضْرِبَنْ]
لسم قسم نون تاکید چې په آخر د فعل مضارع د نون ثقیله او نون خفیفه کې وي لکه إِضْرِبَنَّ وَإِضْرِبَنْ.

تشریح : لسم قسم د حروف غیر عامله نه نون ثقیله او نون خفیفه دی دا دواړه نونات د مضارع او د استفهام، تمني، عرض، امر، او د نهي په آخر کې زیاتولې شي، لکه: **إِضْرِبَنَّ وَإِضْرِبَنْ**.

حروف زیادت :

یازدہم : حروف زیادت وآن ہشت حرف است إِنْ وأَنْ ومَا ولَا ومَنْ وكاف و با
[یولسم] [حروف زیادت دی] [اودا اته حرفه دی] [إِنْ] [أَنْ] [مَا] [لَا] [مَنْ] [کاف] [با]
یولسم قسم: حروف زیادت دی او دا اته (۸) حروف دي: إِنْ ، أَنْ ، مَا ، لَا ، مَنْ ، کاف ، با ،
ولام چہار آخر در حروف جر یاد کرده شد.
[لام] [ځلور آخرني حروف مو] [په حروف جاره کې ذکر کړي دي].
لام ، ځلور آخرني حروف مو په حروف جاره کې ذکر کړي دي.

تشریح : یولسم قسم حروف زیادت دی او دا اته حروف دي: [إِنْ] [أَنْ] [مَا] [لَا] [مَنْ] [کاف] [با] [لام] په دې اتو کې آخریني ځلور حروف جاره دي ، ان دا حرف د **ما** نافیې سره زیاتي راځي لکه **ما ان رایت زید ای ما رایت زیداً**. او د **ما** مصدریې سره په طریقې د قلت سره زائد راځي لکه **انتظرني ما ان جلس الامیر ای مدة جلوسه** او د **لما** سره هم په طریقې د قلت سره زائد راځي لکه **لما ان قام زید قمت ای لما قام زید قمت** ، ان د **لما** سره په کثرت سره زیاتي راځي لکه **فلما ان جاء البشیر** ، د قسم مقدر او د واو په مینځ کې هم ان زیاتي راځي لکه **والله ان او قام زید قمت**. ما د **اذا** سره زیاتي راځي لکه **اذا ما تخرج اخرج ای اذا تخرج اخرج**، او د **متی** سره هم زیاتي راځي لکه **متی تذهب اذهب**. او د **اي** سره هم زیاتي راځي لکه **ایاما تدعوا فله الاسماء الحسنی**، او د **این** سره هم زیاتي راځي لکه **این ما تجلس اجلس**، او د ان سره هم زیاتي راځي لکه : **اما ترین من البشر احداً**.

او د **باء** حرف جر سره هم زیاتي راځي لکه **فبما رحمة من الله لنت لهم** ، او د **من** حرف جر سره هم زیاتي راځي لکه : **مما خطیئتهم اغرقوا**. **لا** دا د **واو** عاطفه نه وروستو د نفي لپاره راځي لکه **ما جاءني زید ولا عمرو** او د ان مصدریه نه هم وروستو زیاتي راځي لکه **ما منعك ان لا تسجد اذا مرتك ای ان تسجد** او د لفظ دا قسم نه مخکې هم په طریقې د قلت سره زائد راځي لکه **لا اقسم بیوم القیامة ولا اقسم بهذا البلد** او د مضاف سره هم په طریقې د قلت سره زائد راځي لکه په دې شعر کې چې راغلی دی **في بئر لا حور سره وما شعر**. د **باء** زائدې مثال لکه : **لیس زید بقائما** ، د **کاف** زائده مثال لکه : **لیس کمثله شئ**، د لام زائده مثال لکه : **ردف لکم ای ردفکم**.

حروف شرط :

دوازدہم : حروف شرط، وآن دواست : أَمَّا و لَوْ، أمّا برای تفسیر وفادر جوابش
[دولسم][حروف شرط دی][او دادوه دي][أَمَّا او لَوْ][أَمَّا دتفسير دپاره][اوپه جواب کې يې فاء]
دولسم قسم : حروف شرط او دادوه (۲) أَمَّا او لَوْ دي أَمَّا راځي دتفسير لپاره اوپه جواب کې يې فاء
لازم باشد كقوله تعالى : فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ، فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا
[لازمي وي][لکه په دې قول د الله تعالی کې][فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ ، فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا]
لازمي وي، لکه په دې قول د الله تعالی کې : فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَ سَعِيدٌ ، فَأَمَّا الَّذِينَ شَقُوا
فَفِي النَّارِ ، وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ . ولو برای انتفاء ثانی بسبب
[فَفِي النَّارِ] [وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ] [اولو د انتفاء ثاني لپاره راځي][په سبب د]
فَفِي النَّارِ ، وَأَمَّا الَّذِينَ سُعِدُوا فَفِي الْجَنَّةِ ، او لو د انتفاء ثاني لپاره راځي په سبب د
انتفاء اول چون : لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللهُ لَفَسَدَتَا.
[انتفاء اول سره][لکه][لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللهُ لَفَسَدَتَا].
انتفاء اول سره، لکه : لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللهُ لَفَسَدَتَا.

تشریح : دولسم قسم حروف شرط دی دا دوه حروف دي: أَمَّا، لَوْ :أَمَّـا دا د مخکني اجمال د تفصیل لپاره راځي، او د أَمَّا نه وروستو په جواب کې د فاء راوړل ضروري وي، لکه دا قول د الله تعالی شو : فمنهم شقي و سعيد یعنې بعضې په دې خلکو کې بدبخته وي او بعضې په کې نیک بخته وي نو دا خو اجمال دی أَمَّا به د دې تفصیل کوي او دا به ښايي چې د بدبختو به څه حال وي او د نیک بختو به څه حال وي : فاما الذين شقو ففي النار، پس چې کوم خلک بدبخته دي نو هغوی به جهنم ته ځي او څوک چې نیک بخته دي نو هغوی په جنت ته ځي نو دا یې تفصیل شو ففي النار ففي الجنة دا دواړه د أَمَّا په جواب کې دي او په دواړو باندې فاء راوړل شوه . او لَوْ دا په دوو جملو باندې داخلیږي او د دویمې جملې نفي کوي د دې وجې نه چې اوله جمله هم منفي ده او د ماضي لپاره راځي اگر که په مستقبل باندې داخل شي لکه : لو كان فيهما

الهة الاالله لومړنی جمله ده او لفسدتا دویمه جمله ده که چېرته په دې ځمکه او آسمان کې نور خدایان وې نو په دواړو کې به فساد واقع شوې ؤ یعنې هر څه به درهم برهم شوي وو (د شرکت په وجه) لیکن فساد نشته نو معلومه شوه چې نور خدایان هم نشته په غیر د الله تعالی نه.

ترکیب : فمنهم شقي و سعید فاما الذین شقوا ففي النار : **فاء** تفصیلیه **من** جار **هم** ضمیر مجرور، جار مجرور دا خبر مقدم، **شقي** معطوف علیه واو عاطفه **سعید** معطوف، معطوف علیه سره د معطوف نه دا مبتداء مؤخر، خبر مقدم سره د مبتداء مؤخر نه جمله اسمیه خبریه. **فاء** تفصیلیه **اما** حرف تفسیر **الذین** موصول **شقوا** صیغه فعل ماضي معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **هم** دی دا یې فاعل، فعل سره د فاعله جمله فعلیه صله شوه د پاره د موصول، موصول سره د صلې نه دا شرط، **فاء** جزائیه **في** جار **النار** مجرور جار مجرور په اعتبار د متعلق سره دا خبر د شو دپاره د مبتداء چې **هم** مقدر دی، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبر شو د پاره د شرط، شرط سره د جزاء نه جمله اسمیه.

لوکان فیهما آلهة الا الله لفسدتا : **لو** حرف شرط **کان** فعل ناقصه **فیهما** جار مجرور دا خبر مقدم، **آلهة** موصوف **الا** په معنی د **غیر** یعنې **غیر الله غیر** مضاف **الله** مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه دا صفت شو د پاره د موصوف، موصوف سره د صفت نه دا اسم مؤخر شو دپاره د **کان**، **کان** سره د اسم او سره د خبره جمله فعلیه فعل شرط، **لام** تاکید **فسدتا** فعل ماضي معلوم ضمیر د **الف** یې فاعل فعل سره د فاعله دا جمله فعلیه جزاء د شرط، فعل شرط سره د جزاء شرط جمله فعلیه شرطیه.

سیزدہم : لَوْلَا ' و او موضوع است برای انتفاء ثانی بسبب وجود اول '
[دیارلسم قسم] [لَوْلَا دی] [او دا وضع شوې دی] [د پاره د انتفاء ثاني] [په سبب] [د وجود اول]
دیارلسم قسم لَوْلَا دی، او دا وضع شوې دی د پاره د انتفاء ثاني په سبب د وجود اول سره
چون : لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَکَ عُمَرُ.
[لکه] [لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَکَ عُمَرُ].
لکه : لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَکَ عُمَرُ.

تشریح : دیارلسم قسم حرف لولا دی دا هم په دوو جملو پاندې داخلیږي او د دویمې جملې نفي کوي د وجې د

موجودوالي د اولې جملې نه لکه لولا علي لهلك عمر نو لولا علي موجود نه دی نو حضرت عمر رضی اللہ عنہ به هلاک شوې وو لیکن حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موجود وو نو د دې وجې نه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هلاکت نه بچ شو یعنې هلاک نه شو ځکه چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موجود وو لو لا علي لهلك عمر دا مقوله د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده.

واقعه: د دې واقعه دا وه چې د یوې ښځې د زنا د وجې نه حمل وو نو دغه حامله ښځه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغله نو دوی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حکم وکړو چې دا دې سنګسار کړی شي د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حکم باندې لا عمل نه وو شوې چې په دې کې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې حاضر شوا و وې فرمایل چې د حمل کېدو سره سره سنګسار کول نه دي په کار چې کله بچی پیدا شي نو په هغه وخت کې سنګسارول په کار دي ځکه په دې وخت کې دوه نفسه ځي دا خبره د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سوچ کې راغله او وې فرمایل چې: لو لا علي لهلك عمر.

ترکیب: **لولا علي لهلک عمر**: لولا حرف غیر عامل، علي مبتداء خبریې محذوف دی چې موجود دی، موجود صیغه د اسم مفعول ضمیر په کې مستتر دی چې هو دی هغه یې نائب فاعل اسم مفعول سره د نائب فاعله دا خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه.

چهاردهم: لام مفتوحه برای تاکید چون لَزَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو. پانزدهم: مَا
[څوارلسم] [لام مفتوحه د پاره د تاکید] [لکه لَزَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو] [پنځلسم] [مَا ده]
څوارلسم قسم لام مفتوحه دی د پاره د تاکید لکه: لَزَيْدٌ أَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو، پنځلسم قسم مَا ده
بمعنی مَادَامَ چون: أَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْأَمِيْرُ. شانزدهم حروف عطف: وآن
[په معنی د مَا دَامَ سره] [لکه] [أَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْأَمِيْرُ] [شپاړسم] [حروف عطف دی] [او دا]
په معنی د مَا دَامَ سره، لکه: أَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْأَمِيْرُ، شپاړسم قسم: حروف عطف دی او دا
ده است: واو و فاو ثُمَّ و حَتّٰى و إِمَّا و أَوْ و أَمْ و لَا و بَلْ و لٰكِنْ.
[لس دي] [واو] [فاء] [ثُمَّ] [حَتّٰى] [إِمَّا] [أَوْ] [أَمْ] [لَا] [بَلْ] [لٰكِنْ دي].
لس دي: واو، فاء، ثُمَّ، حَتّٰى، إِمَّا، أَوْ، أَمْ، لَا، بَلْ، لٰكِنْ دي.

تشریح: **څوارلسم قسم لام تاکید** یعنې لام مفتوحه چې دا راځي لپاره د تاکید دې ته لام

15

ابتدائیه تاکیدیه هم وایي لام ابتدائیه ورته ځکه وایي چې دا راځي په ابتداء د کلام کې او تاکیدیه ورته ځکه وایي چې دا راځي لپاره د تاکید د جملې لکه لزید افضل من عمرو خامخا زید غوره دی د عمرو نه. **پنځلسم قسم: ما په معنی د مَا دَامَ** سره لکه اقوم ما جلس الامیر یعنې زه به ولاړ یم تر څو چې امیر ناست وي. **شپاړسم قسم حروف عطف**: شپاړسم قسم د حروف غیر عامله وو نه حروف عاطفه دي د عطف معنی یو څیز د بل څیز سره په یو حکم کې یو ځای کول او حروف عاطفه هم دغه عمل کوي. **د هر یو مثال**: د واو لکه: **جاءني زید و عمرو**، د فاء لکه: **جاءني زید فعمر**، د ثُمَّ لکه: **جاءني زید ثم عمر**، د حَتّٰی لکه: **قدم الحاج حتی المشاة**، د إِمّا لکه: **العدد إِمّا زوج او فرد**، د أَوْ لکه: **جاءني زید او عمرو**، د أَمْ لکه: **ازید عندي ام عمرو**، د لا لکه: **جاءني زید لا عمر**، د بَلْ لکه: **جاءني زید بل عمر**، د لٰكِنْ لکه: **ما جاءني زید لکن عمرو**. نو ټول حروف غیر عامله په دې شپاړسو قسمونو کې دوه پنځوس بیان شول.

لزید افضل من عمرو: **لام** تاکید، **زید** مبتداء، **افضل** صیغه د اسم تفضیل ضمیر په کې مستتر دی چې **هو** دی دا یې فاعل، **من** جار **عمرو** مجرور، جار مجرور دا متعلق شو تر **افضل** پورې، اسم تفضیل سره د فاعله او سره د متعلقه دا خبر شو د پاره د مبتداء، مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه. **اقوم ما جلس الامیر**: **اقوم** فعل مضارع معلوم ضمیر په کې مستتر دی چې **انا** دی دا یې فاعل، **ما** په معنی د **مادام** سره، **جلس** فعل ماضي معلوم **الامیر** فاعل، فعل سره د فاعله دا مفعول به شو د پاره د **اقوم**، **اقوم** فعل سره د فاعله او سره د مفعول به جمله فعلیه خبریه.

مستثنی:

بحث مستثنی در کتاب نحو میر نبود برائے فائدہ طلاب افزود شد
[بحث د مستثنی] [په نحو میر کتاب کې] [نه وو] [نو د پاره د طالبانو د فائدې] [زیات کړې شو]
چونکې بحث د مستثنی په نحو میر کتاب کې نه وو، نو د طالبانو د فائدې لپاره زیات کړې شو،
بدانکه مستثنی لفظی است که مذکوره باشد بعد اِلّا واخوات آن یعنی غیر
[پوهه شه چې] [مستثنی هغه لفظ دی چې] [ذکر وي پس د اِلا] [یا د اخواتو د اِلا نه] [یعني د غیر]
پوهه شه چې: مستثنی هغه لفظ دی چې د اِلّا، یا د اخواتو د اِلا نه پس مذکور وي، یعني د غیر،

و سوی سواء و حاشا و خلا و عدا و ما خلا و لیس ولا یکون تا

[سوی][سواء][حاشا][خلا][عدا][ما خلا][ما عدا][لیس او لا یکون نه پس]ا د دي لپاره چي]

سوی، سواء، حاشا، خلا، عدا، ما خلا، ما عدا، لیس او لا یکون نه پس مذکور وي، د دې لپاره چي

ظاہر گردد کہ منسوب نیست بسوی مستثنی آنچی نسبت کردہ شدہ است بسوی ما قبل

[ظاهر شي چي][منسوب نه دی په طرف د مستثنی][هغه چې نسبت يې کړې شوي وي][په طرف د ما قبل]

ظاهر شي چي منسوب نه دی په طرف د مستثنی هغه چي نسبت يې وکړی شي په طرف د ما قبل

وی وآن بر دو قسم است متصل و منقطع متصل آن است کہ خارج کردہ شود از

[ده] [او دا په دوه قسمه دی] [متصل او منقطع] [متصل هغه دي چي] [خارج کړې شوې وي د]

د مستثنی او دغه په دوه (۲) قسمه ده: متصله، منقطع. متصل هغې ته وايي چي خارج کړې شي د

متعدد بلفظ إِلَّا واخوات ولی مثل جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا زَيْدًا پس زید کہ در

[متعدد نه په لفظ د إِلَّا][او ددې په اخواتو سره][لکه جاءني القوم إِلَّا زيدًا][پس زید چي په]

متعدد نه په لفظ د إِلَّا، او ددې په اخواتو سره لکه: جاءني القوم إِلَّا زيدًا، پس زید چي په

قوم داخل بود از حکم مجیئت خارج کردہ شدہ منقطع آن باشد کہ مذکور شود بعد إِلَّا

[قوم کې داخل وو][ليکن د حکم د مجيئت نه خارج کړې شوې وي][او منقطع هغه ده چي ذکر شي][پس د إِلَّا]

قوم کې داخل وو، ليکن د راتللو د حکم نه خارج کړې شو، او مستثنی منقطع هغه ده چي د إِلَّا او

واخوات آن و خارج کردہ نہ شود از متعدد بسبب آنکہ

[او د اخواتو] [د إِلَّا نه] [او خارج کړې شوې] [نه وي] [د متعدد نه] [په سبب د هغې سره چي]

او د اخواتو د إِلَّا نه پس مذکور وي، او خارج کړې شوې نه وي د متعدد نه، په سبب د هغې سره چي

مستثنی داخل نہ باشد در مستثنی منہ مثل جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا کہ حمار

[مستثنی داخل نه وي][په مستثنی منه کي][لکه][جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا] [چي حمار]

مستثنی داخل نه وي په مستثنی منه کي، لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ إِلَّا حِمَارًا، چي حمار

در قوم داخل نه بود.
[په قوم کې] [داخل نه وو] .
په قوم کې داخل نه وو.

خلاصه د متن : چونکې بحث د مستثنی د اصل کتاب یعنې د نحومیر څخه نه دی لیکن په دې بحث د مستثنی کې د طالبانو د پاره ډیره فائده ده نو د پاره د فائدې د طالبانو زیات کړې شوې دی.

تشریح : **مستثنیٰ** د اسم مفعول صیغه ده د باب **استفعال** نه او مصدر یې **استثناء** دی د **استثناء** معنی خارج کول مستثنی معنی ده خارج کړې شوی او د چا نه چې خارج کړی شوی وي نو هغې ته مستثنی منه وایي.

د مستثنی تعریف : مستثنی هغې لفظ ته ویلی شي چې هغه د حرف استثناء یعنې د **إِلّا** او دده د هم معنی الفاظو نه وروستو ذکر کړی شي، د **إِلّا** هم معنی الفاظ دادي : **غیر** ، **سوی** ، **حاشا**، **خلا** ، **ما خلا**، **ما عدا**، **لیس**، **لا یکون**، نو د دې الفاظو نه وروستو چې کوم اسم ذکر شي نو هغې ته مستثنی ویلی شي او چې کوم اسم ترې نه مخکې ذکر شوې وي هغې ته مستثنی منه ویلی شي.

سوال : د مستثنی د دې الفاظو نه وروستو ولې راوړلی شي د دې څه فائده ده؟ **جواب** : دا د دې لپاره چې پته ولګي چې د کوم کار نسبت مستثنی منه طرف ته منسوب نه وي که هغه مثبت وي او که منفي وي نو که چېرته مثبت وي نو په مستثنی سره به ترې نه منفي شي او که چېرته مستثنی منه طرف ته منسوب منفي وي نو مستثنی طرف ته به مثبت شي.

د مستثنی اقسام : بیا د مستثنی دوه (۲) قسمونه دي: (۱) متصل، (۲) منفصل.

مستثنی متصله : دا هغې مستثنی ته ویلی کېږي چې د مستثنی منه په جنس کې داخله وي او په **إِلّا** او دده د ملګرو په ذریعې سره د هغې حکم نه خارج کړی شي کوم چې د مستثنی منه لپاره ثابت وي لکه **جاء ني القوم الا زیداً**.

مستثنی منفصله : دا هغې مستثنی ته ویلی کېږي چې د استثناء د حروفو نه وروستو ذکر شوې وي او د متعدد نه یعنې د مستثنی منه نه، نه وي ویستل شوې او د مستثنی منه د نه ویستلو وجه دا ده چې دا مستثنی په مستثنی منه کې داخله نه ده او ښکاره خبره ده چې کوم یو څیز په یو بل څیز کې داخل نه وي نو د هغې د ویستلو څه مطلب دی لکه : **جاء ني القوم الا حمارا** ، راغي ماته قوم لیکن خر رانغې نو قوم مستثنی منه ده او **حمار** مستثنی منفصله ده ځکه چې په قوم کې **حمار** داخل نه دی.

نوټ : په بحث د مستثنی کې د ذکر شوو مثالونو ترکیب تاسې په خپله وکړئ.

د مستثنی اعراب :

بدانکه اعراب مستثنی بر چهار قسم است : اول : آنکه مستثنی بعد اِلّا در
[پوه شه چې] [اعراب د مستثنی] [په څلور قسمه دی] [اول] [هغه چې مستثنی پس] [د اِلّا نه] [په]
پوه شه چې اعراب د مستثنی په څلور (۴) قسمه دي : اول : هغه دي چې مستثنی پس د اِلّا نه په
کلام موجب واقع شود پس مستثنی همیشه منصوب باشد نحو جاءني القوم اِلّا زيداً
[کلام موجب کې واقع شي] [نو مستثنی به همیشه منصوب وي] [لکه جاءني القوم اِلّا زيداً]
کلام موجب کې واقع شي ، نو مستثنی به همیشه منصوب وي ، لکه : جاءني القوم اِلّا زيداً ،
و کلام موجب آنکه در آن نفی و نهی و استفهام نباشد و همچنین در کلام غیر
[او کلام موجب] [هغه دی چې په هغې کې] [نفي ، نهي او استفهام نه وي] [او همدارنګې په کلام غیرا]
او کلام موجب هغه دی چې په هغې کې نفي ، نهي او استفهام نه وي ، او همدارنګې په کلام غیر
موجب از مستثنی را بر مستثنی منه مقدم گرانند منصوب خوانند نحو مَا
[موجب کې مستثنی] [په مستثنی منه باندې مقدم کړې شي] [نو منصوب به ویلي شي] [لکه ما]
موجب کې مستثنی په مستثنی منه باندې مقدم کړې شي ، نو منصوب به ویلي شي ، لکه : ما
جاءني القوم الا زيداً احد و مستثنی منقطع همیشه منصوب باشد و اگر
[جاءني القوم الا زيداً احدٌ] [او مستثنی منقطع] [همیشه] [منصوب وي] [او که چیرته]
جاءني القوم الا زيداً احدٌ شو . او مستثنی منقطع به همېشه لپاره منصوب وي او که چیرته
مستثنی بعد خلا واقع شود بر مذهب اکثر علماء منصوب باشد و بعد ماخلا وماعدا
[مستثنی پس د خلا] [نه واقع شي] [نو په مذهب د اکثر علماو] [به منصوب وي] [او د ما خلا ما عدا]
مستثنی پس د خلا نه واقع شي نو د اکثر علماو په مذهب سره به منصوب وي او د ما خلا ما عدا

وليس ولا يكون هميشه منصوب باشد نحو جاءني القوم خلا
[ليس] [او لا يكون نه پس] [هميشه منصوب وي] [لكه] [ما جاءني القوم خلا]
ليس او لا يكون نه پس چې واقع شي نو هميشه لپاره به منصوب وي لكه ما جاءني القوم خلا
زيدا ، و عدا زيدا ، ولا يكون زيدا .
[زيداً] [و عدا زيداً عدا زيدا] [لا يكون زيدا].
زيداً ، و عدا زيداً عدا زيدا، لا يكون زيدا.

خلاصه د متن : مخکې مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ د مستثنى تعريف او د مستثنى دوه قسمونه بيان کړل او س په دې عبارت کې د مستثنى اعراب بيانوي چې د مستثنى اعراب په څلور قسمه دی .

تشريح : د مستثنى اعراب په څلور قسمه دی: په لومړني قسم کې د مستثنى د منصوب کېدو پنځه صورتونه بيان شوي دي : **اول صورت** : د مستثنى د منصوب کېدو دا دی چې کله مستثنى په کلام موجب کې پس د إِلَّا نه واقع شوې وي نو مستثنى به هميشه منصوبه وي لکه جاءني القوم إِلَّا زيداً نو د کلام موجب دی او مستثنى د إِلَّا نه وروستو واقع شوې ده. **کلام موجب** هغې کلام ته وايي چې نفي نهي او استفهام په کې نه وي. **کلام غير موجب** هغې کلام ته وايي چې په هغې کې نفي نهي او استفهام راغلې وي نو په دې صورت کې به هم مستثنى منصوبه وي او دا کلام غير موجب دی ځکه چې په اول کې يې مَا نافيه ده.

دويم صورت : د مستثنى د منصوب کېدو دا دی چې مستثنى په کلام غير موجب کې وي او مستثنى په مستثنى منه باندې مقدم وي نو مستثنى به منصوبه وي لکه ما جاءني الا زيد احد نو احد مستثنى منه ده او زيد مستثنى ده او مستثنى مقدم ده په مستثنى منه باندې نو په دې صورت کې مَا نافيه ده. **دريم صورت** : که چېرته مستثنى منفصله وي نو بيا به هم مستثنى هميشه منصوبه وي لکه جاءني القوم إِلَّا حمارا. **څلورم صورت** : چې کله مستثنى د خلا او د عدا نه وروستو واقع شوې وي، نو په دغې وخت کې به د اکثرو نحويانو په نزد منصوبه وي لکه : جاءني القوم خلا زيدا ، و عدا زيداً. **پنځم صورت** : چې کله مستثنى د ما خلا او ما عدا او د ليس او د لا يكون نه وروستو واقع شوې وي نو هميشه به منصوبه وي لکه : جاءني القوم ما خلا زيدا ، و ما عدا زيدا، و ليس زيدا ، و لا

يكون زيدا، نو په دې مثالونو کې **زيدا** په هر ځای کې مستثنی .ه او **قوم** مستثنی منه ده او دا ټول الفاظ يعنې **خلا، عدا، ما خلا، ما عدا، ليس، لا يكون**، د **إِلَّا** په معنی سره دي.

دوم آن که مستثنی بعد إِلَّا کلام غير موجب واقع شود و مستثنی منه هم
دويم قسم : هغه چې مستثنی د **إِلَّا** نه پس په کلام غير موجب کې واقع شي ،او مستثنی منه هم
[دوهم] [هغه چې] [مستثنی] [پس **إِلَّا** نه] [په کلام غير موجب کې واقع شي] [او مستثنی منه هم]
مذکور باشد پس در آن دو وجه رواست يکی آنکه منصوب باشد بر سبيل استثناء و
مذکور وي نو په دې کې دوه (۲) وجهې جائز دي : اوله دا چې : منصوب به وي د استثناء د وجې نه او
[مذکور وي] [نو په دې کې] [دوه وجهې جائز دي] [يو دا چې منصوب وي] [په طريقې د استثنا سره] [او]
ديگر آنکه بدل باشد از ما قبل خويش چون ما جاءني احد الا زيداً و الا زيدٌ.
[بل دا چې] [بدل وي د ماقبل خپل نه] [لکه] [**ما جاء ني احد إِلَّا زيداً**] [او **إِلَّا زيدٌ**].
دويمه دا چې : مستثنی به د ماقبل نه بدل وي لکه **ما جاء ني احد إِلَّا زيداً او إِلَّا زيدٌ**.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د مستثنی د اعراب دوهم قسم بيانيږي.

تشريح : د مستثنی د اعراب دويم صورت : که چېرته مستثنی پس د **إِلَّا** نه په کلام غير موجب کې راغلې وي او مستثنی منه په لفظونو کې مذکور وي نو په داسې مستثنی کې دوه وجهې جايز دي: (۱) نصب، (۲) بدل، د مستثنی منه ته نصب په دې وجه چې دا مستثنی ده او مستثنی منصوب به وي دويم هغه اعراب کوم چې د مستثنی منه وي يعنې که چېرته مستثنی منه مرفوعه وي نو مستثنی به هم د بدل کېدو د وجې نه مرفوعه وي لکه **ما جاء ني احد الا زيداً** نو دا کلام غير موجب دی او مستثنی د **إِلَّا** نه وروستو ده او **احد** مستثنی منه په لفظونو کې موجود ده نو په دې مستثنی باندې نصب هم جائز دی او رفع هم ځکه چې **زيد** به بدل وي د **احد** نه او **احد** مرفوع دی ، نو لهذا **زيد** به هم مرفوع وي ځکه چې د بدل او مبدل منه اعراب يو وي، نو مقصد دا دی چې ويونکي ته اختيار دی چې کوم يو غواړي، نو وايي دې.

سوم آنکه مستثنی مفرغ باشد يعنی مستثنی منه مذکور نباشد و در کلام غير موجب
[دريم] [هغه چې مستثنی مفرغ وي] [يعنې مستثنی منه] [مذکور نه وي] [په کلام غير موجب کې]
دريم قسم : هغه چې مستثنی مفرغ وي ، يعنې مستثنی منه مذکور نه وي ، او په کلام غير موجب کې

واقع شود پس اعراب مستثنیٰ به إِلّا درین صورت بحسب عوامل
[واقع شي] [پس اعراب د مستثنیٰ] [په إِلّا سره] [په دې صورت کې] [په اعتبار د عواملو سره به]
واقع شي، نو بیا به اعراب د مستثنیٰ په دې صورت کې د إِلّا په ذریعې سره په اعتبار د عواملو به
مختلف باشد نحوماجاءني إِلّا زید و ما رایت إِلّا زیدا، و ما مررت إِلّا بزیدٍ.
[مختلف وي] [لکه] [ما جاءني إِلّا زیدٌ] [ما رایت إِلّا زیداً] [ما مررت إِلّا بزیدٍ].
مختلف وي لکه ما جاءني إِلّا زیدٌ، ما رایت إِلّا زیداً، ما مررت إِلّا بزیدٍ.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې د مستثنیٰ د اعراب دریم قسم بیانیږي.

تشریح : دمستثنیٰ داعراب دریم صورت: که چېرته مستثنیٰ مفرغه وي یعنې داسې مستثنیٰ چې د هغې مستثنیٰ منه ذکر نه وي او کلام غیر موجب وي او مستثنیٰ د إِلّا نه وروستو وي نو داسې مستثنیٰ اعراب به د عامل مطابق وي نو که چېرته عامل رافع وو نو مستثنیٰ به مرفوع وي او که چېرته عامل ناصب وو نو مستثنیٰ به منصوبه وي او که چېرته عامل ناصب وو نو مستثنیٰ به منصوبه وي او که چېرته عامل جاره وو نو مستثنیٰ به مجروره وي د دې وجه داده چې کله مستثنیٰ منه حذف کړی شوه نو عامل به خپل عمل په څه کې کوي نو خامخا په مستثنیٰ کې عمل کولو ته د عامل فارغه کړی شو د دې وجې نه دې ته مستثنیٰ مفرغه ویلی شي لکه ما جاءني الا زیداً په دې مثال کې زید مستثنیٰ ده او مستثنیٰ منه یې حذف کړی شوې ده چې احد دی نو لهذا جاء زید مستثنیٰ ته رفع ورکړه او ما رایت الا زیدا دلته هم مستثنیٰ منه حذف کړی شوې ده نو لهذا رایت زید مستثنیٰ ته نصب ورکړو.

چهارم آنکه مستثنیٰ بعد لفظ غیر و سوی و سواء واقع شود پس مستثنیٰ
[څلورم] [هغه چې] [مستثنیٰ] [پس د لفظ] [د غیر] [سوی او سواء نه] [واقع شي] [نو مستثنیٰ]
څلورم قسم اعراب چې کله مستثنیٰ د لفظ غیر سوی او سواء نه پس واقع شي نو بیا به مستثنیٰ
را مجرور خوانند و بعد حاشا بر مذهب اکثر نیز مجرور باشد
[به مجرور ویلې کیږي] [او پس د حاشا نه] [په مذهب د اکثرو علماو] [هم مجرور] [ویلې کیږي]
مجرور ویلې کیږي، او د حاشا نه وروستو هم د اکثرو علماو په مذهب کې، هم مجرور ویلې کیږي،

و بعضی نصب ہم جائز داشتہ اند چون جاءني القوم غیرَ زیدٍ وسِوی زیدٍ وسواء
[او بعضې علماو] [نصب هم جائز کړي لکه] [جاءني القوم غیرَ زیدٍ] [سِوىٰ زَیدٍ] [سواء]
او بعضې علماو نصب هم جائز کړي دی، لکه: جاءني القوم غیرَ زیدٍ، سِوىٰ زَیدٍ، سواء
زیدٍ و حاشا زیدٍ.
[زیدٍ] [حاشا زیدٍ].
زیدٍ، حاشا زیدٍ.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د مستثنی د اعراب ځلورم قسم بیانیږي.

تشریح: د مستثنی د اعراب ځلورم صورت: که چیرته مستثنی د غیر او د سوی او سواء نه وروستو واقع شوې وي نو مجروره به وي ځکه چې غیر او سوا او سواء به مستثنی طرف ته مضاف وي او مستثنی به مضاف الیه وي او مضاف الیه همیشه مجروره وي.

همدارنګې که چیرته مستثنی وروستو د لفظ د حاشا نه واقع شوې وي نو په دې کې دوه مذهبه دي: اکثر نحویان وایي چې دا به مجروره ویلې شي.

او بعضې نحویان وایي چې دا به منصوبه ویلې شي د ټولو مثال لکه: جاءني القوم غیر زیدٍ، و سوی زیدٍ، و سواء زیدٍ، و حاشا زیدٍ، او بعضې نحویان یې داسې وایي چې: جاءني القوم حاشا زیدا.

د دې ځای پورې د مستثنی د اعراب تفصیل ختم شو نو په اول قسم کې هغه ټول صورتونه بیان شول، چې په هغې کې مستثنی منصوبه وي.

او په دویم قسم کې هغه صورتونه بیان شول چې په هغې کې د مستثنی دوه قسمه اعراب وو: نصب، د مستثنی منه نه بدل او په دریم قسم کې یې دا ښودلي وو چې د مستثنی اعراب به د عامل مطابق وي.

و بدانکه اعراب لفظ غیر مثل اعراب مستثنی به إلّا باشد
[او پوه شه چې] [اعراب دلفظ د غیر] [په شان د اعراب] [د مستثنی د هغه] [د إلّا په معنی سره وي]
او پوهه شه چې اعراب د لفظ د غیر دا په شان د اعراب د هغه مستثنی وي چې د إلّا په معنی سره وي

در جمیع صور تہائے مذکورہ چنانکہ گوئی جاءني القوم غیر زید و غیر حمار ،
[نو په ذکر شوو ټولو صورتونو کې به داسې وایې جاءني القوم غیر زید و غیر حمار]
نو په ذکر شوو ټولو صورتونو کې به داسې وایې جاءني القوم غیر زید و غیر حمار ،
و ما جاءني غیر زید ن القوم ، وما جاءني احد غیر زید و غیر زید ، و ما
[و ما جاءني غیر زید ن القوم] [وما جاءني احد غیر زید وغیر زید] [و ما]
و ما جاءني غیر زید ن القوم ، وما جاءني احد غیر زید و غیر زید ، و ما
جاءني غیر زید ، و ما رایت غیر زید ، و ما مررت بغیر زیدٍ.
[جاءنی غیر زید] [و ما رایت غیر زید] [و ما مررت بغیر زیدٍ].
جاءنی غیر زید ، و ما رایت غیر زید و ما مررت بغیر زیدٍ.

تشریح : دلته کې دا خبره ښودلی شي چې لفظ د غیر په خپله کله د إِلَّا په معنی واقع شوې وي نو دده به څه اعراب وي نو د دې لپاره یې یوه قاعده بیان کړې ده او هغه دا چې کوم اعراب د هغې مستثنی وي کوم چې د لفظ د إِلَّا نه وروستو واقع شوې وي نو هم هغه اعراب به د لفظ د غیر وي مثلاً په اول قسم کې یې ویلي وو ، چې په کلام موجب کې به د إِلَّا نه وروستو مستثنی منصوبه وي نو که چېرته د کلام موجب په إِلَّا لرې کړی شي او غیر لا راوړلی شي نو کوم اعراب چې د مستثنی وو (یعني نصب) نو دا نصب به د مستثنی نه غیر ته منتقل شي او مستثنی به د مضاف الیه په وجه مجروره شي لکه جاءني القوم الا زیداً نو دا کلام موجب دی او مستثنی د إِلَّا نه وروستو ده نو د إِلَّا په ځای غیر راوړئ او داسې ووایې چې جاء القوم غیر زیدٍ نو کوم نصب چې په زید باندې وو نو هغه په غیر راغی او زید مجرور شو.

دویم مثال : جاءني القوم الا حماراً دا د مستثنی منقطع مثال دی د إِلَّا نه وروستو واقع شوې ده نو د إِلَّا په ځای غیر ولګوئ او داسې ووایئ چې جاءني القوم غیر حمار نو د مستثنی نصب غیر ته منتقل شو او حمار د مضاف الیه په وجه مجرور شو.

دریم مثال: چې کلام غیر موجب وي او مستثنی په مستثنی منه باندې مقدم وي نو په داسې کلام کې به هم غیر ته نصب وي لکه **ما جاءني الا زيد احد** نو که چېرته د **إلّا** په ځای **غير** راوړې نو داسې به شي چې **ما جاءني غير زيد احد** نو غیر به منصوب شي او **زيد** به د مضاف الیه په وجه مجرور شي.

څلورم مثال: که چېرته کلام غیر موجب وي او مستثنی منه ذکر او مقدمه وي نو په داسې کلام کې د مستثنی په **إلّا** سره دوه اعرابه وو نو که چېرته په داسې کلام کې غیر د **إلّا** په ځای واقع شي نو د **إلّا** به هم دوه اعرابه وي: نصب، بدل لکه **ما جاءني احد الا زيدا** او **إلّا زيد** نو که چېرته په دې مثال کې د دواړو ځایونو نه **إلّا** لرې کړی شي او **إلّا** ولګول شي نو داسې به ویلی کېږي **ما جاءني احد غير زيد** او **غير زيد** نو په **غير** باندې نصب هم جائز دی او رفع هم.

پنځم مثال: که چېرته مستثنی مفرغه وي او کلام غیر موجب وي نو د **إلّا** د مستثنی اعراب به د عامل مطابق وي نو که چېرته په داسې کلام کې د **إلّا** په ځای **غير** ولګولی شي نو په ده باندې به هم کله رفع کله نصب او کله جر وي لکه **ما جاءني الا زيد ، وما رايت الا زيداً، وما مررت الا بزيد.**

په دې درې واړو مثالونو کې که چېرته **إلّا** لرې کړی شي او د دې په ځای **غير** ولګولی شي نو په اولني مثال کې به **غير** مرفوع وي په دویم کې به منصوب او په دریم کې به مجرور وي لکه **ما جاءني غير زيد وما رايت غير زيد او ما مررت بغير زيد.** د **غير** د اعراب تفصیل ختم شو اوس د **غير** او **إلّا** خپله اصلي معنی بیانېږي.

وبدانکه لفظ غیر موضوع است برائی صفت و گاه برائی استثناء آید چنانکه
[او پوه شه چې] [لفظ د **غير**] [وضع شوې د پاره د صفت] [او کله د استثناء د پاره هم راځي] [لکه څنګه]
او پوهه شه چې لفظ د **غير** وضع شوې دی د پاره د صفت او کله د استثناء د پاره هم راځي لکه څنګه
إلّا برائے استثناء موضوع است و گاه در صفت شود نحو قوله تعالی:
[چې **إلّا**] [د استثناء د پاره وضع شوې ده] [او کله د صفت لپاره هم وضع کېږي] [لکه د اقول د الله تعالی]
چې **إلّا** د استثناء لپاره وضع شوې ده، او کله د صفت لپاره هم وضع کېږي، لکه دا قول د الله تعالی

لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللّٰهُ لَفَسَدَتَا یعنی غیر الله و ہمچنین لااله الاالله.
[لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللّٰهُ لَفَسَدَتَا] [یعنې غیر الله] [او همدارنګې] [لا اله الاالله].
شو لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللّٰهُ لَفَسَدَتَا یعنې ای غیر الله او همدارنګې لا اله الاالله هم دی.

تشریح: د غیر وضع په اصل کې د استثناء لپاره نه ده شوې بلکې دده وضع د صفت لپاره شوې ده، یعنې غیر به د خپلې مضاف الیه سره یو ځای شي او د ما قبل لپاره به صفت شي او ما قبل به یې موصوف وي لکه جاءني رجل غیر زید.

چې ترکیب به یې داسې کولې شي: جاء فعل رجل موصوف غیر مضاف زید مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه صفت شو د موصوف، موصوف سره د صفت نه فاعل شو لپاره د جاء فعل او کله کله مجازاً د إلّا په معنی هم استعمالیږي لکه څرنګه چې مخکې تیر شو او چې کله دا د إلّا په معنی سره وي نو بیا د صفت په معنی سره نه پاتې کیږي.

إلّا دا په اصل کې د استثناء لپاره وضع شوې دی لیکن کله نا کله د غیر په معنی سره راځي لکه لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللّٰهُ لَفَسَدَتَا په دې آیت کې إلا د غیر په معنی سره دی نو عبارت به داسې شي لو کان فیهما الهة غیر الله لفسدتا یعنی که چیرته په دې ځمکه او اسمان کې د الله تعالی نه علاوه نور خدایان وی نو د عالم نظام به درهم برهم شوی وو او دا خو ښکاره خبره ده چې ټول نظام په خپل خپل ځای موجود دی نو معلومه شوه چې د الله تعالی نه علاوه نور خدایان نشته، په کلمه طیبه لا اله الاالله کې هم إلّا په معنی د غیر سره دی ای لا اله غیر الله.

سوال: په دې دواړو ځایونو کې إلّا ولې په معنی د غیر سره اخیستلی شوی دی؟

جواب: دا ځکه چې که چیرته إلّا په معنی سره واخیستلی شي او د غیر په معنی سره وانخیستلی شي، نو د الله تعالی یو والی به مکمل طور ثابت نه شي یعنې مخالفینو ته به د سوال موقع راشي او چې کله د غیر په معنی سره شو نو مکمل توحید ثابتیږي یعنې د الله تعالی نه غیر بل معبود نشته.

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و علی آله و أصحابه أجمعین الطیبین الطاهرین

په مطالعه کې د روانيدو طريقه :

نحومير د ابتدائي طالبانو کتاب دی نو چونکې ددې کتاب د لوستلو په وخت کې طالبان نوي نوي ددې علم سره بلديږي نو مناسبه مو وګڼله چې د مطالعې د روانيدو يو څه طريقې بيان کړم :
د عربي عبارت د صحيح لوستلو د پاره طلباء کرامو ته دوه خبرې حل کول لازم او ضروري دی : (۱) د مفرداتو حل کول ، (۲) د مرکباتو حل کول :

(۱) د مفرداتو حل کول : د مفرداتو حل دې طالب علم په دې طريقې سره وکړي چې : په هر مفرد کې دې سوچ وکړي چې دا اسم دی ؟ که فعل دی ؟ او که حرف ؟ بيا په کې د کوم يو علامت موندلې کيږي که د اسم علامت په کې موندل کيده وو نو اسم به وي ، که د فعل علامت په کې موندل کيده وو نو فعل به وي ، او که د حرف علامت په کې موندل کيده وو نو بيا حرف دی .
بيا که اسم وي نو بيا به يا : معرفه وي يا نکره ، که معرفه وي نو بيا د معرفې کوم يو قسم دی ، مذکر دی که مؤنث ، منصرف دی او که غير منصرف ، که منصرف وي نو بيا په کې کوم دوه سببونه يا يو سبب چې قائمقام د دوو سببونو وي موندلې کيږي او که نه ، او دا معرب دی که مبني ، که معرب دی نو په شپاړس قسمونو کې کوم يو قسم دی او اعراب يې څه دی ، که مرفوع وي نو د مرفوعاتو نه کوم يو قسم دی او که مبني دی نو د اسم غير متمکن نه کوم يو قسم دی که ضمير دی نو د پنځه انواعو نه کوم يو دی ، او عامل يې کوم يو دی .
او که مفرد فعل وي نو بيا به دا فعل يا : فعل معلوم وي يا مجهول ، لازمي به وي او که متعدي ، بيا د متعدي نه کوم يو دی متعدي بيک مفعول يا به دو مفعول يا بسه مفعول ، معرب دی که مبني ، که معرب دی نو د فعل مضارع څلور اقسامو نه کوم يو قسم دی ، عامل يې کوم يو دی .
او که مفرد حرف وي نو بيا آيا دا عامل دی او که غير عامل ، که عامل وو نو د عامل کوم يو قسم دی او که غير عامل وو نو د غير عامل بيا کوم يو قسم دی .
د مفرداتو بنه مشق وکړي او بيا وروسته د مرکباتو مشق وکړي ، نو هر کله چې مو د مفرداتو او د مرکباتو مشق وکړو نو ددې نه پس به ستاسو مطالعه ان شاء الله روانه شي او عربي عبارات به هم صحيح وايې ، او که چيرته د مفرداتو او مرکباتو په پيژندلو کې غفلت وکړي شي نو بيا به ورته په عربي عباراتو او وروسته درجاتو کې ډير مشکلات پيدا وي .

(۲) د مرکباتو حل کول : د مرکباتو حل به داسې کولې شي چې دا مرکب مفيد اوي که غير مفيد ، که مفيد دی نو د مفيد کوم يو قسم دی جمله خبريه ده او که جمله انشائيه ، که خبريه دی نو د څلورو قسمونو نه کوم يو قسم دی ، او که انشائيه دی نو د انشاء د لس قسمونو نه کوم يو قسم دی ، همدارنګې جمله ده يا شبه جمله ، که شبه جمله ده نو صيغه

صفت څه شي دی او ددې معمول څه دی، او که مرکب غیر مفید دی نو د مرکب غیر مفید د پنځه اقسامو نه کوم یو قسم دی مثلاً که مرکب اضافي دی نو مضاف کوم یو دی او مضاف الیه کوم یو دی او که مرکبُ توصیفي دي نو موصوف کوم یو او صفت یې کوم یو دی.

نو په دې ترتیب سره که تاسو یو څو ورځې محنت او مشقت اوباسي نو ان شاء الله په دې سره به ستاسو مطالعه روانه شي او هم به په قلار قلار تاسو د علم نحوې سره بلد شي، او ددې سره سره به ستاسو بنیاد هم مضبوط راشي ان شاء الله.

فرغتُ مِن ترتیب هذا الکتب:

یوم الثلثاء التاسع وعشرون من محرم الحرام سنة ۱۴۴۰ بفضله وکرمه تعالی

تقبل الله منا بقبول حسن وجعله الله مفیداً لکافة الناس

وجعله من الباقیات الصالحات وذریعة الفوز

يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله وأصحابه أجمعین

وما من كاتبٍ إلا سيفني ❁ ويَبقَى الدَّهرَ ما كتبت يداهُ

فلا تكتب بخطك غير شيءٍ ❁ يَسُرك في القيامة أن تراهُ

محمد فیض الهادي "حقاني"

کان الله له ولوالدیه ولمن أحسن إلیهما وإلیه

د مُرتب راتلونکي کتاب:

الفيض الجاري

پښتو شرحه

حسامي

مصنف:

الشيخ الإمام حسام الدين محمد بن محمد بن عمر الإخسكثي

مُرتِب:

مولوي محمد فيض الهادي "حقاني"

سابق مدرس بمدرسة تعليم القرآن والحديث

چارسده روډ، پشاور

ناشر:

مکتبه رحمانيه محله جنګي پشاور

تشحیذ الارواح	پشتو شرح مراح الارواح
تحفۃ الوافیہ	عربی شرح کافیہ
توضیح الدراسہ	پشتو شرح الحماسہ
حکایات عجیبہ	پشتو خکلے قصے
درس قطبی	پشتو شرح قطبی
درس مقامات	پشتو شرح مقامات
ملفوظات امام ابوحنیفہؒ	پشتو
درج احکام	پشتو
دکائناتو رازونہ	پشتو
دیوان حضرت علیؓ مجلد	پشتو
د نبی کریم ﷺ نصیحتونہ	پشتو
سوال سجاوندی	عربی شرح شرح جامی
د شریعت او طریقت تلازم	پشتو
ونجو مسئلے فتاوی	2 جلد
قصیدہ بردہ	پشتو ترجمہ وتشریح
کنز النوادر	پشتو شرح ارشاد الصرف
مقام ابی حنیفہؒ	پشتو
معدن الحقائق	پشتو شرح کنز الدقائق کامل
منہاج الصیغہ	پشتو شرح علم الصیغہ
تکمیل الایضاح	پشتو شرح نور الایضاح
مفتاح البلاغہ	پشتو شرح دروس البلاغہ
نور التھذیب	پشتو شرح تہذیب
فیض الجامی	پشتو شرح ملا جامی معرب مبنی کامل
ایضاح الغواشی	پشتو شرح اصول الشاشی
ایضاح النحو	پشتو شرح ھدایۃ النحو
درس مثنوی	پشتو

النجم الثاقب	شرح المیبذی
انوار الشمسہ	پشتو شرح الشمسہ
ایضاح المنطق	پشتو شرح مجموعہ منطق
ایضاح الصرف	پشتو شرح میزان الصرف
الفجر المنیر	پشتو شرح نحو میر
اصح النوری	پشتو شرح مختصر القدوری
العلامات النحویہ	پشتو نحوی کتاب
فیض الجامی فارسی	شرح ملا جامی (معرب مبنی کامل)
الفیوضات النافعۃ	پشتو شرح کافیہ (معرب مبنی)
المہند علی المفند	پشتو عقائد علماء دیوبند
الحامیہ مع تکملہ	عربی شرح ھدایۃ النحو
الاوفاق	پشتو تعویذات
المراۃ الراشیدہ	پشتو شرح القراۃ لراشیدہ
الفوائد الاصوایہ	
الھدیۃ المرضیہ	پشتو شرح مسلم الثبوت
تحفۃ الطالبین	پشتو شرح مفید الطالبین
العلاجیہ	پشتو شرح شافیہ
بلغۃ المبتدی مجلد	پشتو شرح صرف بھائی
بھارستان	پشتو شرح گلستان
ایھا الولد	پشتو
دپتلی مسائل	پشتو
قصیدہ طوبی	پشتو
تنویر التھذیب	پشتو شرح التھذیب
ترکیب عزیزی	پشتو ترکیب شرح مائۃ عامل
تعلیم المعلم	پشتو مترجم
تیسیر المنطق	پشتو

داھل دلو دپارہ زرہ راښکونکی واقعات

مکتبہ رحمانیہ
محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور
0316-9400041
0302-6209815

